

# حج

## احکام، ارکان او اسرار ئې

حکمتیار

د حزب اسلامي افغانستان امیر

# د کتاب پېژندنه:


نوم: حج، احکام او اسرار ئې

لیکوال: حکمتیار

لومړی طبع: ثور ۱۴۰۳

د چاپ شمېره: ۱۰۰۰ توکه

قیمت: ۱۰۰ افغانۍ



**د چاپ ټول حقوق محفوظ دي**




# حج

## احکام، ارکان او اسرار ئې

حکمتيار

د حزب اسلامي افغانستان امير

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

## مقدمه

الْحَمْدُ لِلَّهِ وَكَفَى وَسَلامٌ عَلَى عِبَادِهِ الَّذِينَ اصْطَفَى وَبَعد: فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ۝٢٧﴾ الحج صدق الله العظيم

حج کوونکو ورونو خوېندو!

آیا کله مو په زړه کې دا طمع راولاړه شوې چې کاش د الله حضور ته د رسېدو مجال وی؛ داسې چې د خپل رب په وړاندې مو خپل سپېڅلې آرمانونه او هیلې له نژدې او مخامخ ایښې وی؛ او دا په داسې حال کې چې له بلې هرې دړې او دروازې مو هیله او طمع قطع شوې وي، په خپله د بې وسۍ احساس کوئ، خو همت او عزت مو اجازه نه درکوي د ځان په څېر یوه انسان ته لاس اوږد کړئ؛ دغه مهال چې ستاسو په دردمن او له هیلو ډك زړه کې د الله تعالی حضور ته د رسېدو کومه تلوسه راټوکېږي؛ حج د دغې تلوسې ځواب دئ؛ حج تا د الله تعالی کور (بیت الله) ته بیايي، د بیت الله طواف دربانديې کوي، په دې موخه چې هیلې مو تر سره شي او له دې هوډ سره چې له نن وروسته به ستا طوافونه د الله تعالی له کور پرته د بل کور، قصر او قبر طواف نه وي، ته خپل طوافونه پر حجر الاسود لاس ایښودو او ښکلولو سره پیلوې؛ او دا له الله تعالی سره ستا ژمنه او بیعت دئ چې د بل کور، گور او قصر طواف به نه کوې، په حج سره ته دا اراده کوې چې له بل هر درشل د

تل لپاره مخ اړوم، الله ته مخه کوم، هغه ځان ته کافي ګڼم، د ده د کور طواف کوم، د ده د کور درې ته ودرېږم، له ده سره ژمنه کوم چي بیا به د مرستي لپاره د بل کور دره نه ټکوم. حج له بلي هري دري او درشل د استغنیٰ عزم او هوډ دئ او له الله تعالی سره د بندګۍ او بشپړ اطاعت مجدد او کلك عهد. دا هوډ او عهد نه یوازي کوې، نه په پټه او نه د خپلي خوښي او مرضي په وخت کې؛ بلکي د حج په معین وخت کې، د نړۍ له نورو حج کوونکو سره یو ځای او ټول په یو رنګ جامو کې؛ کفن ته ورته جامه؛ یو څادر او یو لونګ؛ دلته به د نړۍ له ټولو حجاجو سره د یووالي مظاهره کوې، ټول تفاوتونه به شا ته غورځوې، له ځان سنګارولو، د عطر له استعمال، د نوکانو او وېښتانو له اخیستلو، له خپلو مېرمنو سره له جنسي نژدېکت او له هري ګناه او له یوه بل سره له شخړو به په کلکه ډډه کوې، د بېدیا د حیواناتو له ښکار او د هغه په ښکار کي له بل سره له هر راز مرستي به هم ډډه کوې، ته خو د الله کور ته روان یې، غواړې د الله د کور طواف وکړې، غواړې له الله سره خپلي ژمني تازه کړې او د همدې لپاره په حجر الاسود لاس ږدې، ته غواړې د ابراهیم په مقام کي ودرېږې، غواړې د هاجر خاطره دریاده کړې او د دې په څېر د صفا او مروې تر منځ سعی وکړې، ته غواړې د اسمعیل علیه السلام د قربانۍ خاطره ژوندۍ کړې، تا اراده کړې چي له منٰی (د ایمان ځای) عرفات ( د معرفت) خلاص میدان ته په رڼا ورځ کي ولاړ شې او هلته له خپل رب سره راز او نیاز وکړې او بیا له هغه ځای راتلونکې شپه هغه ځای ته ځان رسوې چي د دریو خطرناکو دښمنانو د څلو ځای ته نژدې دئ (مزدلفه: نژدې)، دلته به د سبا ورځې د مقابلې او د دښمن د ویشتلو لپاره تیاری نیسې، سبا او په لومړۍ ورځ به یوازي لوی څلی د لومړي او دوهم شا ته ولاړ څلی؛ جمرة الکبری ولې؛ اوه تیږي، د اوني د ورځو په شمېر، هره تیږه د کارتوس د مردکي په اندازه، په دې ورځ به د لومړیو دوو جمرة الاولٰی او جمرة الوسطٰی له ویشتلو ډډه کوې، د دوی له څنګ

به تېرېږي، درېیم او تر ټولو ستر ته به ځان رسوې، په دې لومړۍ ورځ به یوازې دغه په نښه کوې، خو په سبا او بل سبا او تر هغه چې په منٰی کې وې؛ هره ورځ به؛ درې واړه؛ یو په بل پسې ولې. دا درې ځلي هغه درې خطرناك دښمنان تمثیلوي چې ټول پیغمبران ئې مقابلې ته تللي؛ د الله د دین په لار کې ستر خنډونه؛ د الله پر مظلومو او بې وسه بندګانو ظلم کوونکي؛ هغه چې د هر واقعي عالِم، هر مخلص دعوتګر، هر مصلح او هر عدالت غوښتونکي مخې ته ودرېدلي، د حق په خلاف ئې د باطل ملګرتیا کړې، د زر، زور او تزویر ځواکونه؛ فرعون، هامان او قارون؛ یو د لښکرو خاوند، بل د کوډګرو مشر، درېیم د خزانو څښتن؛ جعلي سردار، سؤالګر سید او خائن ثروتمن؛ جاني ملك، جبون ملا او جابر زمکه وال؛ غدار پاچا، مکار پیر او سود خور بډای؛ یو مالیه اخلي، بل شکرانه، بل سود او د بې وزلي او محتاج ټوله شتمني.

دلته یو ځای د مشعر الحرام په نامه یاد شوی؛ د مشعر الحرام لفظي ترکیب او دغي سیمي ته دا نوم ورکول هم د خاص تأمل وړ دئ، مشعر الحرام (د درانه او محترم شعور ځای) د مزدلفې د وروستۍ برخي نوم دئ، دلته باید الله په خاصه توګه زیات یاد کړئ، سبا یوه جګړه په مخکې لرئ، جمرة الکبری به په نښه کوئ، دا داسي ده لکه چې له دښمن سره د مخامخ کېدو په وخت کې د الله تعالی د زیات یادولو امر شوی، یوازې دا نه چې په ژبه به الله الله وایې، بلکې دلته به په خاصه توګه دا درپه یادوې چې الله د هر څه مالك او په هر څه قادر دئ، هر څه د ده په اراده ترسره کېږي، ماته او بریا د ده په لاس کې ده، د مرګ ژوند پرېکړه دی کوي، وېره دې باید یوازې له الله وي، نه د دښمن له زور ځواك او وسلو او لښکرو. د مزدلفې دا شپه چې تر شنه آسمان لاندې ئې په بېدیا کې تېروې؛ داسې ده لکه چې دښمن ته د شپې له لورې نژدې شوی یې، د برید لپاره دې پوره تیاری نیولی، شپه د دښمن د مرکز خوا ته په تیاره کې او تر شنه آسمان لاندې تېروې او سبا به پرې برید کوې.

په حج کې به ستاسو راکوزېدل هم ټولو ته ورته وي؛ نه د قریشو په څېر چې تر عرفات به نه تلل؛ عرفات ئې له حرم بهر ګڼلو؛ له مزدلفې به مکې ته د طواف لپاره راکوز شول. دوی له عوامو او غیر قریشو ځان لوړ ګڼلو؛ خو دې کار ته ئې هم مذهبي حیله جوړه کړې وه؛ ویل ئې چې عرفات له حرم بهر دئ؛ موږ غواړو د حرم په حدودو کې پاته شو؛ دوی د کعبې جوړښت هم له هغه حالت وایست چې ابراهیم علیه السلام غوره کړی وو، د کعبې د فرش سطح ئې له زمکې لوړه کړه، یوه دروازه ئې بنده کړه، بلې دروازې ته ئې کولپ واچاوو، هر چا ته ئې د ننوتو اجازه نه ورکوله، یوازې د خپلې خوښې شخصیتونو ته به ئې د ننوتو اجازه ورکوله، هغه کور چې الله د (الناس) لپاره جوړ کړی وو، دوې دروازې ئې وې، هر څوك له کومې مانع پرته ورننوتی شو؛ قریشو هغه طبقاتي کړه او د خواصو د ننوتو لپاره ئې مختص کړه. هو؛ دا د هر دیني خوځښت؛ ستر او خطرناك آفت دئ؛ ځیني د هغه دین په نامه یو پر بل لویي کوي، چې د ټولو انسانانو تر منځ د برابرۍ خبره کوي او وايي: د ټولو انسانانو نژاد یو دئ او نیکه او انا ئې (آدم او حوی)؛ هغه دین چې خلك حق او عدالت ته رابلي او ترې غواړي د حق او عدالت لپاره قربانۍ ته چمتو وي؛ ځیني د همدې دین په نامه حق او عدالت د خپلو شیطاني غرضونو لپاره قرباني کوي او حاضر دي دین، حق او عدالت د الله او د هغه د دین د دښمنانوپه پښو کې ذبح کړي!!

لکه څنګه چې الله تعالی له عرفات د راکوزېدو په اړه فرمايي چې له نورو سره یو ځای راکوز شئ، دا د یو ځای راکوزېدلو امر؛ یوازې د دې لپاره نه وو چې د قریشو هغه غرور او تکبر وځپي؛ بلکې همدا په جهاد کې هم ستر اهمیت لري، له دښمن سره د نښتو په وخت کې به هم له میدان ستاسو وتل منظم وي، له نورو سره یو ځای، نه بېل بېل او نامنظم؛ نامنظم او متشتت راکوزېدل اکثراً ستر ستر مشکلات راولاړوي او ډېر ځله د فاتح لښکر فتح په ماتې بدلوي.

---

دې ته مو بايد پام وي چې پيغمبر عليه السلام حج ته د ټول اسلام نوم ورکړى، د حج په مناسکو کې ټول اسلام تمثيلېږي، جامه ئې د جامې د حلال او حرام حدود، حجاب ئې د حجاب حدود، جمع صلاتين ئې د جمع صلاتين څرنګوالى، ... بيانوي، داسې نه شي کېدى چې يو څه دې په حج او حرم کې جائز وي او له حرم بهر ناجائز، د تقوى او احتياط تر ټولو ستر او خاص ځاى همدا حرم دئ، دلته چې الله تعالى څه جائز ګڼلي، له دې ځاى بهر په اولٰى درجه جائز دي او دلته چې د مناسکو په دوران کې څه ناجائز ګڼل شوي له دې ځاى بهر هم ناجائز دي، فسق او جدال ئې دلته حرام کړى، بهر ئې هم حرام کړى، په احرام کې له خپلو مېرمنو سره مباشرت ئې منع کړى، له دې ځاى بهر ئې هم په روژه او اعتکاف کې مباشرت منع کړى. د ښځې او نارينه د ستر او حجاب ضروري او فرضي حد همغه دئ چې د حج په دوران کې بايد مراعات شي او د جمع صلاتين او د تقديم او تأخير حکم ئې همغه دئ چې په عرفات او مزدلفه کې تر سره کېږي.

ستا د حج حاصل به دا وي چې له خپل رب سره دې اړيکې مضبوطې شي، له دې وروسته به دې تل په ژبه د ده نوم وي، تر هر څه او هر چا به ئې زيات يادوې، تر خپل پلار هم زيات، له هغو کسانو به نه وې چې يوازې د دنيا په لټه کې وي، که له الله څه غواړي نو يوازې دنيا غواړي، ته به له خپل رب د دنيا او آخرت ښېګڼې غواړې.

په منٰى کې د قيام په ورځو کې خپل رب زيات ياد کړئ؛ که دوه ورځې وي او که درې؛ نه په تلوار کوونکې څه ګناه شته او نه په ځنډ کوونکې.

خدايه! ته مو حج او بل هر عبادت واقعي حج او عبادت کړې. آمين

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

# د حج احکام، ارکان او اسرار

حج د اسلام پنځم رکن دئ، لغوي معنی ئې (قصد او اراده ده)؛ يعني د خپل رب کور ته د سفر هوډ؛ حاج، الحاج، حجي او حاجي؛ هغه چا ته ويل کېږي چي د الله تعالی کور (بيت الله) ته د تګ اراده ئې کړې؛ او هغه ته هم چي د حج مناسك ئې تر سره کړي؛ يعني چي حاجي له حج وروسته هم هوډمن او متعهد پاته کېږي چي تل به د الله تعالی د کور طواف کوونکی وي؛ او د دې معنی دا ده چي ته په حج سره يو داسي سفر پيلوې چي له تا دائمي تګ غواړي؛ دا ستا ټول ژوند احتواء کوي او په دې سپېڅلي سفر او مناسکو کي ئې ټول اسلام تمثيل شوی؛ هر آزاد، عاقل، بالغ، روغ او غني مسلمان په ژوند کي يو ځل د دې فريضې په اداء کولو مکلف دئ؛ غني او توانمن يعني هغه چي (د ژوند ټول لومړني ضرورتونه لکه کور، ضروري سامان، ورځني لګښتونه ئې تأمين وي؛) پر دې سربېره د سفر د مصارفو له عهدې وتلی شي او له امنيتي پلوه له کوم خنډ او ګواښ سره مخامخ نه وي؛ تر بېرته راستنېدو پوری د خپلي کورنۍ نفقه ولري؛ له ښځي سره د محرم شتون ضروري دئ؛ که محرم ونه لري که څه هم حج پرې فرض شوی وي؛ له اداء کولو ئې معاف ده؛ خو که سره له دې ئې له محرم پرته حج وکړ؛ نو حج ئې صحيح دئ خو داسی کول مکروه دي. که د کور او مکې تر منځ د سفر واټن او موده تر دريو شپو ورځو کمه وي نو د محرم شتون ضروري نه دئ؛

د بيت الله شاوخوا يوه ساحه د حرم په نامه ټاکل شوې؛ پنځو لوريو ته ئې داسي پنځه ځايونه ټاکل شوي چي حاجيان او عمره کوونکي به له دې ځايونو احرام سره داخلېږي؛ دا ميقاتونه د ابراهيم عليه السلام له لوري ټاکل شوي؛ د مدينې لوري ته (ذو الحليفه)، د عراق لوري ته (ذَاتَ عِرْقٍ) چي د يوه واړه غـره نوم دئ، د شام لوري ته (جُحفه)، د نجد

لوري ته د (قرن) په نامه يو غر او د يمن لوري ته (يلملم) دي؛ هغه چي کور ئې د ميقاتونو او مکې تر منځ وي؛ ميقات ئې د (حل: هغه ساحه ده چي د دوی د کور او د حرم د حدودو تر منځ وي)؛ او هغه خلك چي په مکه کي د حرم د حدودو دننه اوسي؛ له همدې ځای احرام تړلی شي او د عمرې لپاره به د (حل) ساحې ته وځي؛ هغه خلك چي د حج او عمرې لپاره په الوتکو کي درومي نو يا به د سپرېدو وخت کي احرامونه تړي او يا به د الوتکو له عَمَلَه (خدمه) پوښتنه کوي چي کله به اړوند ميقات ته رسي چي تر رسېدو وړاندي احرام وتړي.

ښه دا ده چي تر احرام تړلو وړاندي غسل وشي؛ خو که دا کار ګران وي نو اودس ورته کفايت کوي؛ بيا دي خپلي مخکينۍ جامې په يوه څادر او لونګ بدلي کړي؛ د احرام دوه رکعته لمونځ دي اداء کړي، د حج يا عمرې نيت دي وکړي؛ دا چي يوازي حج کوي، که حج او عمره دواړه يو ځايي او که عمره بېله او حج بېل؛ د تلبيې دا جملات دي ووايي: «لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالمُلْكَ، لاَ شَرِيكَ لَكَ»: حاضر او تيار يم ستا امر منلو ته اې زما مولا! چمتو يم منلو ته! چمتو يم؛ هيڅ شريك دي نشته؛ چمتو يم؛ يقيناً چي ستايني او نعمتونه تا ته مختص دي؛ او واکمني هم؛ هيڅ شريك دي نشته. که کولی شي او زړه ئې غواړي نور دې ته ورته کلمات دي پرې علاوه کړي؛ په همدې سره په احرام کي داخل شو؛ د خپلي خوښي اوږده دعاء دي وکړي؛ که مأثوره دعاءګاني ئې زده وي؛ او که نه نو په خپلي مورنۍ ژبي دي دعاء وکړي؛ احرام ته له داخلېدو وروسته به له هغو کارونو ډډه کوي چي په احرام کي ئې له کولو ممانعت شوی؛ د ټولو حرامو ويناوو او کارونو په شمول له ځينو جائز او حلال ويناوو او کارونو هم؛ لکه جنسي اړيکي او اړوند خبري ئې؛ ناوړه خبري، شخړي او جدل، د نوکانو پرې کول او د وېښتانو لنډول او خرييل، د خزنده وژنه، ښکار او له بل سره په ښکار کي مرسته، ګنډلې جامې، کوټ او چپنه اغوستل، سر او

پښې پټول، داسې څه په پښو کول چې د پښو بېړۍ په کې پټې شي، په ځان او جامه عطر وهل، هغه جامه دې نه اغوندی چې د (ورس)، زعفران یا (عصفر) په څېر بوټو رنګ او معطر شوې وي، مُحْرِم کولی شي چې د جنابت یا تودوخي له کبله غسل وکړي؛ خو نه به صابون کاروي، نه بل داسې څه چې د عطر بوی لري؛ په نوکانو یا ځېرۍ شي به ځان نه موښي، کولی شي د چترۍ یا بل شي سیوري ته شي، له هر لمانځه وروسته، په هر لوړ او ځوړ او د حاجیانو له هري ډلي سره مخامخ کېدو په وخت کې دې تلبیه وایې.

کله چې محرم د مکې داسې ځای ته ورسېږي چې کعبه او مسجد الحرام ووینی نو په لیدو سره دې دا تکبیرونه ووایي: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ وَلِلَّهِ الْحَمْدُ؛ او که کولی شي دا دعاء دې وکړي: اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوابَ رَحْمَتِكَ، اللَّهُمَّ زِدْ بَيْتَكَ هَذَا تَشْرِيفًا وَتَعْظِيمًا وَتَكْرِيمًا، وَبِرًّا وَمَهَابَةً، وَزِدْ مَنْ شَرَّفَهُ وَعَظَّمَهُ مِمَّنْ حَجَّهُ وَاعْتَمَرَهُ تَعْظِيمًا وَتَشْرِيفًا وَبِرًّا وَمَهَابَةً؛ که ئې نه شي کولی او په معنی ئې نه پوهېږي نو ښه به دا وي چې په خپلې مورنۍ ژبې ئې ووایي: الهي! د رحمت دړي دې زما مخې ته پرانیزه؛ الهي! د دې خپل کور شرف، عظمت، کرامت، ښېګڼه او هیبت زیات کړه؛ او د هغه چا شرف، عظمت، کرامت، ښېګڼه او هیبت هم زیات کړه چې هغه ئې په شرافت او عظمت سره وستایو. خپل طواف دې له حجر الاسود پیل کړي؛ که ورته ممکنه وه نو حجر الاسود دې ښکل کړي که نه نو لاس دې پرې کښېږدي او که نه نو خپل لاسونه دې داسې د هغې لوري ته لوړ کړي لکه چې پر هغې لاس راکاږي؛ حجر الاسود ته مخامخ دې لاسونه تر اوږو لوړ کړي؛ داسې چې رغوي ئې د هغې په لوري وي؛ تکبیرونه دې ووایي؛ د حجر الاسود مسح کول او ښکلول سنت دي؛ سمه نه ده چې د دې سنت لپاره خلك أذیت کړی شي؛ د هغوی ځورول او تنګول ناروا دي؛ له همدې ځای او په ښي لوري دې خپل طوافونه پیل کړي، په

طواف کې دي خپل څادر داسي پر ځان واچوي چي یوه خوا ئې پر کینهي اوږې وي او بله خوا ئې له ښي تخرګ راوباسي او پر کینهي اوږې ئې واچوي؛ او ښۍ اوږه لوڅه پرېږدي؛ اوه ځلي به د کعبې طواف وکړي (پرې راوبه ګرځي) په لومړيو دريو ځلو کې به ئې تګ په رمل سره وي (په لنډو لنډو ګامونو سره ګړندی تګ او اوږې خوځول)؛ په پاته څلورو کې به ئې تګ عادي وي، هر ځل چي حجر الاسود ته رسېږي که ورته ممکنه او آسانه وه هغه دي مسح کړي؛ خپل طوافونه دي په حجر الاسود پای ته ورسوي، بیا دي په هغه ځای کې دوه رکعته واجب لمونځ وکړي چي د مقام ابراهیم (د ابراهیم علیه السلام د ودرېدو ځای) په نامه یادېږي، ځیني دا لمونځ واجب ګڼي ځکه چي الله تعالی ئې امر کړی (وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى: د ابراهیم له مقام د لمانځه ځای ونیسئ) او ځیني ئې سنت ګڼي؛ د مسجد الحرام په هري برخي کې دا دوه رکعته لمونځ کولی شي، په قرآن کې د مقام ابراهیم یادونه شوې خو د هغو دلائلو په ضمن کې چي ښيي کعبه هغه لومړنی کور دئ چي د الله تعالی له لوري وضع شوی او د ابراهیم علیه السلام په لاس په مکه کې جوړ شوی؛ په مکه کې د ابراهیم علیه السلام د اولاد؛ بنو اسمعیل شتون ثابتوي چي دا کور د ده په لاس جوړ شوی؛ اوس د کعبې شرقي لوري ته؛ په څو متره واټن کې او د هنداري یوې غرفه کې داسي تیږه ایښودل شوې چي د دوو پښو پلونو نښي په کې لیدل کېږي. د حاجي دا لومړی طواف؛ د طواف قدوم په نامه یادېږي چي سنت دئ؛ موخه ئې د کعبې درناوی او احترام دئ؛ د مکې پر اوسېدونکو نشته؛ بیا به د صفا غونډي ته ځي؛ افضل دا ده چي د صفا له اړوند دروازې ورشي؛ خو له بلي لاري ورتګ کې هیڅ حرج نشته؛ دومره دي غونډۍ ته لوړ شي چي کعبه ولیدی شي، بیت الله ته دي مخامخ ودرېږي، همغه تکبیرونه دي ووایي، د خپلي خوښي اوږده او له دې احساس او هیلي سره دعاء وکړه چي الله تعالی به ئې قبلوي، د صفا او مروه پر غونډیو هاجر علیها

السلام دعاء کړې او الله تعالی ئې دعاء قبوله کړې؛ نو دا د دعاء ګانو د قبلېدو ځای دئ؛ له صفا به په عادي ګامونو کوزېږې او د مروه په لوري به خوځېږې، د دې شېلې په یوې برخي کي به په منډه ځې؛ دا برخه اوس داسي په نښه شوې چي په پیل او پای کي ئې؛ د لاري دواړو اړخونو ته؛ رنګ شوې ستني او شنه ګروپونه تر سترګو کېږي؛ او تا ته ښیي چي د منډې برخه دغه ده؛ هاجر علیها السلام همدلته منډه کړې او د حاجي دا منډه د هغي خاطرې یادول دي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم هم دلته منډه کړې ده؛ دلته دا دعاء مستحب ده (رَبِّ اغْفِر وَارْحَمْ وَاعْفُ وَتَکَرَّم وَتَجَاوَزْ عَمَّا تَعْلَمُ فَإِنَّكَ تَعْلَمُ مَا لَا أَعْلَمُ إِنَّكَ أَنْتَ الأَعَزُّ الأَکْرَمُ) کله چي له دې برخي تېر شې نو بیا به په عادي ګامونو تر مروه پوري درومې؛ هلته به همغه څه کوې چي په صفا کي دي کړي؛ په دې سره د صفا او مروه تر منځ ستا له اوو وارونو تګ یو وار بشپړ کېږي؛ شپږ نور به هم تر سره کوې؛ له صفا دي پیل کړي وو او په مروه به ئې پای ته رسوې؛ له دې وروسته دي حاجي تر هغه په مکه کي پاته شي چي منٰی ته به درومي؛ د مخکي په څېر دي طوافونه او له هر ځل اوو طوافونو وروسته دوه رکعتونه لمونځ کوي.

سنت دا دئ چي د مسجد الحرام امام به د ذي الحجې په اومه او د ماسپښین له لمانځه وروسته؛ خلکو ته دوه خطبې اوروي او په دې خطبو کي به هغوی ته د حج د مناسکو په اړه ضروري لارښووني کوي؛ په اتمه به د سهار له لمانځه وروسته؛ له حاجیانو سره له ښار وځي او د منٰی په لوري به درومي؛ د ذي الحجې تر نهمي به په منٰی کي پاته کېږي؛ په نهمه ورځ او سهار له لمر ختو وروسته به د عرفات په لوري روانېږي؛ دا هم سنت دئ چي عرفات ته تر روانېدو وړاندي غسل وکړي؛ په عرفات کي به د ماسپښین او مازدیګر لمونځونه یو په بل پسي، دوه دوه رکعتونه، په یوه اذان او دوو اقامتو او د ماسپښین لمانځه په وخت کي اداء کېږي؛ امام به تر لمانځه وړاندي دوې خطبې وایي؛ په خطبو کي به د حج په

اړه د ضروري لارښوونو په شمول د ټول اسلامي امت د مهمو قضیاوو په اړه داسي څه وايي چي دا ستر او سپېڅلی محل او مهال ئې ایجابوي؛ دا په حقیقت کي د ټول اسلامي امت ستره کلنۍ غونډه ده؛ دلته باید د امت ټولي ستونزي او هغه ګواښونه چي ورسره مخامخ دي، هغه مسئولیتونه چي دوی ته متوجه دي؛ په ګوته شي؛ دا د اسلامي امت د یووالي لپاره مهم او اغېزمن فرصت دئ؛ له کورنیو او بهرنیو ګواښونو سره د ګډي مقابلې لپاره د واحد تصمیم نیولو فرصت؛ د امام خطبه باید همغسي وي لکه د رسول الله صلی الله علیه و سلم خطبه؛ که څوك د کوم عذر له کبله ونه توانېدو چي دا دواړه لمونځونه د امام په اقتداء کي اداء کړي؛ نو له بل جماعت پرته به ئې یوازي او یو په بل پسي اداء کوي.

د عرفات میدان کي او د جبل الرحمة خوا ته؛ د دعاء ښه فرصت او وخت دئ؛ غوره ده چي دا دعاء مو په ګډه وي او ټول حاجیان په کي برخه واخلي؛ داسي چي امام دعاء کوي او خلك آمین وايي؛ که چا دا فرصت له لاسه ورکړ؛ کېدی شي په بېلو بېلو ټولیو کي په ګډه دعاء وکړي؛ له لمر لوېدو وروسته به حاجیان له عرفات روانېږي او آرام آرام به د مزدلفې په لوري روانېږي، دې سیمي ته له دې کبله د مزدلفې نوم ورکړی شوی چي د دریو جمراتو خوا ته نژدې پرته ده؛ (إزلاف) نژدې کېدو ته وايي؛ حاجیان دلته د شپې په تیاره کي او ماخستن رسېږي؛ او دا کټ مټ داسي ده لکه مجاهدین چي د شپې په تیاره کي ځان دښمن ته رسوي؛ شپه هملته تېروي او سبا په مناسب وخت کي او په داسي حال کي چي دښمن غافل دئ او دفاع ورته ګرانه؛ برید پرې کوي؛ ځیني داسي انګېري چي ګواکي دلته آدم او حواء علیهما السلام نژدې شوي او په عرفات کي ئې سره پېژندلي؛ دا ادعاګاني هیڅ بنسټ نه لري؛ نه په دې کي د مفسرینو او علماءو اجماع ده چي آدم او حواء علیهما السلام په آسمان او آسماني جنت کي پیدا شوي او نه په دې کي چي زمکي ته بېل

راکوز کړی شوي؛ او نه په دې کې چې چېرې ئې سره لیدلي؛ او نه په دې اړه صحیح او معتبر روایت لرو؛ آدم زموږ جد دئ؛ هر څه ئې موږ ته ورته دي؛ زمکنی مخلوق دئ، په زمکې کې پیدا شوی، وفات شوی او له همدې زمکې به له خپلو ټولو اولادونو سره یو ځای د قیامت په ورځ له خاورې راپاځي؛ جنت او دوزخ به ئې هم په همدې زمکې کې وي. په همدې مزدلفه کې د مشعر الحرام په نامه یو غر دئ؛ امام به سره له حاجیانو همدلته ودرېږي او په ګډه به دعاء کوي؛ همدلته به د ماښام او ماخستن لمونځونه؛ د ماخستن په وخت، په یوه اذان او یوه اقامت سره اداء کېږي. د مشعر الحرام تحت اللفظي معنی؛ د درونډ او محترم شعور وخت او ځای دئ؛ دلته به حاجیان د سبا ورځې مقابلې لپاره ۴۹ وړې ډبرې راټولوي؛ د غټ نخود په اندازه؛ یا د کارتوس د مردکي په اندازه؛ له دې سره د مشعر الحرام نوم هم خاص مناسبت لري؛ ډېر ظریف مناسبت؛ له دښمن سره د مقابلې لپاره تر وسلې او تجهیزاتو وړاندې؛ د الله د لارې مؤمن مجاهد لوړ، سپېڅلي او درونډ شعور، فکر او آرمان ته ضرورت لري؛ بې فرهنګ، بې هدف او بې مفکورې جنګیالي د الله په لار کې د جنګېدو وړتیا نه لري؛ مزدلفه، مشعر الحرام، دلته د تیږو راغونډول او جمراتو ته ځان چمتو کول؛ موږ ته همدا پیغام له ځان سره لري.

له عرفات تر مزدلفې پورې د لارې په اوږدو کې د ماښام لمونځ اداء کول روا نه دي؛ که څه هم ماخستن داخل شوی وي؛ دا دواړه لمونځونه باید په مزدلفه کې او د ماخستن لمانځه په وخت کې اداء شي؛ د عرفات او مزدلفې جمع صلاتین؛ ښیې چې په سفر کې داسې لمونځ جائز دئ؛ د مزدلفې وضعیت ته په پام سره ځینو علماءو دا فتوی ورکړې چې لمونځونه په وړو وړو جماعتونو کې اداء کېدی شي؛ د امام ابو حنیفه رأی دا ده چې "دلته د لمانځه لپاره جماعت شرط نه دئ"؛ همغسې لکه د جنګ میدان ته څېرمه او د محارب دښمن خوا ته سیمې کې چې په

جماعت سره لمونځ ښه دئ؛ خو د کافي او ضروري امنیتي تدابیرو په شرط او له جماعت پرته لمونځ هم جائز دئ؛ دلته به د سهار لمونځ هم په لومړي وخت کې اداء کیږي؛ تر لمر ختو وړاندې به له دې ځای د منٰی په لوري وځي او کله چې منٰی ته ورسیږي نو لومړی کار به ئې جمراتو ته ځان رسول او وروستنی ځلی ویشتل وي؛ له لومړي او منځني ځلي به تېرېږي او وروستنی به په اوو تیږو داسي ولي چې په یوه یوه ئې په نښه کړي او له هرې یوې سره به بسم الله الله اکبر وایي؛ له ویشتلو وروسته دې هلته توقف نه کوي؛ او ترې تېر دې شي؛ په کومو تیږو چې ځلي ویشتل شوي؛ بیا ئې کارول مکروه ګڼل شوي؛ د ویشتلو وخت په اړه ځیني له لمر خاته تر لمر لوېدو او ځیني له لمر ختو تر زوال پوري ګڼي؛ مریض، ضعیف او سپین ږیرو ته دا رخصت ورکړی شوی چې د ځلو ویشتلو لپاره وکیل ونیسي.

چا چې د تمتع حج نیت کړی؛ یعني عمره ئې کړې، بیا له احرام وتلي او بیا ئې منٰی ته د تګ په ورځ د حج لپاره احرام تړلی او چا چې حج او عمره په یوه احرام اداء کړي؛ پر یوه کس یو پسه او هغه ته ورته، یا په اوو تنو یو اوښ یا غوبی ذبح کول واجب دي، همدې ته د هدي نوم ورکړی شوی؛ دا به په ایام النحر کې ذبح کوي؛ غوښه به ئې فقراءو ته ورکوي؛ که څوک ئې توان نه لري نو لس ورځي به روژه نیسي؛ درې ورځي تر عرفې وړاندې په حج کې او اوه ورځي کله چې کور ته ستون شي؛ قرآن په دې اړه فرمایي:

... فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ... ﴿١٩٦﴾ البقرة

... نو که څوک تر حج پوري له عمرې ګټه واخلي نو بیا د قربانۍ هغه څاروی دئ چې میسر وي...

په هغه چا چې د إفراد حج نیت ئې کړی؛ هدي نشته مګر په هغه صورت کې چې کوم واجب ترك کړي یا کوم ممنوعه کار وکړي نو فدیه یا دم پرې لازمیږي.

د هدي بل ډول هغه مستحب هدي ده چې تطوعاً؛ په خپله خوښه او محض د الله تعالی رضاء تر لاسه کولو لپاره وي؛ حاجي، عمره کوونکی او هر مسلمان ئې وړاندې کوي؛ حرم ته ئې لېږي چې هلته ذبح شي.

اما د لوی اختر قرباني چې پر هر غني لازمه ده؛ ځيني ئې مؤکد سنت ګڼي او ځيني ئې واجب؛ په يوه کس يو پسه او هغه ته ورته څاروی، يا په اوو تنو يو اوښ يا غويې؛ حاجي ئې په حج کې يا ئې په خپل کور کې د ده په کفالت بل څوك ذبح کوي. دا د ابراهيم عليه السلام هغه قرباني رايادول دي چې غوښتل ئې د خپل خوب له مخې يوازينی مشر زوی ذبح کړي؛ دواړه تيار شول؛ الله تعالی دا قرباني ترې قبوله کړه او په بدل کې ئې د پسه قرباني ترې منظوره شوه او په دې سره د جاهليت د دور هغه دود د تل لپاره مردود او نفي شو چې خلکو به د خدای او بتانو په نامه خپل مشران زامن ذبح کول؛ موږ د دې الهي پېرزويني د شکر اداء کولو او د الله تعالی د رضاء حاصلولو لپاره دا قرباني وړاندې کوو.

د ذبح لپاره د احنافو او ځينو نورو په رأی درې ورځې دي؛ د لوی اختر لومړۍ ورځ او ورپسې دوه ورځې؛ او د ځينو له نظره څلور ورځې.

واجب هدي هغه ده چې د تمتع او قران حج له کبله لازمېږي؛ فديه او دم هغه دئ چې د کوم واجب عمل ترك کولو او د کوم ممنوع کار په کولو سره واجبېږي.

که له کوم حاجي د حج له واجباتو کوم واجب پاته شي؛ لکه له ميقات احرام تېرل؛ په مِنَا (منی) او مزدلفه کې شپه تېرول؛ د وداع طواف پاته کېدا؛ نو پر هغه دم (د څاروي قرباني کول) لازمېږي؛ د عدم توان په صورت کې لس ورځې روژه؛ درې د ذي الحجې تر نهمی وړاندې او اوه ئې کور ته له ستنېدو وروسته.

که له چا په عرفات کې حضور پاته شو؛ د يوم النحر سحر پرې راغی؛ نو حج ئې ونه شو؛ پر هغه د حج قضاء او د يوه څاروي ذبح کول او

مسکینانو ته ئې غوښه ورکول لازم ده. او که محرم حاجي؛ د حج د مناسکو له پیل وروسته؛ د کوم خنډ او مانع له کبله؛ ونه توانېدو خپل حج بشپړ کړي؛ لکه د مرض له کبله یا د امنیتي موانع او خنډونو له کبله؛ پر هغه هم هدي لازمه ده؛ هلته به له احرام وځي چي ذبیحه ئې په خپل محل کي ذبح شي. قرآن په دې اړه فرمايي:

"... فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ وَلاَ تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ...".

... که مو مخنیوی وشو نو بیا (ئې فدیه) د قربانۍ هغه څاروی دئ چي میسر وي او خپل سرونه تر هغه مه خرېيئ چي دا څاروی د حلالېدو خپل ځای ته ورسېږي ...

په احرام کي د هغو کارونو چي ممانعت ترې شوی؛ لکه وېښتان کمول او خرېيل، گنډلې جامه اغوستل، عطر وهل، نوکان قطع کول؛ کفاره ئې دا ده چي یو له دغو کارونو به کوي: فدیه، درې ورځي روژه او شپږو مسکینانو ته خواړه؛ هر مسکین ته نیمه پیمانه (تقریباً یوه نیمه کیلو) خرما، غنم، وربشي یا بل خوراکي توکی.

له خپلو مېرمنو سره د احرام په حالت کي د جنسي نژدېکت له کبله؛ حج فاسدېږي او قضاء ایجابوي؛ او علاوه پر دې د یوه اوښ یا غوایي قرباني کول ئې فدیه ده، په مکې کي به ئې ذبح کوي او غوښه به ئې پر فقراءو وېشي.

په احرام کي د ښکار او په حرم کي ئې د وژلو کفاره؛ ښکار شوي حیوان ته ورته حیوان قرباني کول دي.

په حج کي د تېریو او ممنوعه چارو د ارتکاب څرنگوالي او د هغوی د کفارې په اړه د فقهاءو له لوري تفصیلي بحثونه شوي؛ د مزید معلومات لپاره د فقه کتابونو ته رجوع وکړئ.

له دې وروسته حاجي له احرام وځي او د احرام د حالت ممنوعه

شیان ورته روا کېږي؛ له خپلو مېرمنو سره له نژدېکت پرته.

بیا به حاجي په همدغه ورځ، یا په ورپسې دریو ورځو (١١،١٢ او ١٣) د ذي الحجې د طواف لپاره مسجد الحرام ته ځي؛ اوه طوافه به کوي؛ دې ته د زیارت طواف ویل شوي او د حج له فرائضو دئ، د رکن طواف، افاضې طواف او د یوم النحر طواف په نامه هم یادېږي؛ د دې طواف اصلي ورځ همدا د یوم النحر ورځ ده چې د قرباني څاروي په کې ذبح کېږي. د احنافو له نظره د حج فرائض درې دي: احرام اغوستل، په عرفات کې توقف او د زیارت طواف، که له دغو هر یو ترک شي نو حج فاسد کېږي؛ که مفرد او قارن حاجي د قدوم له طواف وروسته د صفا او مروه تر منځ سعي کړې وي؛ د زیارت په طواف کې دي رمل (په لنډو ګرندي ګامونو تګ او اوږې خوځول) نه کوي، که نه نو رمل به هم کوي، په دې توګه د وېښتانو له لنډولو یا خرېیلو وروسته په بشپړه توګه له احرام وتلی ګڼل کېږي؛ له مېرمنو سره د نژدېکت په شمول؛ د احرام د دوران ټول ممنوعه شیان ورته روا شوي. د زیارت له طواف وروسته بېرته منٰی ته درومي؛ شپه هلته تېروي؛ سبا د ملر له زوال وروسته به د جمراتو درې ځلي؛ هر یو په اوو (٧) تیږو ولي؛ له بسم الله الله اکبر سره؛ ویشتل به له لومړي ځلي پیلوي؛ دوهم او درېیم ورپسې، د لومړي او دوهم له ویشتلو وروسته د هغوی ښي لوري ته تمېږي او مخ په قبله به دعاء کوي؛ خو د وروستني ځلي له ویشتلو وروسته له توقف پرته روانېږي؛ او په منٰی کې خپل ځمځای ته ستنېږي؛ سبا به د نن په څېر دا ځلي ولي؛ له دې وروسته حاجي کولی شي له منٰی ووځي او مکې ته ولاړ شي؛ همغسي چې قرآن فرمايي: (... فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ...): نو که څوك په دوو ورځو اکتفاء وکړي او عجله وکړي؛ نو هیڅ ګناه پرې نشته)؛ خو که پاته شو نو بیا به هم ټول ځلي ولي. همدلته د منٰی توقف بشپړ شوی او حاجیان د مکې په لوري درومي؛ هلته به له بهر راغلي حاجیان آخري ځل اوه طوافونه کوي چې د صدر یا رجوع طواف په نامه

یادېږي او پر هغو حاجیانو واجب دئ چي له بهر مکې ته راغلي؛ د مکې پر اوسېدونکو حاجیانو واجب نه دئ؛ په دې طواف کي رمل هم نشته؛ په همدې طواف سره د حاجي حج بشپړ شي.

د حج یوه مهمه برخه هغه دعاءګاني دي چي د طواف، صفا او مروه پر غونډیو، عرفات او مزدلفې کي د توقف په وخت او نورو مناسبتونو کي باید وشي؛ که څوك په عربي پوهېږي او مأثوره دعاءګاني ئې زده او حفظ وي او یا ئې لیکلې له ځان سره لري؛ همدا دعاءګاني دي وکړي؛ د قرآن هغه دعاءګاني دي وکړي چي پیغمبرانو علیهم السلام کړې او الله تعالی قبولي کړې؛ که نه نو په خپله ژبه د خپل زړه د خوښي جائز دعاءګاني دي وکړي؛ هیله مي دا ده چي دا دعاءګاني په کي شاملي کړئ؛ چي زه ئې هم په ثواب کي درسره شریك شم:

زما مولا! ستا لوري ته د نژدې کېدو له عزم او ارادې سره راغلی یم؛ ستا هغه کور ته راغلی یم چي د ابراهیم خلیل الله (د خدای ډېر نژدې دوست) او اسمعیل ذبیح الله (د الله لپاره ذبح شوی)؛ په لاس او ستا په امر جوړ شوی او تا د بیت الله نوم ورکړی؛ دا ستا کور دئ؛ او زه ستا د دغه کور دړي ته ودرېږم، په ټیټ سر، کړه غاړه، اوښلنو سترګو سره راغلی یم؛ د ګناهونو له درانه پېټي سره؛ د بخښني او مغفرت له هیلي سره؛ ستا دا وینا مي اورېدلې او کلك ایمان پرې لرم: (قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ: ووایه: اې زما هغو بندګانو چي پر خپل ځان ئې تېری کړی؛ په ډېرو ګناهونو سره ئې پر ځان ظلم کړی؛ د الله له رحمت مه ناهیلي کېږئ؛ یقیناً چي هغه ټول ګناهونه بخښي؛ بې له شکه چي هغه ډېر مهربان بخښونکی دئ)؛ نه یوازي ګناهونه بخښي؛ بلکي پر خپل توبه کوونکي ګنهګار بنده د خپل رحمت او پېرزویني سیوری غوړوي؛ دا ځکه چي هغه مهربان بخښونکی دئ.

خدایه! د خپلي دغي وعدې له مخي؛ ټول ګناهونه مي راته وبخښه؛

---

واړه او ستر ئې، پټ او څرګند ئې؛ هغه چي پرې پوهېږم ګناه مي کړې او هغه چي نه پرې پوهېږم؛ که تر نن وړاندي د بل کور دړي ته ودرېدلی یم، له بل چا مي وېره او طمع کړې؛ د بل لمن مي نیولې؛ د هغو په څېر شوی یم چي د قصرونو او قبرونو طواف ئې کړی؛ توبه مي ده؛ بیا به داسي غلطي نه کوم، تا ځان ته کافي ګڼم، نن ستا د کور خوا ته همدا ژمنه کوم، په حجر الاسود لاس ږدم؛ او دا له تا سره د اطاعت او بیعت کلك او دائمي تعهد؛ غواړم د ابراهیم، اسمعیل او هاجر علیهم السلام په څېر شم؛ هغه چي یوه ئې په زړښت او هغه مهال چي ځوان زوی ته سخت اړ وو او همدا ئې یوه لویه تمنی؛ دې ته چمتو شو چي همدا زوی ستا لپاره قرباني کړي؛ بل ئې هغه چي په تنکۍ ځواني کي ذبح کېدو ته تیار شو؛ او بل ئې هغه چي د مکې په وچې، له ژوو او بوټو تشي وحشتناکي وادي کي له تي خور ماشوم سره یوازي پرېښودی شوه؛ خاوند ئې ستا په حکم یوازي پرېښوده؛ او کله چي هغه ورته وویل: الله ته مو سپارم؛ نو هغې وویل: الله راته کافي دئ؛ او یقیناً چي ته ورته کافي شوې؛ د زمزم چینه د هغې د ماشوم زوی پښو ته راوخوټېده؛ دا دئ په زرګونو کلونه تېر شول خو هغه چینه لا همغسي خوټېږي؛ کله چي ابراهیم علیه السلام دوی په دې وحشتناکي وادي کي پرېښودل؛ تا ته ئې وسپارل، دعاء ئې وکړه چي خدایه! د دوی لوري ته د خلکو زړونه رامات کړه، د روزي انتظام ئې وکړه؛ تا ئې دعاء قبوله کړه؛ همغه وحشتناکه وادي د نړۍ په ستر سیاسي، اقتصادي او مذهبي مرکز بدله شوه؛ دا نن چي هر کال په ملیونونو حاجیان ستا کور ته راځي؛ په حقیقت کي د ابراهیم علیه السلام دعوت ته لبیك وایي؛ د دوی راتګ د ده د دعاء مصداق او مظهر دئ؛ خدایه! زما دعاءګاني همغسي قبولي کړې چي د ابراهیم او هاجر علیهما السلام دعاء ګاني دي قبولي کړې؛ د صفا او مروه په سر دعاءګاني مي د هغې دعاءګانو ته ورته کړې؛ زموږ مهربان مولا! ما وبخښې، زما پر ملګرو، خپلوانو او زما پر مظلوم ملت رحم وکړې؛ د

محمد علیه السلام پر ځورېدلې امت خپل پراخ رحمت پېرزو کړي، تېر مجد او عظمت ئې احیاء کړې او پر موږ هغه ورځ وګورې چې د اسلام پرتمین بیرغ د نړۍ په ګوټ ګوټ کې رپانده وي او د شر او فساد ځواکونه په ټولې نړۍ کې داسې ځپل شوي وي چې په هیڅ ګوټ کې ئې هیڅ مسلمان ته په کږو سترګو د کتلو جسارت ونه کړي؛ د هغې ورځې د رارسېدو په هیله؛ آمین

## د حج اړوند روایات په بخاري کې

د دې لپاره چې حاجیان پوه شي رسول الله صلی الله علیه و سلم مسلمانانو ته د حج په اړه څه لارښوونې کړې او په روایاتو کې څه راغلې؛ دا مو غوره وګڼله چې په دې کتاب کې د حج اړوند ځینې هغه روایات له ژباړې او مختصر شرحې سره راوړو چې په بخاري کې راوړل شوي؛ له حج هغه څوك زیات خوند اخستی شي چې هم ئې په احکامو او مناسکو پوه وي، هم ئې په حکمتونو او اسرارو او هم د حج په اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په لارښوونو. د بخاري د حج کتاب پر ۷٦ بابونو مشتمل دئ، هر باب په اصل کې د یوې موضوع عنوان دئ او ترې لاندې هغه روایات راوړل شوي چې امام بخاري پرې استناد کوي او ترجمة الباب پرې ثابتوي.

### ۱ باب: د حج فرضیت او فضیلت

وَقَوْلِ اللَّهِ: {وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا، وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ ۝٩٧} آل عمران

عنْ عَبْدِ الله بنِ عَبَّاسٍ رَضِى الله عَنْهُمَا. قَالَ كَانَ الفَضْلُ رَدِيفَ رسولِ الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم فَجاءَتْ امْرَأَةٌ مِنْ خَثْعَمْ فجعَلَ الفَضْلُ يَنْظُرُ إليْهَا وتَنْظُرُ إلَيْهِ وجَعَلَ

النبيُّ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم يَصْرِفُ وَجْهَ الفَضْلِ إِلَى الشِّقِّ الآخَرِ فقالَتْ يَا رسولَ الله إِنَّ فَرِيضَةَ الله عَلَى عِبَادِهِ فِي الحَجِّ أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخا كَبِيرا لَا يَثْبُتُ عَلَى الرَّاحِلَةِ أَفأَحُجُّ عَنْهُ قَالَ نَعَمْ وَذالِكَ فِي حَجَّةِ الوَدَاعِ. بخارى: ۳۱۵۱

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: په داسي حال کي چي فضل بن عباس د رسول الله صلى الله عليه و سلم تر شا وو؛ د خثعم قبيلې يوه مېرمن راغله؛ فضل هغې ته کتل او هغې فضل ته؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم د فضل مخ بل لوري ته واړاوو؛ مېرمني وويل: يا رسول الله! د حج فريضې په داسي حال کي زما پلار وموند چي زيات زوړ شوی؛ نه شي کولی پر سورلۍ سم تم شي؛ آيا زه ئې پر ځای حج وکړم؟ وئې فرمايل: هو؛ او دا د حجة الوداع په کال کي وو.

دا روايت په بخاري کي ۵ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۱۳ – ۱۸۵٤- ۱۸۵۵- ٤۳۹۹- ٦۲۲۸؛ له روايت څو اساسي مطالب تر لاسه کولی شو:

- د دغي مېرمني مخ لوڅ وو؛ فضل بن عباس ورته کتل؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم د هغه مخ بل لوري ته اړولی. او دا ښيي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانه کي به حتی په حج کي هم د مېرمنو مخونه لوڅ وو؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم د مخ په پټولو نه دي ګمارلې.
- دا پېښه هم د رسول الله صلى الله عليه و سلم د عمر په پای او حجة الوداع کي رامنځته شوې؛ يعني داسي وخت کي چي په کوم بل روايت ئې تغيير او نسخ محتمل نه دئ؛ يعني مېرمني د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ټوله زمانه کي همداسي وې؛ له روايت معلومېږي چي مېرمنه هم له مخ پېژندل شوې او هم دا چي نوم ئې څه وو او د کومي قبيلې وه.
- رسول الله صلى الله عليه و سلم په اوښي سپور وو، فضل بن عباس

ئې تر شا، دغي مېرمني ودرولی او دا پوښتنه ئې ترې کړې.

- رسول الله صلی الله علیه و سلم د پوښتني په ځواب کي هغې ته ویلي: ته کولی شې د خپل بوډا او معذور پلار پر ځای حج وکړې.

پورتنی روایت چي د مُسند احمد، بخاري، مسلم، سنن أبي داؤد، سنن النسائي، سنن الترمذي، المعجم الکبیر للطبراني او سنن الدارمي؛ په څېر مهمو کتابونو راوړی شېي چي که د مېرمنو مخ پټول ضروري وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به د خلکو په وړاندي د دې مېرمني د لوڅ مخ په اړه سکوت نه کولو او حتماً به ئې هغه د مخ پر پټولو ګمارلې وه؛ او که ئې مخ پټ وو نو ابن عباس به نه وه پېژندلې چي دا ښایسته وه. دا د ابن حزم او د الباني په شمول د نورو محققینو استدلال دئ.

- او دا روایت چي وایي: مېرمني به په حج کي مخ او لاسونه نه پټوي؛ د حدیث ټولو مهمو او معروفو کتابونو لکه مسند احمد، بخاري، مسلم، سنن أبي داؤد، سنن النسائي، سنن ابن ماجه، سنن الترمذي، موطأ مالك، السنن الکبری للبیهقي، المعجم الاوسط، الشرح السنة للبغوي، صحیح ابن خزیمه او مسند ابي عوانه راوړی؛ په څرګنده او واضح توګه ښیي چي د مېرمني مخ او لاسونه په عوراتو کي شامل نه دي.

- دوی وایي: له دې ثابتېږي چي د مېرمنو د مخ څرګندېدا عورت (د عار او پېغور خبره) نه ده او پټول ئې لازمي نه دي؛ نه په لمانځه کي او نه له لمانځه بهر؛ او همدا د اکثر علماءو رأیه او وینا ده؛ او همدا د څلورو ائمه وو؛ أبو حنیفة، مالك، شافعي او احمد بن حنبل رحمهم الله مذهب دئ.

باید دې ته متوجه وو چي له مخ مراد هغه برخه ده چي په اوداسه کي مینځل کېږي؛ غوږونه، غاړه، د سر وېښتان په کي شامل نه دي؛ او له لاسونو مراد له بند لاندي تر ګوتو پوري او له پښې مراد له بېډیو لاندي

د گوتو تر سرونو پوري دي.

امام بخاري دا روايت د (وُجوبِ الحَجِّ وَفَضْلِهِ) تر عنوان لاندي راوړی؛ خو په روايت کي د حج د فرضيت او فضيلت په اړه هيڅ څه نه دي ويل شوي؛ اما قرآن په دې اړه فرمايي:

إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِى بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٦﴾ فِيهِ ءَايَٰتٌۢ بَيِّنَٰتٌ مَّقَامُ إِبْرَٰهِيمَ ۖ وَمَن دَخَلَهُۥ كَانَ ءَامِنًا ۗ وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلْبَيْتِ مَنِ ٱسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٧﴾ آل عمران

يقينا لومړی کور چي د خلکو لپاره وضع شوی همغه دئ چي په مکه کي دئ؛ مبارك او د نړۍ والو لارښود. په هغه کي څرگندي نښي دي؛ د ابراهيم د ودرېدو ځای او څوك چي ورننوځي خوندي وي او د خلکو پر هغه چا ئې د الله لپاره حج کول لازم شوي چي د لاري په موندو وتوانېږي او چا چي کفر وکړ نو الله له نړۍ والو بې نياز دئ.

دا مبارك آيتونه څو لارښووني زموږ مخي ته ږدي:

- د مکې مکرمې دا کور؛ بيت الله؛ دا د ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام په لاسونو جوړ شوی مبارك کور؛ لومړی کور دئ چي الله تعالی د خلکو لپاره غوره کړی؛ د عبادت لپاره او د قبلې په توگه؛ د الله تعالی له لوري او د هغه په حکم جوړ شوی.

- د دې خبري د اثبات لپاره چي دا د الله له لوري وضع شوی لومړی کور دئ؛ څو دلائل وړاندي شوي:

۱- هلته د ابراهيم عليه السلام د اقامت ځای دئ، هلته د ابراهيم عليه السلام او د اسمعيل عليه السلام اولاد مېشت شوي، هلته د بنو اسمعيل شتون د دې څرگنده نښه ده چي دا کور د ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام په لاسونو جوړ شوی، ټول عرب په دې متفق دي چي دا کور د دوی په لاس جوړ شوی. ځيني مفسرين؛ (مقام ابراهيم)؛ هغه تيږه بولي

چي د دوو پښو نښه په کي ليدل کېږي او دا د ابراهيم عليه السلام د پښو نښي گڼي؛ کېدی شي همداسي وي؛ خو د پښو په دې نښو سره دا ثابتول او مخالف پرې قانع کول گران کار دئ چي کعبه د زمکي پر سر لومړی الهی کور دئ. اما مخکینی تعبیر او دا چي له (مقام ابراهيم)؛ د ابراهيم عليه السلام او د ده د اولاد؛ بنو اسمعيل د اقامت سیمه او مېشت ځای مراد دئ؛ د هر هغه مخالف شك او اعتراض ته مقنع او پرېکنده ځواب وايي چي له دې پرته بله خبره کوي. يهودانو او مسيحيانو ته هم؛ تاسو پوهېږئ چي ابراهيم عليه السلام تر موسی او عیسی علیهما السلام ډېر د مخه تېر شوی. په فلسطين کي د دوی دواړو قبله (بيت المقدس) تر کعبې ډېره وروسته جوړه شوې.

۲- ټول عرب قبائل د دې کور احترام کوي؛ هر کال به ئې د دې حج کولو، د حج په میاشتو کي به په حجاز کي امن او امان وو؛ هومره درناوی او احترام چي کله به ځوك د دې کور په حريم کي داخل شو نو هغه له هر راز نيوني او مؤاخذې مصون وو، که به چا د خپل پلار قاتل هم هلته وموند نو د دې کور د درناوي لپاره به ئې هلته او د حج په میاشتو کي انتقام نه اخيستلو؛ او دا د کعبې له جوړېدو تر نن پوري.

۳- گورئ چي له پېړيو پېړيو رادې خوا خلك د الله لپاره د دې کور په خوا کي د حج مناسك تر سره کوي. دا لړۍ د ابراهيم عليه السلام له زمانې او له هغي ورځي چي کعبه د ده او د ده د زوی اسمعيل علیهما السلام په لاسونو جوړه شوه؛ په تېرو نژدې څلور نيم زرو کلونو کي د نړۍ له گوټ گوټ مؤمنان د حج لپاره دلته راتلل او د دې کور طوافونه ئې کول.

٤- ډېر خلك د دې کور په نسبت کافران شوي او د هغه د هتك حرمت او اعتبار ختمولو او حتی ورانولو لپاره ئې هڅي کړې، ابرهه ئې يو مثال دئ؛ خو الله تعالی په خپله د دې کور حفاظت کړی او له دې کور په دفاع او حفاظت کي ئې خپله استغنیٰ له ټولو عالميانو په وار وار ثابته

کړي. پر مکه د ابرهه يرغل د رسول الله صلى الله عليه و سلم له رسالت وړاندي شوی؛ هغه مهال عبدالمطلب د رسول الله صلى الله عليه و سلم نيکه د قريشو مشري کوله؛ تفصيلات ئې د عربانو په ټولو معتبرو تاريخونو کي راغلي. په تاريخونو، قصو، قصيدو او شعرونو کي د دې بريد د تفصيلاتو تر څنگ د أبُو رِغَال نومي کس يادونه هم شوې چي د طائف اوسېدونکو له ابرهه سره لېږلی وو چي د کعبې لار وروښيي؛ په لار کي مړ او هملته دفن شو؛ هر عرب چي به په هغه لار تگ راتگ کولو نو د ده قبر به ئې په ډبرو ويشتلو؛ دومره ډبري پرې وورېدې چي د ډبرو غونډۍ پرې جوړه شوه.

موږ هم ډېر ابو رغالان لرو؛ هغه چي جرم ئې د عربو تر ابو رغال ډېر ستر او قبيح دئ؛ اشغالگرانو ته ئې پر هېواد د بريد بلنه ورکړې؛ د هغوی تر فرمان لاندي د ملت خلاف جنگېدلي؛ له اشغالگرانو ئې غوښتل چي پر افغانانو غټ غټ بمونه وورویئ؛ د بي ۵۲ بمونه ئې هم کافي نه گڼل او هغه ئې له زرگري جنگ سره تشبيه کولو؛ هغه چي د دښمن جنگي جهازونو ته به ئې کوردیناتونه ورکول؛ له دغو سره بايد همغه څه وشي چي د طائف له ابو رغال سره شوي.

## د کعبې روښانه تاريخ او د غرب دروغجن تبليغات

د کعبې په اړه دا بحث هم ضروري برېښي چي په ۲۰۱٦ ميلادي کال کي؛ دن گيبسون نومي کانادايي ليکوال؛ د **The sacred city** (مقدس ښار) په نامه فيلم خپور کړ؛ د فيلم محتوی ئې د يوه کتاب په بڼه کي نشر کړه چي (د قرآن جغرافيه) نوم ئې ورته غوره کړی. په مجازي رسنيو کي د فيلم انعکاس ډېر سريع او زيات وو؛ له هر څه ئې په واضح توگه جوته وه چي تر شا ئې د يوې شتمني او ستري شبکې لاس دئ؛ د دې فيلم جوړوونکی د فيلم په پيل کي راڅرگندېږي او ادعاء کوي چي دېرش کالونه ئې د مکې شاوخوا سيمو کي تېر کړي؛ څېړني  او تحقيقات ئې

کړي؛ او ګواکې له ژورو او اوږدمهاله تحقیقاتو وروسته دې نتیجې ته رسېدلی چې اصلي کعبه هغه نه ده چې نن د نړۍ یو ملیارد (نژدې دوه ملیارد) مسلمانان؛ هره ورځ پنځه ځلې د توري ډبرې لوري ته لمونځ کوي؛ اصلي کعبه د اردن په جنوب؛ د پیټرا ښار کې وه؛ محمد علیه السلام هم د هغه ځای اوسېدونکی وو او کعبه هم هلته وه، دن ګیبسون ادعاء کوي چې د کعبې په اړه تر ۸۰۰ میلادي کال وړاندې هیڅ مستند او موثق مدرك او سند نشته!!؛ ادعاء کوي چې دا خبره هغو دوه عرب پوهانو ورته کړې چې نه ئې غوښتل نومونه ئې یاد شي!! همدا راز دا ادعاء هم کوي چې د قرآن په یوه آیت کې د لومړۍ کعبې موقعیت د بکه په نامه یاد شوی؛ او دا د مکې نه بلکې په اردن کې د یوه زوړ ښار نوم دئ!! د ځینو داسې سیمو نومونه هم اخلې چې د جوماتونو محرابونه ئې د مکې پر ځای د همدې ښار په استقامت دي؛ داسې سیمې چې که هلته انسان ۵- ۱۰ درجو پورې شمال ته ودرېږي نو قبله به ئې په اردن کې وي او که جنوب ته همدومره درجې کوږ شي نو قبله به ئې په یمن کې وي!!!

راشئ د دې مغرض او اجیر تش په نامه محقق دغه کچه او بې بنسټه ادعاءګانې د قرآن د پورتنیو لارښوونو او دلائلو په رڼا کې وڅېړو چې د ده اجدادو ته ئې ۱٤٤۰ کاله وړاندې په همدې اړه ځوابونه ورکړي. د قرآن له پورتني آیت معلومېږي چې:

- د ده اجدادو هم دا نه منله چې کعبه لومړی الهي کور دئ چې د ابراهیم او اسمعیل علیهما السلام په لاس جوړ شوی؛ هغوی بیت المقدس لومړنی معبد ګڼلو؛ په بایبل کې د سلیمان علیه السلام او موسی علیه السلام په لاس د داسې مجللو معبدونو یادونه شوې چې په سلګونو کیلو ګرامه سره او سپین زر ئې یوازې په لوښو کې کارول شوي او ډېر مس، قیمتي ډبرې او اعلی لرګي. یهودان هغه مهال فلسطین ته راغلي چې له مصر د موسی علیه السلام تر قیادت لاندې ووتل؛ ډېره موده په

سينا کې پاته شول او وروسته فلسطين د دوی لاس ته ورغی؛ د دوی ټول معبدونه د بيت المقدس په شمول؛ د ابراهيم عليه السلام د کړوسيانو په لاس جوړ شوي؛ خو کعبه په خپله د ابراهيم او د ده د مشر زوی اسمعيل عليهما السلام په لاس جوړه شوې. نو له شك پرته لومړنی مسجد؛ مسجدالحرام دئ نه مسجد الاقصی او د يهودانو او مسيحيانو معبد په فلسطين کې.

- بايبل وايي چې ابراهيم عليه السلام خپله مېرمن هاجر عليها السلام؛ د خپلي مخکينۍ مېرمني سارا عليها السلام په غوښتنه؛ له کور وايستله او لري ئې د يوې چينې خوا ته له خپل ماشوم زوی اسمعيل عليه السلام سره يوازي پرېښووده؛ خو قرآن وايي چې هغه ئې له خپل تې خور زوی اسمعيل عليه السلام سره؛ د الله تعالی په حکم د مکې په وچي وادي کې پرېښووده؛ همدلته او همدغه وخت د اسمعيل عليه السلام تر پښو لاندي د زمزم چينه راوخوټېده. کله چې اسمعيل عليه السلام تنکۍ ځواني ته ورسېد؛ ابراهيم عليه السلام په خپلي مکرري رؤيا کې وليدل چې دی ذبح کوي؛ همدا لومړی زوی د الله تعالی په لار کې ذبح کول او وقف کول د جاهليت د دور مذهبي دود وو؛ الله تعالی غوښتل چې دا جاهلانه دود د تل لپاره او د ابراهيم عليه السلام په لاس له منځه يوسي؛ ابراهيم عليه السلام خپله رؤيا له زوی سره شريکه کړه او هغه ورته وويل: پلار جانه! په څه چې مأمور شوی يې هغه تر سره کړه؛ إن شاء الله ما به صابر ومومې. دواړه دې ته چمتو شول؛ يو د خپل لومړي زوی ذبح کولو ته او بل په تنکۍ ځوانۍ کې ذبح کېدو ته؛ الله تعالی ابراهيم عليه السلام ته وفرمايل: خپل خوب دي رښتينی کړ؛ د څاروي ذبح کول د زوی ذبح کولو ځای ناستی شو؛ او همدا د حج د مناسکو يوه برخه شوه. په دې ستري آزمويني کې له بريا وروسته؛ د الله تعالی لومړنی کور؛ همدلته د دواړو په لاس جوړ شو.

- د زمزم دغه چينه باعث شوه چې لومړی د ېمنيانو يوه قافله د

هغې خوا کې مېشت او ځای پر ځای شي او وروسته ورو ورو دا ځای په یوه ستر مذهبي، سیاسي او تجارتي مرکز بدل شي. اسمعیل علیه السلام له یمنیانو سره خپلوي کړې، د ده له اولاد د بني اسمعیل په نامه ستره قبیله جوړه شوې چې تر ننه ئې همدا نوم دئ او همدا مکه ئې اصلي او اساسي ټاټوبی.

- دا هر څه دومره واضح دي چې نه یوازې د عربانو بچی بچی ترې خبر دئ؛ بلکې یو نیم ملیارد مسلمانان پرې باور لري، په تواتر سره له یوه نسل بل ته انتقال شوي، د کعبې له جوړېدو بیا تر ننه په تېرو نږدې څلور نیم زره کلونو کې هر کال په سلگونو زره او اوس هر کال نږدې درې ملیون حاجیان همدې مکې ته درومي او هلته هر څه په خپلو سترگو گوري او عملاً ئې تر سره کوي، د کعبې طواف، د هاجر علیها السلام د سعي او د صفا او مروه تر منځ ورو او تېز تگ؛ دقیقاً د هاجر په څېر، د اسمعیل علیه السلام د محتمل ذبحي ځای او هلته د څاروي ذبح کول، د زمزم چینه، په مکه کې د بني اسمعیل قبیله او دا هر څه د هغه کتاب له لاربنوونو سره سم مومي چې څوالس نیمي پېړۍ کاله وړاندې نازل شوی او تر ننه نه یوازې په بشپړه توگه له هر پلوه خوندي او محفوظ پاته شوی؛ دومره چې په زیر او زبر کې ئې هم معمولي تغییر نه دئ راغلی؛ بلکې په دې کتاب کې د گڼ شمېر معروفو ځایونو او تاریخي پېښو یادونه شوې؛ مکه، مدینه؛ دا د رسول الله صلی الله علیه و سلم مهجر او د لوی اسلامي خلافت دارالخلافه، بدر، حنین، د احد او احزاب سترو جگړو یادونه، د اصحاب فیل یادونه چې سالار ئې ابرهه بن صباح غوښتل کعبه ورانه کړي، په صنعاء کې ئې ستره کنیسه جوړه کړه، غوښتل ئې ټول عرب د کعبې له حج دې لوري ته راواړوي، له دې پرته ئې بله چاره ونه موندله چې مکه فتح او کعبه ورانه کړي، له ستر لښکر سره د مکې په لور وخوځېدو؛ په لومړي ځل عرب له داسې ستر لښکر او په جگړې کې له فیلانو کار اخیستل لیدلي، سره له دې په یمن او د لارې په

اوړدو کې د عربو ګڼ شمېر قبائلو د هغه مقابله کړې؛ خو له ماتې سره مخامخ شوي؛ د مکې خوا ته رسېدلی او همدلته الله تعالی د ده ټول لښکر تباه کړی او د جنګياليو غوښې ئې مرغانو خوړلې. دا ټول موقعيتونه د مکې شاوخوا کې دي او دا ټولې تاريخي جګړې د مکې شاوخوا کې رامنځته شوې.

- قريشو له رسول الله صلی الله عليه و سلم او د ده په مشرۍ له مسلمانانو سره درې ستري جګړې درلودې: بدر، احد او الاحزاب؛ دا جګړې هم په قرآن کې په ډېر تفصيل سره راغلې او هم د عربو په تاريخ کې؛ ځايونه او موقعيتونه ئې څرګند دي، د دواړو لوريو د جنګياليو او د مړو، شهيدانو او زخميانو شمېر ئې معلوم دئ، د سترو سترو شخصيتونو مرګ ژوبله ئې معلومه ده؛ د احد په جګړې کې رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپله ټپي شو او تره ئې حمزه رضي الله عنه شهيد شو. په حديبيه کې د رسول الله صلی الله عليه و سلم او قريشو تر منځ يوه تاريخي معاهده لاسليك شوه؛ له مخې ئې د لسو کلونو لپاره اوربند وشو او جګړې متوقف شوې، دې معاهدې ته قرآن د فتح مبين نوم ورکړ، په پای کې مکه له جنګ پرته د رسول الله صلی الله عليه و سلم له لوري فتح شوه او له خپل لوی لس زره کسيز لښکر سره د فاتح په توګه مکې ته داخل شو او قريشو ته ئې عفو وکړه، د مکې ستري فتحې د اسلام هغه دښمنان سخت وويرول چې د مشرکو قريشو او مسلمانانو تر منځ د نښتو پايلو ته منتظر وو؛ د طائف مشرکين؛ د هوازن او ثقيف قبائل د مسلمانانو د مقابلې لپاره تيار شول، نژدې څلور زره جنګيالي ئې چمتو کړل، د حنين په غرنۍ سيمې کې ئې د شپې له لوری ځای ځای کې کمينونه ونيول، د مسلمانانو شمېر نژدې دولس زره وو؛ د قريشو نوي مسلمان شوي هم ورسره ول؛ حنين ته له رسېدو سم او په ناڅاپي توګه تر بريدونو لاندې ونيول شول؛ ناڅاپي بريدونو دا ستر لښکر داسې پرېشان کړ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ئې يوازې پرېښود؛ قرآن دا پېښه

هم په ډېري اغېزمني بڼې کې څېړلې ده. له دن گيبسون پوښتنه کوو: آيا په حجاز کې د دېرش کلن اقامت او تحقيق په دوران کې؛ له دې ټولو څرگندو حقائقو بې خبره پاته شوی يې؟!! نه دي له چا دا نومونه اورېدلي، نه د دې سترو سترو جگړو قصې او نتائج ئې چا درسره شريك کړې؟ له دې هم نه يې خبر شوی چې دا هر څه د مکې او مدينې شاوخوا مشهورو سيمو کې رامنځته شوي؟! آيا دا هر څه او ژوندی تاريخ ئې؛ له دې سيمي د يوې جعلي ويډيو پر مټ؛ اردن ته انتقالول ممکن دي؟ داسي سفيه او ساده انسان به هم پيدا شي چې له تا سره ئې ومني.

- د رسول الله صلی الله عليه و سلم د پيدايښت نېټه او ځای هم معلوم دئ او قبر ئې هم، د پلار نوم ئې هم معلوم دئ (عبدالله) او د مور او قبيلې ئې هم، نيکه او جد ئې هم؛ عبدالمطلب او هاشم، حتی د رضاعي مور نوم او د هغې قبيله هم معلومه او په تاريخ کې ثبت، د مېرمنو نومونه او قبرونه ئې هم معلوم دي. دا ټول په مکه او مدينه کې دي؛ نه د اردن په جنوب او د پيټرا ښار کې!! هيڅ داسي مورد نشو موندلي چې وښيي محمد عليه السلام يا د کورنۍ او قبيلې کوم غړی ئې هلته اوسېدلی او هلته په دغو مشهورو نومونو کوم ځای او کلی چا ليدلی. آيا له دن گيبسون پرته به داسي انسان پيدا شي چې دا ټول حقائق له پامه وغورځوي او ترې انکار وکړي؟!! د ده مأموريت او هڅه دا وه او دا دېرش کلونه ئې د دې لپاره په سعودي او اردن کې تېر کړي چې وکولی شي داسي مدارك تر لاسه کړې چې د اسلام او مسلمانانو په ضد د يوې اغېزمني تبليغاتي وسيلې په توگه ترې استفاده وکړي او له حقائقو بې خبر مسلمانان او غير مسلمانان په شك کې واچوي او وئې غولوي؛ خو د ټولو شيطاني هڅو نتيجه ئې همدا مسخره ويډيو وه. دی د نورو مستشرقينو په څېر د صليبيانو او صهيونستانو له لوري استخدام شوی؛ په دې موخه دغو عربي هېوادو ته لېږل شوی چې د اسلام خلاف تبليغاتي مواد پيدا کړي؛ بل څه ئې يا نه دي موندلي او يا د ده مخکينيو ملگرو

پرې کار کړی؛ دا عنوان او موضوع ورته جالبه معلومه شوې چې ثابته کړي؛ مسلمانانو د کعبې په اړه هم اشتباه کړې او د ابراهيم عليه السلام په لاس د جوړې شوې اصلې کعبې پر ځای ئې غير اصلي کعبه غوره کړې!! دا نه د مکارو دښمنانو نوې هڅه ده او نه وروستۍ؛ تر ده وړاندې حتی د رسول الله صلی الله عليه و سلم په زمانه کې همدغو يهودانو او صليبيانو د لومړۍ قبلې په اړه دې ته ورته غلط او بې بنسټه تبليغات او ادعاءگانې درلودې؛ چې قرآن د دوی د غلطو ادعاءگانو د ترديد لپاره د مخکينيو دلائلو تر څنگ دا دلائل هم وړاندې کوي:

- د دن گيبسون دا ادعاء هم ډېره مسخره او مضحکه ده؛ د يوه محقق نه بلکې د يوه متعنت او مغرض انسان ادعاء ته ورته؛ چې وايي: د مکې په شرق کې ئې داسي زاړه مساجد ليدلي چې محراب ئې د مکې پر ځای د اردن جنوب ته مخامخ وو!! دې جناب ته بايد ووايو: هغه زاړه مساجد او د هغوی د محرابونو استقامت قطعاً او له علمي پلوه د اعتبار وړ نه دي چې د سمت معلومولو له اوسنيو مخکې تللو وسائلو (قطب نما) پرته جوړ شوي؛ د ټولو دغو محرابونو استقامت د تخمين له مخې ټاکل شوی؛ ځوك چې د ايران، افغانستان، پاکستان او هند په څېر لرې پرتو هېوادو کې زاړه جوماتونه له نژدې وگوري او له همدغو وسائلو په استفادې سره ئې د محرابونو استقامت وڅېړي نو ورته معلومه به شي چې شمال او جنوب ته په ۵ - ١٠ درجې تفاوت سره به ئې سمت يا اردن ته وي او يا يمن ته؛ داسي زوړ جومات به قطعاً ونه مومئ چې سل په سلو کې مستقيماً د کعبې په استقامت وي. د کابل او مکې تر منځ نژدې ٣٠٠٠ کيلومتر واټن دئ، که په کابل کې د يوه جومات محراب ١٠ درجې شمال يا جنوب ته کوږ جوړ شوی وي؛ نو استقامت به ئې له کعبې نژدې ٥٠٠ کيلومتر شمال يا جنوب ته وي؛ او په هند کې درې - څلور درجې شمال او جنوب ته کږېدل؛ زموږ استقامت له کعبې همدومره شمال او جنوب ته کږوي.

دن کيبسون ټول زاړه جوماتونه او د محرابونو استقامتونه ئې په دريو ډولو وېشلی؛ دې ته ئې سياسي رنګ ورکړی او د عباسيانو او امويانو اختلاف ئې د هغه اصلي سبب ګڼلی: ۱- کعبې ته مخامخ، ۲- پيټرا ته مخامخ او ۳- د پيټرا او مکې تر منځ د مکې شمال ته مخامخ!! يعني د امويانو، عباسيانو او بې طرف مسلمانانو جوماتونه!!! خو که دا ښاغلی افغانستان ته راشي نو په يوې وړې سيمې کې به داسي جوماتونه همدا اوس او په ۲۱ مې پېړۍ کې وګوري چې له دغو دريو لوريو علاوه؛ د مکې جنوب يمن کې او د صنعاء او مکې تر منځ يوه لوري ته به مخامخ وي؛ او وجه ئې هم سياسي نه بلکې د تخمين له مخې د محرابونو د جوړولو ستونزه ده؛ قرآن دغه حقيقت ته په پام سره ويلي چې هر ځای وئ په لمانځه کې مو مخ د کعبې لوري ته واړوئ؛ هر لوري ته چې مخ واړوئ الله تعالی په همغه لوري کې دئ؛ الله تعالی هيڅوك تر خپل توان په زيات څه نه ګماري، ستا تخميني قبله هم مني، د اسلام له نظره که څوك داسي ځای کې وي چې د قبلې لوری ورته معلوم نه وي؛ د تخمين له مخې يوه لوري ته لمونځ وکړي؛ نو که وروسته ورته معلومه شي چې بل لوري ته ئې لمونځ کړی؛ لمونځ ئې صحيح شوی او اعاده ئې پرې لازمه نه ده.

د دن ګيبسون دا ادعاء هم په بشپړه توګه او کاملاً دروغ ده چې تر اتمې ميلادي پېړۍ وړاندي؛ د کعبې په اړه هيڅ ليکلي موثق معلومات نه شو موندلی!! داسي ادعاء يوازي هغه څوك کولی شي چې په دروغ ويلو کې ډېر جرئ او جسور وي. ده او د ده همفکرانو ته وايو:

۱- يو موثق مدرك خو قرآن دئ چې تاسو وليدل په څومره دقيقه توګه ئې د مکې او کعبې په اړه بحث کړی او حقائق ئې بيان کړي. دا قرآن په شپږمې ميلادي پېړۍ کې نازل او خلکو ته رسېدلی. ۲- د عربو هر تاريخ ليکونکي د مکې د څرنګوالي او تاريخ په اړه تفصيلي بحثونه کړي، ۳- عرب شعراءو او ليکوالو خپل شعرونه او ليکنې پرې ښايسته کړي.

٤- د کعبې د جوړېدو له ورځې تر نن پورې په ملياردونو عرب او غېر عرب مسلمانانو د کعبې اړوند مسائل په شفوي توګه نورو ته بيان کړي او تر موږ پورې رارسېدلي. ۵- اما د دن ګيبسون جعلي او مسخره خبره له ده پرته بل ويونکی او مدعي په ټول تاريخ کې نه لري!!! تاريخي شواهد او د قرآن محکم او مقنع دلائل ښيي چې کعبه د زمکې پر سر د الله تعالی له لوري لومړی غوره شوی مبارك کور دئ.

دن ګيبسون د دې ادعاء جسارت هم کړی چې وايي: اصلي مکه به حتماً په داسې ځای کې وه چې هلته به لوی ښار وو، مهم تجارتي مرکز، کاروان سرايونه، باغونه، زراعتي زمکې، د ښار چاپېر امنيتي دېوال او د مهمو ښارونو د هغه مهال ټول نور ضروري مشخصات؛ خو په اوسنۍ مکه کې نه د زمکې پر سر د داسې ښار هيڅ آثار او نښې ليدل شوې او نه د کيندنو په ترڅ کې موندل شوې؛ نه د تعميرونو او دېوالونو آثار او نه د زراعت او زراعتي زمکو او باغونو!! خو د پيټرا په ښار کې دا ټول آثار هم د زمکې پر سر شته او هم تر خاورو لاندې موندل شوې!! دې جناب ته بايد ووايو:

قرآن وايي چې کعبه په داسې ځای کې د ابراهيم عليه السلام په لاس جوړه شوې چې غير ذي زرع وادي وه؛ وَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ، نه په کې اوبه وې، نه بوټي او وني او نه انسان او آثار ئې؛ قرآن له ابراهيم عليه السلام داسې نقل قول کوي:

رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةً مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهۡوِيٓ إِلَيۡهِمۡ وَٱرۡزُقۡهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡكُرُونَ ٣٧ ابراهيم

اې زموږ ربه! ما خو د خپل اولاد ځيني؛ ستا د محترم کور خوا ته په داسې بېديا کې مېشت کړل چې بې بوټي (بېديا) ده؛ اې زموږ ربه! د دې لپاره چې لمونځ اقامه کړی شي؛ د خلکو زړونه د دوی لوري ته رامات

کړه او له مېوو روزي ورکړه چي شکر پر ځای کړي.

د قرآن له دغو آيتونو چي د ابراهيم عليه السلام دعاء ئې په ډېرې اغېزمني او زړه راښکونکې بڼې کي انځور کړې؛ ځو خبري په صراحت سره معلومېږي:

- ابراهيم عليه السلام خپله مېرمن هاجر او زوی ئې اسمعيل عليهما السلام د مکې په بېديا کي هغه مهال پرېښودل چي هغه ناو سپېره ډاګ وو او هېڅ بوټی په کي نه راټوکېدو؛ نه په کي بل انسان وو او نه هيڅ حيوان.
- دا کار ئې د الله تعالی په امر او په دې موخه کړی وو چي دلته به ځو کاله وروسته د الله تعالی محترم کور (بيت الله) جوړوي. په دې سره د بايبل هغه ادعاء تکذيب شوې چي وايي: سارا د ابراهيم عليه السلام بلي مېرمني؛ له ده وغوښتل چي هاجر او زوی ئې له کوره وشړي او ده هم دا کار وکړ!! تفصيل ئې په (بايبل د قرآن په رڼا کي) ولولئ.
- د دوی لپاره ئې د رزق او د دوی په لوري د خلکو د زړونو د راماتېدو دعاء ئې وکړه. دا ځکه چي په هغي وچي بېديا کي نه بل انسان اوسېدو او نه بوټي، وني او اوبه وې.
- مطمئن وو چي الله تعالی به دا دعاء داسي قبلوي لکه ده ته چي ئې په زړښت کي اولاد ورکړ.
- د دعاء له الفاظو معلومېږي چي اسمعيل عليه السلام تر اسحق عليه السلام مشر وو، لومړی ئې د اسمعيل او ورپسې د اسحاق نوم اخيستی؛ او په دې سره ئې د بايبل هغه ادعاء رد کړې چي وايي: اسحاق د ابراهيم يوازينی مشر زوی وو. د بايبل دا ادعاء هم په خپله د بايبل خلاف ده او هم د قرآن.
- د دعاء په الفاظو کي د ده قوي عاطفه او د مېرمني، زوی او ټولو

مؤمنانو په اړه د ده ژور زړه سوی او قوي مینه د څپاند سیند په څېر انځور شوې. د دې دعاء په اورېدو سره به د هر مهربان پلار او هر زړه سواند داعي له سترګو اوښکي بهېږي؛ ابراهیم علیه السلام هغه څوك د خپلي ډلي غړی او د خپل کاروان همسفر بولي چي د ده متابعت کوي، له ده سره په فکري او اخلاقي لحاظ ورته والی لري، د نسبي اړیکو پر ځای فکري او اخلاقي اړیکي د اعتبار وړ ګڼي، هغه چا ته د مهربان بخښونکي رب بخښنه او مغفرت غواړي چي د الله په لوري تګ کي د ده ملګرتیا نه کوي.

دغو حقائقو ته په پام سره آیا کولی شو ومنو چي دن ګیبسون په رښتیا دېرش کاله تحقیقات کړي؟ په همدې اوږدې مودې کي له دې هم نه دئ خبر شوی چي قرآن د دې وچي بې بوټي (غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ) وادي په اړه څه ویلي؟ څنګه او کله دا بېدیا په یوه آباد ښار او ام القراء بدله شوې، د حجاز ستر تجارتي مرکز او د نړۍ ستر مذهبي محور ترې جوړ شوی؟! هغه دې ته هم نه دئ متوجه شوی چي په ناپوهۍ سره په داسي څه اعتراف کوي چي نه یوازي د ده ادعاء تکذیبوي بلکي د قرآن حقانیت هم ثابتوي!! هلته چي وایي: په اوسنۍ مکه کي نه د زمکي پر سر د کوم لوی ښار آثار او نښي لیدل شوې او نه د کیندونو په ترځ کي موندل شوې؛ نه د تعمیرونو او دېوالونو آثار او نه د زراعت او زراعتي زمکو او باغونو! ښاغلیه! نو دا خو همغه خبري دي چي قرآن کړې؛ دا څېړني او کیندني او نتائج ئې د قرآن د وینا تأیید کوي نه تردید؛ د دغو څېړنو د نتائجو په اورېدو سره خو هر حقپال انسان باید د قرآن په وړاندي د تسلیمۍ لاسونه لوړ کړي؛ دا خو د قرآن یو علمي إعجاز دئ نه د اعتراض وړ کوم مطلب!! د کعبې د موقعیت په اړه خو یوازي د عرب ولس او د دوی مذهبي او تاریخي کتابونه د مرجع او مأخذ په توګه د اعتبار وړ دي؛ نه ستا په څېر له بهر راغلی مأمور چي هدف او غرض ئې بل ورته ټاکلی؛ هغه چي دی ئې استخدام کړی؛ ستا ادعاء نه

علمي ارزښت لري او نه تحقيقي؛ فقط يوه بې بنسټه ادعاء ده؛ د خپلې حق الزحمې د روا کولو لپاره جعلي ادعاء او د ثابتولو ناکامه هڅه!!

حقيقت دا دئ چي د اسلام په ضد د دښمنانو ټول تبليغات؛ همداسي د دن گيبسون د دې ويډيو او کتاب په څېر دروغجن، مسخره او له عقدې او کينې راټوکېدلي دي.

د حج د فضيلت او فرضيت اړوند بل آيت دا دئ: البقرة: ۱۹۶

وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ...

او حج او عمره د الله لپاره تر سره کړئ، که مو مخنيوی وشو نو بيا (ئې فديه) د قربانۍ هغه څاروی دئ چي ميسر وي....

يعني ستاسو حج او عمره بايد د الله لپاره وي، کله چي د حج او عمرې اراده وکړئ؛ بايد تر سره ئې کړئ؛ که له مانع او خنډ سره مخامخ شوئ نو له احرام تر وتلو د مخه بايد يو څاروی؛ لږ تر لږه يو پسه؛ د حرم زمکې ته د ذبحي لپاره ولېږئ؛

## ۲ باب: د الله تعالى دا قول: (يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ ... ) الحج: ۲۸

عنِ ابنِ عُمَرَ رَضِی الله تَعَالَى عَنْهُمَا، قَالَ رَأَيْتُ رَسولَ الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم يَرْكَبُ رَحِلَتَهُ بِذِی الحُلَيْفَةِ ثُمَّ يُهِلُّ حَتَّى تَسْتَوِیَ بِهِ قايِمَةً. بخاری: ۱۵۱٤

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم مي وليد چي په ذوالحليفه کي پر خپله اوښه سپور شو او هغه مهال ئې تلبيه (لبيك اللهم لبيك... ويل) پيل کړل چي اوښه تر ده لاندي او برابره ودرېده.

دا روايت له هغه آيت سره چي په ترجمة الباب کي راوړل شوی؛ واضح مناسبت نه لري؛ آيت دا دئ:

وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالا وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ

﴿٢٧﴾ لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَعْلُومَاتٍ... ﴿٢٨﴾ الحج
او په خلکو کې د حج اعلان وکړه، چې پلي او پر ډنگرو ډنگرو اوښو سپاره به له لرې لرې لارو درته راځي. د دې لپاره چې ځان ته د گټو شاهد وي او په څو معلومو ورځو کې د الله نوم ياد کړي...

يعني ابراهيم عليه السلام ته دا لارښوونه شوې وه چې د کعبې له جوړولو وروسته په خلکو کې د حج اعلان وکړي، دا اطمئنان ورکړی شوی وو چې د همدې بلنې په طفيل به د الله تعالی مخلص بندگان د دې کور لوري ته پلي او پر داسې سورليو سپاره له لرو لرو سيمو رادرومي چې د اوږدو مزلونو له کبله به ډنگر شوي وي، دلته به د ډېرو مادي او معنوي گټو او برکاتو شاهد وي. په روايت کې فقط دومره راغلي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم په ذوالحليفه کې پر خپلې اوښې سپور شو او هغه مهال ئې تلبيه (لبيك اللهم لبيك... ويل) پيل کړله چې اوښه تر ده لاندې برابره ودرېده.

## ٣ باب: په بار وړونکې اوښ سره حج اداء کول

عن أنس بن مالك رضى الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّ عَلَى رَحْلٍ وَكَانَتْ زَامِلَتَهُ. بخاری: ١٥١٧

له انس رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم په داسې يوه اوښ حج ته سفر وکړ چې فقط همدا ئې سورلۍ وه؛ (د لارې توښه ئې هم پرې بار وه).

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مَعَهَا أَخَاهَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ، فَأَعْمَرَهَا مِنَ التَّنْعِيمِ، وَحَمَلَهَا عَلَى قَتَبٍ» بخارى: ١٥١٦

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې (رسول الله صلی الله عليه و سلم له دې سره ورور ئې عبد الرحمن ولېږو او له تنعيم ئې عمره پرې وکړه؛ او په کجاوه کې ئې سپره کړه؛

## ٤ باب: د مبرور حج فضيلت

عنْ عائِشَةَ أُمِّ المؤْمِنِينَ رَضِى الله تَعَالَى عَنْهَا أنَّها قالَتْ يَا رسولَ الله نَرَى الجِهَادَ أفْضَلَ العمَلَ أفَلَا نُجَاهِدُ قَالَ لَا لاكِنْ أفْضلَ الجِهادِ حَجٌّ مَبرُورٌ. بخارى: ١٥٢٠

له ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي وئې وويل: يا رسول الله! فكر كوو چي جهاد تر ټولو غوره عمل دئ؛ نو آيا موږ (ښځې) جهاد ونه کړو؟ وئې فرمايل: نه؛ ستاسو لپاره غوره جهاد مبرور حج دئ).

عن أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِى الله تَعَالَى عنهُ؛ قَالَ سَمِعْتُ النبىّ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم يقُولُ مَنْ حَجَّ لله فلَمْ يَرْفُثْ ولَمْ يَفْسُقْ رجَعَ كَيَوْمِ ولَدَتْهُ أمُّهُ. بخارى: ١٥٢١

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اوربدلي چي فرمايل ئې: "چا چي خاص د الله تعالى لپاره حج وکړ او له فحشاء او بد کارۍ ئې ځان وساتو؛ داسي بېرته ستنېږي لکه چي مور نوى زېږولى وي".

دې ته بايد متوجه وو چي يقيناً الله تعالى غفور دئ؛ هره گناه بخښي او خپلو بندگانو ته ئې ويلي:

قُلْ يَا عِبَادِىَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٥٣﴾ الزمر

زما هغو بندگانو ته چي پر خپل ځان ئې تېرى کړى؛ ووايه: د الله له رحمت مه مأيوسه کېږئ؛ الله ټول گناهونه بخښي؛ يقيناً چي هغه مهربان بخښونکى دئ.

خو ځيني گناهونه داسي دي چي بخښنه ئې په خاصو شرائطو پوري مربوطه ده؛ له هغه پرته ئې الله تعالى نه بخښي؛ ځوك چي د بل په حق کې تېرى وکړي؛ که دا د بل پر پت او عزت تېرى وي او که پر ځان او مال ئې؛ تر هغه چي ئې مظلوم او هغه چي تېرى پرې شوى؛ ونه بخښي؛ الله تعالى ئې نه بخښي؛ نه په توبه، نه حج، روژه او زکات؛ او

نه د بل نېك عمل له امله؛ په داسي مواردو کي توبه، د عدم تکرار کلك عهد، د ظلم او تېري جبران او د مظلوم رضایت او بخښنه؛ ضروري او د الله تعالی له لوري بخښنه ورپوري مشروطه ده.

همدا حج داسي دئ چي کله ځیني ترې راستانه شي؛ تر وړاندي لا زیات په گناه او فساد کي غرق شي؛ د (حاجي صاحب) له روستاړي د خلکو د غولولو لپاره استفاده کوي؛ په داسي حال کي چي له حج راستنېدل ئې باید داسي وی لکه ماشوم چي له مور دنیا ته راځي؛ له پاك زړه او نېکو عزائمو سره او له مخکینیو گناهونو او فسادونو پاك شوی. یقیناً د چا حج چي رښتنی حج وي؛ د الله تعالی کور ته تگ وي، د هغه د کور دړي ته ودرېدل وي، طواف ئې واقعاً د بیت الله طواف وي، د ابراهیم، اسمعیل او هاجر پر گامونو گام ایښودل وي؛ د حجر الاسود مسح کول او ښکولول ئې له الله تعالی سره د بندگۍ او اطاعت صادقانه تعهد او تړون وي؛ له حج به حتماً همداسي راستنېږي لکه ماشوم چي له خپلي مور نوې دنیا ته راځي.

د هجرت په دوران کي یو کس چي د (قاري صاحب) په نامه مشهور شوی وو؛ له خلکو به ئې په دې نامه پیسې اخیستلې چي په کار ئې اچوي او په زړه پوري گټه به ورکوي؛ څو میاشتي به ئې ډېره گټه ورکړه؛ همدا به هم د دې باعث شوه چي هم دی مزید مقدار قاري صاحب ته وسپاري او هم به ئې نور تشویق کړل چي دې گټوري معاملې ته راوړاندي شي او د خپلي شتمنیو ډېره برخه قاري صاحب ته وسپاري؛ ځینو ته به ئې ویل: زه به استخاره وکړم چي ستا پیسې په امانت او د تجارت لپاره واخلم که نه؛ د دې استخارې ځواب به حتماً مثبت وو او د ده اعتبار به ئې څو برابره زیات کړ؛ ډېر ئې لوټ کړل او څه موده وروسته له نظرونو پټ شو. ما په څو کلونو کي دوه همداسي ټگماران لیدلي؛ وېرېږم چي اوس دواړو په کوم گمرك کي ریاست او مدیریت نه وي موندلی؛ نو کله کله حاجی کېدل او قاري کېدل داسي وي.

## ۵ باب: ميقات (ټاکل شوی وخت او ځای چي دلته ترې مراد د احرام تړلو ځای دئ)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَّتَ لِأَهْلِ المَدِينَةِ ذَا الحُلَيْفَةِ، وَلِأَهْلِ الشَّأْمِ الجُحْفَةَ، وَلِأَهْلِ نَجْدٍ قَرْنَ المَنَازِلِ، وَلِأَهْلِ اليَمَنِ يَلَمْلَمَ، هُنَّ لَهُنَّ، وَلِمَنْ أَتَى عَلَيْهِنَّ مِنْ غَيْرِهِنَّ مِمَّنْ أَرَادَ الحَجَّ وَالعُمْرَةَ، وَمَنْ كَانَ دُونَ ذَلِكَ، فَمِنْ حَيْثُ أَنْشَأَ حَتَّى أَهْلُ مَكَّةَ مِنْ مَكَّةَ» بخارى: ۱۵۳۰

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د مديني د اوسېدونکو لپاره ذوالحُلَيفه، د شاميانو لپاره جُحفَه، د اهل نجد لپاره قرن المنازل او د يمنيانو لپاره يلملم؛ د ميقات په توګه ټاکلي دي او فرمايلي ئې دي: دا ځايونه د دې سيمو د اوسېدونکو او هغو نورو کسانو لپاره چي د حج او عمرې لپاره له دې سيمو تېرېږي ميقاتونه دي او څوک چي له دې ميقاتونو آخوا مکې ته لنډ وي؛ د هغوی ميقات هغه ځای دئ چي د حج نيت کوي؛ حتی چي د مکې د خلکو لپاره په خپله مکه ميقات دئ.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٦ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۲٤، ۱۵۲٦، ۱۵۲۹، ۱۵۳۰، ۱۸٤۵ او ۷۳٤٤

توپيرونه ئې دا دي: په يوه کي وَلِمَنْ أَتَى عَلَيْهِنَّ مِنْ غَيْرِهِنَّ مِمَّنْ أَرَادَ الحَجَّ وَالعُمْرَةَ، په بل کي وَلِمَنْ أَتَى عَلَيْهِنَّ مِنْ غَيْرِ أَهْلِهِنَّ لِمَنْ كَانَ يُرِيدُ الحَجَّ وَالعُمْرَةَ په يوه کي وَمَنْ كَانَ دُونَ ذَلِكَ په بل کي فَمَنْ كَانَ دُونَهُنَّ په يوه کي فَمِنْ حَيْثُ أَنْشَأَ حَتَّى أَهْلُ مَكَّةَ مِنْ مَكَّةَ په بل کي فَمُهَلُّهُ مِنْ أَهْلِهِ، وَكَذَاكَ حَتَّى أَهْلُ مَكَّةَ يُهِلُّونَ مِنْهَا راغلي.

## ٦ باب: په ذو الحليفه کي لمونځ

عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَاخَ

بِالْبَطْحَاءِ بِذِى الْحُلَيْفَةِ، فَصَلَّى بِهَا. وَكَانَ عَبْدُاللَّهِ بْنُ عُمَرَ رضى الله عنهما يَفْعَلُ ذَلِكَ. (بخارى: ١٥٣٢)

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د ذوالحليفې په بَطحَاء (پراخ خوړ چي وړې تيږي پکې خورې وي) کي خپله اوښه چو کړه او لمونځ ئې وکړ؛ او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما داسي وو چي همدا کار به ئې کولو.

## ۷ باب: د شجره له لاري د رسول الله صلى الله عليه و سلم سفر

عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَخْرُجُ مِنْ طَرِيقِ الشَّجَرَةِ، وَيَدْخُلُ مِنْ طَرِيقِ الْمُعَرَّسِ، وَأَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا خَرَجَ إِلَى مَكَّةَ يُصَلِّي فِي مسْجِدِ الشَّجَرَةِ، وَإِذَا رَجَعَ صَلَّى بِذِى الْحُلَيْفَةِ، بِبَطْنِ الْوَادِى، وَبَاتَ حَتَّى يُصْبِحَ. (بخارى:١٥٣٣)

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به له مدينې د (شجره) له لاري سفر کاوو او د بېرته ستنېدو په وخت کي به د مُعَرَّس له لاري مدينې ته ننوتو او رسول الله صلى الله عليه و سلم به چي مکې ته روانېدو نو د شجره په جومات کي به ئې لمونځ کاوو او چي بېرته به راستون شو نو په ذوالحليفه کي به ئې د درې منځ کي لمونځ وکړ؛ او شپه به ئې تر سهاره هملته تېره کړه.

## ۸ باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا قول چي: (عقيق مبارکه دره ده)

عَنْ عُمَرَ رضى الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَادِى الْعَقِيقِ يَقُولُ: «أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتٍ مِنْ رَبِّي، فَقَالَ: صَلِّ فِي هَذَا الْوَادِى الْمُبَارَكِ، وَقُلْ عُمْرَةً فِي حَجَّةٍ». بخارى:١٥٣٤

له عمر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: په عقيق دره کي مي له رسول الله صلی الله عليه و سلم واورېدل چي وئې فرمايل: (تېره شپه زما د رب له لوري يو راتلونکی راته راغی او وئې ويل: په دې مبارکه دره کي لمونځ وکړه او د حج او عمرې (يو ځايي تر سره کولو نيت وکړه).

دا روايت په بخاري کي ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۳٤ - ۲۳۳۷ - ۷۳٤۳

د ټولو راويان دا دي: يَحْيَى، عِكْرِمَة، ابْن عَبَّاسٍ او عُمَر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُم تر منځ ئې دا توپيرونه دي: په يوه کي أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتٍ په بل کي اللَّيْلَةَ أَتَانِي آتٍ په يوه کي وَقُلْ: عُمْرَةً فِي حَجَّةٍ په بل کي وَقُلْ: عُمْرَةٌ فِي حَجَّةٍ او په بل کي وَقُلْ: عُمْرَةٌ وَحَجَّةٌ.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضی الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صلی الله عليه و سلم: أَنَّهُ رُئِيَ وَهُوَ فِي مُعَرَّسٍ بِذِی الْحُلَيْفَةِ بِبَطْنِ الْوَادِی قِيلَ لَهُ إِنَّكَ بِبَطْحَاءَ مُبَارَكَةٍ. (بخاری:۱۵۳۵)

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: نبي صلی الله عليه و سلم د ذوالحليفه دمه ځای کي وو؛ په خوب کي ورته وويل شول چي ته په يوه مبارک خوړ او دره کي يې.

دا روايت د مخکيني شرح ده او دا مطلب ئې واضح کړی چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته په خوب کي ويل شوي وو چي ته په مبارکي وادي کي يې او د يو ځايي حج او عمرې نيت وکړه. د بخاري په دغو څلورو روايتونو کي دا مطلب تکراري راغلی: ۱۵۳۳، ۱۵۳٤، ۱۵۳۵ او ۱۷۹۹.

## ۹ باب: معطره جامې درې واري مينځل

عن يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ رضی الله عنه قَالَ لِعُمَرَ رَضِیَ اللَّهُ عَنْهُ: أَرِنِی النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ يُوحَى إِلَيْهِ، قَالَ: " فَبَيْنَمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْجِعْرَانَةِ، وَمَعَهُ نَفَرٌ مِنْ أَصْحَابِهِ، جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَيْفَ تَرَى فِي رَجُلٍ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ، وَهُوَ

مُتَضَمِّخٌ بِطِيبٍ، فَسَكَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاعَةً، فَجَاءَهُ الوَحْيُ، فَأَشَارَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ إِلَى يَعْلَى، فَجَاءَ يَعْلَى وَعَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَوْبٌ قَدْ أُظِلَّ بِهِ، فَأَدْخَلَ رَأْسَهُ، فَإِذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْمَرُّ الوَجْهِ، وَهُوَ يَغِطُّ، ثُمَّ سُرِّيَ عَنْهُ، فَقَالَ: «أَيْنَ الَّذِي سَأَلَ عَنِ العُمْرَةِ؟» فَأُتِيَ بِرَجُلٍ، فَقَالَ: «اغْسِلِ الطِّيبَ الَّذِي بِكَ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ، وَانْزِعْ عَنْكَ الجُبَّةَ، وَاصْنَعْ فِي عُمْرَتِكَ كَمَا تَصْنَعُ فِي حَجَّتِكَ» قُلْتُ لِعَطَاءٍ: أَرَادَ الإِنْقَاءَ حِينَ أَمَرَهُ أَنْ يَغْسِلَ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ؟ قَالَ: «نَعَمْ»

بخاری: ١٥٣٦

له يَعْلَى بن اميه رضي الله عنه روايت دئ چي عمر رضي الله عنه ته ئې وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي راوښيه چي وحي پرې نازلېږي؛ يعلى وايي: کله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په جعرانه کي وو؛ او يو شمېر اصحاب ئې ورسره ول؛ يو سړی ورته راغی او وئې ويل: يا رسول الله! د هغه سړي په اړه څه رأی لرې چي د عمرې لپاره د احرام تړلو په وخت کې ئې عطر وهلي وي؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم څه شېبه سکوت وکړ؛ بيا وحي ورته راغله؛ عمر رضي الله عنه يعلى ته اشاره وکړه؛ يعلى په داسي حال کې راغی چي پر رسول الله صلى الله عليه و سلم يو څادر وو چي په هغه سره ئې پر ځان سيوری کړی وو؛ سر ئې وررننباسو او وئې ليدل چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم مخ سور شوی او له خوړ سره ساه وهي؛ بيا دا حالت ترې لرې شو؛ او وئې فرمايل: "هغه سړی څه شو چي د عمرې په اړه ئې پوښتلي وو؟" نو هغه راوستی شو؛ نو وئې فرمايل: هغه عطر درې ځلي ومينځه چي ستا پر جامه دي؛ چپنه دي وباسه او په عمره کې هغه څه وکړه چي په حج کې ئې کوې. عطاء ته مي وويل: آيا کله چي ئې ورته امر وکړ: درې ځلي ئې ومينځه؛ په دې سره ئې ښه پاکول غوښتل؟ وئې ويل: «هو؛»

تکرار: دا روايت په بخاري کې دوه ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۳٦، ٤۹۸۵؛ غريب دئ؛ په ٤ طبقو کې يو يو راوي لري چي دا دي: ابْنِ جُرَيْجٍ، عَطَاء، صَفْوَان بْن يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ او يَعْلَى؛

توپير: په يوه کې دا راغلي أَنَّ يَعْلَى، كَانَ يَقُولُ: لَيْتَنِي أَرَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ يُنْزَلُ عَلَيْهِ الوَحْيُ، په بل کې نه دي راغلي، په يوه کې فِي رَجُلٍ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ، وَهُوَ مُتَضَمِّخٌ بِطِيبٍ، په بل کې فِي رَجُلٍ أَحْرَمَ فِي جُبَّةٍ، بَعْدَ مَا تَضَمَّخَ بِطِيبٍ په يوه کې وَهُوَ يَغِطُّ، ثُمَّ سُرِّيَ عَنْهُ په بل کې يَغِطُّ كَذَلِكَ سَاعَةً، ثُمَّ سُرِّيَ عَنْهُ، راغلي.

## ۱۰ باب: د احرام تړلو په مهال خوشبويي وهل او د احرام څرنګوالی

عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: كُنْتُ أُطَيِّبُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِإِحْرَامِهِ حِينَ يُحْرِمُ، وَلِحِلِّهِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ. (بخاری: ۱۵۳۹)

د رسول الله صلی الله علیه و سلم له مېرمني؛ عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: پر رسول الله صلی الله علیه و سلم به مي د احرام تړلو له کبله هغه مهال هم عطر وهل چي احرام به ئې تړلو او له احرام د وتلو لپاره هم؛ تر دې وړاندې چي د بيت الله طواف وکړي.

تکرار: دا روايت په بخاري کې دوه ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲٦۷، ۱۵۳۹

توپير: په يوه کې كُنْتُ أُطَيِّبُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ، راغلي خو په بل کې دا برخه (فَيَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ) نه ده راغلې، په يوه کې (ثُمَّ يُصْبِحُ مُحْرِمًا يَنْضَخُ طِيبًا) راغلي؛ په بل کې نه دي راغلي؛ که څوک له ۲٦۷ روايت خبر نه وي نو د ۱۵۳۹ روايت په مطلب سم نه شي پوهېدی؛ حتی په دې مغالطه کې پرېوځي چي ښايي د احرام په وخت کې عطر وهل جائز دي؛ حال دا چي ۲٦۷ روايت وضاحت کوي

چي دا عطر وهل تر احرام وړاندي وو او د احرام تړلو په وخت کي به ئې د عطر آثار له منځه وړل (ثُمَّ يُصْبِحُ مُحْرِمًا يَنْضَخُ طِيبًا).

## ١١ باب: د احرام په وخت په وېښتانو څه وهل

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُهِلُّ مُلَبِّدًا. بخارى: ١٥٤٠

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وئې ويل: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چي په جگ غږ ئې الله يادولو (لبيك اللهم لبيك) ئې ويلو؛ په داسي حال کي چي په وېښتانو ئې کنډ وهلي (مُلَبِّدًا) وو.

تلبيد په وېښتانو کنډ ته ورته څه وهل دي چي په تنظيمولو او پاك ساتلو کي ئې مرسته کوي؛ دا جائز دي او رسول الله صلى الله عليه و سلم همدا کار کړی وو؛ اما له دې پرته پر وېښتانو داسي څه وهل چي معطر او غوړ ئې کړي ممنوع دي.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٣ ځلي په دغو شمېرو راغلی: (١٥٤٠)، (٥٩١٤) او (٥٩١٥)

توپیر: په يوه کي «لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالمُلْكَ، لَا شَرِيكَ لَكَ» راغلي په نورو کي نه دي راغلي؛ په يوه کي راغلي چي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (مُلَبِّدًا) وو؛ په بل کي نه دي راغلي.

٥٩١٤ - عن عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: «مَنْ ضَفَّرَ فَلْيَحْلِقْ، وَلاَ تَشَبَّهُوا بِالتَّلْبِيدِ»:

عمر رضي الله عنه ويلي: چا چي خپل وېښتان سره تاو کړي او کوڅۍ ئې ترې جوړي کړې وي نو هغه دې وخريي او له تلبيد سره مشابهت مه کوئ)؛ يعني له دې ډډه وکړئ چي(مُلَبِّدًا) ته ورته شئ؛ امام بخاري د دې تعارض په اړه څه نه دي ويلي؛ خو دا روايت ئې هم راوړی:

٥٩١٦ - حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ، قَالَ: حَدَّثَنِي مَالِكٌ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ حَفْصَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا شَأْنُ النَّاسِ حَلُّوا بِعُمْرَةٍ وَلَمْ تَحْلِلْ أَنْتَ مِنْ عُمْرَتِكَ؟ قَالَ: «إِنِّي لَبَّدْتُ رَأْسِي، وَقَلَّدْتُ هَدْيِي فَلَا أَحِلُّ حَتَّى أَنْحَرَ».

د رسول الله صلی الله علیه و سلم له مېرمني حفصې رضي الله عنها روایت دئ چي ومي ویل: یا رسول الله! خلك د عمرې له احرام ووتل او ته لا د خپلي عمرې له احرام نه ئې وتلی؟ وئې فرمایل: ما پر خپلو وېښتانو کنځ وهلي وو او د هدي (څاروی) مي له ځان سره راوړی؛ تر هغه چي څاروی ذبح نه کړم له احرام نه وځم.

د روایت الفاظ داسي دي چي ښیي رسول الله صلی الله علیه و سلم د سر وېښتان په داسي څه تلبید کړي وو چي پر عمره کوونکي دم (د څاروي ذبح کول) لازموي. خو خبره داسي نه وه؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم یا یوازي د حج نیت کړی وو او یا د حج او عمرې یو ځایي نیت؛ هدي ئې درلوده او تر هغه له احرام نه شو وتلی چي هدي ذبح کړي.

دا روایت په بخاري کي ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵٦٦- ۱۷۲۵ - ٥٩١٦ -

۱٥٤٠ روایت وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د احرام حالت کي داسي لیدل شوی چي مُلَبِّدًا وو؛ خو د بخاري پورتنی روایت چي درې ځلي ئې راوړی داسي ښیي چي په احرام کي دا کار ممنوع دئ؛ الفاظ ئې دا دي: مَنْ ضَفَّرَ فَلْيَحْلِقْ، وَلَا تَشَبَّهُوا بِالتَّلْبِيدِ: چا چي خپل وېښتان سره تاو کړي او کوڅۍ ئې ترې جوړي کړې وي نو هغه دې وخریي او له تلبید سره مشابهت مه کوئ)؛ یعني چي تلبید او حتی له تلبید سره مشابهت ممنوع دئ؛ نو له دغو دواړو به کوم یو منو: ۱- رسول الله صلی الله علیه و سلم مُلَبَّدْ لیدل شوی؛ ۲- له تلبید سره مشابهت ممنوع

دئ؟ د بخاري مبتدئ طالب العلم نه شي کولی دا تعارض رفع او د دې ټولو ٦ رواياتو له منځ؛ اصح او ارجح غوره کړي؛ د ټولو رواياتو اصلي موضوع يوه ده او هغه دا چي آيا د احرام حالت کي پر وېښتانو کنډ وهل جائز دي که نه؛ او که څوك دا کار وکړي؛ قرباني (دم) پرې لازمېږي که نه؛ د دې موضوع لپاره يو روايت کافي وو؛ که احياناً دا ومنو او ووايو: خير دئ ټول؛ صحيح او غير صحيح؛ مکمل او ناقص روايات دي راوړل شي؛ نو د محدث دنده دا ده چي دا ټول روايات يو د بل خوا ته کښېږدي او وليکي چي کوم يو صحيح او بشپړ دئ.

که رواياتو ته ځير شو نو داسي معلومېږي چي تلبيد (کنډ په وېښتانو وهل) جائز دي؛ خو که نارينه له خپلو وېښتانو کوڅۍ جوړي کړې او يا ئې پر کوڅيو کنډ وهلي وي؛ وېښتان به خرېيي؛ او پر وېښتانو داسي څه وهل چي کنډ ته ورته وي؛ خو يا معطر وي او يا د غوړو او تېلو په څېر وي؛ جائز نه دي. ځکه په روايت کي داسي راغلي: مَنْ ضَفَّرَ فَلْيَحْلِقْ، وَلَا تَشَبَّهُوا بِالتَّلْبِيدِ؛ له تلبيد سره د مشابهت ممانعت؛ د کوڅيو د خرېيلو له امر سره يو ځای راغلی او همدا پورتنی مطلب افاده کوي.

نن موږ له دې ستونزي سره مخامخ يو چي د بخاري په رواياتو استناد کوونکي او حتی ډېری مدرسين ئې داسي دي چي له کوم شيخ به ئې بخاري په لويه دوره کي يو ځلي او هغه هم سر سري اورېدلې وي او په همدې سره به له هغه شيخ الحديث، لوی مدرس او مفتي اعظم جوړ شوی وي!! د مسلمان د وژلو او په جوماتونو کي د چاودنو فتوی به ورکوي؛ يقيناً چي د نن زمانې د تکفيري ډلو فتنه له همدې راټوکېدلې؛ نيمچه ملايان ئې؛ چي قرآن له مخي سم نه شي لوستلی او د بخاري له سم او صحيح لوستلو عاجز دي؛ د غير يقيني سنت، مستحب او حتی فضائلو له مخي به د خپل مسلك مخالفين تکفيروي، واجب القتل به ئې گڼي او د خدای په سپېڅلي کور؛ جومات کي به د لمانځه په وخت کي چاودني نه يوازي جائز بولي؛ بلکي داسي انتحاري چاودنو ته به د

---

استشهادي عملياتو نوم ورکوي!!

دا هم بايد واضح شي چي د تلبيد معنی هغه څه په وېښتانو وهلو ته وايي چي له خورېدو او نامنظمه کېدو ئې مخنيوی کوي؛ او په خاصه بڼه او شکل کې ئې تنظيموي؛ د وېښتانو په حفاظت او د حشراتو د نفوذ په مخنيوي کې مرسته کوي؛ نه د عطر په څېر خوږ بوی لري او نه د غوړو او تېلو په څېر وېښتانو ته ځلا ورکوي.

په مخکينيو درسونو کې همداسي يو روايت مخي ته راغی چي له بخاري پرته په بل هيڅ کتاب کې نه دئ راغلی؛ هغه روايت چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم په فارسي وفرمايل: كِخْ كِخْ أَمَا تَعْرِفُ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ؛ يعني چي رسول الله صلی الله عليه و سلم حسن رضي الله عنه ته چي ماشوم وو او د صدقې خرما ئې په خوله کړې وه؛ په دغو فارسي الفاظو سره وويل: دا مه خوره او وئې غورځوه؛ ځکه موږ صدقه نه خورو؛ ومو ويل چي دا روايت هم غريب دئ او هم له امام بخاري پرته بل هيچا د اعتبار وړ نه دئ ګڼلی؛ دا بايد په پام کې ولرو چي امام بخاري؛ د نيشاپور په څېر په ځينو فارسي ژبو ښارونو کې پاته شوی؛ ښايي د کخ کخ الفاظو منشأ دغه وي؛ يعني چي ښايي امام بخاري به همدلته له داسي راوي اورېدلی وي چي په فارسي پوهېدو او هغه د عربي الفاظو په ځای د فارسي دا الفاظ کارولي. ما د دې روايت د راويانو په اړه لنډه څېړنه وکړه؛ يو شمېر راويان مي له نظره تېر کړل؛ لا مي د نيشاپور او نورو فارسی ژبو سيمو کوم راوي نه دئ موندلی؛ خو د بصرې راوي مي په کې موندلی؛ بصره له ايران سره په پوله پرته ده؛ ځيني اوسېدونکي ئې له فرهنګي او مذهبي پلوه له ايرانيانو سره ورته دي؛ ښايي د فارسي دا الفاظ له ايران هلته انتقال شوي او کوم راوي کارولي وي.

## ۱۲ باب: د ذوالحليفه له جومات احرام تړل

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما قَالَ: مَا أَهَلَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا مِنْ عِنْدِ الْمَسْجِدِ. يَعْنِي: مَسْجِدَ ذِى الْحُلَيْفَةِ. (بخارى:١٥٤١)

له ابن عمر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د ذوالحليفه له جومات پرته له بل ځاى احرام نه دئ تړلى.

د دې روايت مکمله بڼه داسي ده:

١٧٧١ - عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: بَيْدَاؤُكُمْ هَذِهِ الَّتِي تَكْذِبُونَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا «مَا أَهَلَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِلَّا مِنْ عِنْدِ الْمَسْجِدِ يَعْنِي مَسْجِدَ ذِى الْحُلَيْفَةِ» سنن أبى داؤد

سالم بن عبد الله له خپل پلار (إبن عمر رضي الله عنهما) روايت کوي چي له خپل پلار ئې اورېدلي چي وئې ويل: ستاسو دا بېديا چي په اړه ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ارتباط دروغ وايئ؛ (چي گواکې له دې ځاى ئې احرام تړلى او تلبيه ئې پيل کړې)؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم د ذي الحليفه له مسجد پرته له بل ځاى تلبيه نه ده کړې.

په عربي کي بيداء د پښتو له بېديا سره هممعنى ده؛ دا پر ذي الحليفه مشرفه بېديا ده چي ځينو له دې ځاى د رسول الله صلى الله عليه و سلم د تلبيې ويلو ادعاء کوله؛ ابن عمر رضي الله عنه دا ادعاء رد کړې.

## ۱۳ باب: د حج په دوران کي پر يوه سورلۍ د دوو نفرو سورېدل

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنه: أَنَّ أُسَامَةَ رضى الله عنه كَانَ رِدْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عَرَفَةَ إِلَى الْمُزْدَلِفَةِ، ثُمَّ أَرْدَفَ الْفَضْلَ مِنَ الْمُزْدَلِفَةِ إِلَى مِنًى، فَكِلاهُمَا قَالاَ: لَمْ يَزَلِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُلَبِّي حَتَّى رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ. (بخارى: ١٥٤٤)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: اسامه رضي الله عنه له عرفات تر مزدلفې پوري پر يوې سورلۍ د رسول الله صلى الله عليه

و سلم تر شا سپور وو؛ بيا ئې فضل بن عباس رضي الله عنه له مزدلفې تر منٰى پوري تر شا سپور کړ؛ دوی دواړو ويلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د شاتنۍ جمرې تر ويشتلو پوري تلبيه ويله.

دا روايت ۲ ځلي په بخاري کي په دغو شمېرو راغلى: ١٥٤٤ او ١٦٨٦؛ له هيڅ توپير پرته؛ غريب دئ؛ په طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: زُهَيْر بْن حَرْب، وَهْب بْن جَرِير، پلار ئې جرير، يُونُس الأَيْلِيّ، الزُّهْرِيّ، عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ او ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا.

## ١٤ باب: د محرم لباس

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما قَالَ: انْطَلَقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمَدِينَةِ، بَعْدَ مَا تَرَجَّلَ وَادَّهَنَ، وَلَبِسَ إِزَارَهُ وَرِدَاءَهُ، هُوَ وَأَصْحَابُهُ، فَلَمْ يَنْهَ عَنْ شَيْءٍ مِنَ الأَرْدِيَةِ وَالأُزُرِ تُلْبَسُ، إِلَّا الْمُزَعْفَرَةَ الَّتِي تَرْدَعُ عَلَى الْجِلْدِ، فَأَصْبَحَ بِذِى الْحُلَيْفَةِ، رَكِبَ رَاحِلَتَهُ، حَتَّى اسْتَوَى عَلَى الْبَيْدَاءِ أَهَلَّ هُوَ وَأَصْحَابُهُ وَقَلَّدَ بَدَنَتَهُ، وَذَلِكَ لِخَمْسٍ بَقِينَ مِنْ ذِى الْقَعْدَةِ، فَقَدِمَ مَكَّةَ لأَرْبَعِ لَيَالٍ خَلَوْنَ مِنْ ذِى الْحَجَّةِ، فَطَافَ بِالْبَيْتِ وَسَعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، وَلَمْ يَحِلَّ مِنْ أَجْلِ بُدْنِهِ، لأَنَّهُ قَلَّدَهَا، ثُمَّ نَزَلَ بِأَعْلَى مَكَّةَ عِنْدَ الْحَجُونِ، وَهُوَ مُهِلٌّ بِالْحَجِّ، وَلَمْ يَقْرَبِ الْكَعْبَةَ بَعْدَ طَوَافِهِ بِهَا حَتَّى رَجَعَ مِنْ عَرَفَةَ، وَأَمَرَ أَصْحَابَهُ أَنْ يَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، ثُمَّ يُقَصِّرُوا مِنْ رُءُوسِهِمْ، ثُمَّ يَحِلُّوا، وَذَلِكَ لِمَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ بَدَنَةٌ قَلَّدَهَا، وَمَنْ كَانَتْ مَعَهُ امْرَأَتُهُ فَهِيَ لَهُ حَلاَلٌ، وَالطِّيبُ وَالثِّيَابُ. (بخارى:١٥٤٥)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم او اصحاب ئې له سر غوړولو او ږمنځولو او د لونګ او څادر له اغوستلو وروسته؛ له مدينې روان شول او د هيڅ ډول څادر او لونګ له اغوستلو ئې ممانعت ونه کړ؛ مګر هغه چي په زعفرانو داسي معطر شوی وي چي اثر ئې پر پوستکي پاته کېږي؛ شپه ئې په ذوالحليفه

کي تېره کړه، سهار پر خپلي سورلۍ سپور او روان شو؛ تر هغه چي بيداء (بېديا) ته ورسېدو؛ نو ده او يارانو ئې د تلبيې ويل پيل کړل او د هغو څارويو غاړو کي ئې (غاړه کۍ) واچولې چي د قربانۍ لپاره ئې راوستي وو؛ او دا هغه وخت وو چي د ذي القعدې مياشتي پنځه ورځي پاته وې. کله چي مکې ته ورسېد؛ د ذي الحجې څلور ورځي تېري شوې وې؛ د بيت الله طواف ئې وکړ او د صفا او مروه تر منځ ئې سعي وکړه؛ او له دې امله له احرام ونه وتلو چي د قربانۍ لپاره ئې د خپلو څارويو په غاړو کي غاړه کۍ اچولې وې؛ بيا ئې د مکې په پورتنۍ برخه کي له حجون سره واړول؛ په داسي حال کي چي د حج نيت ئې کړی وو؛ له طواف وروسته؛ تر هغه کعبې ته نژدې نه شو چي له عرفات راستون شو؛ او خپلو يارانو ته ئې امر وکړ چي د بيت الله او صفا او مروه تر منځ طواف وکړي؛ بيا خپل وېښتان کم کړي او ورپسي له احرام ووځي؛ او دا د هغو لپاره چي د قربانۍ داسي څاروي ورسره نه وو چي په غاړو کي ئې غاړه کۍ اچولو سره په نښه کړی وي؛ او له چا سره چي خپله مېرمن وي نو هغه، عطر وهل او جامې اغوستل ورته جائز دي.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۴۵، ۱۶۲۵

توپير: په يوه کي فقط دومره راغلي: قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ، فَطَافَ وَسَعَى بَيْنَ الصَّفَا، وَالمَرْوَةِ وَلَمْ يَقْرَبِ الكَعْبَةَ بَعْدَ طَوَافِهِ بِهَا، حَتَّى رَجَعَ مِنْ عَرَفَةَ»

په دې دواړو رواياتو کي د تعارض شاهد يو؛ سالم بن عبد الله له خپل پلار اورېدلي چي وئې ويل: ستاسو دا بېديا چي په اړه ئې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په ارتباط دروغ وايئ؛ (چي گواکي له دې ځای ئې اللهم لبيك ويل پيل کړي)؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د ذي الحليفه له مسجد پرته له بل ځای تلبيه نه ده کړې. اما دا روايت وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم شپه په ذوالحليفه کي تېره کړه، سهار

پر خپلې سورلۍ سپور او روان شو؛ تر هغه چې بيداء (بېديا) ته ورسېدو؛ نو ده او يارانو ئې د تلبيې ويل پيل کړل. امام بخاري دا وضاحت نه دئ کړی چې په دغو دواړو کې کومه خبره صحيح ده؛ عمدة القاري د توجيه هڅه کړې خو توجيه ئې ډېره کمزورې ده؛ تعارضات دا دي: په يوه کې راغلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم شپه په ذي الحليفه کې تېره او سبا ئې د ذي الحليفه له مسجد د تلبيې ويل پيل کړي؛ دا د ابن عمر روايت دئ؛ په بل کې ويل شوي رسول الله صلى الله عليه و سلم د ماسپښين لمونځ مدينه کې او د مازديگر دوه رکعته لمونځ په ذي الحليفه کې کړی؛ دا د انس رضي الله عنه روايت دئ؛ په بل کې ويل شوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د ماسپښين لمونځ په ذي الحليفه کې اداء کړ؛ بيا پر خپلې سورلۍ سپور او روان شو؛ کله چې بيداء ته ورسېدو د حج تلبيه ويل ئې پيل کړي؛ ابن عمر رضي الله عنه دا ردوي او دروغ ئې گڼي او وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم له ذي الحليفه پرته په بل ځای کې د تلبيې ويل نه دي پيل کړي.

که په دغو کې هر روايت ومنل شي؛ هيڅ ستونزه نه رامنځته کېږي؛ ستونزه فقط دا ده چې په يوه کتاب کې متعارضې وېناوې د لوستونکو مخې ته ايښودل شوې او دا د هغوی ذهن مغشوشوي او د رواياتو په اړه ئې باور کمزوری کوي. نه مناسبه ده او نه د توجيه وړ چې په يوه کتاب کې داسې متعارض روايات راوړل شي او لوستونکو ته ونه ويل شي چې کوم يو ئې تر بل اصح دئ.

### ۱۵ باب: تلبيه

عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما: أَنَّ تَلْبِيَةَ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: «لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لا شَرِيكَ لَكَ». (بخاری:۱۵٤۹)

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: د رسول الله

صلی الله علیه و سلم تلبیه داسي وه: «لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لا شَرِيكَ لَكَ»: حاضر او تیار یم ستا امر منلو ته اې زما مولا! چمتو یم منلو ته! چمتو یم؛ هیڅ شریك دي نشته؛ چمتو یم؛ یقیناً چي ستاینې او نعمتونه تا ته مختص دي؛ او واکمني هم؛ هیڅ شریك دي نشته.

## ۱۶ باب: تر تلبیې وړاندې حمد، تسبیح او تکبیر

عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه قَالَ: صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ مَعَهُ بِالْمَدِينَةِ الظُّهْرَ أَرْبَعًا، وَالْعَصْرَ بِذِى الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ بَاتَ بِهَا حَتَّى أَصْبَحَ، ثُمَّ رَكِبَ حَتَّى اسْتَوَتْ بِهِ عَلَى الْبَيْدَاءِ، حَمِدَ اللَّهَ، وَسَبَّحَ، وَكَبَّرَ، ثُمَّ أَهَلَّ بِحَجٍّ وَعُمْرَةٍ، وَأَهَلَّ النَّاسُ بِهِمَا، فَلَمَّا قَدِمْنَا أَمَرَ النَّاسَ، فَحَلُّوا حَتَّى كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ، أَهَلُّوا بِالْحَجِّ، قَالَ: وَنَحَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدَنَاتٍ بِيَدِهِ قِيَامًا، وَذَبَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِينَةِ كَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ. (بخارى: ۱۵۵۱)

له انس رضي الله عنه روایت دئ چي وئې ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ په مدینه کې؛ چي موږ ورسره وو؛ د ماسپښین لمونځ څلور رکعته وکړ او د مازدیګر لمونځ ئې په ذي الحلیفه کي دوه رکعته وکړ؛ بیا ئې هملته شپه وکړه تر هغه چي شپه پرې سبا شوه؛ بیا سپور او روان شو تر هغه چي سورلۍ ئې برابر هغې بېدیا ته ورسولو؛ د الله تعالی حمد، تسبیح او تکبیر ئې وویلو؛ بیا ئې د حج او عمرې اداء کولو غږ وکړ؛ او خلکو هم په تلبیې سره د دواړو نیت څرګند کړ؛ کله چي مکې ته ورسېدو؛ خلکو ته ئې امر وکړ نو له احرام ووتل؛ تر هغه چي د ترویه ورځ (د ذي الحجې اتمه) شوه؛ د حج لپاره ئې تلبیه وکړه؛ راوي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپل لاس؛ څو اوښان په ولاړه حلال کړل؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم دوه برګ دوه کلن پسونه په مدینه کي حلال کړل.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۵۱، ۱۷۱۲ او ۱۷۱٤

توپير: په يوه کې حَمِدَ اللَّهَ وَسَبَّحَ وَكَبَّرَ په بل کې فَجَعَلَ يُهَلِّلُ وَيُسَبِّحُ، په يوه کې حَتَّى اسْتَوَتْ بِهِ عَلَى الْبَيْدَاء په بل کې فَلَمَّا عَلَا عَلَى الْبَيْدَاء، په يوه کې ثُمَّ أَهَلَّ بِحَجٍّ وَعُمْرَةٍ په بل کې لَبَّى بِهِمَا جَمِيعًا، په يوه کې وَنَحَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدَنَاتٍ بِيَدِهِ قِيَامًا، په بل کې «وَنَحَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ سَبْعَ بُدْنٍ قِيَامًا، په يوه کې كَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ په بل کې كَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ (ښکرور) راغلي.

لکه چې مخکې مو وويل د بخاري دا روايت له ۱۵٤۱ روايت سره ئې چې مخکې تېر شو جدي تعارض لري؛ په هغه کې ويل شوي: له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د ذوالحليفه له جومات پرته له بل ځای تلبيه نه ده کړې؛ او حتی له بيداء (پر ذي الحليفه مشرفه بېديا)؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم د تلبيې پيلېدو ادعاء دروغ او کذب بولي او وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فقط د ذي الحليفه له جومات تلبيه پيل کړه: بَيْدَاؤُكُمْ هَذِهِ الَّتِي تَكْذِبُونَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا مَا أَهَلَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِلَّا مِنْ عِنْدِ الْمَسْجِدِ يَعْنِي مَسْجِدَ ذِي الْحُلَيْفَةِ.

## ۱۷ باب: د تلبيې په وخت قبلې ته مخ اړول

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنه: أَنَّهُ كَانَ يُلَبِّي من ذِى الْحُلَيْفَةِ، ثُمَّ إِذَا بَلَغَ الْحَرَمَ يُمْسِكُ حَتَّى إِذَا جَاءَ ذَا طُوًى بَاتَ بِهِ، حَتَّى يُصْبِحَ، فَإِذَا صَلَّى الْغَدَاةَ اغْتَسَلَ، وَزَعَمَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَ ذَلِكَ. (بخارى: ۱۵۵۳)

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې هغه به له ذي الحليفې تلبيه ويله؛ بيا کله چې به حرم ته ورسېد؛ بنده به ئې کړه؛ تر هغه چې (ذي طوی) ته به ورسېد؛ هملته به ئې شپه کړه؛ تر هغه چې سبا به راويښ

شو؛ کله چي به ئې د سهار لمونځ وکړ؛ نو وبه لمبېدو؛ او گمان ئې کاوو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم همداسي کول.

يادونه: دلته د باب او شرح باب تر منځ هيڅ ارتباط نه ليدل کېږي؛ باب داسي دئ: د تلبيې په وخت قبلې ته مخ اړول؛ خو په روايت کي د قبلې لوري ته مخ اړول نشته!!

## ١٨ باب: درې ته د کوزېدو په مهال تلبيه ويل

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: «أَمَّا مُوسَى كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ إِذِ انْحَدَرَ فِي الْوَادِي يُلَبِّي». (بخارى:١٥٥٥)

٧٨٨- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (... او موسى (عليه السلام) داسي وو لکه چي زه ئې همدا اوس گورم چي درې ته کوزېږي او تلبيه وايي).

دا د يوه روايت يوه برخه ده چي په مطلب ئې هغه مهال سم پوهېدی شو چي ټول روايت خپلي مخي ته کښېږدو؛ ځکه دا واضح نه ده چي رسول الله صلى الله عليه و سلم موسى عليه السلام څنگه د تلبيې ويلو په حالت کي ليدلی؛ په خوب کي که په ويښه؛ بشپړ روايت داسي دئ:

١٥٥٥ - عَنْ مُجَاهِدٍ، قَالَ: كُنَّا عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، فَذَكَرُوا الدَّجَّالَ أَنَّهُ قَالَ: مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ، فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: لَمْ أَسْمَعْهُ وَلَكِنَّهُ قَالَ: «أَمَّا مُوسَى كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ إِذْ انْحَدَرَ فِي الوَادِي يُلَبِّي» بخارى

له مجاهد روايت دئ چي ويلي ئې دي: د ابن عباس رضي الله عنهما خوا ته وو؛ حاضرينو د دجال يادونه وکړه چي د دواړو سترگو تر منځ ئې د کافر کلمه ليکل شوې؛ ابن عباس وويل: دا مي نه دي ترې اورېدلي؛ خو وئې فرمايل: (... او موسى (عليه السلام) داسي وو لکه چي زه ئې همدا اوس گورم چي درې ته کوزېږي او تلبيه وايي).

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۵۵- ۵۹۱۳- ۷۴۰۸ -

توپیر: په یوه کې یوازې د دجال او موسی علیه السلام یادونه شوې او په بل کې پر دوی سربېره د ابراهیم علیه السلام یادونه هم شوې؛ ځینو محدثینو دا وضاحت هم کړی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په خوب کې ابراهیم او موسی علیهما السلام لیدلي وو.

دا هم ضروري برېښي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې خوب کې عیسی علیه السلام او دجال هم لیدلي؛ او له دې معلومېږي چې د دجال په اړه د روایت منشأ رؤیا ده؛ نه قرآن او نه وحي. د دې رؤیا اړوند روایت داسي دئ:

۷۰۲۶ - عن عَبْدِ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُنِي أَطُوفُ بِالكَعْبَةِ، فَإِذَا رَجُلٌ آدَمُ، سَبْطُ الشَّعَرِ، بَيْنَ رَجُلَيْنِ، يَنْطُفُ رَأْسُهُ مَاءً، فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: ابْنُ مَرْيَمَ، فَذَهَبْتُ أَلْتَفِتُ فَإِذَا رَجُلٌ أَحْمَرُ جَسِيمٌ، جَعْدُ الرَّأْسِ، أَعْوَرُ العَيْنِ اليُمْنَى، كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ، قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: هَذَا الدَّجَّالُ، أَقْرَبُ النَّاسِ بِهِ شَبَهًا ابْنُ قَطَنٍ " وَابْنُ قَطَنٍ رَجُلٌ مِنْ بَنِي المُصْطَلِقِ مِنْ خُزَاعَةَ. رواه البخاری

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (په داسي حال کې چې ویده وم؛ ځان داسي ګورم چې د کعبې طواف کوم؛ ناڅاپه یو غنم رنګی سړی چې وېښتان ئې ګڼ دي؛ د دوو تنو تر منځ؛ له سر ئې د اوبو څاڅکي څڅېږي؛ ومي ویل: دا څوك دئ؟ وئې ویل: دا د مریمې زوی دئ؛ بیا ولاړم؛ شاوخوا مي کتل؛ ناڅاپه یو سړی ګورم چې سور رنګی او پرېړ دئ، وېښتان ئې تاو شوي، په ښۍ سترګې ړوند دئ؛ سترګه ئې داسي ده لکه د انګور په یوه وږي کې غټه او جوته دانه. ومي ویل: دا څوك دئ؟ وئې ویل: دا دجال دئ؛

په خلکو کې ده ته نژدې ورته کس؛ ابْنُ قَطَن دئ). ابْنُ قَطَن د بَنِي المُصْطَلِقِ له قبيلې وو.

له دې روايت څو خبرې په ډېر صراحت سره معلومېږي:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم دجال په خوب کې ليدلی.
- يو انسان او د بني المصطلق قبيلې يوه تن ته ئې جسم، رنګ او وېشتان ورته وو.
- په ښۍ سترګې ړوند وو. (خو د ده په اړه صحيح مسلم کې راغلی روايت وايي چې دجال په کيڼې سترګې ړوند وو؛ تفصيلات به ئې وروسته وګورئ)؛ او دا ښيي چې صحيح مسلم او صحيح بخاري په خپلو منځونو کې داسي ژور تعارضات هم لري؛ ځيني داسي ګمان کوي چې دواړه به په بشپړه توګه او په ټولو رواياتو کې سره متفق وي؛ خو حقيقت دا دئ چې د دې دواړو رواياتو په څېر په ډېرو نورو کې هم ژور توپيرونه سره لري؛ امام مسلم يوازې په ۱۵۱۹ رواياتو کې له بخاري سره موافق دئ؛ په پاته نژدې ٦٠٠٠ رواياتو کې ورسره موافق نه دئ).

## ۱۹ باب: د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زمانه کي د ده په څېر إهلال (د حج او عمرې نيت)

عَنْ أَبِي مُوسَى رضی الله عنه قَالَ: بَعَثَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى قَوْمٍ بِالْيَمَنِ، فَجِئْتُ وَهُوَ بِالْبَطْحَاءِ، فَقَالَ: «بِمَا أَهْلَلْتَ»؟ قُلْتُ: أَهْلَلْتُ كَإِهْلَالِ النَّبِيِّ صلی الله علیه و سلم. قَالَ: «هَلْ مَعَكَ مِنْ هَدْيٍ»؟ قُلْتُ: لا. فَأَمَرَنِي فَطُفْتُ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، ثُمَّ أَمَرَنِي فَأَحْلَلْتُ، فَأَتَيْتُ امْرَأَةً مِنْ قَوْمِي، فَمَشَطَتْنِي؛ او غَسَلَتْ رَأْسِي. فَقَدِمَ عُمَرُ رضی الله عنه، فَقَالَ: إِنْ نَأْخُذْ بِكِتَابِ اللَّهِ فَإِنَّهُ يَأْمُرُنَا بِالتَّمَامِ، قَالَ اللَّهُ: وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ وَإِنْ نَأْخُذْ بِسُنَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّهُ لَمْ يَحِلَّ

حَتَّى نَحَرَ الْهَدْىَ. (بخارى:١٥٥٩)

ابو موسى رضي الله عنه وايي: زه رسول الله صلى الله عليه و سلم د يمن يوه قوم ته ولېږلم؛ په داسي حال کي (ترې) راغلم چي هغه په بَطْحَاء (د مکې او منىٰ تر منځ يو ځاى) کي وو؛ وئې فرمايل: د څه نيت او اراده دي کړې (د حج که عمرې؟)؛ ومي ويل: د نبي صلى الله عليه و سلم د نيت په شان مي نيت کړى. وئې فرمايل: کومه هدي (د قربانۍ څاروي) درسره شته؟؛ ومي ويل: نه؛ بيا ئې امر راته وکړ نو ما د بيت الله او صفا او مروه طواف وکړ؛ بيا ئې امر راته وکړ او له احرام ووتلم؛ نو د خپل قوم يوې مېرمني ته ورغلم؛ نو ئې وېښتان راږمنځ کړل؛ يا ئې سر راومينځلو. بيا چي عمر رضي الله عنه راوړاندي شو؛ وئې ويل: که د الله په کتاب تمسك وکړو؛ نو هغه د اتمام امر راته کوي؛ الله تعالى فرمايلي: وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ للَّه: حج او عمره د الله لپاره بشپړه کړئ؛ او که د رسول الله صلى الله عليه و سلم په سنت تمسك کوو نو دى تر هغه له احرام ونه وتلو چي هدي ئې ذبح کړه.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلى: ۱۵۵۹، ۱۷۲٤

توپير: په يوه کي يمن ته د ابو موسى رضي الله عنه د لېږلو او راستنېدلو يادونه شوې؛ په بل کي نه ده شوې؛ په يوه کي بِمَا أَهْلَلْتَ؟ په بل کي أَحَجَجْتَ؟، په يوه کي أَهْلَلْتُ كَإِهْلَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او په بل کي لَبَّيْكَ بِإِهْلَالٍ كَإِهْلَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، په يوه کي فَأَمَرَنِي، فَطُفْتُ بِالْبَيْتِ، وَبِالصَّفَا وَالمَرْوَةِ په بل کي أَحْسَنْتَ، انْطَلِقْ، فَطُفْ بِالْبَيْتِ، وَبِالصَّفَا وَالمَرْوَةِ، په يوه کي فَأَتَيْتُ امْرَأَةً مِنْ قَوْمِي، فَمَشَطَتْنِي - أَوْ غَسَلَتْ رَأْسِي په بل کي ثُمَّ أَتَيْتُ امْرَأَةً مِنْ نِسَاء بَنِي قَيْس، فَفَلَتْ: رَأْسِي (وېښتان مي پرانيستل)، په يوه کي ثُمَّ أَهْلَلْتُ بِالحَجِّ، فَكُنْتُ أُفْتِي بِهِ النَّاسَ، حَتَّى خِلَافَةِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَذَكَرْتُهُ لَهُ، په بل کي دا مطلب نه دئ راغلى او داسي ويل شوي: فَقَدِمَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ چي لازم

وضاحت په کې نشته؛ په دواړو کې د عمر رضي الله عنه دا وينا راغلې: إِنْ نَأْخُذْ بِكِتَابِ اللَّهِ فَإِنَّهُ يَأْمُرُنَا بِالتَّمَامِ، قَالَ اللَّهُ: {وَأَتِمُّوا الحَجَّ وَالعُمْرَةَ لِلَّهِ} [البقرة: ١٩٦] وَإِنْ نَأْخُذْ بِسُنَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّهُ «لَمْ يَحِلَّ حَتَّى نَحَرَ الهَدْيَ»؛ نه امام بخاري دا وضاحت کړی چې د عمر رضي الله عنه د وينا مطلب څه دئ؛ او نه په دواړو روايتونو کې په دې اړه کافي وضاحت ليدل کېږي.

د ځينو محدثينو له آراءو داسي معلومېږي چې عمر رضي الله عنه د ابو موسی له فتوی او رأی سره توافق نه دئ کړی؛ د قرآن په آيت او د رسول الله صلی الله عليه و سلم په سنت ئې استناد کړی؛ ځکه قرآن د حج بشپړولو لارښوونه کړې؛ يعني کله چې د حج لپاره احرام وتړئ او مناسك پيل کړئ نو تر بشپړېدو پوري ئې مه قطع کوئ؛ عمر رضي الله عنه د رسول الله صلی الله عليه و سلم د حج په اړه وايي: وَإِنْ نَأْخُذْ بِسُنَّةِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَإِنَّهُ لَمْ يَحِلَّ حَتَّى نَحَرَ الْهَدْيَ. راشئ نسائي ته غوږ شو چې وايي:

أنَّ أبا مُوسى سَأَلَ عُمرَ عن ذلِك، فقال عُمرُ: قد عَلِمْتُ أنَّ رَسولَ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ قد فَعَلَه، ولكنْ كَرِهْتُ أنْ يَظلُّوا مُعرِّسينَ بهنَّ في الأراكِ، ثمَّ يَروحوا في الحجِّ تَقطُر رُؤوسُهم، ومعْناه: كَرِهْتُ التَّمتُّعَ؛ لأنَّه يَقتضي التَّحلُّلَ ووَطْءَ النِّساءِ إلى حِينِ الخُروجِ إلى الحجِّ. النسائي

يعني ابو موسی له عمر رضي الله عنه په دې اړه وپوښتل او هغه وويل: په دې پوهېږم چې رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپله دا کار کړی؛ خو دا مي خوښ نه شو چې حاجيان عرفات ته نژدې تر اراك پوري له خپلو مېرمنو سره نژدېکت کوي او بيا سبا د حج مناسك په داسي حال کې پيلوي چې له سرونو ئې اوبه څڅېږي (غسل ئې کړی)؛ او معنی ئې دا ده چې عمر رضي الله عنه ويلي: تمتع (له عمرې وروسته له احرام وتل) مي نه خوښېږي؛ دا ځکه چې په دې سره تر هغه له احرام وتل او

له مېرمنو سره نژدېکت روا کېږي چې د حج لپاره وځي.

رسول الله صلی الله علیه و سلم ابو موسی ته څکه د عمرې له اداء کولو وروسته؛ له احرام د وتلو لارښوونه وکړه چې هغه نه د حج او عمرې د ګډ یا بېل؛ څرګنده اراده او نیت کړی وو او نه ئې له ځان سره هدي درلوده؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم د پوښتني په ځواب کې ئې ويلي: (أَهْلَلْتُ كَإِهْلَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)؛ يعني تا چې د حج او عمرې په اړه څه نيت کړی؛ زه به همغسي کوم؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته ويلي: د بيت الله طواف او د صفا او مروه سعي وکړه؛ بيا له احرام ووځه. د تمتع، قران او افراد حجونو تفصيلات به په خپل ځای کې وګورئ. وروستي حديث کې د دې وضاحت شوی.

## ۲۰ باب: د قرآن دا آيت: (الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ ...) البقرة: ۱۹۷

عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها: وَحَدِيْثُهَا فِي الْحَجِّ قَدْ تَقَدَّمَ، قَالَتْ فِيْ هذِهِ الرِّوَايَةِ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ، وَلَيَالِيَ الْحَجِّ وَحُرُمِ الْحَجِّ، فَنَزَلْنَا بِسَرِفَ، قَالَتْ: فَخَرَجَ إِلَى أَصْحَابِهِ فَقَالَ: «مَنْ لَمْ يَكُنْ مِنْكُمْ مَعَهُ هَدْيٌ، فَأَحَبَّ أَنْ يَجْعَلَهَا عُمْرَةً فَلْيَفْعَلْ، وَمَنْ كَانَ مَعَهُ الْهَدْيُ فَلا». قَالَتْ: فَالآخِذُ بِهَا وَالتَّارِكُ لَهَا مِنْ أَصْحَابِهِ، قَالَتْ: فَأَمَّا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرِجَالٌ مِنْ أَصْحَابِهِ فَكَانُوا أَهْلَ قُوَّةٍ، وَكَانَ مَعَهُمُ الْهَدْيُ فَلَمْ يَقْدِرُوا عَلَى الْعُمْرَةِ. وَذَكَرَتْ بَاقِيَ الْحَدِيْثِ. (بخاری: ۱۵۶۰)

د حج په اړه د عائشې رضي الله عنها روايت مخکي تېر شو او په دې روايت کې وايي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د حج په مياشتو، د حج په شپو او د حج په حرماتو (محترمو مقاماتو، وختونو او حالتونو) کې له مدينې ووتو او په (سرف) کې مو واړول؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم خپلو اصحابو ته ورووت او وئې فرمايل: "له چا سره چې

هدي (د قرباني هغه څاروی چې حاجي ئې د قربانۍ په ورځ او د قربانۍ په خاص ځای کې ذبح کوي) نه وي او دا ئې خوښېږي چې عمره ئې کړي؛ نو همداسې دي وکړي؛ خو هغه چې هدي ورسره وي نو داسې دې نه کوي"؛ عائشې رضي الله عنها وویل: نو له يارانو ئې ځيني پرې عمل کوونکي شول او ځيني پرېښودونکي (د عمرې له نيت)؛ او وئې ويل: اما رسول الله صلى الله عليه و سلم او يو شمېر ياران ئې چې توانمن ول او هدي ورسره وه؛ د عمرې په اداء کولو قادر نه شول. پاته حديث ئې هم بيان کړ.

## ۲۱ باب: د حج ډولونه تمتع، قران او افراد...

وَعَنْهَا رضى الله عنها فِيْ رِوَايَةٍ قَالَتْ: خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلا نُرَى إِلَّا أَنَّهُ الْحَجُّ، فَلَمَّا قَدِمْنَا تَطَوَّفْنَا بِالْبَيْتِ، فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَكُنْ سَاقَ الْهَدْىَ أَنْ يَحِلَّ، فَحَلَّ مَنْ لَمْ يَكُنْ سَاقَ الْهَدْىَ، وَنِسَاؤُهُ لَمْ يَسُقْنَ فَأَحْلَلْنَ، قَالَتْ صَفِيَّةُ: مَا أُرَانِي إِلَّا حَابِسَتُهُمْ قَالَ: «عَقْرَى حَلْقَى أَوَ مَا طُفْتِ يَوْمَ النَّحْرِ»؟ قَالَتْ: قُلْتُ: بَلَى قَالَ: «لا بَأْسَ انْفِرِى». (بخارى:۱۵۶۱)

او عائشه رضي الله عنها په بل روايت کې وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره له مدينې روان شوو او ګمان مو دا وو چې حج اداء کوو؛ مکې ته چې ورسيدو د بيت الله طواف مو وکړ، رسول الله صلى الله عليه و سلم امر وکړ چې چا هدي (د قربانۍ څاروی) نه وي راوستلی له احرام دي ووځي؛ نو له چا سره چې هدي نه وه له احرام ووتل؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمنو له ځان سره هدي نه وې رواني کړې؛ نو له احرام ووتلې؛ صفيې رضي الله عنها وويل: فکر کوم چې زه د کاروان د تګ ايسارووکې يم؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم هغې ته دا دوه الفاظ وکارول (عَقْرَى حَلْقَى) او بيا ئې وفرمايل: آيا د لوی عيد په ورځ دي طواف نه وو کړی؟ وئې ويل: هو؛ ولې نه؛ نو وئې

فرمايل: پروا ئې نشته حرکت وکړه.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی:١٥٦١، ١٧٦٢، ١٧٧١، ٦١٥٧؛ مطلق غريب دئ؛ په ٣ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: إِبْرَاهِيم، الأَسْوَد او عَائِشَة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا.

توپير: په يوه کې وَحَاضَتْ صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَيّ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَقْرَى حَلْقَى، إِنَّكِ لَحَابِسَتُنَا، يعني پيّغمبر عليه السلام صفيې ته ويلي چې موږ له روانېدو راايساروې؛ په بل کې حَاضَتْ صَفِيَّةُ لَيْلَةَ النَّفْرِ فَقَالَتْ: مَا أُرَانِي إِلَّا حَابِسَتَكُمْ، قَالَ: النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «عَقْرَى حَلْقَى، أَطَافَتْ يَوْمَ النَّحْرِ؟ يعني صفيې ويلي چې گمان کوم زه د روانېدو مانع يم!! او په بل کې د دواړو خلاف ويل شوي: أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْفِرَ، فَرَأَى صَفِيَّةَ عَلَى بَابِ خِبَائِهَا كَئِيبَةً حَزِينَةً، لِأَنَّهَا حَاضَتْ، فَقَالَ: «عَقْرَى حَلْقَى - لُغَةٌ لِقُرَيْشٍ - إِنَّكِ لَحَابِسَتُنَا» يعني صفيه رضي الله عنها د رسول الله صلى الله عليه و سلم د اوسېدو ځای ته ورغلې؛ کله چې ئې هغه د خيمې خوله کې پرېشانه او غمجنه ليدلې او پوه شوی چې له دې کبله غمجنه ده چې د وداع له طواف محرومه شوې نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته هغه الفاظ ويلي. خو بخاري نه دي ويلي چې له دغو رواياتو کوم يو ئې ارجح او د اعتبار وړ دئ؛ په بشپړ يقين سره ويلی شو چې په دې پېښې کې نه يوازي هيڅ داسي څه نه مومو چې له کبله ئې رسول الله صلى الله عليه و سلم صفيې رضي الله عنها ته کوم سخت او نامناسب لفظ وکاروي؛ بر عکس د هغې پرېشانه او د زړه سوي وړ حالت ته په پام سره بايد رسول الله صلى الله عليه و سلم هغې ته داسي څه ويلي وي چې انديښنه ئې رفع او خوشحاله ئې کړي.

د دې تکراري رواياتو په اړه څو وضاحتونه ضروري دي:

- د إسنادو له پلوه مطلق غريب دي؛ تر درېيمې طبقې پورې يو يو راوي لري چې دا دي: ابراهيم، اسود او عائشه رضي الله عنها. له هغه

وروسته ئې راويان بېل بېل دي؛ بخاري له شپږمي طبقې راويانو تر لاسه کړي.

- سره له دې چې درې پر له پسې راويان ئې سره ورته دي خو په الفاظو کې ئې توپيرونه راغلي.

- حج په شپږم هجري کال کې فرض شوی؛ او رسول الله صلى الله عليه وسلم په لسم هجري کال حج کړی او همدا د ده يوازينی حج وو؛ نژدې سل زره حجاج ورسره وو؛ دا حج د حجة الوداع په نامه ياد شوی؛ خو د بخاري د رواياتو له الفاظو داسي معلومېږي لکه چي دا بېل بېل حجونه وو! ځينو داسي انگېرلې چي حج په اتم يا نهم هجري کال کې فرض شوی؛ حال دا چي د فرضيت حکم ئې له هغه آيت معلومېږي چي په شپږم هجري کال نازل شوی؛ آيت دا دئ: ((... وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلا ...)؛ دا د آل عمران سورې ٩٧ آيت دئ؛ دا سوره په شپږم هجري کال او د احد له جگړې وروسته نازله شوې؛ د آيت له الفاظو داسي معلومېږي چي حج تر دې وړاندي فرض شوی؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم تر بعثت وړاندي هم حج او عمره کړې. د بخاري په ١٦٦٤ روايت کي راغلي چي جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ ويلي: تر بعثت وړاندي مي رسول الله صلى الله عليه و سلم په عرفات کې وليد او له ځان سره مي وويل: دا خو قريشي دئ؛ دلته څه کوي؟

په دې روايت کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته دا وينا منسوب شوې چي گواکې ام المؤمنين حفصې رضي الله عنها ته ئې ويلي: عَقْرَى حَلْقَى؛ شارحينو د دې الفاظو بېلي بېلي ژباړي او تعبيرونه کړي؛ چا ويلي چي دا د قريشو مهمل تکيه کلام وو؛ چا د ښېرا په معنى نيولي؛ چا د عقرى رېښه جرح او زخم نيولې او چا د حلقى رېښه حلق او ستونی او چا د وېښتانو خرېيل؛ او ځينو ويلي چي گواکې رسول الله صلى الله عليه و سلم صفيې ته ويلي: رنځوره شې د ستوني په درد اخته شې!! نه پوهېږو

څنګه څوك جرأت كوي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسي څه منسوب كړي؟!! او د داسي ويناوو راوړلو ګټه څه ده؟!! رسول الله صلی الله علیه و سلم د لوړو اخلاقو لپاره اسوه او قدوه وو؛ خپل ټول رسالت ئې په دې كې خلاصه كړی وو: بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمِ الْأَخْلَاق: د دې لپاره مبعوث شوی يم چي اخلاقي مكارم بشپړ كړم؛ الله تعالی خو د حج په دوران كې حجاج له هر ډول شخړو، جدل، بد رد ويلو منع كړي، څنګه ومنو چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر ستر او عظيم شخصيت؛ د الله تعالی هغه رسول چي د رحمة للعلمين په نامه ئې ستايلی؛ هغه به خپلې درنې مېرمني ته داسي بښرا كوي؟!! ولي د پنځمي او شپږمي طبقې د يوه راوي له لوري يوه تبع تابعي ته منسوب روايت (كه قبول كړو چي هغه دا خبره كړې)؛ رانقلول مهم او ضروري وګڼو؟ هغه هم داسي روايت چي په هغه كې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په شأن كې هتك حرمت شوی؟! او ولي ئې داسي تعبير نه كړو چي رسول الله صلی الله علیه و سلم صفيه رضي الله عنها ډېره غمجنه او پرېشانه ليدلې؛ نو هغې ته ئې ويلي: آيا رنځوره يې؟ ستونی دي درد كوي؟ او كله چي پوه شوی صفيه له طواف د محروميت له كبله غمجنه ده؛ هغې ته ئې ويلي: آيا د افاضې طواف دي نه وو كړی؟ وئې ويل: هو؛ ولي نه؛ نو وئې فرمايل: پروا ئې نشته؛ همغه درته كافي ده؛ حركت وكړه.

په دې روايت كې دا نه مومو چي له طواف وروسته عائشې رضي الله عنها او نورو څه كړي؛ خو په نورو رواياتو كې د دې وضاحت شوی چي ځينو عمره كړې او بيا له احرام وتلي او ځيني له احرام نه دي وتلي؛ له دې روايت معلومېږي چي عائشه او د رسول الله صلی الله علیه و سلم نورو مېرمنو عمره كړې او له احرام وتلې؛ خو عائشې رضي الله عنها ته منسوب بل روايت كې راغلي چي دې عمره نه وه كړې؛ او د حج په پای كې له خپل ورور سره تنعيم ته د عمرې لپاره لېږل شوې؛ همدې ته په پام سره محققين وايي چي عائشې رضي الله عنها ته منسوب دغو

روايتونو کې اضطراب او تعارض شته؛ له دواړو يوازې يو ئې صحيح کېدی شي؛ خو بخاري دواړه راوړي پرته له دې چې ووايي کوم ئې صحيح دئ!!

وَعَنْهَا رضى الله عنها فِيْ رِوَايَةٍ أُخْرَى قَالَتْ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ، فَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ، وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ، وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ، وَأَهَلَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَجِّ، فَأَمَّا مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ أَوْ جَمَعَ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لَمْ يَحِلُّوا حَتَّى كَانَ يَوْمُ النَّحْرِ. (بخارى:١٥٦٢)

او له عائشې رضي الله عنها په بل روايت کې راغلي چې وئې ويل: د حجه الوداع په کال له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره روان شوو؛ نو له موږ ځينو يوازې د عمرې، ځينو د حج او عمرې او ځينو نورو يوازې د حج نيت وکړ او رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپله د حج نيت وکړ؛ نو چا چې د حج او عمرې دواړو نيت کړی وو؛ هغوی د قربانۍ تر ورځې له احرام ونه وتل.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ٤ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ١٥٦٢، ٤٤٠٨، ٢٦٥١، ٤٠٠

توپير: په ځينو کې د حَجَّةِ الوَدَاعِ يادونه شوې او په ځينو کې نه؛ له ځينو داسې معلومېږي چې چا يوازې د عمرې نيت کړی وو، چا يوازې د حج او چا د حج او عمرې، رسول الله صلى الله عليه و سلم يوازې د حج نيت کړی وو؛ نو هغه چې يوازې د حج يا د حج او عمرې يو ځايي نيت کړی وو؛ هغوی تر هغه له احرام ونه وتل چې د قربانۍ ورځ راورسېده؛ له قربانۍ وروسته له احرام ووتل؛ له دغو رواياتو داسې معلومېږي ګواکې حج او عمره بېل بېل او په يوه سفر کې نشته؛ د عائشې رضي الله عنها د دې روايت په اړه چې د دوهمي او درېيمي طبقې راويان ئې مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ نَوْفَلٍ او عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ دي؛ د ځينو رأی داسې ده: قَالَ مَالك: لَيْسَ الْعَمَل عندنَا على حَدِيث عُرْوَة عَن عَائِشَة قَدِيما وَلَا حَدِيثا، وَقَالَ أَبُو عمر: الْأَحَادِيث عَنْهَا مضطربة: مالك وايي: زموږ له

نظره؛ په تېرې زماني کې او اوس؛ په هغه روايت عمل کول نشته چې عروه له عائشې رضي الله عنها نقل کړی؛ ابو عمر وايي: له عائشې رضي الله عنها په دې اړه راغلي روايات مضطرب دي (ځيني ئې يو څه وايي او ځيني ئې بل څه).

٧٩٣- عَنْ مَرْوَانَ بْنِ الحَكَمِ، قَالَ: شَهِدْتُ عُثْمَانَ، وَعَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا وَعُثْمَانُ «يَنْهَى عَنِ المُتْعَةِ، وَأَنْ يُجْمَعَ بَيْنَهُمَا»، فَلَمَّا «رَأَى عَلِيٌّ أَهَلَّ بِهِمَا، لَبَّيْكَ بِعُمْرَةٍ وَحَجَّةٍ»، قَالَ: «مَا كُنْتُ لِأَدَعَ سُنَّةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِقَوْلِ أَحَدٍ» (بخارى: ١٥٦٣)

له مروان بن الحکم روايت دئ چې وايي: عثمان او علي رضي الله عنهما مې ليدلي؛ په داسې حال کې چې عثمان د تمتع او دا چې حج او عمره په يوه سفر کې جمع کړی شي؛ ممانعت کولو؛ کله چې علي رضي الله عنه دا حالت وليد نو د يو ځايي حج او عمرې نيت ئې ښرگند کړ او وئې ويل: لَبَّيْكَ بِعُمْرَةٍ وَحَجَّةٍ: د عمرې او حج لپاره تلبيه کوم؛ د هيچا په وينا به د رسول الله صلی الله عليه و سلم سنت پرېنږدم.

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ مطلق غريب دئ؛ په ٥ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: مُحَمَّد بْن بَشَّارٍ، غُنْدَر، شُعْبَة، الحَكَمِ، عَلِيّ بْنِ حُسَيْنٍ، مَرْوَانَ بْنِ الحَكَمِ؛ په روايت کې عثمان رضي الله عنه دا منسوب شوي چې گواکې ده د تمتع له حج ممانعت کولو!! په داسې حال کې چې د تمتع د جواز په اړه د قرآن وينا دومره صريح ده چې هر څوک پرې پوهېږي؛ (...فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ...) البقرة ١٩٦؛ څنگه ومنو چې عثمان رضي الله عنه به د تمتع له حج ممانعت کولو؟!! که داسې ويل شوي وی چې عثمان رضي الله عنه افضل حالت ترجيح ورکوله؛ په داسې حال کې چې پوهېدو تمتع جائزه ده؛ دا اشکال او سوء تفاهم به نه رامنځته کېدو.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنهما قَالَ: كَانُوا يَرَوْنَ أَنَّ الْعُمْرَةَ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ مِنْ أَفْجَرِ الْفُجُورِ فِي الأَرْضِ، وَيَجْعَلُونَ الْمُحَرَّمَ صَفَرًا، وَيَقُولُونَ: إِذَا بَرَا الدَّبَرْ وَعَفَا الأَثَرْ، وَانْسَلَخَ صَفَرْ، حَلَّتِ الْعُمْرَةُ لِمَنِ اعْتَمَرْ. قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ صَبِيحَةَ رَابِعَةٍ مُهِلِّينَ بِالْحَجِّ، فَأَمَرَهُمْ أَنْ يَجْعَلُوهَا عُمْرَةً، فَتَعَاظَمَ ذَلِكَ عِنْدَهُمْ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ الْحِلِّ؟ قَالَ: «حِلٌّ كُلُّهُ». (بخاری:١٥٦٤)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: (خلكو داسي) انګېرل چي د حج په مياشتو کي عمره کول؛ په زمکي کي تر ټولو ستر فجور او ګناه ده؛ د محرم مياشت به ئې صفر نوموله او ويل به ئې: کله چي د اوښانو شاګاني (د بار وړلو له پرهرونو) جوړي شي او د (پرهرونو) نښي ئې له منځه ولاړي شي او د صفر مياشت تېره شي؛ نو هغو ته د عمرې کول روا شي چي د عمرې کولو نيت لري. رسول الله صلی الله علیه و سلم او اصحاب ئې د ذوالحجې د څلورمي په سهار مکې ته په داسي حال کي ورسېدل چي د حج نيتونه ئې کړي وو، امر ئې ورته وکړ چي د حج نيت په عمره بدل کړي، دا ورته ګران او دروند کار وبرېښېدو او وئې ويل: يا رسول الله! دا به له احرام څرنګه وتل وي؟ وئې فرمايل: په بشپړه توګه وتل.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٦ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٠٨٥ – ١٥٦٤ - ١٦٥١ - ١٧٨٥ - ٣٨٣٢ – شپږم ځل له شمېرې پرته راغلی.

توپیر: په یوه کي يُلَبُّونَ بِالحَجِّ، فَأَمَرَهُمْ أَنْ يَجعَلُوهَا عُمْرَةً إِلَّا مَنْ مَعَهُ الهَدْيُ» په بل کي فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْحَابَهُ أَنْ يَجْعَلُوهَا عُمْرَةً، وَيَطُوفُوا ثُمَّ يُقَصِّرُوا وَيَحِلُّوا، په بل کي وَأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَذِنَ لِأَصْحَابِهِ أَنْ يَجْعَلُوهَا عُمْرَةً، يَطُوفُوا بِالْبَيْتِ، ثُمَّ يُقَصِّرُوا وَيَحِلُّوا، په بل کي مُهِلِّينَ بِالحَجِّ، وَأَمَرَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَجْعَلُوهَا عُمْرَةً؛ په يوه کي فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الحِلِّ؟ قَالَ: «حِلٌّ كُلُّهُ» په بل کي أَلَكُمْ هَذِهِ خَاصَّةً يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «لَا، بَلْ لِلْأَبَدِ» په بل کي

قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ الحِلِّ قَالَ: «الحِلُّ كُلُّهُ؛ په يوه کې كَانُوا يَرَوْنَ أَنَّ العُمْرَةَ فِي أَشْهُرِ الحَجِّ مِنْ أَفْجَرِ الفُجُورِ فِي الأَرْضِ، په بل کې فَقَالُوا: نَنْطَلِقُ إِلَى مِنًى وَذَكَرُ أَحَدِنَا يَقْطُرُ په بل کې كَانُوا يَرَوْنَ أَنَّ العُمْرَةَ فِي أَشْهُرِ الحَجِّ مِنَ الفُجُورِ فِي الأَرْضِ؛ په يوه کې وَلَيْسَ مَعَ أَحَدٍ مِنْهُمْ هَدْيٌ غَيْرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَطَلْحَةَ، وَقَدِمَ عَلِيٌّ مِنَ اليَمَنِ وَمَعَهُ هَدْيٌ؛ خو په ۷۸۹ روايت کې د ابو موسی رضي الله عنه په اړه ويل شوي چې له يمن راغی: ...فَجِئْتُ (من اليمن) وَهُوَ بِالْبَطْحَاء، خو دلته د ابو موسی خبره د علي رضي الله عنه په ارتباط داسي راغلې: وَقَدِمَ عَلِيٌّ مِنَ اليَمَنِ وَمَعَهُ هَدْيٌ؛

لکه چې ګورئ د بخاري په دې رواياتو کې ژور توپيرونه تر سترګو کېږي؛ له بلې خوا له هغو سره تعارض او تناقض لري چې وايي: عمره او حج يو ځايي نه دي اداء شوي؛ خو بخاري نه دي ويلي چې په دوی کې کوم يو اصح دئ؛ متعارض روايات هممهاله صحيح ګڼل شوي؛ دا ځکه چې هغه ته ئې راويان ثقه معلوم شوي؛ په داسي حال کې چې لازمه او ضروري ده د ثقه راويانو تر منځ هم بايد هغه مهال قضاوت وشي چې ويناوي او روايات ئې مطابقت ونه لري او تر منځ ئې توپيرونه او تناقضات وي.

دا روايات سره له خپلو تعارضاتو؛ د داسي موضوع په اړه دي چې په قرآن کې ئې په ډېر وضاحت او تفصيل سره يادونه شوې؛ داسي چې هيڅ مزيد شرحي ته ضرورت نه ليدل کېږي؛ او دغه روايات د دې په ځای چې د مطلب په پوهاوي کې خاصه مرسته وکړي؛ ابهامات ئې راولاړ کړي؛ دغه ابهامات ئې د قرآن په رڼا کې رفع کولی شو او له مخي ئې په آسانۍ سره قضاوت کولی شو چې سم او ناسم روايت کوم دئ؛ قرآن فرمايي:

وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ وَلا تَحْلِقُوا

رُءُوسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْىُ مَحِلَّهُ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ فَإِذَا أَمِنْتُمْ فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ذَلِكَ لِمَنْ لَمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿١٩٦﴾ البقرة

او حج او عمره د الله لپاره تر سره کړئ، که مو مخنیوی وشو نو بیا (ئې فدیه) د قربانۍ هغه څاروی دئ چي میسر وي او خپل سرونه تر هغه مه خرېيئ چي دا څاروی د حلالېدو خپل ځای ته ورسېږي، نو که ستاسو کوم څوك بیمار وي او یا د سر له کومي برخي ځورېږي؛ نو بیا فدیه ده د روژې یا صدقې یا قربانۍ او بیا کله چي په امن شئ نو که څوك تر حج پوري له عمرې ګټه واخلي نو بیا د قربانۍ هغه څاروی دئ چي میسر وي؛ او که چا ونه موندو نو بیا د حج په ورځو کې درې ورځي روژه او له راستنېدو وروسته اوه ورځي روژه ده؛ چي دا پوره لس ورځي کېږي، دا د هغه چا لپاره ده چي کورنۍ ئې د مسجد الحرام (د شا و خوا) اوسېدونکې نه وي؛ او له الله ووېرېږئ او په دې پوه شئ چي الله سخت عذاب ورکوونکی دئ.

یعني حج او عمره مو باید د الله لپاره وي؛ کله چي د حج او عمرې اراده وکړئ؛ باید تر سره ئې کړئ؛ که له خنډ سره مخامخ شوئ نو له احرام تر وتلو د مخه باید یو څاروی؛ لږ تر لږه یو پسه؛ د حرم زمکي ته د ذبحي لپاره ولېږئ؛ تر هغه به خپل سر نه خرېيئ او له احرام به نه وځئ؛ چي دا څاروی خپل ځای ته نه وي رسېدلی، هغه بیمار ته چي د سر له وېښتانو ځورېږي او خرېيلو ته ئې اړ وي؛ دا کار کولی شي خو فدیه به ورکوي؛ درې ورځي روژه، یا معادل ئې شپږو مسکینانو ته خواړه ورکول او یا د یوه څاروي ذبح. که په حج کولو موفق شوئ او غوښتل مو چي تر حج د مخه عمره اداء کړئ؛ نو فدیه ئې د یوه څاروي ذبح کول دي، یو پسه یا د غویي او اوښ اومه برخه؛ خو که څوك په دې موفق نه شو؛ نو لس روژې به نیسي؛ درې ورځي د حج په دوران کې؛ د ذي الحجې له

لسمي د مخه او اوه له ستنېدو وروسته. دا د تمتع اجازه هغو کسانو ته ورکړی شوې چي د مکې مکرمې اوسېدونکی نه وي. د مکې اوسېدونکي به حج او عمره بېل بېل اداء کوي، له بهر راغلو حجاجو ته دا سهولت ورکړی شوی چي حج او عمره یو په بل پسي په یوه احرام سره اداء کړي او یا لومړی عمره اداء کړي، له احرام ووځي او بیا د حج لپاره نوی احرام وتړي. یوه ته قِران او بل ته تمتع ویل شوي؛ د قران او تمتع په صورت کې هدي لازمه کېږي.

اوس تاسو ووایئ: آیا د عمرې او حج د څرنګوالي په اړه د قرآن له دې جامع او مشرح لارښوونو سره سره؛ د هغو متعارضو روایاتو راوړل ضروري دي؟؛ او که احیاناً ضروري وي نو د همدغو لارښوونو په رڼا کې باید یوازي هغه روایت راوړل شوی وی چي له قرآن سره مطابقت لري.

د قرآن دا صریح لارښووني او اړوند آیتونه ئې؛ د بقره په سورې کې او تر دې حج څو کالونه وړاندې نازل شوي؛ ټول صحابه پرې پوهېدل؛ عجیبه ده چي موږ داسي روایتونه هم منو چي د عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم په خبر سترو سترو او په قرآن او حدیث پوه صحابه وو ته داسي څه منسوبوي چي ګواکې دوی د حج او عمرې د څرنګوالي په اړه په خپلو منځونو کې اختلاف درلود!! په کار خو دا ده چي داسي روایات او راویان ئې هیڅ محدث د اعتبار وړ نه ګڼلی او دوی ئې د اختلاف اچوونکو په فهرست کې نیولی.

عَنْ حَفْصَةَ - رضى الله عنها - زَوْجِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - أَنَّهَا قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا شَأْنُ النَّاسِ حَلُّوا بِعُمْرَةٍ وَلَمْ تَحْلِلْ أَنْتَ مِنْ عُمْرَتِكَ؟ قَالَ: «إِنِّي لَبَّدْتُ رَأْسِي وَقَلَّدْتُ هَدْيِي، فَلا أَحِلُّ حَتَّى أَنْحَرَ». (بخاری: ١٥٦٦)

د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمن حفصه رضي الله عنها وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته مي وویل: یا رسول الله! دا څه سبب دئ چي خلک د عمرې له اداء کولو وروسته له احرام ووتل؛ او ته له خپل احرام ونه وتلې؟ وئې فرمایل: "ما د خپل سر پر وېښتانو کنډ (هغه

څه وهلي وو چي خاصه بڼه ورکولو کي مرسته کوي)؛ او هدي مي په نښه کړې وه؛ نو تر هغه چي هدي ذبح نه کړم له احرام نه وځم.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٣ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٥٦٦ - ١٧٢٥ - ٥٩١٦ -

توپیر: د دوي په متن کي هیڅ توپیر نشته، په ٤ طبقو کي ئې راویان حفصه، ورور ئې عبد الله بن عمر، نافع او مالك دي؛ او په پنځمه کي ئې عبد الله بن یوسف او اسمعیل دي. خو نه پوهېږو چي حفصه رضي الله عنها به د قرآن د هغو څرگندو آیتونو په شتون کي چي ښایي په وار وار ئې له رسول الله صلی الله علیه و سلم هم اورېدلي وي او د قرآن د تلاوت په دوران کي هم؛ ولي به ئې دا پوښتنه کوله؟!!

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنه: أَنَّهُ سَأَلَهُ رَجُلٌ عَنِ التَّمَتُّعِ وَقَالَ: نَهَانِيْ نَاسٌ عَنْهُ، فَأَمَرَهُ بِهِ، قَالَ الرَّجُلُ: فَرَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ رَجُلاً يَقُولُ لِي: حَجٌّ مَبْرُورٌ، وَعُمْرَةٌ مُتَقَبَّلَةٌ، فَأَخْبَرْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ، فَقَالَ: سُنَّةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (بخارى:١٥٧٦)

له عبد الله بن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي يوه سړي د تمتع حج په اړه وپوښتلو؛ او وئې ویل: ځینو خلکو ترې منع کړی یم! نو پرې وئې گمارو؛ هغه سړي (له حج وروسته) وويل: په خوب کي مي داسي څه وليدل چي يو سړی راته وايي: حج دي مبرور (غوره) او عمره دي مقبوله ده؛ نو ابن عباس مي (له خپل خوب) خبر کړ؛ هغه وويل: دا (د تمتع حج) د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنت دئ.

نه پوهېږو آیا د قرآن د څرگندي لارښووني په شتون کي دې ته څه ضرورت شته چي د چا رؤيا د تمتع د اثبات لپاره وړاندي شي؟!!

٧٩٧ - عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللهِ رضى الله عنهما: أَنَّهُ حَجَّ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ سَاقَ الْبُدْنَ مَعَهُ، وَقَدْ أَهَلُّوا بِالْحَجِّ مُفْرَدًا، فَقَالَ لَهُمْ: «أَحِلُّوا مِنْ إِحْرَامِكُمْ بِطَوَافِ الْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، وَقَصِّرُوا، ثُمَّ أَقِيمُوا حَلالاً، حَتَّى إِذَا كَانَ يَوْمُ

التَّرْوِيَةِ فَأَهِلُّوا بِالْحَجِّ، وَاجْعَلُوا الَّتِي قَدِمْتُمْ بِهَا مُتْعَةً». فَقَالُوا: كَيْفَ نَجْعَلُهَا مُتْعَةً، وَقَدْ سَمَّيْنَا الْحَجَّ؟ فَقَالَ: «افْعَلُوا مَا أَمَرْتُكُمْ، فَلَوْلا أَنِّي سُقْتُ الْهَدْىَ لَفَعَلْتُ مِثْلَ الَّذِى أَمَرْتُكُمْ، وَلَكِنْ لا يَحِلُّ مِنِّي حَرَامٌ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْىُ مَحِلَّهُ». فَفَعَلُوا. (بخارى: ١٥٦٨)

له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره ئې هغه ورځ حج وکړ چي د قرباني اوښان ئې له ځان سره روان کړي وو؛ په داسي حال کي چي خلکو په يقيني توګه د افراد (يوازي) حج نيت کړی وو. نو هغوی ته ئې وفرمايل: "د بيت الله او صفا او مروې په طواف سره له احرام ووځئ او وېښتان لنډ کړئ؛ بيا تر هغه همداسي آزاد اوسئ چي د ترويه ورځ (د ذي الحجې اتمه) راشي؛ بيا د حج نيت وکړئ او په دې سره خپل مفرد حج د تمتع په حج بدل کړئ". هغوی وويل: څنګه خپله عمره د تمتع عمره کړو په داسي حال کي چي د حج نوم مو ورکړی وو؟ نو وئې فرمايل: "همغه څه وکړئ چي امر ئې درته کوم؛ که ما هدي نه وی روان کړی نو د همغه څه په څېر به مي کولو چي تاسو ته ئې امر کوم؛ خو اوس تر هغه هيڅ حرام نه راته حلالېږي چي هدی خپل ټاکلي ځای (مِنٰی) ته ورسېږي"؛ نو (صحابه وو) همداسي وکړل.

عمدة القاري په روايت کي د قصر (وېښتانو لنډولو) په ارتباط ليکلي: دلته ځکه د قصر يادونه شوې چي حلق (خرېيل) حج ته پاته شي.

## ٢٢ باب: د تمتع حج

عَنْ عِمْرَانَ رضى الله عنه قَالَ: تَمَتَّعْنَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَلَ الْقُرْآنُ، قَالَ رَجُلٌ بِرَأْيِهِ مَا شَاءَ. (بخارى:١٥٧١)

له عمران رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زمانه کي مو د تمتع حج وکړ؛ بيا قرآن (په دې اړه) نازل

شو، ورپسي یوه سړي له خپلي رأیي هغه څه وویل چي وئې غوښتل.

د روایت له فحوی داسي معلومېږي چي ښایي د راوي هدف له یوه شخص؛ عثمان یا عمر رضي الله عنهما وي؛ مخکي مو ولیدل چي د عثمان رضي الله عنه په اړه راغلي: يَنْهَى عَنِ الْمُتْعَةِ، وَأَنْ يُجْمَعَ بَيْنَهُمَا؛ له تمتع حج او له دې ئې ممانعت کړی وو چي دواړه (حج او عمره) یو ځای کړی شي. او عمر رضي الله عنه د قرآن په دې آیت (وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ) او رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې سنت چي عمره ئې ونه کړه؛ استناد کړی وو. نه له عمران رضي الله عنه سره ښایي چي دا دوه ستر شخصیتونه په دې صیغه یاد کړي او نه له امام بخاري سره ښایي چي داسي روایت د راوړلو وړ وګڼي؛ مګر د روایت دا برخه (فَنَزَلَ الْقُرْآنُ) کافي نه ده چي ووایو دا روایت هیڅ اعتبار نه لري؛ ځکه د تمتع اړوند آیت تر دې حج ډېر وړاندي نازل شوی؛ خو دا روایت وایي: د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زمانه کي مو د تمتع حج وکړ؛ بیا قرآن (په دې اړه) نازل شو!! څوك چي په قرآن پوه وي او له دې خبر وي چي دا آیت او د بقرې ټوله سوره؛ لومړی سوره ده چي په مدینه کي نازله شوې؛ هغه به څنګه دا روایت د اعتبار او استناد وړ ګڼي؟!

دا صحیح ده چي قرآن ویلي: (... فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ...) البقرة: ۱۹٦ خو داسي عمره کوونکی ئې په قرباني هم مکلف کړی؛ یعني افضل دا ده چي عمره او حج یو ځای نه کړی شي؛ عمر رضي الله عنه او ورپسې عثمان رضي الله عنه همدې ته په پام سره خلك افضل کار ته تشویق کړي.

## ۲۳ باب: مکې ته د ننوتلو لار

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم دَخَلَ مَكَّةَ مِنْ كَدَاءٍ، مِنَ الثَّنِيَّةِ الْعُلْيَا الَّتِي بِالْبَطْحَاءِ وَخَرَجَ مِنَ الثَّنِيَّةِ السُّفْلَى. (بخاری:۱۵۷۵)

له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چي: رسول الله صلی الله علیه و

سلم مکې ته له (کَدَاء: د مکې لوړې کې غر)؛ په بَطْحَاء (مسيل او خوړ) کې د پرتې پورتنۍ څنډې له لوري داخل شو او د لاندينۍ څنډې له لاري ترې ووت.

## ۲٤ باب: د مکې فضيلت او جوړول ئې

عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها قَالَتْ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم عَنِ الْجَدْرِ، أَمِنَ الْبَيْتِ هُوَ؟ قَالَ: «نَعَمْ». قُلْتُ: فَمَا لَهُمْ لَمْ يُدْخِلُوهُ فِي الْبَيْتِ؟ قَالَ: «إِنَّ قَوْمَكِ قَصَّرَتْ بِهِمُ النَّفَقَةُ». قُلْتُ: فَمَا شَأْنُ بَابِهِ مُرْتَفِعًا؟ قَالَ: «فَعَلَ ذَلِكَ قَوْمُكِ لِيُدْخِلُوا مَنْ شَاءُوا، وَيَمْنَعُوا مَنْ شَاءُوا، وَلَوْلا أَنَّ قَوْمَكِ حَدِيثٌ عَهْدُهُمْ بِالْجَاهِلِيَّةِ، فَأَخَافُ أَنْ تُنْكِرَ قُلُوبُهُمْ، أَنْ أُدْخِلَ الْجَدْرَ فِي الْبَيْتِ، وَأَنْ أُلْصِقَ بَابَهُ بِالأَرْضِ». (بخاری:۱۵۸٤)

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مې د دې دېوال (له کعبې بهر منحني دېوالګی) په اړه وپوښتل چې آيا دا هم د بيت الله برخه ده؟ وئې فرمايل: هو؛ ومې ويل: نو څه پرې شوي وو چې په کعبه کې ئې داخل نه کړ؟ وئې فرمايل: (ستا د قوم لګښت کم شوی وو) ومې ويل: دروازه ئې ولې له زمکې لوړه ده؟ وئې فرمايل: (ستا قوم د دې لپاره دا کار کړی چې هغه ننباسي چې غواړي ئې او هغه ترې منع کړي چې غواړي ئې؛ که ستا قوم داسي نه وی چې د جاهليت له دور سره ئې موده لنډه او نژدې ده؛ او دا وېره راسره نه وی چې د دوی زړونه به ئې بده وبولي؛ نو دا دېوال به مې په کعبه کې شامل کړی وو او دروازه به مې له زمکې سره نښلولې وه.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۲ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۸٤ - ۷۲٤۳؛ مطلق غريب دئ؛ په طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: مُسَدَّد، أَبُو الأَحْوَص، أَشْعَث، الأَسْوَدِ بْنِ يَزِيد او عَائِشَةَ رضي الله عنها.

توپير: دواړه د متن او ټولو راويانو له پلوه سره ورته دي.

د دې باب نوم؛ د مکې فضيلت او جوړول دئ؛ خو تاسو وليدل چې له پيل تر دې ځای پورې؛ په شرحې کې د کعبې د فضيلت په اړه هيڅ نه دي ويل شوي. ښايي ځيني به ووايي چې ولې د باب او شرحې په اړه مطابقت او مغايرت ته مکرر اشاره کېږي؟ هغوی ته په ځواب کې وايو: دا کار د بخاري هر شارح کړی؛ چا چې واضح مطابقت نه دئ موندلی؛ ليکلي ئې دي چې مطابقت نشته او چا چې د مطابقت ثابتولو هڅه کړې؛ نو دلائل ئې ويلي. ما دلته او په نورو مواردو کې د هغو رأی راوړې چې دلائل مې صحيح موندلي.

۸۰۱ - وَفِيْ رِوَايَةٍ عَنْهَا رضى الله عنها: أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ: «لَوْلا أَنَّ قَوْمَكِ حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ، لأَمَرْتُ بِالْبَيْتِ فَهُدِمَ، فَأَدْخَلْتُ فِيهِ مَا أُخْرِجَ مِنْهُ، وَأَلْزَقْتُهُ بِالأَرْضِ، وَجَعَلْتُ لَهُ بَابَيْنِ بَابًا شَرْقِيًّا وَبَابًا غَرْبِيًّا، فَبَلَغْتُ بِهِ أَسَاسَ إِبْرَاهِيمَ». (بخاری:۱۵۸٦)

او په يوه روايت کې له عائشې رضي الله عنها راغلي: نبي صلی الله عليه و سلم وفرمايل: (که ستا قوم د جاهليت زمانې ته نژدې نه وی؛ نو د کعبې په اړه به مې امر کړی وو چې ورانه کړی شي، بيا به مې هغه څه په کې شامل کړي وو چې ترې ايستل شوي؛ او د زمکې له سطحې سره به مې (د هغې سطح) يو برابر کړې وه او دوه دروازې به مې ورکړې وې؛ يوه شرقي دروازه او بله غربي دروازه او په دې توگه به مې د ابراهيم (عليه السلام په لاس جوړ شوي) بنسټ ته رسولې وه).

## يوه رښتينې رؤيا

يوه يادونه: ما په ديارلس کلنۍ کې او هغه مهال چې د کعبې د جوړښت څرنگوالي په اړه هيڅ نه پوهېدم؛ نه مې له چا څه اورېدلي او نه مې څه لوستلي وو؛ په خوب کې مې کعبه داسې ليدلې چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم په دغه حديث کې ښودل شوې؛ زه له شرقي

دروازې ننوځم، د مازديگر په لمانځه ودرېږم، همدا مهال رسول الله صلی الله عليه و سلم له يو شمېر يارانو سره ئې له غربي دروازې داخل شي، ما ته وگوري او تبسم وکړي؛ زه داسي وانگېرم چي ښايي ما د قبلې لوری غلط کړی؛ زه خو د معمول مطابق د غرب په لوري ودرېدلی یم؛ اوس خو زه د کعبې منځ کې يم، قبله به مي کوم لوري ته وي، ښايي ما اشتباه کړې نو ځکه رسول الله صلی الله عليه و سلم تبسم وکړ، په لمانځه کې ښي لاس ته راتاو شم، خپلي مخي ته د حطيم منحني دېوالگی د کعبې دننه وگورم، له ځان سره ووايم: له لمانځه وروسته به له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره روغبړ کوم، په رکوع کې او د سبحان ربي العظيم ويلو کې راويښ شوم. تر ننه ځلور که پنځه ځلي کعبې ته د ننوتلو شرف راپه برخه شوی، لومړنی ئې په خوب کې او نور په ويښه. کله چي د شوروي ځواکونو خلاف د جهاد دوران کې ما د سعودي ښايسته غنم رنگي ځوانان وليدل چي په څېرو کې ئې ايمان ځلېدو؛ نو هغه خوب او په خوب کې د رسول الله صلی الله عليه و سلم د څېرې رنگ راپه ياد شو؛ چي همدغو ځوانانو ته ورته وو. د حکمة البارئ لومړي جلد په پيل کې مي د دې خوب تفصيلات ليکلي. زه دا رښتينې رؤيا؛ او عملي تحقق ئې؛ د الله تعالی دومره ستره پېرزوينه گڼم چي د شکر له اداء کولو ئې ځان عاجز بولم؛ زما د ايمان په مضبوطولو کې ئې بې انتهاء مرسته راسره کړې؛ د دې رؤيا په اړه مي دا اوس او نژدې ٦٢ کالونه وروسته؛ احساس داسي دئ چي کله ئې په تنهائي او لمانځه کې راپه ياد کړم؛ اوښکي مي توی شي. آيا د داسي خوبونو د تفسير او تأويل لپاره له دې پرته کومه بله توجيه موندلی شو چي دا د داسي ذات له لوري انسان ته الهام کېږي چي په غيب پوه دئ؟ آيا د ماضي او مستقبل د هغو پېښو په اړه چي انسان د خپلو حواسو په مرسته هيڅکله نه شي پرې پوهېدی؛ په رؤيا کې پوهېدا؛ او د غيب له عالم پيغامونه تر لاسه کول؛ همدا نه ثابتوي؟

---

## ۲۵ باب: د مکې د کورونو میراث، اخیستل، پلورل...

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رضی الله عنه أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيْنَ تَنْزِلُ فِي دَارِكَ بِمَكَّةَ؟ فَقَالَ: «وَهَلْ تَرَكَ عَقِيلٌ مِنْ رِبَاعٍ، او دُورٍ»؟ وَكَانَ عَقِيلٌ وَرِثَ أَبَا طَالِبٍ، هُوَ وَطَالِبٌ، وَلَمْ يَرِثْهُ جَعْفَرٌ وَلا عَلِيٌّ رضی الله عنهما شَيْئًا، لأَنَّهُمَا كَانَا مُسْلِمَيْنِ، وَكَانَ عَقِيلٌ وَطَالِبٌ كَافِرَيْنِ. فَكَانَ عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: لاَ يَرِثُ المُؤْمِنُ الكَافِرَ (بخاری:۱۵۸۸)

له اسامه بن زید رضي الله عنهما روایت دئ چي وئې ویل: یا رسول الله! د مکې په کوم کور کي دي اړوې؟ وئې فرمایل: (آیا عقیل کومه خونه او کور پرېښی؟) د ابو طالب میراث؛ عقیل او طالب ته رسېدلی وو؛ نه جعفر کوم څه په میراث ترې وړی وو او نه علي رضي الله عنهما؛ دا ځکه چي دوی دواړه مسلمانان وو؛ عقیل او طالب (د ابو طالب د وفات په وخت کې) کافران ول؛ (عقیل وروسته مسلمان شو خو طالب تر مرگ کافر پاته شو)؛ عمر بن الخطاب رضي الله عنه به ویل: مؤمن له کافر میراث نه وړي.

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۷ طبقو کې یو یو راوي لري چي دا دي: أَصْبَغ، ابْن وَهْب، يُونُس، ابْنِ شِهَابٍ، عَلِيِّ بْنِ حُسَيْن، عَمْرِو بْنِ عُثْمَان او أُسَامَة بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛

په دې روایت کې د مکې د فتح ورځ ته اشاره شوې؛ په همدغه ورځ اسامه بن زید؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وویل: په مکې کې به په خپل کوم کور کي اړوې؟ د رسول الله صلی الله علیه و سلم ځواب دا وو چي جعفر او علي کور نه لري؛ ځکه چي د پلار له میراث څه نه دي وررسېدلي او عقیل او طالب لا ایمان نه دئ راوړی نو د دوی کور ته نه شو تللی. د روایت په پای کې ویل شوي: قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: وَكَانُوا يَتَأَوَّلُونَ قَوْلَ اللَّهِ تَعَالَى: (إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي

سَبِيلِ اللَّهِ، وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ) [الأنفال: ۷۲] الآيَةَ: يقيناً هغه چي ايمان ئې راوړی، هجرت ئې کړی، په خپلو مالونو او نفسونو سره ئې د الله په لار کي جهاد کړی او هغه چي (مهاجر ته ئې) پناه ورکړې او (د مجاهد) مرسته ئې کړې، دوی يو د بل اولياء دي. ابن شهاب ادعاء کړې چي ګواکي صحابه وو به دا آيت داسي تعبيرولو چي مراد ئې د ميراث ولايت دئ؛ په داسي حال کي چي په دې آيت کي قطعاً د ميراث په اړه نه بحث شوی او نه ئې ترې وړاندي او وروسته آيتونه داسي دي چي د ميراث په موضوع پوري کوم تړاو ولري؛ د سورې دا برخه په مجموع کي د تناصر او يو د بل مرستي په ارتباط ده؛ د آيت مطالب دا دي:

- چا چي ايمان راوړی، د خپل ايمان په حکم ئې هجرت کړی، د الله په لار کي ئې په خپل سر او مال سره جهاد کړی، مالي او ځاني قربانۍ ئې ورکړې، مهاجر ته ئې پناه ورکړې او د مجاهد ملګرتيا او ملاتړ ئې کړی؛ دوی يو د بل اولياء دي، يو له بله دفاع کوي، د يوې داسي کورنۍ غړي دي چي د هر بهرني دښمن په خلاف ګډ دريځ لري، پر يوه تېری پر ټولو تېری ګڼي.

- او هغه چي ايمان ئې راوړی، خو هجرت ئې نه دئ کړی، له دوی سره د مخکينيو مؤمنانو له خوا، تر هغه پوري د موالات پورتنۍ اړيکي نشته چي هجرت ونه کړي، خو که د دين په اړه مرسته ترې وغواړي د دوی مرسته پرې فرض ده؛ مګر د هغه قوم په ضد چي د مسلمانانو او د دوی تر منځ کوم تړون وي.

- د دې معنی دا ده چي اسلامي حکومت يوازي له هغو مؤمنانو په دفاع مکلف دئ چي د اسلامي حکومت تر سلطې لاندي هېواد کي ژوند کوي، خو هغه چي د کافرانو تر سلطې لاندي ژوند کوي، له دوی سره په دوه صورتونو کي مرسته لازمه ده: لومړی دا چي د دين په اړه مرستي

ته اړ شوي وي، د دين په وجه تر ظلم او تېري لاندي وي او د اسلامي حکومت مرستي ته اړ وي او دوهم دا چي دا مرسته د هغه قوم او حکومت په ضد نه وي چي له اسلامي حکومت سره د عدم تعرض تړون لري.

ډېره عجيبه ده چي ابن شهاب له دې آيتونو د ميراث موضوع راباسي!!! ما په ځينو نورو مواردو کې هم پر آيتونو د ده استناد؛ همداسي ډېر ضعيف او بې ربطه موندلی.

## ۲۶ باب: په مکه کي د رسول الله صلى الله عليه و سلم اړول

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم حِينَ أَرَادَ قُدُومَ مَكَّةَ: «مَنْزِلُنَا غَدًا إِنْ شَاءَ اللَّهُ بِخَيْفِ بَنِي كِنَانَةَ، حَيْثُ تَقَاسَمُوا عَلَى الْكُفْرِ». يَعْنِي: ذَلِكَ الْمُحَصَّبَ، وَذَلِكَ أَنَّ قُرَيْشًا وَكِنَانَةَ، تَحَالَفَتْ عَلَى بَنِي هَاشِمٍ وَبَنِي عَبْدِالْمُطَّلِبِ؛ او بَنِي الْمُطَّلِبِ: أَنْ لا يُنَاكِحُوهُمْ وَلا يُبَايِعُوهُمْ، حَتَّى يُسْلِمُوا إِلَيْهِمُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم . (بخاری:۱۵۹۰)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم چي مکې ته د تلو اراده وکړه وئې فرمايل: (سبا به مو إن شاء الله د بني کنانه په خيف کي اړول وي؛ هغه ځای کي چي قريشو پر کفر لوړه کړې وه). يعني مراد ئې مُحَصَّبْ (شگلنه زمکه) وو؛ چېري چي قريش او بني کنانه د بني هاشم او بني عبدالمطلب يا بني المطلب په خلاف تړون کړی وو چي تر هغه به له دوی سره نه د نکاح کومه معامله کوي او نه د پېر پلور؛ چي نبي صلى الله عليه و سلم وروسپاري.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۸۹ - ۱۵۹۰ - ۳۸۸۲ - ٤۲۸۵

توپير: په يوه کي حِينَ أَرَادَ قُدُومَ مَكَّةَ په بل کي حِينَ أَرَادَ حُنَيْنًا، په يوه کي وَهُوَ بِمِنًى راغلي په نورو کي نه دي راغلي؛ لکه چي گورئ په دې رواياتو

کي جدي توپیرونه تر سترګو کېږي؛ سره له دې چي د ټولو راوي ابو هریره رضي الله عنه دئ! د بخاري لوستونکی نه پوهېږي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د مکې په لوري روان وو که د حنین لوري ته؛ هلته چي د حنین ستره جګړه رامنځته شوه. د حنین پېښه د اتم هجري کال د شوال میاشتي په ۱۳ رامنځته شوه؛ او دا د مکې له فتحي وروسته وه؛ مکه د اتم هجري کال د رمضان په لسمه فتح شوه؛ او د حنین پېښه نژدې یوه میاشت وروسته رامنځته شوې؛ پوښتنه دا ده چي په دغو متعارضو روایاتو کي چي راوي ئې یو دئ؛ یو ئې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم له منٰی مکې ته د تګ اراده وکړه؛ د دې معنی دا ده چي دا د حجة الوداع په کال وه؛ خو بل روایت وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د حنین اراده وکړه؛ په داسي حال کي چي د حنین پېښه تر حجة الوداع وړاندي وه؛ او هغه مهال رسول الله صلی الله علیه و سلم منٰی ته نه وو تللی؛ ځکه چي په عمره کي څوك منٰی ته نه ځي؛ له دغو متعارضو روایاتو یوازي یو ئې صحیح ګڼلی شو؛ امام بخاري دواړه هممهاله صحیح ګڼلي!! د بخاري هیڅ شارح هم د دې تعارض رفع کولو په اړه د منلو وړ توجیه نه ده وړاندي کړې؛ عمدة القاري ویلي چي کېدی شي دا دوه بېل بېل وختونه وي؛ بېل بېل وختونه یعني څه؟ له دغو روایاتو په څرګنده توګه معلومېږي چي دا د هغه سفر مربوط روایات دي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د مکې له فتحي وروسته مکې ته داخل شو؛ او بیا په همدې سفر کي د حنین ستره او ناڅاپي جګړه رامنځته شوه؛ په دې سفر کي رسول الله صلی الله علیه و سلم منٰی ته قطعاً نه دئ تللی؛ خو په روایت کي د ثابتو تاریخي واقعیتونو خلاف ویل شوي (وَهُوَ بِمِنًى): او دی په منٰی کي وو!!

## ۲۷ باب: د کعبې شریفي ورانېدا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ: «يُخَرِّبُ الْكَعْبَةَ ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ». (بخارى:۱۵۹۱)

---

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (د نريو لنگيو درلودونكی حبشي به كعبه ورانوي).

تكرار: دا روايت په بخاري كي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۹۱ - ۱۵۹٦

توپير: د دواړو روايتونو متن سره ورته دئ، لومړي راويان ئې هم الزُّهْرِيِّ، سَعِيد بْن المُسَيِّب، أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دي؛ له زهري وروسته ئې راويان بېل بېل دي.

خو نه امام بخاري ويلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم دا وړاندوينه د وحي له مخي كړې كه د كومي رؤيا له مخي؛ او نه هم د بخاري كوم شارح؛ قرآن وايي: په زمكي او آسمانونو كي له الله تعالى پرته هيڅوك په غيب نه پوهېږي؛ په غيب د پوهېدا فقط دوه صورتونه دي: يقيني پوهه چي د الله تعالى له لوري وحي ده او ظني پوهه چي د رؤيا له لاري د انسان په برخه كېږي. آيا كولی شو يو داسي روايت ومنو چي غريب دئ او په دريو طبقو كي يو يو راوي لري، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په غيب پوهېدا منسوبوي؛ او دا هم د قرآن د صريحو ګڼ شمېر آيتونو د قاطع حكم خلاف؛ روايت هم داسي چي د حديث هيڅ شارح نه دي ويلي او ويلي نه شي چي د كعبې د ورانولو پېښه به كله رامنځته كېږي؛ څينو د قيامت له علامُو گڼلې، څينو د عيسى عليه السلام تر ظهور لړ وړاندي؛ د ورانوونكي په اړه هم بېل بېل شخصي آراء وړاندي شوي؛ لومړی راوي ئې په صحابه وو كي كوم شاهد نه لري او دوهم راوي ئې په تابعينو كي؛ د روايت د متن لپاره په ټول قرآن كي هيڅ تلويحي شاهد هم نه مومو؛ هو؛ په قرآن كي دا مومو چي فرمايي:

(... وَلَوْلا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا وَلَيَنْصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٤٠﴾ الحج

... او که د خلکو ځيني په ځينو نورو سره د دفع کولو الهي سنت نه وی نو حتماً به صوامع (د رهبانانو عبادت ځايونه)، بيع (د نصرانيانو معبدونه)، صلوات (د يهودو معبدونه) او مساجد (د مسلمانانو جوماتونه) چي د الله نوم په کي زيات زيات يادېږي ټول وران شوي وو؛ او الله به هرو مرو هغو ته نصرت ورکوي چي د ده ملتيا کوي، يقيناً چي الله عزتمن ځواکمن دئ.

يعني دا ثابت، دائمي او نه بدلېدونکی الهي سنت دئ چي د خلکو د يوې ډلي ظلم او تېری د بلي په لاس دفع کوي، مظلومانو ته دا اجازه او توفيق ورکوي چي د ظالمانو او تېري کوونکو طغيان د دوی په لاس دفع کړي او د ظلم ټغر ټول کړي. که دا الهي سنت نه وئ نو حتماً به ټول هغه معبدونه وران شوي وو چي د الله تعالی نوم په کي يادېږي، که دا له خلکو لري په غرونو او ځنګلو کي د رهبانانو عبادت ځايونه دي، که د يهودو او نصاراوو معبدونه دي او که د مسلمانانو جوماتونه، د دې الهي لارښووني معنی دا ده چي کوم ولسونه ظالمانو ته تسليم شي، له خپلو حقوقو د دفاع لپاره د ظالمانو په خلاف د مقاومت لار غوره نه کړي، له خپلو انساني حقوقو او ديني اقدارو دفاع ونه کړي، د ظالمانو مخي ته ونه درېږي، د زور په ضد زور او د وسلې په خلاف وسله ونه کاروي؛ نو نه يوازي دا چي خپل حقوق به تر لاسه نه کړي بلکي معبدونه به ئې هم وران شي.

دا آيت په پرېکنده توګه اعلان کوي چي له ديني شعائرو او مقدسو ځايونو الله تعالی په دې توګه دفاع کوي چي يوه ډله په بلي ډلي دفع کوي، د خدای پالونکو په لاس هغه خلك دفع کوي چي غواړي عبادت ځايونه وران کړي، کله چي له شعائرو د دفاع لپاره خدای پالونکي ملا وتړي نو الله تعالی ئې مرسته کوي او پر دين دښمنه ځواکونو برلاسي ورکوي، که دا الهي سنت نه وی نو د عبادت ټول مخکيني او اوسني ځايونه به وران شوي وو!! د دې معنی دا ده چي الله تعالی په خارق

العاده توګه د خلکو له ديني مقدساتو او عبادت ځايونو دفاع نه کوي، له انسانانو پرته ئې په خپلو نورو لښکرو نه ساتي، په انسانانو ئې هم يوازي هلته ساتي چي دوی ئې ساتني ته ملا وتړي. تر هغه چي د الهي نصرت لپاره شايسته او وړ خلك راپيدا نه شي؛ الله تعالی خپل نصرت او تائيد نه نازلوي. که داسي نه وی نو کعبه به په طبيعي پېښو کي نه ورانېده او په داخلي جګړو کي به تاوان نه وررسېدو؛ په دې روايت کي چي د کعبې د ورانېدا په اړه څه ګورو؛ همدا مطلب افاده کوي.

پوښتنه دا ده: که کوم غير مُسلِم انسان ووايي: د مسلمانانو قرآن يو څه وايي او د هغوی حديث بل څه؛ قرآن له هر چا او هر غير الله په غيب پوهېدا په قاطع او مکرره توګه نفی کوي؛ خو د دوی د حديث په کتابونو کي پيغمبر ته په غيب پوهېدا منسوب شوې؛ ځواب به مو څه وي؟ دې معترض ته به څنګه قناعت ورکوو چي په اسلام او په اساساتو کي ئې؛ په قرآن او حديث کي هيڅ تعارض او تناقض نشته؛ محمد عليه السلام د الله تعالی رسول دئ او فقط هغه څه ئې موږ ته ويلي چي وحي ئې ورته شوې؟!! که څوك له همدې کبله له ايمان راوړلو ډډه وکړي؛ مسئوليت به ئې يقيناً د هغه چا پر غاړه وي چي له قرآن سره متعارض روايات د خلکو مخي ته ږدي. څوك چي له الله تعالی پرته بل چا ته په غيب پوهېدا منسوب کړي؛ که دا فرشته وي، پېری وي، انسان وي؛ که پيغمبر وي، که نجومي وي او که فال ليدونکی وي؛ او چا چي دا انتساب تصديق کړ؛ په حقيقت کي ئې د قرآن له وينا انکار کړی او پرې کافر شوی؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي: چا چي د نجومي خبره تصديق کړه؛ په هغه قرآن کافر شوی چي پر محمد (عليه السلام) نازل شوی.

د روايت په ژباړي کي مي د پښتو دا لفظ راوړی؛ لنګی؛ په انګريزي کي دې ته ليګ (leg) وايي؛ په فارسي کي د لګد صيغه لرو؛ له دې معلومېږي چي د دغو الفاظو بنسټ يو دئ؛ همغسي لکه چي د برادر

---

او (brother)، پدر او father، مادر او mother بنسټ يو دئ؛ او همغسي لکه چي د برادر، برار او ورور؛ خور او خواهر؛ او پلار او پدر بنسټ يو دئ؛ او دا ښيي چي د انسانانو ژبي مشترك بنسټ لري او ټول انسانان مشترك نژادي بنسټ او دا هر څه د قرآن هغه وينا تأييدوي چي وايي: انسانان له يوې جوړې پيدا شوي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه و سلم قَالَ: «كَأَنِّي بِهِ أَسْوَدَ أَفْحَجَ، يَقْلَعُهَا حَجَرًا حَجَرًا». (بخاری: ۱۵۹۵)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل: (لکه چي زه همدا اوس يو توربخون، ارت لنګی (هغه چي دواړه لنګي ئې يو له بل لري وي) ګورم چي (کعبه ورانوي) او يوه يوه تيږه ئې راباسي).

د دې روايت په اړه دا يادوني ضروري برېښي: ۱- په روايت کې د کعبې نوم نه دئ اخيستل شوی؛ ۲- له فحوی ئې داسي معلومېږي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د کعبې ورانېدا او ورانوونکی ئې په خوب کې ليدلي. ۳- روايت غريب دئ؛ په دريو طبقو کې يو يو راوي لري چي دا دي: عُبَيدِ اللهِ بنِ الأخنَسِ، ابن أبي مُلَيكَةَ او ابن عباس رضي الله عنهما.

## ۲۸ باب: دا آيت چي فرمايي: (جَعَلَ اللَّهُ الْكَعْبَةَ...)

عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها قَالَتْ: كَانُوا يَصُومُونَ عَاشُورَاءَ قَبْلَ أَنْ يُفْرَضَ رَمَضَانُ، وَكَانَ يَوْمًا تُسْتَرُ فِيهِ الْكَعْبَةُ، فَلَمَّا فَرَضَ اللَّهُ رَمَضَانَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه و سلم: «مَنْ شَاءَ أَنْ يَصُومَهُ فَلْيَصُمْهُ، وَمَنْ شَاءَ أَنْ يَتْرُكَهُ فَلْيَتْرُكْهُ». (بخاری:۱۵۹۲)

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: د رمضان د روژې له فرضېدو مخکي به خلکو د عاشوراء ورځ روژه نيوله او په همدې ورځ به کعبې ته (نوی) پوښ ورکول کېدو؛ خو کله چي الله تعالی د رمضان

روژه فرض کړه؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (څوك چي غواړي په هغې کي روژه ونيسي ودې نيسي او څوك چي ئې پرېښودل غواړي نو پرې دې ږدي).

دا روايت په اصل کي د عاشوراء په اړه دئ؛ خو دلته تر دې باب لاندي راغلې: (دا آیت چي فرمايي: (جَعَلَ اللَّهُ الْكَعْبَةَ...)؛ په آیت کي چي څه راغلي په روايت کي په دې اړه څه نه دي ويل شوي؛ د آیت او روايت تر منځ هيڅ مناسبت نشته؛ آیت د کعبې د حرمت په اړه بحث کړی؛ او روايت د عاشوراء د ورځي روژې په اړه او دا چي قريشو به په دې ورځ روژه نيوله او هر کال به ئې په دې ورځ پر کعبې غلاف (پوښ) غوړولو. له نورو رواياتو معلومېږي چي نه رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې ورځ روژه نيولې او نه صحابه وو.

## د عاشوراء په اړه متعارض روايات

د عاشوراء په اړه روايات دومره متعارض او متضارب دي چي له منځه ئې د يوه غوراوی؛ گران او حتی مستحيل دئ. راشئ وگورو چي په رواياتو کي د عاشوراء په ارتباط څه راغلي. په دې اړه د بخاري يو روايت دا دئ:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: «كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُهُ فَلَمَّا قَدِمَ المَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ كَانَ رَمَضَانُ الفَرِيضَةَ، وَتُرِكَ عَاشُورَاءُ، فَكَانَ مَنْ شَاءَ صَامَهُ وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَصُمْهُ». بخاری: ٢٠٠٢

له عائشې (رضي الله عنها) روايت دئ چي وايي: قريشو به د جاهليت په زمانه کي د عاشوراء په ورځ روژه نيوله او رسول الله (صلی الله عليه وسلم) به هم په دې ورځ روژه نيوله او کله چي ئې مدينې ته هجرت وکړ نو بيا ئې هم دا ورځ روژه نيوله او نورو ته ئې د روژې نيولو امر

وکړ خو کله چي د رمضان روژه فرض شوه نو د عاشوراء د ورځي روژه ئې پرېښوده بيا د هر چا خپله خوښه وه چي په دې ورځ ئې روژه نيوله او که نه.

دا روايت په بخاري کې اته ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٥٩٢، ١٨٩٣، ٢٠٠١، ٢٠٠٢، ٣٨٣١، ٤٥٠١، ٤٥٠٢، ٤٥٠٣، ٤٥٠٤؛ د دغو رواياتو تر منځ دومره جدي او ژور توپيرونه او تعارضات تر سترګو کېږي چي يو په هغه صورت کې ترې غوره کولی شو چي نور ټول رد کړو؛ دلته چي د کوم مطلب شا ته زمکه په پيکه تور رنګ کې وينئ؛ د اړوند رواياتو هغه برخي دي چي يو د بل خلاف خبره په کې راغلې؛ په ځينو کې ويل شوي كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ په بل کې كَانُوا يَصُومُونَ عَاشُورَاءَ قَبْلَ أَنْ يُفْرَضَ رَمَضَانُ، وَكَانَ يَوْمًا تُسْتَرُ فِيهِ الْكَعْبَةُ، په بل کې صَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم عَاشُورَاءَ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تُرِكَ، په بل کې أَنَّ قُرَيْشًا كَانَتْ تَصُومُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، ثُمَّ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم بِصِيَامِهِ حَتَّى فُرِضَ رَمَضَانُ په بل کې كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَمَرَ بِصِيَامِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ، فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ كَانَ مَنْ شَاءَ صَامَ، وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ. په بل کې كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تَرَكَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ، فَمَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ. په بل کې كَانَ عَاشُورَاءُ يَوْمًا تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ كَانَ مَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ لَا يَصُومُهُ په بل کې كَانَ عَاشُورَاءُ يَصُومُهُ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ قَالَ « مَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَصُمْهُ» په بل کې كَانَ عَاشُورَاءُ يُصَامُ قَبْلَ رَمَضَانَ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ قَالَ « مَنْ شَاءَ صَامَ، وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ» په بل کې قَدِمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ، فَرَأَى الْيَهُودَ

تَصُومُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ، فَقَالَ «مَا هَذَا»؛ قَالُوا هَذَا يَوْمٌ صَالِحٌ، هَذَا يَوْمٌ نَجَّى اللهُ بَنِى إِسْرَائِيلَ مِنْ عَدُوِّهِمْ، فَصَامَهُ مُوسَى. قَالَ «فَأَنَا أَحَقُّ بِمُوسَى مِنْكُمْ». فَصَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. په بل کې قَالَ كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَعُدُّهُ الْيَهُودُ عِيدًا، قَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم «فَصُومُوهُ أَنْتُمْ» په بل کې لَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ وَجَدَهُمْ يَصُومُونَ يَوْمًا، يَعْنِى عَاشُورَاءَ، فَقَالُوا هَذَا يَوْمٌ عَظِيمٌ، وَهْوَ يَوْمٌ نَجَّى اللهُ فِيهِ مُوسَى، وَأَغْرَقَ آلَ فِرْعَوْنَ، فَصَامَ مُوسَى شُكْرًا لِلَّهِ. فَقَالَ «أَنَا أَوْلَى بِمُوسَى مِنْهُمْ» فَصَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. په بل کې أَنَّ النَّبِىَّ صلى الله عليه وسلم بَعَثَ رَجُلاً يُنَادِى فِى النَّاسِ، يَوْمَ عَاشُورَاءَ « أَنْ مَنْ أَكَلَ فَلْيُتِمَّ أَوْ فَلْيَصُمْ، وَمَنْ لَمْ يَأْكُلْ فَلَا يَأْكُلْ په بل کې أَرْسَلَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم غَدَاةَ عَاشُورَاءَ إِلَى قُرَى الأَنْصَارِ «مَنْ أَصْبَحَ مُفْطِرًا فَلْيُتِمَّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ، وَمَنْ أَصْبَحَ صَائِمًا فَلْيَصُمْ». قَالَتْ فَكُنَّا نَصُومُهُ بَعْدُ، وَنُصَوِّمُ صِبْيَانَنَا، وَنَجْعَلُ لَهُمُ اللُّعْبَةَ مِنَ الْعِهْنِ، فَإِذَا بَكَى أَحَدُهُمْ عَلَى الطَّعَامِ أَعْطَيْنَاهُ ذَاكَ، حَتَّى يَكُونَ عِنْدَ الإِفْطَارِ. په بل کې قَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم يَوْمَ عَاشُورَاءَ « إِنْ شَاءَ صَامَ» په بل کې أَمَرَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم رَجُلاً مِنْ أَسْلَمَ أَنْ أَذِّنْ فِى النَّاسِ «أَنَّ مَنْ كَانَ أَكَلَ فَلْيَصُمْ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ أَكَلَ فَلْيَصُمْ، فَإِنَّ الْيَوْمَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ» په بل کې أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ لِرَجُلٍ مِنْ أَسْلَمَ « أَذِّنْ فِى قَوْمِكَ أَوْ فِى النَّاسِ يَوْمَ عَاشُوراءَ أَنَّ مَنْ أَكَلَ فَلْيُتِمَّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ أَكَلَ فَلْيَصُمْ » په ځينو کې ويل شوي: مَا رَأَيْتُ النَّبِىَّ صلى الله عليه وسلم يَتَحَرَّى صِيَامَ يَوْمٍ فَضَّلَهُ عَلَى غَيْرِهِ، إِلَّا هَذَا الْيَوْمَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَهَذَا الشَّهْرَ. يَعْنِى شَهْرَ رَمَضَانَ !! په ځينو کې قَالَ دَخَلَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ وَإِذَا أُنَاسٌ مِنَ الْيَهُودِ يُعَظِّمُونَ عَاشُوراءَ وَيَصُومُونَهُ فَقَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم « نَحْنُ أَحَقُّ بِصَوْمِهِ ». فَأَمَرَ بِصَوْمِهِ. په بل کې قَالَ لَمَّا قَدِمَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ وَجَدَ الْيَهُودَ يَصُومُونَ عَاشُورَاءَ، فَسُئِلُوا عَنْ ذَلِكَ، فَقَالُوا هَذَا الْيَوْمُ الَّذِى أَظْفَرَ اللهُ فِيهِ مُوسَى وَبَنِى إِسْرَائِيلَ عَلَى فِرْعَوْنَ، وَنَحْنُ نَصُومُهُ تَعْظِيمًا لَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ

صلی الله علیه وسلم « نَحْنُ أَوْلَى بِمُوسَى مِنْكُمْ ». ثُمَّ أَمَرَ بِصَوْمِهِ. په بل کې قَدِمَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ وَالْيَهُودُ تَصُومُ عَاشُورَاءَ فَقَالُوا هَذَا يَوْمٌ ظَهَرَ فِيهِ مُوسَى عَلَى فِرْعَوْنَ. فَقَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم لأَصْحَابِهِ « أَنْتُمْ أَحَقُّ بِمُوسَى مِنْهُمْ، فَصُومُوا ». په بل کې لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ، وَالْيَهُودُ تَصُومُ عَاشُورَاءَ، فَسَأَلَهُمْ، فَقَالُوا هَذَا الْيَوْمُ الَّذِى ظَهَرَ فِيهِ مُوسَى عَلَى فِرْعَوْنَ، فَقَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم « نَحْنُ أَوْلَى بِمُوسَى مِنْهُمْ فَصُومُوهُ» په بل کې قَالَ صَامَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم عَاشُورَاءَ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تُرِكَ. وَكَانَ عَبْدُ اللهِ لَا يَصُومُهُ، إِلَّا أَنْ يُوَافِقَ صَوْمَهُ. په بل کې د دې خلاف ويل شوي: كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَعُدُّهُ الْيَهُودُ عِيدًا، قَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم « فَصُومُوهُ أَنْتُمْ» يعني يهودانو دا ورځ د عيد په توګه لمانځله او رسول الله صلى الله عليه و سلم له هغوی سره د مخالفت ښودلو په توګه وويل چې تاسو روژه ونيسئ؛ او دا د ټولو نورو رواياتو خلاف دئ. دا ځکه چې نور روايات وايي يهودانو به په دغي ورځ روژه نيوله او دا وايي هغوی دا ورځ د عيد په توګه لمانځله او رسول الله صلی الله علیه و سلم له دوی سره د عدم مشابهت لپاره صحابه وو ته وويل: تاسو په دې ورځ روژه ونيسئ!!

کومه برخه چې په تت تور رنګ ښودل شوې؛ په دې کې يو مطلب په همدومره شمېر رواياتو کې په بېلې بېلې بڼې راغلی؛ د دغو متعارضو رواياتو تر منځ تعارضات او توپيرونه دا دي:

ځيني ئې وايي چې د عاشوراء روژه قريشو هم نيوله او رسول الله صلی الله علیه و سلم هم له همغه مهاله نيوله او ګواکې قريشو به په دغي ورځ پر کعبې نوی غلاف غوړاوو!! ځيني ئې وايي کله چې رسول الله صلی الله علیه و سلم مدينې ته راغی يهودان ئې وليدل چې په دې ورځ روژه نيسي وئې پوښتل چې ولې په دې ورځ روژه نيسئ؟ هغوی وويل: دا يوه ستره ورځ ده، فرعون په کې غرق شوی او موسی علیه

السلام ته برى ورپه برخه شوى، موږ د دغي ورځي د درناوي لپاره روژه نيسو؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل چي موږ تر يهودانو زيات د دې وړ يو چي د دې ورځي درناوى وکړو، نو په خپله ئې هم د روژې نيول پيل کړل او نورو ته ئې هم امر وکړ، ځيني ئې وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم تر رحلت لږ وړاندي د دې روژې نيول پيل کړل، چا ورته وويل: دا خو له يهودانو سره شباهت راځي، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: د شباهت ختمولو لپاره به راتلونکى کال يوه ورځ مخکي هم روژه نيسم؛ خو هغه د دغي ورځي تر بيا رارسېدو وړاندي رحلت وکړ!! ځيني ئې وايي: يهودانو به دغه ورځ د عيد او خوشحالۍ د ورځي په توګه لمانځله؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم له يهودو سره د عدم مشابهت په موخه وفرمايل: چي تاسو په دې ورځ روژه ونيسئ!! ځيني ئې وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د عاشوراء د ورځي سحر مهال اعلان وکړ او کليو ته ئې څوك ولېږو چي خلك خبر کړي او ورته ووايي: چا چي څه نه وي خوړلي روژې ته دي دوام ورکړي او چا چي څه خوړلي وي تر ماښامه دي څه نه خوري!! ځيني ئې وايي چي د روژې تر فرضېدو پوري دا روژه نيول کېده خو د روژې له فرضېدو وروسته پرېښودل شوه او ځيني ئې د دې خبري تر څنګ دا هم علاوه کوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: د هر چا خپله خوښه چي په دې ورځ روژه نيسي که نه!! په يوه کي دا هم ويل شوي چي قريشو به په دغي ورځ د روژې تر څنګ د کعبې غلاف هم بدلولو!! په يوه کي راغلي چي عبد الله بن مسعود رضي الله عنه به په دې ورځ روژه نه نيوله مګر دا چي د ده د روژو په ورځو کي به راغله؛ او تاسو پوهېږئ چي عبد الله بن مسعود رضي الله عنه له مکي دور د رسول الله صلى الله عليه و سلم نژدې، مخلص او دروند يار پاته شوى او د هغو راويانو په ډلي کي چي تر نورو ئې له رسول الله صلى الله عليه و سلم زيات روايات نقل کړي؛ دى تر ټولو د پوخ عمر خاوند

وو؛ د عاشوراء په ورځ د روژې نه نيول ئې ښيي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم نه په مکه کي دا روژه نيولې او نه په مدينه کي.

د دغو متعارضو رواياتو له منځه د يوه انتخاب محال او ناممکن دئ، امام بخاري هم نه دي ويلي چي په دغو متعارضو او متضادو رواياتو کي کوم يو ئې د متن، محتوی او إسنادو له پلوه صحيح او تر نورو غوره دئ؛ او په کوم دليل؛ د بخاري هيڅ شارح هم نه ويلي او نه ويلی شي چي کوم روايت تر نورو غوره دئ!! دا د يوه اصل په توګه په پام کي ولرئ چي کله د يوې موضوع په اړه متعارض روايات مومو؛ داسي چي تر منځ ئې نه تلفيق ممکن وي او نه داسي دليل موندلی شو چي يوه ته پر بل ترجيح ورکړو، په قرآن کي کوم شاهد ورته ونه مومو، په خپله دغو رواياتو کي هم د ترجيح وجه پيدا نه کړو نو په کار دا ده چي ټول يوې خوا ته پرېږدو، نه استناد پرې وکړو، نه ئې نورو ته ووايو او نه کوم يو د خپلي سليقې له مخي غوره کړو؛ په ځانګړې توګه چي روايت د داسي مباح امورو په اړه وي چي د مستحب نوم هم نه شو ورکولی؛ لکه د عاشوراء په ورځ روژه.

د متعارضو رواياتو ستونزه د ټول اسلامي امت ګډه ستونزه ده؛ د ټولو مذاهبو پلويان ورسره مخامخ دي؛ د امام حسين رضي الله عنه د شهادت د ورځي په اړه اختلاف هم له دغو رواياتو راولاړ شوی؛ که هغه روايات ومنو چي له مکې خوځېدلی نو دا ادعاء بيا نه شو منلی چي هغه د محرم په اوله نېټه کربلا ته رسېدلی او په لسمه ئې په شهادت رسېدلی؛ او که دا منو چي د محرم په لسمه په شهادت رسېدلی؛ نو بايد داسي ثقه روايات پيدا کړو چي وښيي امام حسين رضي الله عنه له داسي سيمي خوځېدلی چي په دوو مياشتو کي تر کربلا رسېدلی!!

له تاسو سره مي دا وعده کړې وه چي د مکې او کربلا تر منځ واټن به په نقشه کي درښيم؛ او دا د دې لپاره چي وګورو آيا امام حسين رضي الله عنه د محرم په لسمه شهيد شوی که نه؛ او دا ادعاء د چا له لوري

شوې چې د تاریخ ستري پېښې دې ورځې ته منسوبوي او وايي: آدم علیه السلام په دغه ورځ پیدا شوی، له جنت تر راکوزېدا وروسته دی او مېرمن ئې په دغه ورځ سره یو ځای شوي، نوح علیه السلام په دغه ورځ ژغورل شوی، یونس علیه السلام په دغه ورځ د کب له ګېډې سالم وتلی، ابراهیم علیه السلام په دغه ورځ له اوره روغ وتلی!!! دا په داسي حال کې چې نه په قرآن کې د دې ادعاء لپاره کوم شاهد مومو، نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په احادیثو کې او نه په تاریخ کې؛ دا هسي هوائي خوشې ادعاء ګاني دي؛ احتمالاً یوه ادعاء څه ناڅه د منلو وي چې فرعون په دغه ورځ غرق شوی او موسی علیه السلام له بحر روغ تېر شوی؛ او دا هم د بایبل د ادعاء له مخې. دا ادعاء ګاني د همدې محرف بایبل په استناد د یهودانو له لوري شوې؛ هغوی د عاشوراء لسمه سپېڅلې ګڼي او د ستر عید په توګه ئې لمانځي؛ دا لمانځنه تر نن پوري د هغه بایبل پلویان لمانځي چې د تورات، انجیل او زبور مجموعه ئې ګڼي؛ زموږ د دغه درسونو په ورځو کې هغوی عملاً د دې ورځې په لمانځني اوه ورځې مصروف دي؛ بایبل کې دوی ته ویل شوي: دا میاشت به هر کال ستاسو لومړۍ میاشت وي او لسمه به ئې تل یوه اونۍ لمانځئ؛ دوی غواړي دې ورځې ته تاریخي اهمیت ورکړي او دومره ئې سپېڅلې ثابته کړي چې وښيي د انساني تاریخ ټولي مهمي پېښې په همدې ورځ رامنځته شوې؛ بایبل وايي: خدای ځکه دا میاشت او دا ورځ سپېڅلې ګڼلې او لمانځل ئې لازم کړي چې موسی او بني اسرائیل ئې وژغورل او فرعون ئې په سمندر کې غرق کړ؛ محرم د قمري کال لومړۍ میاشت ده؛ همغسي لکه چې د بایبل له نظره د کال لومړۍ میاشت ده؛ او دا ښيي چې د بایبل د لیکلو په وخت کې همدا قمري تقویم رائج وو؛ میلادي تقویم د مسیحیانو له تسلط وروسته رامنځته شوی؛ په دې میاشت کې د اسلامي تاریخ د بریا داسي پېښه نه مومو چې دې میاشتي ته ځانګړتیا او سپېڅلتیا ورکړي؛ فقط یوه ډېره غمجنه او دردونکې پېښه

مومو چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم د ګران لمسي امام حسين رضي الله عنه شهادت ورته منسوب شوی؛ ملتونه او امتونه د بريا ورځي لمانځي نه د غم، وير او ماتي ورځي؛ اسلامي امت د غمونو ستري ورځي لري چي نه رسول الله صلی الله عليه و سلم او نه صحابه وو په خاصو مراسمو سره يادي کړې؛ لکه د رسول الله صلی الله عليه و سلم د رحلت ورځ، د حمزه، عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم د شهادت ورځي، د احد ماته او په ترڅ کي ئې تر اويا زياتو صحابه وو شهادت. د کربلا او د امام حسين رضي الله عنه د شهادت په اړه په امت کي؛ نه يوازي بېلو بېلو مذاهبو تر منځ د رأی اختلاف مومو؛ بلکي د اهل تشيع تر منځ هم د اختلاف شاهد يو؛ په مجموع کي په دې اړه دوه رأيي وړاندي شوې: ۱- هغه چي وايي: د ده شهادت د محرم په لسمه وو؛ ۲- د هغو رأی چي له دې سره موافق نه دي او وايي: د واقعيتونو او محاسباتو له مخي او هغو رواياتو ته په پام سره چي وايي: امام حسين رضي الله عنه د کربلا له غميزي وړاندي د حج په مراسمو کي د خپلي کورنۍ له غړو سره شرکت کړی؛ بيا د کوفې په لوري خوځېدلی؛ او ګواکي د ذي الحجي په پای کي کربلا ته رسېدلی؛ د يزيد پلويانو په کربلا کي د ده مخه نيولې؛ مذاکراتو نتيجه نه ده ورکړې؛ مفسدينو او جنګ غوښتونکو شرارتونو ته ملا تړلې؛ جګړه ئې رامنځته کړې؛ په پايله کي ئې امام حسين رضي الله عنه؛ د خپلي کورنۍ د غړو او د سفر ملګرو له نژدې اويا تنو سره په شهادت رسېدلي؛ او هغه فاجعه رامنځته شوه چي له پرهارونو ئې تر ننهويني بهېږي؛ دوی وايي: که دا روايت ومنل شي چي امام حسين رضي الله عنه د همغه کال د ذي الحجې شاوخوا لسمه کي له مکې د کوفې په لوري خوځېدلی يي؛ نو قطعاً ممکنه او عملي نه ده چي د محرم په اوله نېټه او تقريباً ۱٦ ورځو مزل سره کربلا ته رسېدلی وي.

د دې خونړۍ پېښي د دقيقي نېټې په اړه له همغه ورځي تر ننه پوري آراء بېل بېل دي؛ وجه ئې مختلف او متعارض روايات دي؛ که

هغه روايات ومنل شي چي وايي: امام حسين رضي الله عنه د همدې کال په حج کې شرکت کړی؛ نو له مکې تر کربلا پوري واټن تر دوو مياشتو زيات پلي سفر ته ضرورت لري؛ دا فاصله په هوائي مستقيمي کرښي ۹۸۸ کيلومتره ده؛ د زمکي پر سر؛ له کږلېچونو او لوړو ژورو سره حد اوسط له ۱۵۰۰ تر ۱۷۰۰ کيلومتره پوري ښودل شوې؛ اوس خو د دقيقو نقشو او مخکي تللو وسائلو په مرسته؛ د دې فاصلې تعيين آسانه شوی او مخکينی اختلاف ختم شوی؛ نن هر څوك پوهېږي چي له مکې تر کربلا پوري؛ په پلي مزل او اوښانو سره په دوو مياشتو کې هم څوك نشي رسېدلی؛ د فقهاءو له نظره د مسافر درې ورځنی سفر نژدې ۸۰ کيلومتره ښودل شوی؛ يعني د ورځي ۲٦ کيلومتره؛ که يو کاروان چي مېرمني او ماشومان هم په کې وي؛ هره ورځ حد اعظمي ۲٦ کيلومتره مزل ووهي؛ نو ۱۷۰۰ کيلومتره مسافه په ٦٥ ورځو کې وهل کېدی شي؛ د ځينو د ادعاء له مخي امام حسين رضي الله عنه تر شهادت وړاندي لس ورځي په کربلا کې پاته شوی؛ کربلا ته له رسېدو سره سم جنگ نه دئ پيل شوی؛ لس ورځي د هيئتونو په تبادله او مذاکراتو تېري شوې او بيا جگړه پيل شوې؛ د ذي الحجې له ١٤ چي د حج د مناسکو وروستۍ ورځ ده؛ تر ۱۰ د محرم پوري ۲٦ ورځي کېږي؛ له دې چي د کربلا هغه لس ورځي منفي کړو نو ١٦ ورځي پاته کېږي؛ په دې موده کې شا و خوا ١٦ x ٢٦ = ٤١٦ کيلومتره مزل ممکن دئ؛ څکه دمه، لمونځ، خوراك، اوښانو ته اوبه او واښه ورکول... نه پرېږدي چي په ورځ کې تر ۲٦ کيلومتره زيات مزل ووهي؛ ويل شوي چي په کاروان کې نژدې ۵۰۰ کسان؛ د ماشومانو او مېرمنو په گډون شامل وو؛ په دې موده کې د امام حسين رضي الله عنه کاروان د مزل دربيمه برخه هم نه شوی وهلی؛ هغه کربلا ته د رسېدو لپاره؛ لږ تر لږه ٦٥ ورځو مزل ته ضرورت درلود؛ کوم عقل دا مني چي دا کاروان په ١٦ ورځو کې کربلا ته رسېدلی؛ په همغه ورځ جگړه پيل شوې او امام حسين رضي الله عنه په شهادت رسېدلی؟!! د اهل تشيع

---

فقهاءو له نظره يو ورځنی پلی سفر (۲۱،۵ کيلومتره) ټاکل شوی؛ چي په داسي سفر کي به مسافر فرضي روژه نه نيسي او لمونځ به قصر کوي؛ چي په دې حساب به امام حسين رضي الله عنه په ۱٦ ورځو کي ۳٤٤ کيلومتره مزل کړی وي؛ او (۱۳٥٦= ۳٤٤ - ۱۷۰۰) کيلومتره به لا ورته پاته وو. نو که دا ادعاء ومنل شي چي امام حسين رضي الله عنه د محرم په اوله نېټه کربلا ته رسېدلی؛ نو هغه بل روايت به ردوو چي دی د حج په شپو ورځو کي له مکې د کوفې په لور خوځېدلی؛ بايد داسي روايات ومومو چي ښيي هغه تر دې نېټي ٥۰ ورځي وړاندي له بل ځای د کوفې په لوري حرکت کړی.

ځيني دا ادعاء هم نه مني چي وايي: امام حسين رضي الله عنه مکې ته راغلی، تر اتم د ذي الحجې په مکه کي پاته شوی؛ او په داسي حال کي په اتمه او د حج مناسکو تر پيلېدو يوه ورځ وړاندي؛ د کوفې په لوري خوځېدلی چي نژدې ٥۰۰ د کورنۍ غړي او پلويان ئې ورسره وو!! آيا کولی شو د امام حسين رضي الله عنه او د ده د درنې مؤمني کورنۍ په اړه دا وينا ومنو چي د حج له اداء کولو پرته د کوفې په لوري روان شوي؛ د کورنۍ غړو به ئې څنګه دا ورسره منله او دومره لوی شمېر پلويان به ئې څنګه راضي کېدل چي له کوم دليل، خطر او ګواښ پرته؛ د حج کولو دا فرصت او سعادت له لاسه ورکړي؛ ولي او د کوم موجه دليل له مخي به ئې دومره عجله او تلوار کولو؟ څلور پنځه ورځي نور د حج اداء کولو لپاره پاته کېدا؛ نه دوی او د دوی منصوبې ته کوم تاوان رسولو او نه د دوی کوم دښمن ته د دوی په ضد د څه کولو مجال او فرصت ورکولو؛ يقيناً چي مکه تر بل هر ځای د دوی لپاره زيات ډاډه؛ خوندي او مصون ځای وو. يزيد نه په مدينه کي ده ته لاس اچولی شو او نه په مکه کي؛ او هغه هم د حج په موسم کي چي په لکونو حاجيان؛ د ستر اسلامي هېواد له مختلفو برخو راغونډ شوي وو؛ او که يزيد دا غلطي کړې وی؛ او د لکونو مخلصو مؤمنانو په شتون کي ئې د رسول الله صلی الله عليه و

سلم ځمسي او د نبوت د کورنۍ غړو ته لاس اچولی وی؛ نو همدا به د يزيد د ظالمانه واکمنۍ د فوري نسکورېدو مقدمه وه؛ کوفه او نجف د امام حسين رضي الله عنه لپاره تر ټولو زيات ناامنه او نامناسب ځای وو؛ پلار ئي همله شهيد کړی شو؛ يزيد کولی شو د وژلو تور پر کوفيانو واچوي او له ځان پښتي څېل برائت اعلان کړي.

دلته دوه نقشې ګورئ چې يوه ئې د مکې او کربلا تر منځ زمکنۍ لار راښيي چې ۱٦۷۹ کيلومتره ښودل شوې؛ او بله ئې هوائي واټن راښيي چې ۹۸۸ کيلومتره دئ. دا ئې د مکې او کربلا تر منځ د زمکنۍ او هوائي لارو نقشې:






ځيني د محرم الحرام ټوله مياشت دومره سپېڅلي مياشت بولي چې له روژې پرته تر ټولو مياشتو ئې افضل ګڼي، دا په داسي حال کې چې نه

په قرآن کې د دې مياشتي د ځانګړې فضيلت په اړه څه ويل شوي او نه په کوم صحيح حديث کې، د اسلام له نظره ټولې ورځې او مياشتې يو برابر دي، د اوقاتو فضيلت ذاتي نه دئ، د هغه ځانګړې عمل له مخې يو وخت پر بل فضيلت مومي چې په هغه کې تر سره شوی. د روژې مياشت د دې لپاره افضل ګڼل شوې چې په دې کې قرآن نازل شوی، د قدر شپه له دې امله په دې نامه ياده شوې او تر زرو مياشتو غوره ګڼل شوې چې په همدې شپه پر رسول الله صلی الله عليه و سلم د قرآن نزول پيل شوی، څلور حرام مياشتې: رجب، ذي القعده، ذي الحجه او رجب له دې امله د اشهر الحرم په نامه يادي شوې چې په دې کې به د حج او عمرې مراسم ترسره کېدل.

ځيني د عاشوراء لسمه د مخکينيو امتونو او پيغمبرانو د سترو سترو برياوو له ورځې سره تشبيه کوي؛ دې ته له پام پرته چې د هغو سترو سترو پېښو؛ د کربلا له پېښې سره هيڅ مناسبت او مماثلت نشته، په هغوی کې الله تعالی ظالمان او د دين دښمنان هلاك کړي او پيغمبرانو عليهم السلام ته ئې بريا ورپه برخه کړې او له کړاوونو ئې ژغورلي، حال دا چې په کربلا کې د دغو ټولو تاريخي پېښو خلاف د حسين رضي الله عنه په شمول د ده د کورنۍ او پلويانو نژدې اويا غړي په شهادت رسېدلي!! دې ته نه ګوري چې د عاشوراء د ورځې د سترو سترو تاريخي پېښو اړوند روايات ټول اسرائيلي روايات دي چې هيڅ وزن او ارزښت نه لري.

ځيني دې ورځې ته د يوم من ايام الله نوم ورکوي!! چې دا نُومَونه په بشپړه توګه غلطه ده؛ دا ځکه چې قرآن هغو سترو سترو ورځو ته د ايام الله نوم ورکړی چې د شر، فساد، کفر او شرك ستر ستر ځواکونه په سخت الهي عذاب اخته شوي او حقپالو ته ستره او تاريخي بريا ورپه برخه شوې. قرآن په اړه فرمايي:

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَى بِآيَاتِنَا أَنْ أَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَذَكِّرْهُمْ

بِأَيَّامِ اللَّهِ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿٥﴾ إبراهيم

او يقيناً چي موسی مو له خپلو آيتونو سره ولېږو چي خپل قوم دي له تيارو د نور لوري ته وباسه او (د پند په توګه) د الهي ورځو يادونه ورته وکړه؛ يقيناً چي په دې کي حتماً د هر تکړه صبر کوونکي شاکر لپاره ښکاره نښي دي.

يعني د موسی عليه السلام مأموريت دا وو چي خلك د کفر، شرك، جهل، ظلم او فساد له تيارو وباسي او د ايمان، صالح عمل، عدالت او ښايسته ژوند روڼ سباوون پرې وګوري، ورته ويل شوي وو چي د قوم په وړاندي د هغو سترو سترو الهي ورځو يادونه وکړه چي د لويو لويو ظالمانو د واکمنۍ ماڼۍ په کي نسکوري شوې، مظلومان په کي ژغورل شوي او د زمکي خلافت او وراثت ئې په برخه شوی. په دې تاريخي ورځو کي د هغو وګړو لپاره ښکاره نښي دي چي (صبر) او (شکر) ئې دوه ځرګندي ځانګړتياوي دي؛ هغه چي د ستونزو او کړاوونو په وړاندي په مېړانه صبر کوي، نه مأيوس کېږي او نه په نيمي لاري کي ښي او کيڼ لوري ته منحرف کېږي؛ هغه چي د حق په لار کي پر خپل هر حالت راضي وي او د خپل رب د پېرزوينو قدر کوي.

د عاشوراء لسمه په اصل کي د يهودانو سپېځلې ورځ ده؛ په بايبل کي د هغې يادونه شوې، "د فصح عيد" په نامه ياده شوې، دا د يهودانو ستر عيد دئ؛ بايبل د فصح عيد تر عنوان لاندي داسي کاږي: "خدای موسی او هارون ته وويل: له دې وروسته به ستاسو لپاره دا مياشت د کال لومړۍ او تر ټولو مهمه مياشت وي... هر کال به د دې مياشتي په لسمه هره کورنۍ يو وری تياروي، که د کورنۍ شمېر کم وي؛ نو په خپل ګاونډ کي له بلي وړې کورنۍ سره دي ګډ شي، دا وری يا سېرلی به نر، بې عيبه او يو کلن وي، د همدې مياشتي د څوارلسمي په مازديګر دي ټول اسرائيليان دا وري قرباني کړي او د هغویويني دي د دروازو د ولاړو تيرانو او د هغو خونو د دروازو پر سر وشيندي چي د وري غوښه په کي

خوړل کېږي... په همدې شپه دي دا غوښه وريته کړي او له پتيري ډوډۍ او ترخو سابه سره دې وخوري، غوښه به اومه او په اوبو کې پخه شوې نه خوري، بلکې ټوله به د سر، پښو، زړه او ينې په شمول وريته او ټوله به د همدې شپې تر سهاره خوري، که څه پاته شوه هغه به سوزوي (ښايي د دې لپاره چي غير يهودي ته ئې تر پاته کېدو سوزول غوره دي)، د وري له خوړلو مخکي به خپلي څپلۍ په پښو کوئ، خپله عصا به په لاس کې نيسئ او د سفر لپاره به تيارېږئ...دا مراسم به د خدای فصح په نامه يادېږي، دا ځکه چي زه خدای يم او نن شپه به د مصر له سيمي تېرېږم او د مصريانو ټول مشران زامن او د دوی د څارويو لومړي پيدا شوي بچيان به وژنم او د دوی خدايانو ته به سزا ورکوم، کوميويني چي تاسو د دروازو پر تيرانو شيندلې دا به د دې نښه وي چي دا کورونه ستاسي دي، زه به ئې په همدې سره پېژنم، له هغوی به تېرېږم او يوازي مصريان به وژنم!!! هر کال به د دې ورځي په ياد جشن نيسئ، په دې جشن کې چي اوه ورځي به وي يوازي پتيره ډوډۍ خورئ، په لومړۍ ورځ به خميره له کوره بهر وړئ... ځکه که څوك په دغو ورځو کې د خميره شوو اوړو ډوډۍ وخوري له اسرائيليانو به شړل کېږي، په لومړۍ او اومه ورځ به ټول په ګډه د خدای عبادت کوئ، په دغو دوو ورځو کې به د خوراك له برابرولو پرته بل هيڅ کار نه کوئ!! بايبل دلته دا خبره درې ځلي تکراروي چي په دغو اوه ورځو کې به يوازي پتيره ډوډۍ خورئ، په کور کې به خميره نه ساتئ، چا چي خميره ډوډۍ وخوړله له اسرائيليانو به طرد کېږي!!! دا به تر ابده پر تاسو واجب وي... دا د دې لپاره چي په دغي ورځي ما له مصر وژغورلئ!!! "

په ټول يقين سره ويلی شو چي د عاشوراء په اړه هر څه مسلمانو ته له يهودانو راانتقال شوي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم په مدينې کې يهودان داسي ليدلي چي په دې ورځ روژه نيسي؛ پوښتنه ئې کړې چي دا ولې؟ يعني چي تر دې نېټې لا خبر نه وو چي يهودان دې ورځي ته د

سپېڅلي ورځ په سترګه ګوري. نو د عاشوراء په اړه له راغلو متعارضو روایاتو یوازي هغه صحت ته قرین ګڼلی شو چي همدا په کي ویل شوي: کله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم مديني ته راغی؛ یهودان ئې ولیدل چي دا ورځ لمانځي؛ نو وئې پوښتل چي دا ولي؟ او ورته وویل شول: په دې ورځ موسى عليه السلام ژغورل شوی او فرعون غرق شوی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَيُحَجَّنَّ الْبَيْتُ وَلَيُعْتَمَرَنَّ بَعْدَ خُرُوجِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ». (بخارى:١٥٩٣)

له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د يأجوج او مأجوج له راوتو وروسته به هم د بيت الله حج او عمره کېږي).

د يأجوج او مأجوج اړوند روايات په بخاري کي ١١ ځلي په دغو شمېرو راغلي: ١٥٩٣ - ٣٣٤٦ - ٣٣٤٧ - ٣٣٤٨ - ٣٥٩٨ - ٤٧٤١ - ٥٢٩٣ - ٦٥٣٠ - ٧٠٥٩ - ٧١٣٥ - ٧١٣٦ – بخاري د يأجوج و مأجوج لپاره دا باب ايښی: بَابُ قِصَّةِ يَأْجُوجَ، وَمَأْجُوجَ وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: قَالُوا {يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ إِنَّ يَأْجُوجَ، وَمَأْجُوجَ مُفْسِدُونَ فِي الأَرْضِ} [الكهف: ٩٤]؛ د قرآن هغه آيتونه ئې راوړي چي د ذوالقرنين او يأجوج او مأجوج يادونه په کي شوې.

په صحابه وو کي ئې راويان دا دي: أبو سَعِيد الخُدْرِي، زَيْنَب بِنْتِ جَحْشٍ او أبو هُرَيْرَة. د دې ١١ رواياتو له مخي دا پرېکړه نه شئ کولئ چي ذوالقرنين څوك دئ، يأجوج او مأجوج څوك دي؛ دوی انسانان دي که بېل مخلوق؛ چېري اوسېدل؛ هغه سد او بند چېري دئ چي ذوالقرنين د دوی په وړاندي جوړ کړی؛ آيا دا سد اوس هم په خپل حال پاته دئ او تر قيامته به وي او که وران شوی؛ په بخاري کي د دې پوښتنو واضح ځواب نه شئ موندلی. حتی د دې رواياتو له مخي نه يوازي د يأجوج او مأجوج سم پېژندل ګران کار دئ؛ بلکي له مزيد پوښتنو سره به مخامخ

کېږئ؛ حتی گمان به کوئ چې دوی له انسانانو او پېريانو پرته کوم بېل مخلوق دئ؛ قدونه ئې لنډ، سينې ئې پلنې او غوږونه ئې دومره ستر او اوږده چې د پربوتو په وخت کې يو غوږ ورته توشك شي او بل ئې بړستنه!!

د ذوالقرنين او يأجوج او مأجوج په اړه په امت کې د جدي اختلاف شاهد يو، په تفسيرونو کې هم بېل بېل آراء مومو او په رواياتو کې هم کافي متعارض روايات. خو که د قرآن په رڼا کې ورته وگورو نو هغوی به د نورو انسانانو په څېر انسانان ومومو؛ راشئ وگورو چې قرآن په دې اړه څه وايي او په رڼا کې ئې کومه رأيه او روايت د اعتبار وړ گڼلی شو!!

د قرآن په دوو آيتونو کې د يأجوج او مأجوج يادونه شوې: يو ئې د الکهف سورې ۹٤ آيت او بل ئې د الانبياء سورې ۹٦ آيت دئ؛ د الکهف په سورې کې د دوی يادونه د ذوالقرنين د قصې په ضمن کې شوې او قصه داسې پيل شوې:

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَن ذِى ٱلْقَرْنَيْنِ ۖ قُلْ سَأَتْلُوا۟ عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكْرًا ﴿٨٣﴾

د ذو القرنين په اړه تا پوښتي؛ ووايه: ژر به ئې څه يادونه درواوروم.

د الکهف په سورې کې پنځه قصې زموږ مخې ته راځي: ۱- د اصحاب کهف د مؤمنو زلميانو او د دوی د مشرك او ظالم قوم تر منځ د مبارزې قصه، ۲- د يوه مشرك شتمن او مؤمن نيستمن د عبرتناکې مرکې او محاورې قصه، ۳- د موسی عليه السلام او خضر د گډ سفر قصه، ٤- د ذوالقرنين د سترو سترو فتوحاتو قصه او ٥- د آدم د پيدايښت هغه قصه چې ملائکو د ده په وړاندې سجده وکړه او ابليس سرغړاوی وکړ.

په حقيقت کې دا سوره د همدې پنځو قصو مجموعه ده، خو لنډې لنډې، ډېر ښکلې، اغېزناکې او عبرتناکې قصې، الفاظ ئې جامع، اسلوب ئې ډېر جذاب او جالب، په هرې يوې کې گڼ شمېر مهم مهم درسونه او گټورې لارښوونې، دا قصې د دې سورې د محورې او اساسي موضوعاتو

---

لپاره د تاريخي بېلګو په توګه وړاندي شوې.

دا د اهل کتاب اړوند قصې دي او د هغوی په مذهبي او تاريخي کتابونو کې ئې يادونه شوې؛ او قريشو د يوه شرارت په موخه له رسول الله صلی الله عليه و سلم په دې اړه پوښتني کړې او غوښتل ئې رسول الله صلی الله عليه و سلم د دغو قصو په اړه داسي څه ووايي چي د اهل کتاب له ويناوو او تاريخي څرګندونو سره توپير ولري چي بيا ئې د يوې تبليغاتي حربې په توګه وکاروي او خلکو ته ووايي: دا دئ محمد (عليه السلام) د دغو تاريخي قصو په اړه د مخکينيو الهي کتابونو خلاف خبري کوي!! د دې سورې له ۸۳ آيت چي وايي: وَ يَسئَلُونَكَ عَن ذِی الْقَرْنَيْنِ قُلْ سأَتْلُوا عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكراً* همدا خبره معلومېږي.

د الکهف د سورې په دې آيت سره؛ هغه اغېزناکه او عبرتناکه تاريخي قصه پيل کېږي چي د يوه ځواکمن او فاتح زعيم په اړه ده؛ يو مؤمن بنده د داسي اقتدار او واکمنۍ په حالت کې ښيي چي د ملك لمن ئې د لويي وچي له ختيځ تر لوېديځ غځېدلې، د شمال او جنوب په لوري خوره شوې، هيڅوك ئې مخي ته ودرېدی نه شي او د مقابلې توان ئې نه لري، ډول ډول وسائل او امکانات ئې په واك کې دي، خو دې زور او ځواك؛ نه مغرور کړی، نه ئې له خپل رب عصيان او بغاوت ته هڅولی او نه ئې د نورو په حق کې ظلم او تېري ته تشويق کړی، د مظلوم مرسته کوي، د ظالم له شره ئې ژغوري، د مفتوحه سيمو له هستوګنو سره نېك او عادلانه چلن کوي او يوازي ظالمانو ته سزا ورکوي، فتوحات ئې د دې لپاره نه دي چي د جاه طلبۍ شوق پوره کړي، نورو ته خپل زور او ځواك وښيي او د نورو سيمو په نيولو سره د خپلي واکمنۍ لمن پراخه کړي، بلکي د يوه سپېڅلي هدف لپاره دي، غواړي خلك پر الله تعالی او آخرت ايمان راوړي او د ظالمانو له منګولو وژغورل شي. د دې آيت لاندېني مطالب توجه غواړي:

- دلته ويل شوي چي: (او د ذوالقرنين په اړه له تا پوښتني کوي)؛ له

دې وينا معلومېږي چې د نورو پوښتنو په ضمن کې دا هم يوه پوښتنه وه؛ او دا ښيي چې په دې سورې کې د اصحاب کهف او د موسی عليه السلام او خضر د جهادي سفر په اړه راغلي مطالب او وضاحتونه هم د دوی د پوښتنو په ځواب کې وړاندي شوي. د آيت له دې فقرې (قُلۡ سَأَتۡلُواْ عَلَيۡكُم مِّنۡهُ ذِكۡرًا: ووايه: ژر به ئې څه يادونه درواوروم) معلومېږي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم په دې اړه د وحي له راتلو وروسته هغوی ته دغه وينا کړې؛ هغه رأيه صحيح نه برېښي چې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم لومړی له هغوی سره وعده کړې او بيا څه موده وروسته دا آيتونه نازل شوي؛ ځکه دا آيت په واضح توګه ښيي چې وعده د دغه آيت په لارښوونه شوې.

- دلته د ذوالقرنين نوم راغلی؛ چې لغوي معنی ئې د دوو ښکرونو خاوند ده، نه په قرآن کې د دې مزيد وضاحت شوی چې دا څوك وو، نه په احاديثو کې او نه د تاريخ په کتابونو کې؛ ځينو ويلي چې دا يوناني سکندر اعظم وو او ځينو ويلي چې دا خورس (خسرو) د فارس ستر واکمن وو، په دې اړه په يقين سره څه ويل ګران دي. دا هم يوه بله پوښتنه ده چې ولې د ذوالقرنين په نامه ياد شوی؟ آيا دا له دې کبله چې ده او فوځيانو به ئې داسي خولونه پر سر کول چې دوه ښکرونه به ئې ول، که د دې لپاره چې ده حقيقتاً په خپلي ککري (کوپړۍ) کې د ښکرو په څېر دوه راوتلې غوټې درلودې؟ په دې اړه هم څه واضح ځواب نشو موندلی، خو د قرآن له وينا دومره معلومېږي چې قريش له دې نوم سره آشنا ول او د همدې ذوالقرنين په اړه ئې له رسول الله صلی الله عليه و سلم پوښتنه کړې، د قريشو د دې معرفت مرجع يهودان ول، بايد د يهودانو په مذهبي او تاريخي کتابونو کې دا ولټول شي چې دوی د ذوالقرنين نوم چا ته ورکړی وو.

په بايبل کې د دانيال يوه جعلي او سر تر پايه بې بنسټه قصه مومو چې په ضمن کې ئې د دانيال داسي خوب ته اشاره شوې چې وايي: خوب

مي ليد چي د شوش په سيمي کي (دا سيمه اوس د ايران يوه برخه ده)؛ د نهر خوا ته ولاړ يم، يو مړ ګورم چي دوه جګ جګ ښکرونه ئې دي، د نهر په ژۍ کي ولاړ دئ، ناڅاپه ګورم چي يو ښاخ ئې ستر او تر بل جګ شو، دي مړ د مغرب، شمال او جنوب لوري ته ښکرونه وهل، هيڅ ځناور ئې مقابله نشوی کولی او روغ نشو ترې خلاصېدی، څه چي ئې غوښتل همغسي ئې کول او سترېدو، په داسي حال کي چي لګيا وم د دې صحنې په اړه مي فکر کولو ناڅاپه له لوېديځه يو وز راڅرګند شو، داسي تېز راروان وو چي پښې به ئې د منډي په حال کي پر زمکه نه لګېدې، دې وز چي يو ښکر ئې د دواړو سترګو تر منځ درلود په شدت سره د دوه ښکري مړ په لور ورغی، له ډېر غضب سره ئې پرې برید وکړ، دواړه ښکرونه ئې ورمات کړل او هغه ئې رانسکور کړ... ورپسې د جبرئيل له قوله چي ګواکي دانيال ته په خوب کي راڅرګند شوی؛ دا خوب داسي تعبيروي: هغه دوه ښکری مړ د ماد او فارس پاچايي ده، هغه وز چي د دواړو سترګو منځ کي ئې يو ښکر وو د يونان پاچايي ده، ښکر ئې د همدي ملك لومړی پاچا دئ، د ښکر ماتېدا او پر ځای ئې د څلورو ښکرونو راپيدا کېدا په دې معنی ده چي دا پاچايي به په څلورو برخو ووېشل شي(په خوب کي ئې راغلي دي چي يو ښکر ئې په څلورو ښکرونو بدل شو) او هره برخه به يو پاچا لري خو هيڅ يو به ئې د لومړي پاچا په څېر ځواکمن نه وي....

که تاسو د بايبل دغه برخه په دقت سره ولولئ نو يقيناً چي ډېر ژر به درته جوته شي چي (دانيال) يو جعلي نوم دئ؛ او په ده پوري تړل شوې خوبونه او خبري جعلي، له ځانه جوړ شوي او له سر تر پايه غلط او بې بنسټه دي، خو عجيبه ده چي دانيال ته منسوب دغه قصې، خوبونه او تعبيرونه ئې په مسلمانانو کي خواره شوي، دانيال د يوه معروف معبر په نامه پېژني او حتیٰ ځينو مفسرينو په خپلو تفسيرونو کي د ده خبري نقل کړې دي، دا په داسي حال کي چي عمر رضي الله عنه يو

کس د دې لپاره سخت تنبيه کړ چې دانيال ته دغه منسوب خبرې ئې تبليغ کړې وې او ورته وئې ويل چې زه پيغمبر عليه السلام د اهل کتابو د آثارو له لوستلو په کلکه منع کړی وم. د دې تفصيل د (بايبل د قرآن په رڼا کې) کتاب کې وګورئ، خو يهودان د بايبل دغې جعلي برخې ته تر نورو زيات ارزښت ورکوي، د همدې لپاره دا دوه ښکرى (ذوالقرنين) په دوى کې پېژندل شوى او معروف نوم وو او د فارس يو ستر واکمن ئې په همدې نامه ياداوو.

قرآن په دغو آيتونو کې د دې ستر فاتح مواصفات زموږ مخې ته ږدي او هغه د يوه مؤمن او عادل واکمن او زعيم په توګه معرفي کوي:

إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَءَاتَيۡنَٰهُ مِن كُلِّ شَيۡءٖ سَبَبٗا ﴿٨٤﴾ فَأَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغۡرِبَ ٱلشَّمۡسِ وَجَدَهَا تَغۡرُبُ فِي عَيۡنٍ حَمِئَةٖ وَوَجَدَ عِندَهَا قَوۡمٗاۗ قُلۡنَا يَٰذَا ٱلۡقَرۡنَيۡنِ إِمَّآ أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّآ أَن تَتَّخِذَ فِيهِمۡ حُسۡنٗا ﴿٨٦﴾ قَالَ أَمَّا مَن ظَلَمَ فَسَوۡفَ نُعَذِّبُهُۥ ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِۦ فَيُعَذِّبُهُۥ عَذَابٗا نُّكۡرٗا ﴿٨٧﴾ وَأَمَّا مَنۡ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَلَهُۥ جَزَآءً ٱلۡحُسۡنَىٰۖ وَسَنَقُولُ لَهُۥ مِنۡ أَمۡرِنَا يُسۡرٗا ﴿٨٨﴾ الكهف

يقيناً چې موږ هغه ته په زمکې کې تمکين ورکړی وو او ډول ډول اسباب مو ورکړي ول، نو د يوه (اقدام اړوند) سبب پسې شو؛ تر هغه چې د لمر لوېدو حد ته ورسېدو؛ هغه ئې داسي وموند چې په تور رنګه خټينه چينې کې پرېوځي؛ او د هغې خوا ته ئې يو قوم وموند؛ ومو ويل: اې ذو القرنينه! يا ئې تعذيب کړه يا د دوى په اړه نېك چلن غوره کړه؛ وئې ويل: اما هغه چې ظلم ئې کړی نو حتماً به ئې تعذيب کړو بيا به د خپل رب لوري ته ګرځول کېږي او هغه به ئې په ځانګړي بد عذاب اخته کړي؛ او هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عمل ئې کړی نو هغه ته غوره بدله ده او حتماً به هغه ته د خپلي سپارښتني آسانه وينا وکړو.

په دې مبارکو آيتونو کې دا لارښووني مومو:

- ذوالقرنین د نړۍ یو پیاوړی او مضبوط واکمن وو، الله تعالی ډول ډول اسباب او امکانات ورکړي ول، له خپلو وسائلو او امکاناتو په استفادې سره ئې لومړی د لوېدیځ په لوري مخه کړه، تر هغه ځای مخکې ولاړ او سیمي ئې یوه په بلې پسې فتح کړې چې د لمر لوېدو حد ته ورسېدو، داسې ځای ته چې پراخه خټینه چینه ئې مخې ته حائل شوه، داسې ورته معلومېده چې لمر د همدې خټیني چینې په وروستۍ (غربې) ژۍ کې پرېوځي؛ د قرآن له وینا معلومېږي چې د دې چینې شرقي ژۍ خټینه ده، د غرب په امتداد دومره اوږده پرته ده چې آخوا ته ئې هیڅ لوړه نه تر سترګو کېږي، د لمر د پرېوتو پر مهال داسې معلومېږي لکه چې لمر په همدې چینې کې پرېوځي. د قرآن له وینا دا هم معلومېږي چې دا کوم ستر بحر او سمندر نه وو بلکې چینې ته ورته بحیره وه؛ دغو لارښوونو ته په پام سره ویلی شو چې دا فاتح زعیم د یونان کوم پاچا نه شي کېدی، ځکه د یونان په غرب کې داسې بحیره نه تر سترګو کېږي، د کوچنۍ آسیا په غربي ساحل کې پرتې جزیرې او مدیترانه داسې دي چې د قرآن د الفاظو مصداق ګڼل کېدی شي؛ نو د دې فاتح زعیم پلازمېنه به د دې سیمې ختیځ کې پرته وه؛ او دا د خورس په اړه تر سکندر اعظم زیات صدق کوي.




دې فاتح زعیم د دغې چینې خوا ته یو قوم وموند، داسې چې الله

تعالی ده ته هم د دې قوم د تعذيب قدرت او توان ورکړی وو او هم له دوی سره د نېك چلن توان؛ خو ده دا پرېکړه وکړه: چا چي ظلم کړی يا له دې وروسته ظلم وکړي مناسبه سزا ورکوم، بيا به د خپل رب لوري ته درومي او الله تعالی به سخته سزا ورکوي او هغه چي ايمان ئې راوړی او نېك عمل ئې کړی يا له دې وروسته ايمان راوړي او نېك عمل وکړي نو هغه ته به په دنيا او آخرت کې غوره بدله ورکول کېږي او موږ به نه له هغه سره سختي کوو او نه به ئې پر سختو کارونو گمارو.

- له دې وينا په ډېر صراحت سره معلومېږي چي دا يو مؤمن او عادل زعيم وو، د مفتوحه سيمو له هستوگنو سره ئې عادلانه چلن کولو، ظالمانو ته ئې سزا ورکوله، له مؤمنانو او نېکانو سره ئې نېك چلن کاوو، هدف ئې د زمکو لاندي کول او د نورو شتمني لوټل نه وو، د تاريخي شواهدو له مخي سکندر دا مواصفات نه درلودل، سکندر؛ چنگيز ته ورته فاتح وو، له تاريخي شواهدو دا معلومېږي چي خورس تر ډېره حده د همدې مواصفاتو خاوند وو.

ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ ٱلشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلَىٰ قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَل لَّهُم مِّن دُونِهَا سِتْرًا ﴿٩٠﴾ كَذَٰلِكَ وَقَدْ أَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا ﴿٩١﴾ الکهف

بيا (د بل کار لپاره) په اسبابو پسې شو؛ تر هغه چي د لمر ختو حد ته ورسېد؛ هغه ئې داسي ومونده چي پر يوه داسي قوم راخېژي چي له هغه مو هيڅ حجاب او پرده نه ده ورته جوړه کړې؛ همداسي وو؛ او موږ يقيناً په هغه څه د خبرېدو له پلوه احاطه کړې چي له ده سره ول.

دا مبارك آيتونه د دې زعيم بل فاتحانه اقدام څېړي او وايي:

بيا ئې د بل اقدام لپاره تياری ونيو؛ د ختيځ په لور وخوځېدو، داسي سيمي ته ورسېدو چي د هستوگنو او لمر تر منځ نه چت حائل کېدو، نه کېږدۍ او نه جامې، نه ئې خوني او سمڅي درلودې، نه ئې کېږدۍ او نه جامې؛ د حيواناتو په څېر بربنډ ول.

له الفاظو داسي معلومېږي چي دا سيمه هم د کوم بحر په غربي ژۍ کي پرته وه، لمر به له راڅرگندېدو سره سم تر سترگو کېدو او وړانگي به ئې مخامخ او له کومي مانع پرته پر سيمي او هستوگنو ئې لگېدې. داسي معلومېږي چي دا به د هند هغه شرقي سيمه وي چي له بحر سره متصل پرته ده.




دا آيتونه مسلمانانو ته اطمئنان ورکوي چي د ذوالقرنين په اړه د قرآن دا وينا د هغه جامع او کامل علم له مخي ده چي الله تعالی ئې د ده او د ده د امکاناتو او وسائلو په اړه لري.

ثُمَّ أَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ بَيۡنَ ٱلسَّدَّيۡنِ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوۡمٗا لَّا يَكَادُونَ يَفۡقَهُونَ قَوۡلٗا ﴿٩٣﴾ الكهف

بيا (د بل کار لپاره) په اسبابو پسې شو؛ تر هغه چي د دوو غرونو منځ ته ورسېد؛ تر هغوی وړاندي ئې داسي قوم وموند چي دې ته نژدې نه وو چي په کومي وينا وپوهېږي.

دلته د ذوالقرنين بل سفر ته اشاره شوې خو لوری ئې نه دئ په گوته شوی؛ دومره ويل شوي چي د دوو غرونو منځ ته ورسېد؛ د دغو غرونو خوا ته ئې داسي قوم موندلی چي په خبري د پوهېدا وړتيا ئې دومره کمزورې وه چي په هيڅ وينا نه پوهېدو ته نژدې وو. په وروستيو آيتونو

کې داسي اشارې مومو چي په مرسته ئې دا سيمه او ولس ئې پېژندی شو.




قَالُوا۟ يَـٰذَا ٱلْقَرْنَيْنِ إِنَّ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلَىٰٓ أَن تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿٩٤﴾ الکهف

وئې ويل: اې ذوالقرنين! يقيناً چي يأجوج او مأجوج په دې زمکي کې فساد خوروونکي دي؛ آيا کېدی شي چي تا ته څه خراج (ماليه) د دې لپاره درکړو چي زموږ او دوی تر منځ کوم سد او مانع جوړ کړې.

له دې مبارك آيت څو خبري معلومېږي:

- دا سيمه د يأجوج او مأجوج قوم ته نژدې پرته وه. دوی به د دوو غرونو له منځه راتېرېدل او د سيمي پر خلکو به ئې بريدونه کول، فساد او بې امني به ئې خوروله.
- د يأجوج او مأجوج تر بريدونو او گواښونو لاندي خلکو له ذوالقرنين غوښتي چي دا ناو بند کړي او د دې دواړو لوړو غرونو تر منځ داسي سد جوړ کړي چي د دغو بريدونو مخنيوی وکړي.
- دا ئې هم ورته ويلي چي د دې په بدل کې به موږ تا ته ماليه درکوو.

د يأجوج او مأجوج نومونه هم بايد د يهودو په مذهبي کتابونو او

تاريخي اسنادو کې ولټوو؛ څکه دا نومونه د ذوالقرنين د قصې په ارتباط راغلي، د دوی په مذهبي کتابونو کې د دې يادونه شوې، دوی هغه قومونه د يأجوج او مأجوج په نامه ياد کړي چي د آسيا په شمال ختيځي برخو کې مېشت ول، بايبل وايي چي يأجوج او مأجوج د نوح عليه السلام د زوی يافث اولاد او هستوګنځی ئې د آسيا شمال ختيځه سيمه ده، (دې ته مو پام وي چي د قومونو د شجرو په اړه د بايبل وينا او ادعاء خوشې او بې بنسټه ادعاء ده او قرآن ئې ردوي؛ (خو دا د دې مانع نه ګرځي چي وګورو دوی په دې اړه څه وايي) له دې خبري معلومېږي چي د ذوالقرنين دا سفر د شمال په لوري وو، له تاريخي اسنادو دا هم جوتېږي چي د قفقاز په جنوب کې د دربند او داريال په نامه دوه سدونه تر سترګو کېږي چي ويل کېږي د تاتاري، منګولي، هن او سيتهين قومونو د يرغلونو د مخنيوي لپاره جوړ شوي وو. د بندونو موقعيتونه دا دي:




قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيۡرٞ فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ أَجۡعَلۡ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُمۡ رَدۡمًا ﴿٩٥﴾
ءَاتُونِي زُبَرَ ٱلۡحَدِيدِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا سَاوَىٰ بَيۡنَ ٱلصَّدَفَيۡنِ قَالَ ٱنفُخُواْۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَعَلَهُۥ
نَارٗا قَالَ ءَاتُونِيٓ أُفۡرِغۡ عَلَيۡهِ قِطۡرٗا ﴿٩٦﴾ فَمَا ٱسۡطَٰعُوٓاْ أَن يَظۡهَرُوهُ وَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ
لَهُۥ نَقۡبٗا ﴿٩٧﴾ قَالَ هَٰذَا رَحۡمَةٞ مِّن رَّبِّيۖ فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ رَبِّي جَعَلَهُۥ دَكَّآءَۖ وَكَانَ وَعۡدُ

رَبِّي حَقًّا ﴿٩٨﴾ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ ۖ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَجَمَعْنَٰهُمْ جَمْعًا ﴿٩٩﴾ الكهف: ﴿٩٥﴾- ﴿٩٩﴾

وئې ويل: زما رب چې څه زما په واك کې راکړي هغه (ډېر او) غوره دي؛ نو په افرادي قوت سره زما ملتيا وکړئ چې ستاسو او دوی تر منځ بند جوړ کړم، د اوسپني ټوټې راته راوړئ؛ تر دې چې د دواړو لوړو څوکې ئې سره (وصل او برابري کړې)؛ وئې ويل: (اور) پو کړئ؛ تر دې چې هغه ئې اور (ته ورته سرې) وگرځولې؛ وئې ويل: ما ته ويلي شوي زېړ (مس) راوړئ چې پرې تو ئې کړم؛ نو نه په دې توانېدل چې پرې وخېژي او نه ئې په سوري کولو توانېدل. وئې ويل: دا زما د رب له لوري يوه پېرزوينه ده؛ نو کله چې زما د رب وعده راورسي له خاورو سره به ئې برابر کړي؛ او زما د رب وعده رښتينې ده؛ او په دې ورځ به پرېږدو چې ځيني ئې د ځينو نورو ( په ليکو) کې د څپو په څېر ننوځي او په شپېلۍ کې به پو شي نو ټول به يو ځای راغونډ کړو.

د دې مبارکو آيتونو مهمي لارښووني دا دي:

- ذوالقرنين په ځواب کې ورته وويل: ستاسو ماليه نه غواړم، تر دې ماليې هغه څه ډېر غوره دي چې زما رب راکړي، همدا راته کافي دي. او دا ښيي چې د ذوالقرنين فتوحات د يوه سپېڅلي مقصد لپاره وو نه د مفتوحه سيمو او قومونو د غارت او لوټلو لپاره.

- له ما سره د دې کار په بشپړولو او ترسره کولو کې د خپل وس مطابق مرسته وکړئ؛ چې ستاسو او د دوی تر منځ بند جوړ کړم؛ د اوسپني ټوټې او دړي راته راوړئ.

- دا د اوسپني ټوټې او دړي ئې د دواړو غرونو تر منځ داسې سر په سر ودرولې چې د دواړو له څوکو سره برابري شوې.

- بيا ئې د اوسپني خوا ته سکاره کېښودل او اور ئې پرې بل کړ؛

---

خلکو ته ئې وويل چې اوس سکروټو ته د اړوند وسائلو په مرسته پو کړئ؛ تر هغه چې اوسپنه دومره سره شوه چې د اور په څېر شوه؛ نو خلکو ته ئې وويل: ما ته ويلې شوې زېړ (مس) راوړئ چې پرې توی ئې کړم؛ په دې توګه د اوسپنې داسې مضبوط دېوال جوړ شو چې يأجوج او مأجوج نه پرې رااوښتی شو او نه ئې سوری کولی شو.

- په دې وخت کې ذوالقرنين د خپل رب شکر اداء کړ او وئې ويل: دا زما د رب له لورې يوه پېرزوينه ده، الله تعالی موږ ته د دې توفيق راکړ چې دا کار ترسره کړو، دا سد به تر هغه ولاړ وي چې الله تعالی ئې غواړي؛ خو کله چې زما د رب وعده راورسي مات مات او له خاورو سره به ئې برابر کړي؛ او زما د رب وعده رښتينې ده؛ هرومرو ترسره کېږي. دلته د الهي وعدې معنی يا د هغه سد د نسکورېدو نېټه ده او يا هغه نېټه ده چې الله تعالی د هر څه د مرګ او فناء کېدو لپاره ټاکلې.

د الانبياء په سورې کې د يأجوج او مأجوج په اړه داسې راغلي:

وَحَرَٰمٌ عَلَىٰ قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَآ أَنَّهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ﴿٩٥﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ يَأۡجُوجُ وَمَأۡجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٖ يَنسِلُونَ ﴿٩٦﴾ وَٱقۡتَرَبَ ٱلۡوَعۡدُ ٱلۡحَقُّ فَإِذَا هِيَ شَٰخِصَةٌ أَبۡصَٰرُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَٰوَيۡلَنَا قَدۡ كُنَّا فِي غَفۡلَةٖ مِّنۡ هَٰذَا بَلۡ كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٩٧﴾ الانبياء

او پر يوه داسې کلي چې موږ هلاک کړی؛ حرامه ده چې بېرته به نه راګرځي؛ تر هغه چې يأجوج او مأجوج پرانيستل شي او دوی به له هرې لورې راکوزېږي. او هغه رښتينې وعده رانژدې شوې ده؛ نو ناڅاپه به د هغو وګړو سترګې رډې رډې پاته شي چې کفر ئې کړی (وايي به) افسوس زموږ په حال؛ يقيناً چې موږ له دې غافل وو؛ بلکې ظالمان وو.

د دې آيتونو معنی دا ده چې هغه خلك به هم د الله تعالی په لور درومي چې په الهي عذاب اخته او هلاك شوي؛ دوی به هم د قيامت

په ورځ بیا راژوندي کېږي، په دنيايي عذاب ئې اکتفاء نه کېږي، د الله تعالی په لوري نه گرځېدا پرې حرامه ده. دا ثابته او نه بدلېدونکې الهي پرېکړه ده؛ دوی به هغه مهال له نورو سره یو ځای د الله تعالی په وړاندي ودرېږي چي قيامت راشي، د قيامت تر راتلو وړاندي به د يأجوج او مأجوج هغه ستره فتنه راڅرگنده شي چي د فساد او تباهي خورولو لپاره به له هري لوري راکوزېږي. تر هغه به دوی په خپلو قبرونو کي پراته وي چي يأجوج او مأجوج بيا د فساد خورولو مجال تر لاسه کړي، دا لار يو ځل بيا ورته پرانيستل شي، هغه مهال به بيا پر نورو سيمو د دوی يرغل پيل شي، يرغل به ئې داسي وي چي له هري لوري به راکوزېږي او بريدونه به کوي، خو دا به هغه مهال وي چي قيامت به ډېر رانژدې شوی وي او د الله تعالی په وړاندي د دوی ودرېدا به ډېر ژر ترسره شي.

ځينو له دغي فقرې (حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ يَأۡجُوجُ وَمَأۡجُوجُ: تر هغه چي يأجوج او مأجوج پرانيستل شي)؛ دا انتباه اخيستې ده چي ښايي د ذوالقرنين هغه سد به د قيامت تر رانژدې کېدو پوري همداسي روغ پاته وي او د يأجوج او مأجوج د راتېرېدو مخه به نيسي؛ خو هغه مهال به نسکور شي او دوی ته به د تېرېدو او پر نورو د يرغلونو مجال په لاس ورشي. خو دا انگېرنه له يوې خوا د آيت له الفاظو سره اړخ نه لگوي؛ ځکه آيت وايي چي هغه مهال به دوی له هري لوري راکوزېږي؛ يوازي د هغه يوه بند له لوري د راکوزېدو خبره نه کوي؛ بلکي وايي چي هيڅ لوړه او بند به د دوی مخنيوی نه شي کولی. له بلي خوا دا جوته ده چي دلته د دوی د شمېر زياتوالي ته اشاره شوې او د دومره زياتو خلکو مخنيوی په يوه واړه بند؛ هغه هم د يوې وړې سيمي په يوه ناو او خوړ کي؛ نه ممکن دئ او نه ئې عقل مني؛ له بلي خوا دا انگېرنه له الهي سننو سره اړخ نه لگوي؛ قومونه مري، ستر ستر او مضبوط مضبوط بندونه د وخت په تېرېدو سره شړېږي او نسکورېږي، د انسان وسائل

او امکانات وده کوي، يو وخت په اوبو کې تګ، له غرونو اوښتل، په هوا کې الوتل ورته محال وو؛ خو اوس په لويو لويو بحرونو کې اوږده اوږده سفرونه کولی شي، له غرونو او بندونو تېرېدا څه چې له يوې وچې بلې ته د هوا له لارې درومي، فضاء ته سفرونه کوي او پر سپوږمۍ کوزېږي. د قرآن د يوه آيت داسي تعبير چې له واقعيتونو سره اړخ نه لګوي نه يوازي صحيح تعبير نه دئ بلکې د دې ستر او عظيم الشأن الهي کتاب په اړه بې ځايه شکونه راولاړوي. قرآن د هغه الله تعالی کتاب دئ چې دا ټول عالم ئې پيدا کړی او له ټولو اسرارو ئې خبر دئ؛ په دې کتاب کې يوه کلمه داسي نشته چې د واقعيتونو خلاف وي او د انسان عقل ئې نه شي منلی. يأجوج او مأجوج د نورو انسانانو په څېر انسانان دي، ژوند او مرګ لري، د دوی په اړه به همغه څه وايو چې پر بل هر انسان ئې اطلاق کېدی شي، د قرآن له نظره دا يو مفسد قوم وو، په زمکې کې ئې فساد او تباهي خوروله، د دوی خوا ته پراته خلك ترې تنګ ول، تل به ئې پر دوی غلچکي بريدونه کول او بېرته به تښتېدل، دوی ذو القرنين ته شکايت وکړ، هغه د دغو بريدونو د مخنيوي لپاره په يوه ناو کې داسي اوسپنيز بند او سد جوړ کړ چې د هغوی بريدونه ئې تم کړل. دا د هغه مهال يو مؤثر تدبير وو؛ د دې معنی دا نه ده چې همدا سد به تر قيامته د دوی مخنيوی کوي.

د قرآن له وينا معلومېږي چې دا سد د يوه غره په خوړ کې جوړ شوی، د دې غره يوې خوا ته مېشت قوم نسبتاً متمدن قوم وو، ذوالقرنين ته د دوی دا وړانديز چې د بند جوړولو په بدل کې ماليه (خراج) درکوو همدا مفهوم افاده کوي، يأجوج او مأجوج د دې غره په شمال کې اوسېدل، خو وحشي قوم وو، د دې خوړ له لارې راتېرېدل او پر دغو قومونو ئې غلچکي بريدونه کول او له تالان وروسته بېرته تښتېدل، د سد له جوړېدو وروسته د دوی دا غلچکي بريدونه متوقف شوي، له دې وروسته بريد، تالان او بېرته تښتېدا ورته ګرانه شوې، دا رأيه دقيقه نه

ده چي ګواکې دوی ستر ستر بريدونه کول او دا سد د دوی د داسي بريدونو مخنيوی کړی. داسي بند د لويو پلي بريدونو مخه نه شي نيولی، لوی پلی فوځ پر غرونو رااوښتی شي، که د دوی بريدونه ستر ستر وی نو دا نسبتاً متمدن قومونه به هلته نه پاته کېدل او لا دمخه به نورو سيمو ته کډه شوي وو، هغو چي دا رأيه ئې وړاندي کړې ښايي د دې سورې د (۹۹) آيت په اړه ئې دا ګمان کړی وي چي دا د يأجوج او مأجوج په اړه دئ؛ حال دا چي دا آيت د قيامت د ورځي په اړه دئ؛ له (يومئذٍ) مراد د بند د ماتېدو ورځ نه ده؛ دا د قيامت ورځ ده، په دې ورځ به ټول خلك د بحر د څپو په څېر د محشر په لوري درومي، دا ځکه چي په (۱۰۰) آيت کې همدغه د (يومئذٍ) کلمه بيا تکرار شوې او ويل شوي چي په دې ورځ به په صور کې پو شي او دوزخ به کافرانو ته وښودل شي.

د دې احتمال هم شته چي د شمال له لوري د چنګيزيانو هغه ستر ستر او ورانوونکي بريدونه د همدې آيت مصداق وي چي له چين پيل او تر مديټرانې او هند پوري وغځېدل؛ په دې ټولې پراخي سيمي کې ئې دومره ويني توی کړې، دومره انسانان ئې ووژل او دومره ښارونه ئې وسوزول چي په بشري تاريخ کې ئې نظير نه مومو. اسلامي خلافت ئې نسکور کړ، په بلخ او بغداد کې ئې دومره تباهي وکړه چي جبران ئې محال وو. ښايي د الانبياء سورې په ۹۵- ۹۶ آيتونو کې دغه حالت ته اشاره شوې وي او دا د قرآن يوه دقيقه وړاندوينه وي چي ترسره شوه؛ او ښايي دا وړاندوينه به تر قيامت وړاندي ترسره شي؛ هغه مهال به دا قوم يو ځل بيا په همداسي ستر شرارت لاس پوري کړي.

وَحَرَامٌ عَلَى قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا أَنَّهُمْ لا يَرْجِعُونَ ﴿٩٥﴾ حَتَّى إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُمْ مِنْ كُلِّ حَدَبٍ يَنْسِلُونَ ﴿٩٦﴾ الأنبياء

دا مطلب هم په يادولو ارزي چي ولې د ذوالقرنين د سفرونو په لړ کې د جنوب يادونه نه ده شوې؟ ما ته داسي معلومېږي چي د ذوالقرنين

د پلازمېني په جنوب کې بل هېواد نه وو، د ده هېواد په جنوب کې له سمندر سره نښتی وو او له دې معلومېږي چې پلازمېنه به ئې په خراسان کې وه او هېواد به ئې په جنوب کې تر سمندر پوري غځېدلی وو.

راشئ وګورو چې په رواياتو کې د يأجوج و مأجوج په اړه څه راغلي:

د بخاري په دولسو رواياتو کې د دوی يادونه شوې، په يوه روايت کې دا هم راغلي چې يوه سړي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وويل: ما د يأجوج او مأجوج سد وليد، د سد مواصفات ئې ورته بيان کړل، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: هغه دې (په خپلو سترګو) وليد؟ که دا روايت صحيح وي نو څو خبري ترې معلومېږي: ۱- د رسول الله صلى الله عليه و سلم تر زمانې دا سد په مکمله توګه موجود وو يا ئې ځيني برخي موجودي وې، ۲- دا کوم خارق العاده سد نه وو، لکه هغسي چې ځيني ګمان کوي، ۳- له عربو ډېر لري پروت نه دئ بلکې دومره نژدې دئ چې يو کس توانېدلی هلته ولاړ شي او په خپلو سترګو ئې وګوري.

همدا راز آثارو کې راغلي چې د عمر رضي الله عنه په خلافت کې او په ۲۲ هجري قمري کال؛ د آذربايجان له فتحي وروسته؛ عبد الرحمن بن ربيعة د سيمي امير يو څوك د دې سد د ليدو لپاره لېږلی وو؛ هغه دا بند ليدلی وو او عمر رضي الله عنه ته ئې په اړه معلومات ورکړی وو.

همدا راز عباسي خليفة هارون الواثق چې له ۲۲۷ تر ۲۳۲ هجري قمري پوري خليفه وو؛ يو کس ئې د سلام ترجمان په نامه له ۵۰ تنو سره موظف کړ چې ولاړ شي او دا بند وګوري؛ ولاړل او بند ئې له نژدې وليدو او تفصيلي راپور ئې خليفه ته وړاندي کړ؛ ويلي وو چې عرض ئې نژدې ۲۰۰ ذراع (تقريباً ۱۲۰ متره) وو.

د بخاري يو روايت دا دئ:

۷۱۳۵ - عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ رضى الله عنها أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم دَخَلَ

عَلَيْهَا فَزِعًا يَقُولُ « لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ ». وَحَلَّقَ بِإِصْبَعِهِ الإِبْهَامِ وَالَّتِي تَلِيهَا. قَالَتْ زَيْنَبُ ابْنَةُ جَحْشٍ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ قَالَ « نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخُبْثُ ».

له زينب بنت جحش رضي الله عنها روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم زموږ ځاى ته په داسي حال کي راننوت چي وېري اخيستى وو؛ وئې ويل: لا إله إلا الله؛ افسوس د عربو په حال له هغه شر چي يقيناً رانژدې شوى؛ نن د يأجوج او مأجوج په بند کي دومره سورى جوړ شو؛ بټه گوته او ورپسې ئې سره وصل کړې؛ زينب وايي: ما ورته وويل: يا رسول الله! آيا په داسي حال کي به هم هلاك کېږو چي په موږ کي صالحان وي؟ وئې فرمايل: هو؛ کله چي پليتي (پليتان) زيات شي.

دا روايت چي په بخاري کي درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: ۳۵۹۸، ۷۰۵۹، ۷۱۳۵، د سند له مخي مطلق غريب دئ او په دريو طبقو کي يو يو راوي لري. د متن له پلوه په خپلو منځونو کي څو توپيرونه لري: په يوه کي راغلي: أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم دَخَلَ عَلَيْهَا فَزِعًا په بل کي د دې خلاف راغلي اسْتَيْقَظَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم مِنَ النَّوْمِ مُحْمَرًّا وَجْهُهُ په يوه کي وَحَلَّقَ بِإِصْبَعِهِ وَبِالَّتِى تَلِيهَا په بل کي وَحَلَّقَ بِإِصْبَعَيْهِ الإِبْهَامِ وَالَّتِى تَلِيهَا او په بل کي وَعَقَدَ تِسْعِينَ. يو روايت وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم له خوبه راويښ شو، مخ ئې سور اوښتى وو او وئې ويل: لا إله إلا الله؛ افسوس د عربو په حال له هغه شر چي يقيناً رانژدې شوى؛ نن د يأجوج او مأجوج په بند کي دومره سورى جوړ شو؛ بټه گوته او ورپسې ئې سره وصل کړې؛ بل ئې وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي زموږ ځاى ته راننوت چي وېري اخيستى وو او همدا خبره ئې وکړه خو په پاى کي د ابهام گوتي يادونه نه کوي او وايي يوه او ورپسې گوته ئې سره وصل کړې. په يوه بل روايت کي د دې ټولو خلاف ويل شوي: « يُفْتَحُ الرَّدْمُ

رَدْمُ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلَ هَذِهِ». وَعَقَدَ وُهَيْبٌ تِسْعِينَ، دلته د فتحت پر ځای يفتح راغلي چي له مخکيني سره جدي تعارض لري او ښيي چي دا سد به له دې وروسته سوری شي. او په بل کي داسي راغلي « فَتَحَ اللهُ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلَ هَذَا ». وَعَقَدَ بِيَدِهِ تِسْعِينَ.

که سره له دې ټولو تعارضاتو دا روايت صحيح وګڼو چي په سد کي سوری راپیدا شوی نو د دې معنی همغه ده چي ځينو درنو شارحينو کړې او دا ئې د دې فتنې د قرب او نژدېوالي په معنی اخيستې؛ نه په حقيقي معنی او په سد کي د سوري په معنی.

د بخاري بل روايت دا دئ:

عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ رضى الله عنه عَنِ النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « لَيُحَجَّنَّ الْبَيْتُ وَلَيُعْتَمَرَنَّ بَعْدَ خُرُوجِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ ». تَابَعَهُ أَبَانُ وَعِمْرَانُ عَنْ قَتَادَةَ. وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ عَنْ شُعْبَةَ قَالَ « لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لَا يُحَجَّ الْبَيْتُ ». وَالأَوَّلُ أَكْثَرُ سَمِعَ قَتَادَةُ عَبْدَ اللهِ وَعَبْدُ اللهِ أَبَا سَعِيدٍ.

له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: د يأجوج او مأجوج له راوتلو وروسته به هم حج او عمره اداء کېږي. په بل روايت کي دا پرې اضافه شوي چي قيامت تر هغه نه راځي چي د بيت الله حج کول بند شي.

د بخاري څلور نور روايات داسي دي چي د مؤمنانو په پرتله د يأجوج او مأجوج شمېر داسي ښيي لکه يو په زرو کي؛ دا روايات هم د سند له مخي مطلق غريب دي؛ په دريو طبقو کي يو يو راوي لري او په څلورمي کي دوه.

د ذوالقرنين د قصې په پای کي د ده داسي خبري راوړل شوې چي د ده دا قصه او ټوله سوره د هغوی پر محور څرخي؛ او په دې سره قريشو

ته ویل شوي: ستاسو مغرور مشران په خپلي داسي مشرۍ او زور ځواك مغرور شوي چي د ذوالقرنين د پراخ ملك په پرتله د يوه واړه كلي ملكانو ته ورته دي، هغه پر خدای او آخرت ايمان درلود، د مظلومانو مرسته ئې كوله، د نېكانو مل او ملاتړی وو، شرق، غرب او شمال ته له داسي سترو سترو فوځونو سره ولاړ چي هيڅوك ئې مخي ته نشو تم كېدی، پرديو قومونو ته ئې له بدل او اجورې پرته لوی لوی كارونه كول، خو د قريشو دا مغرور مشران بتان لمانځي، آخرت نه مني، د الله تعالی پر آيتونو ملنډي وهي، د الله پر پيغمبر استهزاء كوي، د خپل قوم پر مظلومو او بې وزلو مؤمنانو ظلمونه كوي، عملونه ئې گنده، په فساد كي تر ستوني غرق، ټول هم او غم ئې دا چي بې وزلي او مظلومان ولوټي، وېره ئې له دې چي دې ذليل او قليل اقتدار ته ئې گواښ متوجه نه شي!!

د دې بحث په ترڅ كي به تاسو ته واضح شوې وي چي يأجوج او مأجوج د انسانانو د يوه قوم نوم دئ، وحشي قوم وو، په غرونو كي اوسېدل، كوم ښار او مركزي حكومت ئې نه درلود، كه نه نو ذوالقرنين به حتماً هغه فتح كړی وو، پر نورو قومونو ئې غلچكي بريدونه كول، د يوه سد له امله ئې دا غلچكي بريدونه متوقف شول؛ اوس كه تاسو داسي وينا، رأيه او روايت واورئ چي وايي: دا كوم ځانگړی مخلوق وو، له نورو انسانانو سره ئې ډېر ژور توپيرونه ول، دومره ستر ستر او پلن پلن غوږونه ئې ول چي يو به توشك او نيالۍ شو او بل بړستن؛ نو ستا قضاوت به د دې وينا په وړاندي يا دا وي چي دا خبره په بشپړه توگه غلطه، بې بنسټه او د قرآن خلاف ده او يا دا چي ووايې: د يوه غوږ توشك او بل غوږ بړستن معنی دا نه ده چي پلن پلن غوږونه ئې ول بلكي معنی ئې دا ده چي نه ئې توشك وو او نه بړستن، پر زمكه به داسي پرېوتل چي نه به ترې لاندي له خپل غوږ پرته بل څه وو او نه ئې له پاسه له خپل غوږ پرته كوم څادر او بړستن.

د دې قصې په پای كي د يوې داسي ښكلې او جامع تتمې شاهد يو

چي دغه مطالب په کي ځليږي؛ الله تعالی فرمايي: هغه ورځ راتلونکې ده چي خلك به له قبرونو راپاڅوو، ټول به د محشر په لوري داسي روان وي چي ځيني به د ځينو نورو په ليکو کي د ځپو په ځېر ننوځي، په شپېلۍ کي به پو شي نو ټول به يو ځای راغونډ کړو. په همدې سره د ذوالقرنين دا روزونکې او لاربنوونکې ښکلې قصه پای ته رسوي او ورپسې د قيامت په ورځ د کافرانو حال بيانوي.

## ۲۹ باب: د کعبې ورانېدل

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ: «كَأَنِّي بِهِ أَسْوَدَ أَفْحَجَ، يَقْلَعُهَا حَجَرًا حَجَرًا». (بخاری: ۱۵۹۵)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (لکه چي زه همدا اوس يو توربخون، ارت لينگی (هغه چي دواړه لينگي ئې يو له بل لري وي) گورم چي (کعبه ورانوي) او يوه يوه تيږه ئې راباسي).

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ مطلق غريب دئ؛ په ۵ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: عَمْرو بْن عَلِي، يَحْيَى بْن سَعِيد، عُبَيْد اللَّهِ بْن الأَخْنَس، ابْن أَبِي مُلَيْكَةَ او ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛ له بخاري او مسند احمد پرته په بل هيڅ معروف کتاب کي نه دئ راغلی.

د دې روايت په اړه دوه يادوني ضروري برېښي: ۱- په روايت کي د کعبې نوم نه دئ اخيستل شوی؛ ۲- له فحوی ئې داسي معلومېږي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د کعبې ورانېدا او ورانوونکی ئې په خوب کي ليدلي.

## ۳۰ باب: الحجر الأسود

عَنْ عُمَرَ رضى الله عنه: أَنَّهُ جَاءَ إِلَى الْحَجَرِ الأَسْوَدِ فَقَبَّلَهُ، فَقَالَ: إِنِّي أَعْلَمُ أَنَّكَ حَجَرٌ، لا تَضُرُّ وَلا تَنْفَعُ، وَلَوْلا أَنِّي رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يُقَبِّلُكَ مَا

قَبَّلْتُكَ. (بخاری: ۱۵۹۷)

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي عمر رضي الله عنه حجر اسود ته راغی او ښکول (کوښل) ئې کړه؛ بیا ئې وويل: زه پوهېږم چي ته تيږه يې؛ نه زيان رسولی شې او نه ګټه؛ که رسول الله صلی الله عليه و سلم مي نه وی ليدلی چي تا ښکولوي؛ نو هيڅکله به مي نه وې ښکول کړې.

دا ډېره مهمه موضوع ده؛ د بيان لپاره ئې د عمر رضي الله عنه په څېر د مضبوط او قوي ايمان او د پراخي پوهي او درايت خاوند ته ضرورت وو؛ کعبه ټوله د دې زمکي له ډبرو جوړه شوې؛ د ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام په لاسونو ئې بنسټ ايښودل شوی؛ په وار وار ورانه شوې او بيا رغول شوې؛ نه ئې دا حيثيت کموي چي د زمکي له ډبرو جوړه شوې او نه دا چي د سيلابونو، طوفانونو، جګړو په ترڅ کي او د اشرارو او د دښمنانو په لاس ورته صدمه رسېدلې؛ همدا چي د الله تعالی په إذن او امر او د يوه ستر پيغمبر او د تاريخ ستر موحد او بت ماتوونکي په لاس او د دې لپاره جوړه شوې چي موږ د قصرونو او قبرونو له طواف او ښکولولو مستغني کړي او انسانانو ته وښيي چي ستاسو طواف به يوازي د الله تعالی د کور طواف وي؛ نه له الله تعالی پرته د بل کور، قصر او يا د کوم مړي قبر؛ همدغه ورته سپېڅلتيا او ارزښت ورکړی؛ حجر الاسود چي د کعبې جزء او يوه ډېره ده او د دې لپاره د کعبې په يوې ګوټ ژۍ او د انسان د قد په اندازه له زمکي لوړه نصب شوې؛ حاجيان له همدې ځای خپل طواف پيلوي، لاس پرې ږدي او ښکولوي ئې؛ له دې احساس سره چي الله تعالی ته د اطاعت او بيعت لاس ورکوي.

په دې روايت کي دوه اساسي خبري مومو: ۱- عمر رضي الله عنه ځکه حجر الأسود ښکول کړې چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ئې همداسي ليدلی؛ ۲- د حجر الأسود د نورو تيږو په څېر يوه تيږه ګڼي؛ چي نه ذاتاً چا ته ضرر رسولی شي او نه ګټه؛ لکه چي بيت الله يوه

استعاره ده؛ د مجاز په توګه کارول شوې؛ الله تعالی له ډېر ډېر لوړ دئ چي د ځمکي پر سر او له ډېرو جوړه شوې وړه خونه ئې کور او د اوسېدو مکان وي؛ الله تعالی نه د زمان تابع دئ او نه په مکان محدود؛ مکان او زمان د مخلوق ځانګړتیا ده او الله تعالی په هیڅ څه کي مخلوق ته ورته نه دئ؛ نه ئې بیت الله مکان دئ او نه عرش؛ حجر الأسود او پر هغې لاس ایښودل او ښکولول ئې همداسي استعاره ده؛ د بیعت او اطاعت تمثیلولو لپاره؛ پر حجر الأسود لاس ایښودل داسي دي لکه له الله تعالی سره مصافحه او بیعت؛ لاندي روايات چي ګڼ شمېر کتابونو راوړي؛ همدا مطلب افاده کوي:

... قد ذُكرت علتان فى تقبيل الحجر ولمسه: إحداهما: أنّه قد رُوى فى الحديث: "الحجرُ الأسودُ يمينُ اللّهِ فى الأرض". وكان ذلك فى ضرب المثل كمصافحة الملوك للبيعة، وتقبيل المملوك يد المالك. ثمّ روى بسنده عن ابن عبّاس - رضى اللّه عنهما-: أنّه قال: الحجرُ الأسودُ يمينُ اللّه فى الأرض، فمن لم يدركْ بيعةً رسولِ اللّه، فمسحَ الحجرَ، فقد بايعَ اللّهَ ورسولَه.

وروى عن ابن عبّاس فى لفظ آخر، قال: الرُّكْنُ الأسودُ يمينُ اللّه يصافحُ بها عباده، كما يصافح أحدُكم أخاه. كشف اللثام شرح عمدة الأحكام، تحفة الأحوذى، فتح القدير

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: " الْحَجَرُ يَمِينُ اللهِ فِي الْأَرْضِ، فَمَنْ لَمْ يُدْرِكْ بَيْعَةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ اسْتَلَمَ الْحَجَرَ فَقَدْ بَايَعَ اللهَ وَرَسُولَهُ

عن ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَقُولُ: " هَذَا الرُّكْنُ يَمِينُ اللهِ فِي الْأَرْضِ، يُصَافِحُ بِهِ عِبَادَهُ مُصَافَحَةَ الرَّجُلِ أَخَاهُ " اخبار مكه للفاكهى

وَرُوِيَ فِي بَعْضِ الْحَدِيثِ «أَنَّ الْحَجَرَ يَمِينُ اللَّهِ فِي الْأَرْضِ»، وَالْمَعْنَى: أَنَّ مَنْ صَافَحَهُ

فِي الْأَرْضِ، كَانَ لَهُ عِنْدَ اللَّهِ عَهْدٌ، فَكَانَ كَالْعَهْدِ تَعْقِدُهُ الْمُلُوكُ بِالْمُصَافَحَةِ لِمَنْ يُرِيدُ مُوَالاتَهُ، وَكَمَا يُصْفَقُ عَلَى أَيْدِى الْمُلُوكِ لِلْبَيْعَةِ. شرح السنة للبغوى

عن ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ: «الرُّكْنُ - يَعْنِي الْحَجَرَ - يَمِينُ اللَّهِ فِي الْأَرْضِ يُصَافِحُ بِهَا خَلْقَهُ مُصَافَحَةَ الرَّجُلِ أَخَاهُ، يَشْهَدُ لِمَنِ اسْتَلَمَهُ بِالْبِرِّ وِالْوَفَاءِ، وَالَّذِى نَفْسُ ابْنِ عَبَّاسٍ بِيَدِهِ، مَا حَاذَى بِهِ عَبْدٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللَّهَ تَعَالَى خَيْرًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ» مصنف عبدالرزاق الصنعانى

د دغو رواياتو خلاصه دا ده: حجر الاسود او پر هغه لاس ايښودل او ښکولول ئې داسي دي لکه چي څوك الله تعالى ته د بيعت لاس ورکړي او د هغه لاس ښکول کړي.

## ۳۱ باب: کعبې ته نه داخلېدل

عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى رضى الله عنه قَالَ: اعْتَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فَطَافَ بِالْبَيْتِ، وَصَلَّى خَلْفَ الْمَقَامِ رَكْعَتَيْنِ، وَمَعَهُ مَنْ يَسْتُرُهُ مِنَ النَّاسِ، فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: أَدَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم الْكَعْبَةَ؟ قَالَ: لا. (بخارى:۱٦۰۰)

له عبدالله بن ابي اوفى رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم عمره کوله، د بيت الله طواف ئې وکړ او د مقام ابراهيم شا ته ئې په داسي حال کي دوه رکعته لمونځ وکړ چي ملګرو ئې د خلکو له ازدحام ساتلو؛ چا له راوي (عبدالله) پوښتنه وکړه: آيا رسول الله کعبې ته ننوت؟ هغه ورته وويل: نه.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ۱۱ ځلي په دغو شمېرو راغلى: ۳۹۵ - ۱۵٤۵ - ۱٦۰۰ - ۱٦۲۳ - ۱٦۲۷ - ۱٦٤۵ - ۱٦٤۷ - ۱٦۹۱ - ۱۷۰۸ - ۱۷٦۲ - ۱۷۹۳ -

توپير: په هيڅ روايت کي دا نه دي راغلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم کعبې ته داخل شو؛ د ټولو ګډ مطلب دا دئ چي اوه ځله

ئې د کعبې طواف وکړ، بيا ئې مقام ابراهيم کې دوه رکعته لمونځ وکړ او بيا ئې اوه ځلي د صفا او مروه تر منځ سعي وکړه؛ په ځينو کې دا هم ويل شوي چې تر دې وروسته له احرام نه دئ وتلی او دا ځکه چې د حج نيت ئې کړی وو او هدي (د قربانۍ هغه څاروی چې په غاړکۍ سره په نښه کېږي) ورسره وو؛ په ځينو کې د قرآن دا آيت (لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ) راوړل شوی؛ د دې لپاره چې وښيي په حج کې به همغه څه کوو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم کړي.

باب او ترې لاندي راوړل شوی روايت به په هغه صورت کې مطابقت درلود چې د عمرې يا حج يادونه هم شوې وی؛ دا ځکه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د مکې له فتحي وروسته؛ کعبې ته داخل شوی، بتان ئې نسکور کړي؛ خو باب کعبې ته د نه داخلېدو خبره کوي؛ او ترې لاندي هغه روايت راغلی چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په عمرې کې کعبې ته نه دئ داخل شوی. د عمرې عدم ذکر التباس رامنځته کړی.

## ۳۲ باب: د کعبې په منځ کې تکبير

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم لَمَّا قَدِمَ أَبَى أَنْ يَدْخُلَ الْبَيْتَ، وَفِيهِ الآلِهَةُ، فَأَمَرَ بِهَا فَأُخْرِجَتْ، فَأَخْرَجُوا صُورَةَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ فِي أَيْدِيهِمَا الأَزْلاَمُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: «قَاتَلَهُمُ اللَّهُ، أَمَا وَاللَّهِ لَقَدْ عَلِمُوا أَنَّهُمَا لَمْ يَسْتَقْسِمَا بِهَا قَطُّ». فَدَخَلَ الْبَيْتَ، فَكَبَّرَ فِي نَوَاحِيهِ وَلَمْ يُصَلِّ فِيهِ». (بخاری:۱۶۰۱)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم چې کله مکې ته ورسېد؛ نو په کعبه کې د بتانو د شتون له امله ئې کعبې ته له داخلېدو ډډه وکړه؛ د هغوی په اړه ئې امر وکړ؛ نو وايستل شول؛ د ابراهيم او اسماعيل (عليهما السلام) عکسونه ئې هم وايستل؛ په داسي حال کې چې د دواړو په لاسونو کې د فال غشي وو؛

رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (الله تعالى دي (مشركين) هلاك كړي؛ قسم په خداى چي دوى يقيناً په دې پوهېدل چي (ابراهيم او اسماعيل عليهما السلام) هيڅكله په غشو فال نه دئ نيولى)؛ ورپسې بيت الله ته داخل شو، په ټولو خواوو كي ئې تكبير ووايو؛ خو لمونځ ئې په كي ونه كړ.

## ٣٣ باب: د طواف په وخت كي د رمل مشروعيت

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ، فَقَالَ المُشْرِكُونَ: إِنَّهُ يَقْدَمُ عَلَيْكُمْ وَقَدْ وَهَنَهُمْ حُمَّى يَثْرِبَ، فَأَمَرَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «أَنْ يَرْمُلُوا الأَشْوَاطَ الثَّلاَثَةَ، وَأَنْ يَمْشُوا مَا بَيْنَ الرُّكْنَيْنِ، وَلَمْ يَمْنَعْهُ أَنْ يَأْمُرَهُمْ أَنْ يَرْمُلُوا الأَشْوَاطَ كُلَّهَا إِلَّا الإِبْقَاءُ عَلَيْهِمْ» (بخارى: ١٦٠٢)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: كله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم او اصحاب ئې مكې ته ورسېدل؛ نو مشركينو وويل: دوى (مسلمانان) به په داسي حال كي تاسو ته راځي چي د مدينې تبو به ښه سست كړي وي؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم؛ (اصحابو) ته امر وكړ چي د طواف په دريو لومړيو دورو كي رمل وكړي (د پهلوانانو په شان؛ لنډ لنډ او تېز تېز ګامونه واخلي او اوږې وخوځوي)؛ خو د دوو ركنونو (ركن يماني او ركن حجر الأسود) تر منځ دي په كراره درومي. په ټولو دورو كي ئې د رمل امر؛ پر دوى د مهربانۍ له مخي ونه كړ (نه ئې غوښتل هغوى په تكليف شي).

تكرار: دا روايت په بخاري كي ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلى: ١٦٠٢ - ٤٢٥٦

توپير: په دوى كي يوازي يو توپير ليدل كېږي او هغه دا چي په ٤٢٥٦ روايت كي دا مطالب اضافي راغلي: لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَامِهِ الَّذِي اسْتَأْمَنَ، قَالَ: «ارْمُلُوا» لِيَرَى المُشْرِكُونَ قُوَّتَهُمْ، وَالمُشْرِكُونَ مِنْ

قِبَلِ قُعَيْقِعَانَ: کله چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په هغه کال عمرې ته راغی چې قریشو د حدیبیې معاهدې له مخې هغه ته د امن ډاډ ورکړی وو؛ وئې فرمایل: رمل او هروله وکړئ چې مشرکین ستاسو قوت وګوري؛ او مشرکین د قُعَيْقِعَانَ د لوړې له لوري پر دوی بر او مُشْرِف او د هغوی تر نظر لاندې وو.

## ۳٤ باب: مکې ته په رسېدو سره د حجر اسود استلام

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضی الله عنهما قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلی الله علیه و سلم حِينَ يَقْدَمُ مَكَّةَ، إِذَا اسْتَلَمَ الرُّكْنَ الأَسْوَدَ؛ اولَ مَا يَطُوفُ يَخُبُّ ثَلاثَةَ أَطْوَافٍ مِنَ السَّبْعِ. (بخاری: ۱۶۰۳)

له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم مې هغه مهال ولیدو چې مکې ته داخلېدو؛ د طواف په پیل کې ئې حجر اسود ښکول کړ؛ او د طواف له اوو دورو ئې په دریو لومړنیو دورو کې رمل کولو (ګړندی تلو).

## ۳۵ باب: په حج او عمره کې رمل

عَنْ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضی الله عنه: أَنَّهُ قَالَ: فَمَا لَنَا وَلِلرَّمَلِ، إِنَّمَا كُنَّا رَاءَيْنَا بِهِ الْمُشْرِكِينَ، وَقَدْ أَهْلَكَهُمُ اللَّهُ ثُمَّ قَالَ: شَيْءٌ صَنَعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلا نُحِبُّ أَنْ نَتْرُكَهُ. (بخاری: ۱۶۰۵)

له عمر رضي الله عنه روایت دئ چې وئې ویل: زموږ ئې له رمل سره څه؟ په دې سره خو مو هغه مهال خپل ځان مشرکینو ته ښودو؛ په داسې حال کې چې الله تعالی هغوی هلاك کړل؛ بیا ئې وویل: دا هغه څه دي چې نبي صلی الله علیه و سلم کړي؛ دا مو نه خوښېږي چې هغه پرېږدو.

د روایت له لومړۍ برخې داسې معلومېږي لکه چې عمر رضي الله

عنه په طواف کې (رمل) سره تګ؛ د خاصو شرائطو اړوند کار او د ده د خلافت په وخت کې ئې ضرورت منتفي ګڼلی؛ خو د روايت وروستۍ برخه داسې ښيي چې دا (رمل) د رسول الله صلی الله عليه و سلم سنت دئ چې هيڅکله به ئې نه پرېږدو؛ له دې معلومېږي چې د روايت په انتقال کې له کوم راوي څه خلط شوي يا پاته شوي. همدا مطلب په بل روايت کې په دې بڼه راغلی:

عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: (رَأَيْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ - رضی الله عنه- جَاءَ إِلَى الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ فَقَبَّلَهُ، فَقَالَ: إِنِّي أَعْلَمُ أَنَّكَ حَجَرٌ لَا تَضُرُّ وَلَا تَنْفَعُ، وَلَوْلَا أَنِّي رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُقَبِّلُكَ مَا قَبَّلْتُكَ؛ ثُمَّ قَالَ: فَمَا لَنَا وَلِلرَّمَلِ الْيَوْمَ وَالْكَشْفِ عَنْ الْمَنَاكِبِ؟ إِنَّمَا كُنَّا رَاءَيْنَا بِهِ الْمُشْرِكِينَ، وَقَدْ أَهْلَكَهُمْ اللهُ، ثُمَّ قَالَ: مَعَ ذَلِكَ شَيْءٌ صَنَعَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَلَا نُحِبُّ أَنْ نَتْرُكَهُ).

الجامع الصحيح للسنن و المسانيد

زيد بن اسلم له خپل پلار روايت کوي چې وايي: عمر رضي الله عنه مې وليدو چې حجر الاسود ته راغی؛ ښکول ئې کړه او وئې ويل: ته يوه ډبره يې؛ نه تاوان رسولی شې او نه ګټه؛ که مې رسول الله صلی الله عليه و سلم نه وی ليدلی چې ښکلوي دې؛ ما به نه وې ښکل کړې؛ بيا ئې وويل: زموږ ئې نن له رمل او د اوږو له لوڅولو سره څه؟ په دې سره خو مو هغه مهال خپل ځان مشرکينو ته ښودو؛ په داسې حال کې چې الله تعالی هغوی هلاك کړل؛ بيا ئې وويل: خو سره له دې دا هغه څه دي چې نبي صلی الله عليه و سلم کړي؛ دا مو نه خوښېږي چې هغه پرېږدو.

لکه چې ګورئ په دې روايت کې د رمل تر څنګ د اوږو لوڅول هم راغلي او تر (شَيْءٌ صَنَعَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ) وړاندې دا هم راغلي (مَعَ ذَلِكَ)؛

عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: مَا تَرَكْتُ اسْتِلامَ هَذَيْنِ الرُّكْنَيْنِ فِى شِدَّةٍ وَلا رَخَاءٍ مُنْذُ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُهُمَا. (بخارى: ۱۶۰۶)

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: له هغي ورځي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم مي ليدلى چي په دې دواړو رکنونو (يماني او حجر الاسود رکنونه) لاس راکاږي؛ ما نه په سخت حالت کي د دې دوو رکنونو استلام پرېښى او نه په آرام او له ازدحام پرته حالت کي.

## ۳۶ باب: په لکړه د حجر اسود لمس کول

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: طَافَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِى حَجَّةِ الْوَدَاعِ عَلَى بَعِيرٍ، يَسْتَلِمُ الرُّكْنَ بِمِحْجَنٍ. (بخارى: ۱۶۰۷)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په حجه الوداع کي په داسي حال کي طواف کاوو چي پر اوښه سپور وو او د حجر الاسود استلام ئې په خپلي لکړي سره کاوو (د لاس په ځاى ئې خپله لکړه پرې راکاږله).

## ۳۷ باب: د حجر اسود ښکولول

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنه: أَنَّهُ سَأَلَه رَجُلٌ عَنِ اسْتِلامِ الْحَجَرِ، فَقَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ. فَقَالَ الرجل: أَرَأَيْتَ إِنْ زُحِمْتُ، أَرَأَيْتَ إِنْ غُلِبْتُ؟ قَالَ: اجْعَلْ أَرَأَيْتَ بِالْيَمَنِ، رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ. (بخارى: ۱۶۱۱)

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي يوه سړي د حجر اسود د استلام (لاس راکښلو) په اړه پوښتنه وکړه؛ ورته وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم مي ليدلى چي لاس ئې پرې راکښلى او ښکول کړې ئې ده؛ هغه سړي وويل: که په زحمت کېدم او که نه توانېدم؛ رأى دي څه ده؟ ابن عمر رضي الله عنهما وويل: دا د (أَرَأَيْتَ) خبره دي په يمن

کي پرېږده؛ ما رسول صلى الله عليه و سلم ليدلی چي حجر اسود ئې استلام او ښکولوله.

## ۳۸ باب: مکي ته له رسېدو سره سم طواف

عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها: أَنَّ أَوَّلَ شَيْءٍ بَدَأَ بِهِ حِينَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ تَوَضَّأَ، ثُمَّ طَافَ، ثُمَّ لَمْ تَكُنْ عُمْرَةً، ثُمَّ حَجَّ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ رضى الله عنه مِثْلَهُ. (بخارى: ١٦١٤)

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي مکې ته له رسېدو وروسته د رسول الله صلى الله عليه و سلم لومړنی کار دا وو چي اودس ئې وکړ، بيا ئې طواف وکړ، بيا عمره نه وه، بيا وروسته ابو بکر او عمر رضي الله عنهما حج همداسي کړی.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٦١٤ - ١٦٤١

توپير: په يوه کي عُرْوَةَ وايي: عَائِشَې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا راته وويل: مکې ته له رسېدو وروسته د رسول الله صلى الله عليه و سلم لومړنی کار دا وو چي اودس ئې وکړ، بيا ئې طواف وکړ، بيا عمره نه وه، أَبُو بَكْرٍ او عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا همداسي کړي، بيا عروه وايي: له خپل پلار سره مي حج کړی؛ لومړی کار ئې طواف وو؛ بيا مي مهاجرين او انصار ليدلي چي همداسي ئې کول؛ او مور مي راته ويلې: دې او خور ئې او زبير او فلاني فلاني د عمرې نيت کړی وو؛ کله چي له طواف فارغ شوي نو له احرام وتلي. په بل کي عُرْوَةَ وايي: عَائِشَې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا راته وويل: مکې ته له رسېدو وروسته د رسول الله صلى الله عليه و سلم لومړنی کار دا وو چي اودس ئې وکړ، بيا ئې طواف وکړ بيا عمره نه وه؛ عمر، عثمان، معاويه، عبد الله بن عمر رضي الله عنهم، همداسي وکړل، عروه وايي: بيا مي له خپل پلار زبير بن عوام سره حج وکړ، همداسي ئې وکړل، مهاجرين او انصار مي ليدلي چي همداسي ئې کول، آخري کس چي مي ليدلی او

همداسي ئې کړي عبد الله بن عمر دئ؛ د ټولو لومړی کار طواف وو؛ بيا د حج تر پای له احرام نه دي وتلي؛ مور او خاله مي وليدلې چي لومړی کار ئې طواف وو، بيا د حج تر پای له احرام نه دي وتلې.

د بخاري له دې رواياتو داسي معلومېږي لکه چي هيڅوا د حج تر څنگ عمره نه وي کړې؛ نه رسول الله صلی الله عليه و سلم؛ نه ابو بکر، عمر، عثمان، معاويه، عبد الله بن عمر، عروه، پلار ئې زبير بن عوام او نه مهاجرين او انصار!! خو دا هم د قرآن له څرگند آيت سره اړخ نه لگوي او هم له رواياتو سره؛ قرآن د حج تر څنگ عمره جائز گڼلې او رسول الله صلی الله عليه و سلم خپلو يارانو ته ويلي چي عمره وکړئ، له احرام ووځئ او بيا د حج لپاره احرام وتړئ.

بايد د دې رواياتو تر څنگ ويل شوي وی چي معنی ئې دا نه ده چي عمره کول جائز نه دي؛ بلکي معنی ئې دا ده چي د حج او عمرې بېل بېل اداء کول افضل دي؛ هغه چي عائشه رضي الله عنها او عروه رضي الله عنه ئې يادونه کړې؛ مراد ئې دا دئ چي دوی افضل کار غوره کړی.

عَن ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا: حَدِيْثُ طَوَافِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقَدَّمَ قَرِيْباً وَزَادَ فِيْ هذِهِ الرِّوَايَةِ: أَنَّهُ كَانَ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ يَطُوفُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ. (بخاری: ۱۶۱۶)

له ابن عمر رضي الله عنهما د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د طواف حديث لږ وړاندي تېر شو؛ په دې روايت کي ئې دا پرې زياته کړې ده چي: رسول الله صلی الله عليه و سلم به له طواف وروسته دوه رکعته لمونځ کاوو او بيا به ئې د صفا او مروه تر منځ سعي کوله.

د بخاري دا روايت مختصر کړی شوی؛ اصلي بڼه ئې دا سي ده:

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا: «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ

إِذَا طَافَ فِي الحَجِّ أَوِ العُمْرَةِ؛ اولَ مَا يَقْدَمُ سَعَى ثَلَاثَةَ أَطْوَافٍ، وَمَشَى أَرْبَعَةً، ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ يَطُوفُ بَيْنَ الصَّفَا وَالمَرْوَةِ»

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي كله به رسول الله صلى الله عليه و سلم په حج او عمره کې طواف کولو؛ نو په سر کې به ئې درې طوافونه له ګړندي تګ سره کول او څلور نور په آرام تګ سره؛ بیا به ئې دوه رکعتونه لمونځ وکړ او بیا به ئې د صفا او مروه سعي وکړه.

جامع ئې همدا وروستی روایت دئ؛ مخکینی ئې مبهم دئ او لوستونکی په شك کې غورځوي.

## ۳۹ باب: د طواف په مهال خبري

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ وَهُوَ يَطُوفُ بِالْكَعْبَةِ بِإِنْسَانٍ، رَبَطَ يَدَهُ إِلَى إِنْسَانٍ بِسَيْرٍ أَوْ بِخَيْطٍ أَوْ بِشَيْءٍ غَيْرِ ذَلِكَ، فَقَطَعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ ثُمَّ قَالَ: «قُدْهُ بِيَدِهِ». (بخاری: ۱۶۲۰)

له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چي: په داسي حال کې چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د کعبې طواف کولو؛ د یوه داسي انسان خوا ته تېرېدو چي خپل لاس ئې په تسمه، سنۍ، تار یا بل شي د بل سړي له لاس سره تړلی وو، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپل لاس هغه غوڅ کړ او وئې فرمایل: (تر لاس ئې ونیسه او درسره بیایه ئې).

دا روايت تر دې باب (په طواف کې خبري کول) لاندي راغلی؛ خو په روايت کې اصلي موضوع دا ده چي یوه کس بل کس د طواف په وخت کې داسي له ځان سره بېولو چي د هغه لاس ئې په تار یا سنۍ له خپل لاس سره تړلی وو؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه تار غوڅ کړ او هغه سړي ته ئې وویل: لاس نیولی ئې بیایه؛ سره له دې چي په روايت کې خبري کول راغلي خو که څوك وغواړي په دې پوه شي چي یو معذور کس په طواف کې د پړي او تسمې په مرسته له ځان سره بېول سم کار

دئ که له لاس نیولی؛ په بابونو کې د لټون له لارې دا روایت نه شي موندلی.

## ٤٠ باب: لوڅ د طواف او مشرک د حج اجازه نه لري

عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضی الله عنه: أَنَّ أَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيقَ رضی الله عنه بَعَثَهُ فِي الْحَجَّةِ الَّتِي أَمَّرَهُ عَلَيْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ يَوْمَ النَّحْرِ فِي رَهْطٍ يُؤَذِّنُ فِي النَّاسِ: أَلا لا يَحُجُّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ، وَلا يَطُوفُ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ. (بخاری: ۱٦۲۲)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ: ابو بكر رضي الله عنه په هغه حج کې چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له لوري د حج امیر ټاکل شوی وو؛ تر حجة الوداع وړاندې؛ دی (ابو هریره) د یوه ټولي په ضمن کې توظیف کړ چې په خلکو کې دا اعلان وکړي: باید پوه وئ چې له سږ کال وروسته به نه مشرک حج کوي او نه به بربنډ کس طواف کوي.

تکرار: دا روایت په بخاري کې ٦ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۳٦۹ - ۱٦۲۲ - ۳۱۷۷ - ٤٦٥٥ - ٤٦٥٦ - ٤٦٥۷ -

توپیر: د ټولو هم متن سره ورته دئ او هم ئې د راویانو لړۍ؛ خو په تکرار سره ئې د راوړولو وجه څرګنده نه ده.

## ٤١ باب: تر عرفات وړاندې طواف

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ، فَطَافَ وَسَعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، وَلَمْ يَقْرَبِ الْكَعْبَةَ بَعْدَ طَوَافِهِ بِهَا حَتَّى رَجَعَ مِنْ عَرَفَةَ. (بخاری: ۱٦۲٥)

له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم مکې ته ورسېد، طواف ئې وکړ او د صفا او مروه تر منځ ئې سعي وکړه؛ او له خپل طواف وروسته تر هغه کعبې ته نژدې

شوی نه دئ چي له عرفات راستون شو.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۴۵ - ۱٦۲۵

توپیر: دواړه د متن او راويانو له پلوه سره ورته دي او ښيي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په حجة الوداع کي په طواف او سعي اکتفاء وکړه او د قربانۍ تر ورځي له احرام ونه وتلو.

## ٤۲ باب: حاجيانو ته اوبه ورکول

عَنِ ابن عمر رَضِىَ اللَّهُ عَنهُما قَالَ: اسْتَأْذَنَ الْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِالْمُطَّلِبِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيتَ بِمَكَّةَ، لَيَالِيَ منًى، مِنْ أَجْلِ سِقَايَتِهِ، فَأَذِنَ لَهُ. (بخارى: ١٦٣٤)

له ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چي وايي: عباس بن عبدالمطلب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ له رسول الله صلی الله عليه و سلم اجازه وغوښته چي حاجيانو ته د اوبو ورکولو لپاره د منٰی شپې په مکه کي تېرې کړي؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم اجازه ورکړه.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ إِلَى السِّقَايَةِ فَاسْتَسْقَى، فَقَالَ الْعَبَّاسُ: يَا فَضْلُ، اذْهَبْ إِلَى أُمِّكَ، فَأْتِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرَابٍ مِنْ عِنْدِهَا. فَقَالَ: «اسْقِنِي» قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهُمْ يَجْعَلُونَ أَيْدِيَهُمْ فِيهِ، قَالَ: «اسْقِنِي». فَشَرِبَ مِنْهُ، ثُمَّ أَتَى زَمْزَمَ، وَهُمْ يَسْقُونَ وَيَعْمَلُونَ فِيهَا، فَقَالَ: «اعْمَلُوا فَإِنَّكُمْ عَلَى عَمَلٍ صَالِحٍ». ثُمَّ قَالَ: «لَوْلا أَنْ تُغْلَبُوا لَنَزَلْتُ حَتَّى أَضَعَ الْحَبْلَ عَلَى هَذِهِ». يَعْنِي عَاتِقَهُ وَأَشَارَ إِلَى عَاتِقِهِ. (بخارى: ١٦٣٥)

له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چي: رسول الله صلی الله عليه و سلم حاجيانو ته د اوبو ورکولو ځای ته راغی او اوبه ئې وغوښتلې؛ عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خپل زوی ته وويل: اې فضله! مور ته دي ورشه او

رسول الله صلی الله علیه و سلم ته اوبه ترې راوړه؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: "(له همدې ځای) اوبه راکړه"عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وویل: یا رسول الله! په دې اوبو کې خلک لاسونه وهي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (اوبه راکړه)؛ عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اوبه ورکړې او رسول الله صلی الله علیه و سلم وڅښلې، بیا زمزم ته ورغی او هلته خلکو نورو ته اوبه ورکولې او کار ئې په کې کاوو (اوبه ئې د زمزم له کوهي راایستلې)؛ نو وئې فرمایل: دې کار ته ادامه ورکړئ؛ تاسو په نېک او د خیر په کار بوخت یئ) بیا ئې وویل: (که داسي نه وی چې د اوبو په راایستو کې زه درسره کار وکړم؛ او همدا د دې باعث شي چې دومره خلك راغونډ شي چې تاسو ئې په ټولو کې ناتوان شئ؛ حتماً درکوزېدم چې دا رسۍ پر خپلې دې غاړې واچوم).

د روایت د وروستۍ برخې په اړه د ځینو تعبیر داسې دئ چې ګواکې رسول الله صلی الله علیه و سلم هغوی ته ویلې: که پر امت د مشقت وېره نه وی نو په خپله به د اوبو په راایستلو کې له دوی سره یو ځای شوی وو؛ داسې نه چې بیا خلك زما دې کار ته د یوه سنت په سترګه وګوري او تر سره کول به ئې دوی په تکلیف کړي. خو دا تعبیر او توجیه د روایت له فحوی او الفاظو سره اړخ نه لګوي؛ ځکه په تُغْلَبُوا کې خطاب هغو ته متوجه دئ چې هغه مهال ئې له کوهي اوبه راایستلې؛ نه ټول امت ته.

وَعَنْهُ فِيْ رِوَايَةٍ قَالَ: سَقَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ زَمْزَمَ، فَشَرِبَ وَهُوَ قَائِمٌ. وَفِيْ رِوَايَةٍ عَنْهُ: أَنَّهُ مَاكَانَ يَوْمَئِذٍ إِلَّا عَلَى بَعِيرٍ. (بخاری: ۱۳۶۷)

او له (ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما) په بل روایت کې راغلي چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته مې د زمزم اوبه ورکړې؛ نو وئې څښلې په داسې حال کې چې ولاړ وو. او له ده په بل روایت کې راغلي: په دې ورځ هغه پر اوښ سپور وو.

دا روايت د بخاري په مختصر کې راوړل شوی خو په بخاري کې نشته؛ د بخاري د کوم روايت آدرس چې ورکړی شوی (۱۳٦۷)؛ دا شمېره هم صحيح نه ده؛ د دې شمېرې روايت داسي دئ:

۱۳٦۷ - حَدَّثَنَا آدَمُ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ العَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: مَرُّوا بِجَنَازَةٍ، فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا خَيْرًا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَجَبَتْ» ثُمَّ مَرُّوا بِأُخْرَى فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا شَرًّا، فَقَالَ: «وَجَبَتْ» فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: مَا وَجَبَتْ؟ قَالَ: «هَذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ خَيْرًا، فَوَجَبَتْ لَهُ الجَنَّةُ، وَهَذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ شَرًّا، فَوَجَبَتْ لَهُ النَّارُ، أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللَّهِ فِي الأَرْضِ»

له انس بن مالك رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د يوې جنازې خوا ته تېر شول؛ د هغه ئې ښه ستاينه او توصيف وکړ؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ورته واجب شو؛ بيا پر بلې جنازې تېر شول؛ نو هغه ئې په بدو وستايلو؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ورته واجب شو؛ نو عمر رضي الله عنه وويل: څه واجب شول؟ وئې فرمايل: دا يو داسي وو چي تاسو په خير وستايلو نو هغه ته جنت واجب شو؛ او دا بل تاسو په بدو وستايلو نو د دوزخ اور ورته واجب شو؛ تاسو په زمکې کې د الله تعالى شاهدان يئ.

قرآن په دې اړه فرمايي:

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا .... ﴿١٤٣﴾ البقرة

او همدا راز مو تاسو غوره امت وګرځولئ؛ چي تاسو پر خلکو شاهدان وئ او پيغمبر پر تاسو شاهد وي...

د آيت د دې برخي معنى دا ده: له دې وروسته به د هدايت ډيوې

د مسلمانانو په لاس کې وي، د دوی د کړنو له مخي به خلك په دې پوهېږي چي حقيقت څه ته ویل کېږي، حقیقي دین کوم دئ، د الله په اړه مو عقیده څنگه وي او څنگه د ده عبادت وکړو او څنگه د یوه واقعي مخلص بنده په څېر ژوند وکړو؟ دوی، د دوی فکر او عقیده او د دوی عملي ژوند به د نورو لپاره د شاهد حیثیت لري او د مسلمانانو لپاره به پیغمبر شاهد وي.

په بخاري کې چي په دې ارتباط کوم روایت راغلی هغه دا دئ:

١٦٣٧ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ هُوَ ابْنُ سَلاَمٍ، أَخْبَرَنَا الفَزَارِيُّ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، أَنَّ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما حَدَّثَهُ قَالَ: «سَقَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ زَمْزَمَ، فَشَرِبَ وَهُوَ قَائِمٌ» قَالَ عَاصِمٌ: فَحَلَفَ عِكْرِمَةُ مَا كَانَ يَوْمَئِذٍ إِلَّا عَلَى بَعِيرٍ.

د عاصم دا وینا چي عکرمه لوړه وکړه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې ورځ په اوښي سپور وو؛ مقصد ئې دا دئ چي د ابن عباس روایت صحیح نه دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم په ولاړه اوبه څښلې دي؛ دا ځکه چي هغه په اوښي سپور وو؛ امام بخاري نه دي ویلي چي د چا وینا صحیح ده؛ خو د ابن عباس له روایت سره متصل د عکرمه وینا او لوړه راوړل ښیي چي دی د ابن عباس له روایت سره موافق نه دئ او د بخاري هر لوستونکی هم له دې روایت همدا مطلب اخلي؛ دا په داسي حال کې چي ابن عباس په دې ارتباط یوازي نه دئ؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم د کورنۍ دوه نور مهم غړي؛ عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْها او علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم ورسره دي؛ راشئ د هغوی روایتونه هم وگورو:

٥٥٨٤ - عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: " رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي حَافِيًا وَمُنْتَعِلًا وَيَشْرَبُ قَائِمًا وَقَاعِدًا وَيَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ لَا يُبَالِي أَيَّ ذَلِكَ كَانَ". شُعَبُ الْإِيمَانِ لِلْبَيْهَقِيِّ

له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْها روايت دئ چي وئې ويل: رسول الله صلی الله عليه و سلم مي ليدلی چي لوڅي پښې او په کپيو (پڼو) کي ئې لمونځ کولو، په ولاړه او ناسته ئې څښلي، له ښي او کيڼ لوري له لمانځه وتلی؛ د دې پروا ئې نه کوله چي له دغو کوم يو ئې وي.

د عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْها دغه روايت په دغو کتابونو کي راغلی: السنن الکبری للبيهقي، شُعَبُ الايمان.

عَنِ النَّزَّالِ، قَالَ: أَتَى عَلِيٌّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَلَى بَابِ الرَّحَبَةِ «فَشَرِبَ قَائِمًا» فَقَالَ: إِنَّ نَاسًا يَكْرَهُ أَحَدُهُمْ أَنْ يَشْرَبَ وَهُوَ قَائِمٌ، وَإِنِّي «رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَ كَمَا رَأَيْتُمُونِى فَعَلْتُ» بخارى: ۵۶۱۵

له نزال روايت دئ چي علي رضي الله عنه باب الرحبه (د کوفې د يوه مسجد دروازې) ته راغی او په ولاړه ئې اوبه وڅښلې؛ بيا ئې وويل: ځيني خلك داسي دي چي په ولاړه د اوبو له څښلو کرکه کوي؛ او ما رسول الله صلی الله عليه و سلم ليدلی چي همداسي ئې وکړل؛ لکه څنګه چي تاسو زه وليدم چي څه مي وکړل. يعني همداسي ئې په ولاړه اوبه وڅښلې چي تاسو زه پرې وليدم.

عَن ابْن عَبَّاس: أَن النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم، شرب من زَمْزَم وَهُوَ قَائِم، وَقَالَ: هَذَا حَدِيث حسن صَحِيح، وَرَوَاهُ النَّسَائِيّ أَيْضا، وَفِي لفظ: سقيت النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم من زَمْزَم فَشرب وَهُوَ قَائِم. عمدة القارى

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د زمزم اوبه په ولاړه وڅښلې؛ عمدة القاري وايي: دا حسن او صحيح حديث دئ؛ نسائي هم روايت کړی؛ او په دې الفاظو: رسول الله صلی الله عليه و سلم ته مي د زمزم اوبه ورکړې؛ په داسي حال کي ئې وڅښلې چي ولاړ وو.

لاندي روايات هم دغه خبره کوي:

۵۵۸۵ - عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: " رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْتَعِلُ قَائِمًا وَقَاعِدًا وَيَشْرَبُ قَائِمًا وَقَاعِدًا وَيَنْفَتِلُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ. شُعَبُ الايمان

۳۵۱۲ - عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْشِي حَافِيًا وَنَاعِلًا وَيَشْرَبُ قَائِمًا وَقَاعِدًا وَيَنْفَتِلُ عَنْ يَمِينِهِ وَيَسَارِهِ وَيَصُومُ فِي السَّفَرِ وَيُفْطِرُ» مسند البزار

۶۷۸۳ - عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: أَنَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «يَنْفَتِلُ عَنْ يَمِينِهِ، وَعَنْ شِمَالِهِ فِي الصَّلَاةِ، وَيَشْرَبُ قَائِمًا وَقَاعِدًا، وَيُصَلِّي حَافِيًا وَنَاعِلًا، وَيَصُومُ فِي السَّفَرِ وَيُفْطِرُ» مسند احمد

۴۲۵۵ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنها، قَالَتْ: " رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي حَافِيًا، وَمُتَنَعِّلًا، وَيَشْرَبُ قَائِمًا، وَقَاعِدًا، وَيَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ، وَعَنْ شِمَالِهِ، وَلَا يُبَالِي أَيُّ ذَلِكَ كَانَ " السنن الكبرى للبيهقي

پوښتنه دا ده چې د بخاري له دغو متعارضو رواياتو به کوم يو غوره کوو او د کوم دليل له مخې؟ علي رضي الله عنه ته منسوب روايت چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم زما په خبر په ولاړه اوبه وڅښلې او که عکرمه ته منسوب روايت چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم پر اوښه سپور وو او ګواکې د ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما دا وينا سمه نه ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د زمزم اوبه په ولاړه څښلې دي؟ د رسول الله صلى الله عليه و سلم د کورنۍ درې مهم غړي: عائشه، علي او ابن عباس رضي الله عنهم شهادت ورکوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په ولاړه اوبه څښلې؛ د دوی شهادت به منو که د عکرمه ادعاء چې هيڅ شاهد نه لري؟ امام بخاري ولې دا وضاحت نه دئ کړی چې کوم يو ئې صحيح او د اعتبار وړ دئ؟! او که نن کوم اهل حديث يوه مسلمان ته له دې کبله په بده سترګه ګوري چې په ولاړه ئې

اوبه څښلې؛ او هغه هم د بخاري په يوه روايت د استناد له مخې؛ او دا بل ئې د بخاري پر بل روايت د إستناد له مخې بد ګڼې؛ او همدا نفرتونه زېږوي؛ مسئوليت به ئې د چا پر غاړه وي؟

په ولاړه د اوبو څښلو په ارتباط داسې روايات هم مومو چې ښيي دې کار ته د داسې حرام په سترګه ګوري چې څښونکی ئې بايد بېرته وګرځوي (استفراغ ئې کړي)؛ د دې رواياتو په اړه څو جدي او بې ځوابه پوښتني لرو: ١- د حرمت لپاره ئې بايد په قرآن کې صريح حکم ولرو؛ چې نشته او د نهي تر څنګ بايد هغه د عذاب مستحق ګڼل شوی وي چې په ولاړه اوبه څښي؛ او داسې څه وومو چې ښيي دا کار انسان ته ضرر لري. ٢- د هغه روايت په اړه به څه وايو چې د سند له پلوه مشهور دئ او راويان ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د کورنۍ درې غړي؛ او وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په ولاړه اوبه څښلې؛ او په دې کې ئې هيڅ باك نه وو چې په ناسته ئې څښي که په ولاړه؛ هم ئې د زمزم اوبه په ولاړه څښلې او هم په نورو وختونو کې عادي اوبه؟!! ٣- په روايت کې دا مبالغه چې په ولاړه څښلې اوبه بايد استفراغ شي؛ ښيي چې د اعتناء او اعتبار وړ نه دئ.؛ ځکه اوبه حلالې دي او په ولاړه ئې څښل؛ که ممنوع وي نو فقط د مکروه عمل په حد کې به وي؛ نه دا چې حلالې اوبه حرامي کړي او هغه هم دومره چې بايد استفراغ شي.

## ٤٣ باب: د صفا او مروه تر منځ د سعي وجوب

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْها: أَنَّهَا سَأَلَهَا ابْنُ أُخْتِهَا عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: (إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا). قَالَ: فَوَاللَّهِ مَا عَلَى أَحَدٍ جُنَاحٌ أَنْ لا يَطُوفَ بِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، قَالَتْ: بِئْسَ مَا قُلْتَ يَا ابْنَ أُخْتِي، إِنَّ هَذِهِ لَوْ كَانَتْ كَمَا أَوَّلْتَهَا عَلَيْهِ، كَانَتْ

لا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ لا يَتَطَوَّفَ بِهِمَا، وَلَكِنَّهَا أُنْزِلَتْ فِي الأَنْصَارِ، كَانُوا قَبْلَ أَنْ يُسْلِمُوا يُهِلُّونَ لِمَنَاةَ الطَّاغِيَةِ، الَّتِي كَانُوا يَعْبُدُونَهَا عِنْدَ الْمُشَلَّلِ، فَكَانَ مَنْ أَهَلَّ يَتَحَرَّجُ أَنْ يَطُوفَ بِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، فَلَمَّا أَسْلَمُوا سَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا كُنَّا نَتَحَرَّجُ أَنْ نَطُوفَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: (إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ) الآيَةَ. قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْها: وَقَدْ سَنَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّوَافَ بَيْنَهُمَا، فَلَيْسَ لأَحَدٍ أَنْ يَتْرُكَ الطَّوَافَ بَيْنَهُمَا. (بخاری: ١٦٤٣)

له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْها روايت دئ چي خوريي ئې؛ عروه بن زبير رضي الله عنهما؛ د الله تعالى د دې قول په اړه پوښتنه وکړه (إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا) او وئې ويل: په الله قسم چي څوك د صفا او مروه تر منځ سعي ونه کړي پر هغه کومه ګناه نشته! عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْها وويل: خوريې! ډېره بده خبره دي وکړه؛ که د دې آيت معنى داسي وی لکه چي ته ئې وايې؛ نو بايد الفاظ ئې داسي وی: (لَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ لا يَتَطَوَّفَ بِهِمَا): که طواف ئې ونه کړ؛ نو ګناه پرې نشته؛ مګر دا آيت د انصارو په اړه نازل شوی، هغوی مخکي تر دې چي مسلمان شي؛ د طاغي او باطل منات عبادت کولو او د هغه په نامه به ئې له مُشَلَّلِ (الجحفة ته نژدې يو ځای)؛ د حج نيت کولو؛ او چا چي به د حج نيت کولو زړه به ئې نه غوښتل چي د صفا او مروه سعي وکړي؛ (دا ځکه چي پر صفا او مروه د نائله او اساف په نامه دوه بتان وو چي د انصارو نه خوښېدل)؛ کله چي هغوی اسلام قبول کړ؛ له رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې په دې اړه وپوښتل او وئې ويل: يا رسول الله! موږ له دې کرکه درلوده چي د صفا او مروه تر منځ سعي وکړو! نو الله تعالى دا حکم نازل کړ: (إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلا جُنَاحَ عَلَيْهِ

أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا). عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْها وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم د صفا او مروه تر منځ سعي سنت گرځولې ده؛ هیڅوک دا حق نه لري چې د دوی تر منځ سعي پرېږدي.

## ٤٤ باب: د صفا او مروه تر منځ د سعي په اړه

عَنِ ابن عمر رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُما قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا طَافَ الطَّوَافَ الأَوَّلَ خَبَّ ثَلاثًا وَمَشَى أَرْبَعًا. وَكَانَ يَسْعَى بَطْنَ الْمَسِيلِ إِذَا طَافَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ. (بخارى: ١٦٤٤)

له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به چې لومړی طواف کاوو؛ نو په دریو لومړنیو دورو کې به ئې رمل (گړندی تگ) کولو او په څلورو نورو کې به عادي روان وو؛ او چې کله به ئې د صفا او مروه تر منځ طواف کولو نو په مسیل (خوړ) کې به ئې سعي کوله.

## ٤٥ باب: حائضه ښځه له طواف پرته د حج ټول مناسک اداء کولی شي

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُما قَالَ: أَهَلَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ وَأَصْحَابُهُ بِالْحَجِّ، وَلَيْسَ مَعَ أَحَدٍ مِنْهُمْ هَدْىٌ غَيْرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَطَلْحَةَ، وَقَدِمَ عَلِيٌّ مِنَ الْيَمَنِ وَمَعَهُ هَدْىٌ، فَقَالَ: أَهْلَلْتُ بِمَا أَهَلَّ بِهِ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم، فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْحَابَهُ أَنْ يَجْعَلُوهَا عُمْرَةً، وَيَطُوفُوا، ثُمَّ يُقَصِّرُوا وَيَحِلُّوا إِلَّا مَنْ كَانَ مَعَهُ الْهَدْىُ، فَقَالُوا: ..... فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «لَوِ اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِى مَا اسْتَدْبَرْتُ مَا أَهْدَيْتُ، وَلَوْلا أَنَّ مَعِى الْهَدْىَ لأَحْلَلْتُ». (بخارى: ١٦٥١)

له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روایت دئ چې رسول الله صلى الله

عليه و سلم او اصحابو ئې د حج نيت وکړ؛ له رسول الله صلى الله عليه و سلم او طلحه پرته له هيچا سره هدي نه وه؛ او علي رضي الله عنه له يمن راغی او له هغه سره هم هدي وه؛ او وئې ويل: د هغه څه نيت مي کړی دئ چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم نيت دئ؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم خپلو يارانو ته امر وکړ چي د عمرې (نيت او سفر) ئې کړي؛ طواف دي وکړي، وېښتان دي لنډ کړي او له احرام دي ووځي؛ مګر هغه چي هدي ورسره وي؛ نو هغوی وويل: ..... دا خبره تر رسول الله صلى الله عليه و سلم ورسېده نو وئې فرمايل: که په هغه څه چي وروسته پوه شوی يم وړاندي پوه شوی وی نو له ځان سره به مي هدي نه وه روانه کړې؛ او که له ما سره هدي نه وی نو حتماً به له احرام وتلم.

دا روايت په بخاري کې ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱٦٥۱ - ۱۷۸٥ - ۷۲۲۹ - ۷۲۳۰؛ په اړه ئې دا خبري ضروري برېښي:

- لومړي راويان ئې عائشه او جابر بن عبد الله رضي الله عنهما دي؛ جابر رضي الله عنه ته منسوب روايت کې يوه فقره داسي ده چي قطعاً د راوړلو او يادولو وړ نه ده؛ محال ده چي صحابه وو دي داسي څه ويلي وي؛ ما دا فقره او ترجمه ئې نه ده راوړې؛ دا روايت د إسنادو له پلوه غريب دئ او په پنځو طبقو کې يو يو راوي لري؛ د دواړو له منځه غوره ئې هغه دئ چي عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْها ته منسوب دئ.

- د رواياتو اصلي موضوع دا ده چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په حجة الوداع کې هغو صحابه وو ته چي هدي ورسره نه وه؛ فرمايلي: له طواف او سعي وروسته وېښتان لنډ کړئ او له احرام ووځئ؛ په ځينو دا خبره ګرانه تمامه شوې او د مخکيني دود خلاف ئې ګڼلې؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم هغوی ته ويلي: که له ما سره هدي نه وی نو همدا کار مي کولو. نو صحابه وو د رسول الله صلى الله عليه و سلم امر پر ځای کړ.

- عائشي رَضِيَ اللَّهُ عَنْها د خپل ښځينه مشکل له کبله طواف او لمونځ نه شو کولی؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم هغې ته لارښوونه وکړه چې د حج ټول مناسك دي له طواف او لمانځه پرته اداء کړه؛ په پای کې ئې هغه له خپل ورور عبدالرحمن سره ولېږله چې له تنعيم د عمرې لپاره احرام وتړي.

## ٤٦ باب: د ترويې په ورځ د ماسپښين لمونځ چېرې اداء کېږي

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ سَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ لَهُ: أَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ عَقَلْتَهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْنَ صَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ؟ قَالَ: بِمِنًى، قَالَ: فَأَيْنَ صَلَّى الْعَصْرَ يَوْمَ النَّفْرِ؟ قَالَ: بِالأَبْطَحِ، ثُمَّ قَالَ: افْعَلْ كَمَا يَفْعَلُ أُمَرَاؤُكَ. (بخاری: ١٦٥٣)

له انس بن مالك رضي الله عنه روايت دئ چې يوه سړي ترې پوښتنه وکړه او ورته وئې ويل: څه چې دي له رسول الله صلی الله علیه و سلم زده کړي هغه راوښيه؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د ترويې په ورځ د ماسپښين او مازديگر لمونځونه چېرې اداء کړل؟ وئې ويل: په منٰی کې؛ (پوښتونکي) وويل: له منٰی د ستنېدو په ورځ ئې د مازديگر لمونځ چېرې وکړ؟ انس رضي الله عنه وويل: په ابطح کې؛ ورپسې ئې وويل: اميران دې چې څه کوي؛ همغه کوه.

## ٤٧ باب: د عرفات د ورځې روژه

عَنْ أُمِّ الْفَضْلِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْها قَالَت: شَكَّ النَّاسُ يَوْمَ عَرَفَةَ فِي صَوْمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَبَعَثْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرَابٍ فَشَرِبَهُ. (بخاری: ١٦٥٨)

له ام الفضل رَضِيَ اللَّهُ عَنْها روايت دئ چې وايي: خلك د عرفات په ورځ د رسول الله صلی الله علیه و سلم د روژې په اړه شکمن شول (چې روژه دئ که نه)؛ نو ما د څښلو لپاره رسول الله صلی الله علیه و سلم

ته څه وروليږل او وئې څښل. (له دې معلومه شوه چې روژه نه وو).

د روايت په شرحې کې بايد ويل شوي وی چې دا د حج په دوران کې وو نو ځکه رسول الله صلی الله عليه و سلم روژه نه وه نيولې؛ او خلکو ځکه شك کړی چې د مخکې په څېر به ئې ښايي نن هم روژه نيولې وي. دې ته بايد متوجه وو چې نهم د ذي الحجه د يوم العرفه په نامه يادېږي؛ په دې ورځ روژه نيول ډېر ثواب لري؛ خو دا د هغه چا لپاره چې حج ته نه وي تللی؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپله دا روژه نيوله او نورو ته ئې سپارښتنه کوله.

پرون مو په نعلينو کې د لمانځه په اړه عائشې رضي الله عنها ته منسوب روايت درلود چې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم مې ليدلی چې لوخي پښې او په کپيو (پڼو) کې ئې لمونځ کولو، په ولاړه او ناسته ئې څښلې، له ښي او کيڼ لوري له لمانځه وتلی؛ د دې پروا ئې نه کوله چې له دغو کوم يو ئې وي. د نعلينو په اړه په قرآن کې يو آيت هم لرو چې فرمايي:

فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِىَ يَـٰمُوسَىٰٓ ﴿١١﴾ إِنِّىٓ أَنَا رَبُّكَ فَٱخْلَعْ نَعْلَيْكَ إِنَّكَ بِٱلْوَادِ ٱلْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٢﴾ طه

نو کله چې ورغی؛ پرې غږ شو: اې موسی! يقيناً چې زه ستا رب يم؛ نو پڼې دي وباسه؛ يقيناً چې ته د طوىٰ په سپېڅلي ناو کې يې.

دلته موسی عليه السلام ته ويل شوي چې پڼې دي وباسه؛ ځکه چې ته په سپېڅلي ځای کې يې. بايد وګورو چې آيا په هر سپېڅلي ځای کې د پښو لوڅول او پڼې ايستل ضروري او د پيغمبرانو عليهم السلام د تګلاري مطابق دي او د الله تعالی خوښېږي؟ آيا موږ هم مکلف يو چې په سپېڅلي ځای کې پښې لوڅې کړو؛ که نه؟ ځيني په دې باور دي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم په پڼو کې لمونځ کولو؛ هغوی د بخاري په دې روايت استناد کوي چې وايي:

عن سَعِيدِ بْنِ يَزِيدَ الأَزْدِيِّ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ أَكَانَ النَّبِيُّ صلی الله علیه و سلم يُصَلِّي فِي نَعْلَيْهِ قَالَ نَعَمْ. (بخاری:۳۸٦)

له سعيد بن يزيد الأزدي روايت دئ چي له انس بن مالك مي وپوښتل: آيا رسول الله صلی الله علیه و سلم له پڼو سره لمونځ کاوو؟ وئې ويل: هو.

دا روايت يو ځل بيا هم په بخاري کي تکرار شوی، دواړه روايتونه د الفاظو او محتوی له پلوه سره ورته دي؛ غريب دئ او راويان ئې په دوو طبقو کي يو يو؛ سَعِيد بْن يَزِيد الأَزْدِي او انس رضی الله عنه دي. خو دا روايات نه وايي چي پيغمبر علیه السلام ئې په جومات کي که له جومات بهر، په سفر کي که په حضر کي، پر فرش که پر زمکه له پڼو سره په لمانځه ليدلی؛ تل ئې همداسي ليدلی که يو ځل؟ داسي روايات هم شته چي وايي رسول الله صلی الله علیه و سلم په لوڅو پښو او له پڼو پرته لمونځ کړی. که دا روايت د انس او هرماس رضی الله عنهما په څېر له داسي کم عمره صحابه وو روايت شوی چي لنډه موده ئې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره تېره کړې؛ په مقابل کي ئې نور روايات له مشرانو او د عائشې رضی الله عنها په څېر صحابه وو روايت شوي. له دغو دواړو رواياتو به کوم يوه غوره کوو؟ له بلي خوا قرآن وايي چي الله تعالی موسی علیه السلام ته د طور په غره کي د ملاقات پر مهال وويل چي پڼې دي وباسه، ته د طویٰ سپېڅلې درې کي يې. د روايت تعارض به له دې آيت سره څنګه توجيه کوو؟ دغو خبرو ته په پام سره ويلی شو چي له پڼو سره لمونځ يو استثنائي حالت دئ نه دائمي او ارجح حالت؛ همغسي لکه پر موزو مسح چي استنثائي حالت دئ؛ غوره او ارجح رأيه دا ده چي له ضرورت پرته نه جومات ته له پڼو، څپليو، بوټونو او کپيو سره ننوځو او نه پر مصلی او فرش لمونځ ورسره وکړو، په دې توګه به موږ د قرآن آيت هم مراعات کړی وي او پر حديث به مو هم عمل کړی وي.

---

که څوك پر زمکه له فرش او مصلی پرته لمونځ کوي کولی شي له خپلو پښو سره لمونځ وکړي، که بشپړه مصلی نه لري کولی شي د سجدې پر ځای وړه ټوټه وغوړوي او که نه سجده هم پر زمکه وکړي. ځکه په روایاتو کې راځي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم همداسي کړي دي.

که څوك مجبور وي او له دې پرته بله چاره نه لري چې له لوړو بوټونو یا موزې سره جومات ته ننوځي؛ نو ښه دا ده چې له ځان سره داسي پلاستیکي یا د ټوټې خلطه ولري چې بوټونو ته ئې ورواغوندي؛ جوماتونه باید داسي جوړ شي چې له دروازې سره ئې د بوټونو لپاره جعبې وي، کُلپ او کونجي ولري، لمونځ کوونکي خپل بوټونه په کې کښېږدي؛ کلپ ئې کړي او کلي له ځان سره واخلي.

متأسفانه اوس داسي ښاغلي هم وینو چې بخاري به ئې پرته له دې چې سم پرې پوه شوی وي؛ له کوم چا لوستلې وي؛ او هغه هم په دې موخه چې ژر د فضیلت دستار پر سر وروتړل شي او د کوم جومات امامت ئې په برخه شي او همدا ئې د روزي مدرك شي؛ دا روایت به ئې تر سترګو شوی وي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له کپیو سره لمونځ کړی؛ نو له بوټونو سره به مست مست او په جګه غاړه جومات ته ننوځي او له خلکو به هم دا انتظار لري چې وئې ستایي او په حدیث پوه ئې وګڼي؛ دا په داسي حال کې چې نه به د بخاري له هغه روایت خبر وي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم کله لوڅې پښې لمونځ کړی او کله له کپیو سره؛ د قرآن له دې آیت به هم خبر نه وي چې الله تعالی موسی علیه السلام ته وفرمایل: اې موسی! زه ستا رب یم؛ کپۍ دي وباسه؛ ته د طوی په سپېڅلي ناو کې یې. دا ښاغلي د دې پروا هم نه کوي چې خلك له دې سره حساسیت لري چې څوك له بوټونو سره د دوی جومات ته ننوځي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د خلکو حساسیت ته په پام سره ونه غوښتل چې کعبه ورانه کړې او په هغې بنې ئې ورغوي چې ابراهیم علیه السلام جوړه کړې وه. خدای مو د

هغي ورځي له ليدو وساته چي دا ښاغلي په داسي وخت کې جومات ته ننوځي چي کوم شتمن عرب؛ له ډالر او ريال ډکو جيبونو سره؛ هلته حاضر وي!!! هغوی ته وايو: حق لرئ د خپل پلار نيکه مذهب بدل او د خپلي خوښي مذهب غوره کړئ؛ خو د الله لپاره او د خپل عقل او ايمان په حکم؛ نه د ډالر او ريال لپاره.

## ٤٨ باب: د عرفات په ورځ په غرمه کي روانېدل

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ أَتَى يَوْمَ عَرَفَةَ، حِينَ زَالَتِ الشَّمْسُ، فَصَاحَ عِنْدَ سُرَادِقِ الْحَجَّاجِ، فَخَرَجَ وَعَلَيْهِ مِلْحَفَةٌ مُعَصْفَرَةٌ، فَقَالَ: مَا لَكَ يَا أَبَا عَبْدِالرَّحْمَنِ؟ فَقَالَ: الرَّوَاحَ إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ السُّنَّةَ، قَالَ: هَذِهِ السَّاعَةَ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَأَنْظِرْنِى حَتَّى أُفِيضَ عَلَى رَأْسِى ثُمَّ أَخْرُجُ، فَنَزَلَ حَتَّى خَرَجَ الْحَجَّاجُ، فَقَالَ لَهُ سَالِمُ بْنُ عَبْدِاللهِ - وَكَانَ مَعَ أَبِيْهِ ـ: إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ السُّنَّةَ فَاقْصُرِ الْخُطْبَةَ، وَعَجِّلِ الْوُقُوفَ، فَجَعَلَ يَنْظُرُ إِلَى عَبْدِاللَّهِ، فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ عَبْدُاللَّهِ قَالَ: صَدَقَ. وَكَانَ عَبْدُالْمَلِكِ قَدْ كَتَبَ إِلَى الْحَجَّاجِ أَنْ لا يُخَالِفَ ابْنَ عُمَرَ فِي الْحَجِّ. (بخارى: ١٦٦٠)

روايت دئ چي ابن عمر رضي الله عنهما د عرفات په ورځ د لمر له زوال وروسته راغی او د حجاج د خيمې له شاوخوا ولاړي پردې سره ئې غږ کړ؛ حجاج په داسي حال کي چي معصفر (په عصفر رنګ شوی) لوی لونګ ئې اغوستی وو؛ راووت او وئې ويل: څه خبره ده اې ابو عبد الرحمانه؟ ابن عمر رضي الله عنهما ورته وويل: که د سنتو متابعت کوې نو بايد حرکت وکړې؛ حجاج وويل: همدا اوس؟ وئې ويل: هو؛ (حجاج) وويل: نو دومره وخت راکړه چي پر سر مي اوبه واچوم؛ او راووځم؛ ابن عمر رضي الله عنهما (له خپلي سورلۍ) کوز شو؛ تر هغه چي حجاج راووت؛ سالم بن عبدالله چي له خپل پلار سره وو؛ حجاج ته وويل: که په سنتو عمل کوې نو خطبه لنډه کړه او پر عرفات درېدو ته بيړه وکړه؛ حجاج؛ عبدالله رضي الله عنه ته وکتل؛ کله چي عبدالله رضي الله عنه

ورته متوجه شو؛ نو وئې ويل: سالم رښتيا وايي. او حجاج ته عبدالملک ليکلي وو چي د حج په امورو کي به د ابن عمر رضي الله عنهما مخالفت نه کوي.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٦٦٠-١٦٦٣

توپير: په يوه کي (كَتَبَ عَبْدُ المَلِكِ إِلَى الحَجَّاجِ: أَنْ لَا يُخَالِفَ ابْنَ عُمَرَ فِي الحَجِّ) په بل کي أَنَّ عَبْدَ المَلِكِ بْنَ مَرْوَانَ، كَتَبَ إِلَى الحَجَّاجِ أَنْ يَأْتَمَّ بِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ فِي الحَجِّ؛ په يوه کي دا مطلب د روايت په سر کي او په بل کي د روايت په پای کي راغلی، په يوه کي فَصَاحَ عِنْدَ سُرَادِقِ الحَجَّاجِ، فَخَرَجَ وَعَلَيْهِ مِلْحَفَةٌ مُعَصْفَرَةٌ فَقَالَ: مَا لَكَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ په بل کي فَصَاحَ عِنْدَ فُسْطَاطِهِ (غړدی) أَيْنَ هَذَا؟ په يوه کي الرَّوَاحَ إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ السُّنَّةَ په بل کي يوازي الرَّوَاحَ؛ په يوه کي فَأَنْظِرْنِي حَتَّى أُفِيضَ عَلَى رَأْسِي په بل کي أَنْظِرْنِي أُفِيضُ عَلَيَّ مَاءً راغلي.

## ٤٩ باب: د عرفات موقف (درېدو ځای) ته بيړه

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ عَبْدَ المَلِكِ بْنَ مَرْوَانَ، كَتَبَ إِلَى الحَجَّاجِ أَنْ يَأْتَمَّ بِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ فِي الحَجِّ، فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ عَرَفَةَ، جَاءَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا وَأَنَا مَعَهُ حِينَ زَاغَتِ الشَّمْسُ أَوْ زَالَتْ، فَصَاحَ عِنْدَ فُسْطَاطِهِ أَيْنَ هَذَا؟ فَخَرَجَ إِلَيْهِ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: «الرَّوَاحَ» فَقَالَ: الآنَ، قَالَ: «نَعَمْ»، قَالَ: أَنْظِرْنِي أُفِيضُ عَلَيَّ مَاءً، فَنَزَلَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا حَتَّى خَرَجَ، فَسَارَ بَيْنِي وَبَيْنَ أَبِي فَقُلْتُ: إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ أَنْ تُصِيبَ السُّنَّةَ اليَوْمَ فَاقْصُرِ الخُطْبَةَ وَعَجِّلِ الوُقُوفَ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ «صَدَقَ» بخاری: ١٦٦٣

له سالم بن عبد الله روايت دئ چي عبد الملك بن مروان حجاج ته ليکلي وو چي په حج کي به په عبد الله بن عمر پسي اقتداء کوي؛ نو کله چي

د عرفې ورځ وه نو عبد الله بن عمر رضي الله عنهما راغی او زه ورسره وم؛ هغه مهال چي لمر کوږ شوی يا ئې زوال کړی وو؛ نو د هغه لويي کېږدۍ خوا ته ئې غږ کړ: دا چېري دئ؟ نو ورته راووتو او ابن عمر وويل: په تلوار سره خوځېدل دي؛ حجاج وويل: همدا اوس؟ وئې ويل: هو؛ هغه وويل: وخت راکړه چي پر ځان اوبه واچوم؛ نو ابن عمر رضي الله عنهما کوز شو تر هغه چي دی راووت؛ نو زما او زما د پلار تر منځ روان شو؛ او ما وويل: که غواړې په سنت عمل کول دي په برخه شي نو خطبه لنډه کړه او د وقوف لوري ته تلوار وکړه؛ او ابن عمر وويل: رښتيا ئې ويلي.

د بخاري له پورتنيو دواړو روايتونو داسي معلومېږي چي امام بخاري ته دا روايات د داسي چا له لوري رسېدلي چي د حجاج پلوي وو او په دې روايت سره ئې هڅه کړې هغه د رسول الله صلی الله عليه و سلم سنت او د عبدالملك اوامرو ته مطيع وښيي؛ دا په داسي حال کې چي د هغه لاسونه د ډېرو مظلومو مسلمانانو او سترو سترو شخصيتونو په وينو سره شوي؛ د تاريخ له سترو قاتلانو يو معروف قاتل تېر شوی؛ د عبد الملك بن مروان له لوري د عبد الله بن زبير رضي الله عنهما خلاف د جنګ لپاره مکې ته ولېږل شو؛ مکه ئې محاصره کړه، په منجنيق سره ئې پر مکې ډبري او اورونه ورول، د کعبې ځيني برخي په همدې بريد کې ونړېدې؛ د عبد الله بن زبير په وژلو ئې اکتفاء ونه کړه بلکي مثله او پانسۍ ئې کړ، لاس ئې ترې پرې کړ او خپل ورور محمد بن يوسف ته ئې ولېږو، د عبد الله بن زبير مور؛ اسماء بنت ابو بکر؛ د عائشې خور؛ هغه چي رسول الله صلی الله عليه و سلم او ابو بکر رضي الله عنه ته ئې د ثور ځمځي ته هره ورځ طعام وررسولو؛ هغې ته ئې اجازه نه ورکوله چي د خپل زوی جسد د آخري ځل لپاره د پانسۍ په حال کې وګوري!! د ده ټول پلويان؛ مخلص مؤمنان، د مسلمانانو نخبه صالحين او مجاهدين ول؛ دوی ئې يا شهيدان کړل، يا زنداني يا له مکې خواره واره؛

د مکې پر اوسېدونکو ئې د عبد الله بن زبير د ملګرتيا له کبله له هيڅ ظلم ډډه ونه کړه؛ ډېر صحابه او تابعين؛ ده او لښکريانو ئې وژلي؛ د همدې ظلمونو په بدل کې عبد الملك بن مروان؛ د مکې او ټول حجاز والي وټاکلو او وروسته ئې عراق ته د اموي سلطنت د مخالفينو خلاف جنګ ته ولېږو؛ هلته ئې همغه څه وکړل چې په مکه کې ئې کړي ول؛ پاڅون ئې وځپلو او ستر ستر شخصيتونه ئې ووژل؛ سعيد بن جبير يو له هغو علماءو او فقهاءو وو چې په ډېره ظالمانه توګه ئې ووژلو؛ مسلمان تاريخ ليکونکو د هغه د ظلمونو او قتلونو ډېري او تفصيلي قصې راوړې.

ډېره عجيبه ده چې امام بخاري داسې روايت په خپل کتاب کې راوړی چې دا مجرم او قاتل د رسول الله صلی الله عليه و سلم د سنت تابع معرفي کوي!! او عبد الله بن عمر او زوی ئې سالم رضي الله عنهما؛ د همدې ظالم او قاتل د حج معلمان ښيي!! امام بخاري رحمه الله دا روايت له ابن شهاب زهري تر لاسه کړی؛ او هغه د جابرو اموي حکامو کلك مدافع وو؛ د هغه له لوري تدوين شوو رواياتو کې به ډېر داسې روايات وموموئ چې د امويانو د مخالفينو په اړه نامناسب اظهارات شوي.

نن مورږ او ټول اسلامي امت د داسې تکفيري ډلو له فتنې سره مخامخ يو چې په جوماتونو کې د جَمعي لمانځه په مهال چاودني کوي؛ دعوتګران، مجاهد شخصيتونه، د جوماتونو امامان او خطيبان وژني؛ جومات ته د تګ راتګ په لار کې خپلو مخالفينو ته کمين نيسي او بمونه ورته ښخوي؛ انتحاري عملياتو ته د استشهادي عملياتو نوم ورکوي؛ خو له دغو جناياتو سره سره ګمان کوي چې لار ئې سمه او جنت ته د رسېدو لنډه او آسانه لار همدا ده؛ د همدوی په اړه ځيني ناپوهان وايي: جګي پايڅې؛ اوږدې ځنې، په رانجو توري سترګي، په جيب کې ئې مسواك، په لاس کې ئې تسبيح... ښيي چې دوی مسلمانان دي!! خو حقيقت بيا دا دئ چې: څوك د يوه مؤمن او بې ګناه انسان يو څاڅکی وينه توی کړي؛ يا د هغه

د ويني تويېدو کې د بل مرسته وکړي؛ حتى د يوې کلمې په شطر سره؛ د قيامت په ورځ به د الله تعالی په وړاندي داسي ودرېږي چي پر تندي به ئې ليکل شوي وي: د الله له رحمت مأيوس. همغسي چي عمر رضي الله عنه وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چي فرمايل ئې:

"مَنْ أَعَانَ عَلَى قَتْلِ مُؤْمِنٍ وَلَوْ بِشَطْرِ كَلِمَةٍ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ: آيِسٌ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ "

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَزَوَالُ الدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللَّهِ مِنْ قَتْلِ مُؤْمِنٍ بِغَيْرِ حَقٍّ»

له براء بن عازب روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: يقيناً چي الله تعالى ته د ټولي نړۍ ورانېدا په ناحقه د يوه مؤمن تر وژل کېدا ډېره آسانه ده.

دا ښکلی اثر د دغو وګړو حالت ښه انځوروي چي وايي:

«ليس الإيمان بالتمنى و لا بالتحلى؛ ولكن هو ما وقر فى القلب وصدقه العمل، وأن قوما غرتهم الأمانى حتى خرجوا من الدنيا ولا حسنة لهم وقالوا نحن نحسن الظن بالله وكذبوا، لو احسنوا الظن لأحسنوا العمل»

ايمان نه په تمنٰی او هيلي سره دئ او نه په ښې جوړولو او عبا او قبا سره؛ إيمان هغه څه دئ چي په زړه کې ځای نيسي او عمل ئې رښتينولي ثابتوي؛ ځيني داسي دي چي هيلو دوکه کړي؛ دومره چي کله له دنيا درومي نو هيڅ نېك عمل ئې نه وي؛ او وايي به: پر الله (د عفوی او بخښني) نېك ګمان لرو؛ خو دروغ وايي؛ که ئې ګمان نېك وي نو خپل عمل به ئې نېك کړی وو!!

## ۵۰ باب: پر عرفات درېدل

عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ - رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: أَضْلَلْتُ بَعِيرًا لِى فَذَهَبْتُ أَطْلُبُهُ يَوْمَ عَرَفَةَ، فَرَأَيْتُ النَّبِىَّ - صلى الله عليه وسلم - وَاقِفًا بِعَرَفَةَ فَقُلْتُ: هَذَا وَاللَّهِ مِنَ الْحُمْسِ فَمَا شَأْنُهُ هَاهُنَا. (بخارى: ١٦٦٤)

له جبیر بن مطعم رضي الله عنه روایت دئ چي وايي: اوښ مي ورک شوی وو؛ د عرفات په ورځ ورپسي گرځېدم؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم مي ولید چي په عرفات کي ولاړ دئ؛ له ځان سره مي وویل: والله چي دا خو قریشي دئ؛ نو دلته څه کوي؟

دا روایت په بخاري کي همدا یو ځل راغلی؛ له بخاري پرته په نورو کتابونو کي نه تر سترگو کېږي؛ روایت داسي دئ چي په همدې موجوده بڼې کي ډېر مبهم دئ؛ دا نه ترې معلومېږي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې کله په عرفات کي لیدلی؛ تر بعثت وړاندي که وروسته؛ امام بخاري هم د دې وضاحت نه دئ کړی چي دا پېښه کله رامنځته شوې؛ خو له نورو مدارکو معلومېږي چي دا د جاهلیت د دور او د هغه مهال واقعه ده چي قریش به د حج د مناسکو په لړ کي عرفات ته نه تلل؛ ځان ئې تر نورو لوړ او په دین کي کلك گڼل؛ ویل ئې له قریشو سره نه ښايي چي د حج په ورځو کي له حرم ووځي؛ جبیر بن مطعم دغه مهال رسول الله صلی الله علیه و سلم په عرفات کي لیدلی او تعجب ئې کړی چي یو قریشي څنگه عرفات ته راغلی! له دې بل روایت په واضح توگه معلومېږي چي دا تر بعثت وړاندي قصه ده.

عَن جُبَير بن مطعم، قَالَ: أضللت حمارا لى فِى الْجَاهِلِيَّة فَوَجَدته بِعَرَفَة، فَرَأَيْت رَسُول الله، صلى الله عَلَيْهِ وَسلم، وَاقِفًا بِعَرَفَات مَعَ النَّاس، فَلَمَّا أسلمت عرفت أَن الله وَفقه لذَلِك. رواه اسحاق بن راهویه

له جبیر بن مُطْعِم روایت دئ چي وايي: د جاهلیت زمانه کي مي خپل

خر ورك كړى وو؛ په عرفات كې مي وموندو؛ نو دا مهال مي رسول الله صلى الله عليه و سلم له ځينو خلكو سره په عرفات كې ولاړ وليد؛ كله چې مسلمان شوم پوه شوم چې الله تعالى په همدې موفق كړ.

قرآن مؤمنانو ته لارښوونه كړې چې حج به ئې له عرفات پيل كېږي او له نورو حاجيانو سره به يو ځاى ترې راكوزېږي (ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ...) البقرة ۱۹۹

## ۵۱ باب: له عرفات د مزدلفې په لور د ستنېدو څرنگوالى

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ سُئِلَ عن سِيرِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ حِينَ دَفَعَ، قَالَ: كَانَ يَسِيرُ الْعَنَقَ، فَإِذَا وَجَدَ فَجْوَةً نَصَّ. (بخارى: ١٦٦٦)

روايت دئ چې اسامه بن زيد رضي الله عنه په حجة الوداع كي له عرفات د مزدلفې په لور د رسول الله صلى الله عليه و سلم د ستنېدو د څرنگوالي په اړه وپوښتل شو؛ اسامه رضي الله عنه وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم عادي (د سوكه او تېز تر منځ حالت كې) روان وو؛ خو كه لار به ئې په كوم ځاى كي تشه او پراخه وليده؛ نو لږ به گړندى شو.

## ۵۲ باب: له عرفات د راستنېدو په وخت كي خلكو ته د آرامۍ امر

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما: أَنَّهُ دَفَعَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ عَرَفَةَ، فَسَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَاءَهُ زَجْرًا شَدِيدًا، وَضَرْبًا وَصَوْتًا لِلإِبِلِ، فَأَشَارَ بِسَوْطِهِ إِلَيْهِمْ وَقَالَ: «أَيُّهَا النَّاسُ عَلَيْكُمْ بِالسَّكِينَةِ فَإِنَّ الْبِرَّ لَيْسَ بِالإِيضَاعِ». (بخارى: ١٦٧١)

له ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چې دى له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره يو ځاى؛ د عرفې په ورځ؛ له عرفات د مزدلفې په لور

ستنېدو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم له شا د خلکو شور- ځوږ او د اوښانو د وهلو او ځغلولو غږونه واورېدل؛ نو په خپلي متروکي ئې هغوی ته اشاره وکړه او وئې فرمايل: (اې خلکو! آرام او وقار سره ځئ؛ نيکي دا نه ده چي خپلي سورلۍ وځغلوئ).

## ۵۳ باب: د مزدلفې په شپه کمزوري کسان تر نورو وړاندي لېږل.

عَنْ أَسْمَاءَ بَنْتِ أَبِيْ بَكْرٍ رَضِيَ اللّهُ عَنهما: أَنَّهَا نَزَلَتْ لَيْلَةَ جَمْعٍ عِنْدَ الْمُزْدَلِفَةِ، فَقَامَتْ تُصَلِّي، فَصَلَّتْ سَاعَةً، ثُمَّ قَالَتْ: يَا بُنَيَّ، هَلْ غَابَ الْقَمَرُ؟ قَالَ: لا، فَصَلَّتْ سَاعَةً، ثُمَّ قَالَتْ: يَا بُنَيَّ هَلْ غَابَ الْقَمَرُ؟ قال: نَعَمْ، قَالَتْ: فَارْتَحِلُوا، فَارْتَحَلْنَا وَمَضَيْنَا، حَتَّى رَمَتِ الْجَمْرَةَ، ثُمَّ رَجَعَتْ فَصَلَّتِ الصُّبْحَ فِي مَنْزِلِهَا، فقال لَهَا: يَا هَنْتَاهُ، مَا أُرَانَا إِلَّا قَدْ غَلَّسْنَا، قَالَتْ: يَا بُنَيَّ، إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَذِنَ لِلظُّعُنِ. (بخاری: ۱٦۷۹)

له اسماء بنت ابو بكر رضي الله عنهما روايت دئ چي د غونډېدو (مزدلفې) په شپه ئې په مزدلفه کي واړول، بيا لمانځه ته پاځېده، لمونځ ئې وکړ بيا ئې وويل: زويه! سپوږمۍ لوېدلې؟ هغه ورته وويل: نه؛ نو بيا ئې د څه وخت لپاره لمونځ وکړ؛ ورپسې ئې وپوښتل: سپوږمۍ لوېدلې؟ وئې ويل: هو؛ اسماء رَضِيَ اللَّهُ عَنْها وويل: خوځېدو ته تيار شئ؛ نو تيار شوو او وخوځېدو؛ تر هغه چي (منٰی ته ولاړو او اسماء رَضِيَ اللَّهُ عَنْها) جمره (عقبه) وويشته؛ بيا راستنه شوه او د سهار لمونځ ئې په خپل هستوګنځي کي اداء کړ، (راوي) وايي: ما ورته وويل: يا فلانۍ فکر کوم موږ په تياره کي راغلي يو! هغې راته وويل: زويه! رسول الله صلی الله علیه و سلم ښځو ته د دې اجازه ورکړې ده.

په روايت کې د مزدلفې شپې ته؛ د (لَيْلَةَ جَمْعٍ: د غونډېدو شپه) نوم ورکړی شوی؛ دا ځکه چي حاجيان دغه شپه په مزدلفه کې په ګډه او صحراء کې تېروي؛ دا هم د يادوني وړ ده چي ولي دا ځای د مزدلفه: د

---

نژدې کېدو ځای؛ په نامه ياد شوی؟ يوه ډېره ظريفه او لطيفه توجيه دا ده چي دا هغه ځای ته نژدې ده چي په سبا ئې حاجيان د دريو ځلو ځای ته درومي؛ په لومړۍ ورځ د واړه او متوسط ځلي له خوا تېرېږي او تر ټولو ستر وروستني ځلي ته ځان رسوي او په اوو (۷) داسي وړو تيږو ئې ولي چي د کارتوس د مردکي په اندازه وي؛ دقيقاً دې ته ورته چي د مجاهدينو يو ټولی؛ د شپې په تياره کي د دښمن سنگرونو ته ځان رسوي او سبا سحر تر دې وړاندي چي دښمن خبر شي او د دفاع لپاره تياری ونيسي بريد پرې کوي. دا درې ځلي په حقيقت کي د هغو دريو ځواکونو سمبولونه دي چي قرآن ئې د فرعون، هامان او قارون په بڼې کي انځوروي؛ هغه چي په شرك ځپلې او جهل ځپلې غير اسلامي ټولني کي پر ولسونو حکومت کوي؛ فرعون د اقتدار او واکمنۍ بېلگه، هامان د شيطاني او غولوونکي مذهبي قيادت بېلگه او قارون د ناروا شتمنيو خاوندانو بېلگه؛ قرآن وايي چي موسی عليه السلام او هر پيغمبر د همدغو درې گونو ځواکونو د مقابلې لپاره لېږل شوی:

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَى بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُبِينٍ ﴿٢٣﴾ إِلَى فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَقَارُونَ فَقَالُوا سَاحِرٌ كَذَّابٌ ﴿٢٤﴾ غافر

او يقيناً چي موږ موسی له خپلو آيتونو او څرگندو دلائلو سره فرعون، هامان او قارون ته ولېږو؛ او هغوی وويل: دروغجن کوډگر دئ.

په دې مبارکو آيتونو کي د حق او باطل تر منځ د مبارزې څرگنده تاريخي بېلگه وړاندي شوې؛ يوه لوري ته تش لاسی موسی عليه السلام دئ او بل لوري ته د مصر د دريو ځواکونو مشران (فرعون، هامان او قارون)، د زور، تزوير او زر خاوندان، موسی عليه السلام داسي حق دين وروړی چي په تأييد کي ئې آيتونه او څرگند دلائل وړاندي کړي.

الله تعالی موسی عليه السلام له خپلو آيتونو او څرگندو دلائلو سره فرعون، هامان او قارون ته ولېږو، د دې لپاره ئې مصر ته ولېږو چي

لومړی د فرعون، بیا د هامان او په پای کې د قارون مقابله وکړي؛ یعني ده ته ئې اصلي دښمنان ورښودلي، دا وضاحت ئې ورته کړی چې په مصر کې به ستا مقابله له چا چا سره وي، خو دا ئې هم ورته ویلي چې څنګه به ئې مقابله کوې، لومړی د چا او ورپسې د چا، د ټولو خو په تدریج سره، داسي چې یوه ته به پر بل اولویت ورکوې، اصلي او لومړی دښمن فرعون دئ، لومړۍ مقابله باید له ده سره وي، داسي نه چې په نورو جبهاتو کې تر دې وړاندي مصروف شې او تر ټولو خطرناك او اصلي دښمن درنه پاته شي!! په لومړي سر کې به د فرعون مقابله کوې، بیا د هامان او ورپسې د قارون؛ څوك چې د موسی علیه السلام په لار د تلو اراده لري نو د دغو دریو خطرناکو دښمنانو مقابلې ته به ملا تړي. هم به د ظالم فرعون، هم د ټګمار هامان او هم د شتمن قارون مقابله کوي، د تاریخ په اوږدو کې تل دغو دریو ځواکونو د پیغمبرانو علیهم السلام مقابله کړې.

په جاهلي نظام کې فرعون محور دئ او هامان او قارون ئې ښی او کیڼ لاسونه.

د حج په مناسکو کې د جمراتو ویشتل شامل دي؛ درې ځلې: ستر، متوسط او ووړ؛ ستر ئې تر نورو شا ته؛ په لومړۍ ورځ د ستر ویشتل؛ له دوو؛ واړه او متوسط تېرېدل او په دوهمه او درېیمه ورځ ټول یو په بل پسې ویشتل؛ په اوو تیږو؛ د اونۍ د ورځو برابر؛ یعني هره ورځ ئې ویشتل؛ حج تا ته همدا درس درکوي. جمرة الکبری په لومړۍ ورځ؛ یوازې او د احرام په لباس کې ویشتل کېږي، په نورو ورځو کې درې واړه او له احرام وتلي لباس کې یو په بل پسې ویشتل کېږي.

په حج کې څو ځایونو ته تګ لرو؛ هر ځای په خاص نامه یاد شوی او یو مهم مطلب افاده کوي: کعبه او طواف ئې؛ کعبه چې د بیت الحرام په نامه یاده شوې؛ په زمکې کې د خدای د محترم او قدرمن کور لپاره تمثال او سمبول؛ خدای له دې مستغني او ډېر لوړ دئ چې مکان ته اړ

وي او د زمکې يو وړوکې کور ئې هستوګنځی وي؛ موږ دې ته اړ يو چې کله غواړو د الله تعالی لوري ته لاړ شو، د هغه په درشل کې د ودرېدو هيله او تلوسه مو تر سره او څرګنده شي؛ يو ځای او لوری ولرو، زموږ دې اړتيا او تلوسې ته د ځواب لپاره؛ اسلام موږ ته د کور په خوا کې جومات ټاکلی، جومات د خدای کور دئ او په ګډه د خدای په وړاندې زموږ د غونډېدو او ودرېدو ځای؛ په دې کور کې هره ورځ پنځه ځلې د خدای په وړاندې لاس تړلي ودرېږو، په وړاندې ئې رکوع او سجده کوو؛ د نړۍ په کچه ئې موږ ته يو ستر او سپېڅلی کور له ستر حريم سره ټاکلی، په عمر کې يو ځل به د توان او امکان په صورت کې د بيت الله حريم کې راغونډېږو او د دغه کور طواف به کوو؛ اوه ځلې؛ د اونۍ د ورځو له شمېر سره برابر؛ يعني چې دا د حج د مناسکو په ضمن کې اوه ځلې دئ خو په حقيقت کې زموږ د ټول عمر د ټولو ورځو لپاره يوه اشاره؛ موږ ته راښيي چې طواف به مو يوازې د الله تعالی د کور طواف وي؛ نه د بل کور؛ او نه د قصرونو او قبرونو طواف؛ د خدای دې کور ته د بيت العتيق نوم ورکړی شوی؛ يعني د آزادۍ کور؛ هغه چې انسان د انسان له بندګۍ او غلامۍ ژغوري؛ کله چې د دې کور حريم ته ننوځو؛ نو د تلبيې له شعار او شعور سره به ننوځو: لبيك اللهم لبيك، لبيك لا شريك لك لبيك، ان الحمد و النعمة لك والملك لا شريك لك؛ همدا به مکرر وايو؛ له خاصې جامې سره به ننوځو؛ داسې جامه چې هر ډول تبعيض او توپير له منځه وړي؛ فقط يو څادر او يو لونګ؛ دا جامه به نه معطره وي او نه رنګ شوې او ګنډل شوې، د پاچا او ګدا، غني او فقير او د ټولو جامه سره ورته؛ کله چې د بيت الله خوا ته رسېږو نو لومړی کار به طواف وي؛ دا اوه ځلې طواف به له حجر الاسود پيلوو؛ په حجر الاسود لاس ايښودل داسې دي لکه الله تعالی ته لاس ورکول؛ نو همدا به مو له خپل رب سره د اطاعت او بندګۍ ژمنه، تعهد او بيعت وي، ښکولول ئې داسې دي لکه د الله تعالی لاس ښکولول؛ دا فقط زموږ

یوې تلوسې ته ځواب ویل دي؛ الله تعالی همغسي چي کور او مکان ته ضرورت نه لري؛ له دې هم لوړ دئ چي په خپل ذات او صفاتو کي کوم مخلوق ته ورته وي او اعضاء او جوارح ولري؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د بیت الله له طواف وروسته په مقام ابراهیم کي دوه رکعته لمونځ کړی، مقام ابراهیم یعني د ابراهیم علیه السلام د ودرېدو ځای، په قرآن کي د مقام ابراهیم یادونه شوې خو د دې لپاره چي ثابته کړي کعبه لومړنی کور دئ چي په زمکه کي، د الله تعالی په حکم او د ابراهیم او اسمعیل علیهما السلام په لاس جوړ شوی؛ په مکه کي د بنو اسمعیل (د اسمعیل علیه السلام اولاد) شتون ښیي چي دا کور د بنو اسمعیلو د جد او د یهودانو د ټولو پیغمبرانو جد؛ په لاس جوړ شوی؛ د دې مهمي ادعاء د اثبات لپاره د مخکیني مضبوط دلیل تر څنګ؛ قرآن درې نور دلائل هم وړاندي کړي: ۱- د ابراهیم علیه السلام له زماني بیا تر ننه؛ په تېرو نژدې څلوېښتو پېړیو کي؛ خلکو د الله تعالی له لوري د حج د یوې فریضې په توګه د دې کور طواف کړی، ۲- ټولو عربو قبائلو د دې کور دومره درناوی کړی چي څوك به د دې کور حریم ته داخل شو؛ نو تر وتلو پوري به له هر راز تېري خوندي وو؛ که چا به د خپل پلار او ورور قاتل هم دلته موندو نو د دې کور د درناوي لپاره به ئې هغه ته له څه ویلو ډډه کوله؛ که چا به د حج او عمرې لپاره د دې کور لوري ته سفر کولو نو د سفر په دوران کي به د حجاز په ټولې پراخي سیمي کي له هر ډول تعرض او شوکو خوندي وو؛ ۳- چا چي د دې کور د ورانولو او سپکاوي هڅه کړې؛ الله تعالی د هغه هڅه شنډه کړې؛ همغسي لکه چي د ابرهه هڅه ئې شنډه کړه. د بیت الله له طواف وروسته د صفا او مروه تر منځ اوه ځلي سعي کوو، صفا او مروه دوه غونډۍ دي چي هاجر علیها السلام د هغوی تر منځ په منډه او آرام تګ کړی وو؛ په دې موخه چي کوم مرستندوی ومومي او زوی ئې اسمعیل علیه السلام او دا په خپله له تندي وژغوري؛ په اوم طواف کي د اسمعیل تر پښو

لاندي د زمزم هغه چينه راوخوټېده چي دا ده تر ۴۰۰۰ کاله زيات موده تېرېږي چي له هغې اوبه راخوټېږي؛ او دا ځکه چي کله ابراهيم عليه السلام هاجر له خپل تي خور ماشوم سره په هغي وحشتناکي بيديا کي يوازي پرېښوده؛ هغه ته ئې وويل: موږ چا ته پرېږدې؟ هغه ورته وويل: الله تعالی ته؛ او دې په ځواب کي ورته وويل: الله تعالی راته کافي دئ؛ هغه به مو نه ضائع کوي؛ د دې توکل، اعتماد او پر خپل رب باور او هغه ځان ته کافي ګڼلو بدله دا وه چي الله تعالی د دې سعي د حج په مناسکو کي شامله کړه؛ داسي چي تر قيامته به حاجيان د خدای د کور له طواف وروسته؛ او متصل ئې؛ د دې مخلص بنده؛ سعي تکراروي؛ د دې په څېر به د دغو دواړو غونډيو تر منځ؛ کټ مټ همغسي سعي کوې چي دې کړې وه؛ اوه ځلي سعي؛ ښايي هاجر عليها السلام به تر دې لږ يا ډېره سعي کړې وي؛ خو ستا سعي به اوه ځلي؛ د اوني د ورځو په شمېر وي؛ يعني هره ورځ او تل به د هغې په څېر پر الله تعالی توکل کوې او خپل رب به ځان ته کافي ګڼې. حاجيان له عرفات وړاندي په منٰی کي توقف کوي؛ منٰی چي د ځينو محققينو له نظره ئې ريښه إيمان دئ؛ يعني د ايمان ټاټوبی؛ عرفات چي ريښه ئې معرفت دئ؛ د حج لومړی منسك؛ علم او معرفت د ايمان پيل دئ او ايمان ئې پايله؛ دا علم او معرفت دئ چي په ايمان منتج کېږي؛ مزدلفه چي د نژدې کېدو ځای دئ؛ قرآن د المشعر الحرام په نامه ياد کړی؛ يعني د محترم او د قدر وړ شعور او فکر ځای او وخت؛ رجمات: هغه چي ويشتل کېږي او بايد وويشتل شي؛ هغه ځای چي درې ځلي رجم کېږي؛ او مزدلفه همدې محل ته نژدې ځای؛ د شپې له لوري دې ځای ته رسېدل؛ يعني د شپې له لوري او پرته له دې چي دښمن خبر شي هغه ته د سبا بريد لپاره نژدې ځان رسول او سهار ئې تر بريد لاندي نيول؛ په بريد کي هم دا په پام کي نيول چي تر ټولو ستر دښمن؛ هغه چي د دوه نورو دښمنانو شا ته وي؛ پر هغه تر نورو وړاندي بريد کول؛ په اوو تيږو ئې ويشتل؛ ولي

اوه تیرې؛ ولې نه تر دې کم او نه زیات؛ د اوښ د ورځو د شمېر په اندازه؛ یعني چې هره ورځ به ئې ولې؛ په خپل ټول ژوند کې او تر هغه چې په منٰی (د ایمان سنګر) کې یې؛ هره ورځ به ئې رجم کوې؛ یعني د خپل برید لاندې به ئې نیسې؛ که دا په لاس وي او که په ژبه؛ شیطان د الله تعالی له لوري رجم شوی؛ دا د انسي شیطانانو ځلې به ته رجم کوې؛ د قرباني څاروي ذبح کول؛ په هغه ځای کې چې ابراهیم علیه السلام د یوه خوب له مخې؛ د خپل زلمي زوی قرباني کولو ته چمتو شوی وو؛ او قرباني ته چمتو زلمی زوی ئې دې ته تیار وو او د ذبح کېدو لپاره ئې سر پر زمکه ایښی وو؛ خو الله تعالی د هغه په بدل کې د پسه ذبح کول او په خپله او مسکینانو ئې خوړل؛ کافي وګڼل او په دې سره ئې د جاهلیت هغه دود د تل لپاره لغوه کړ چې مشر زوی به د خدای په نامه خو د جهل او شرك له کبله د بتانو پښو ته او د خدای په نامه ذبح کېدل؛ همدلته د ابراهیم علیه السلام هغه خاطره او د الله تعالی هغه پېرزوینه رایادول چې د زامنو د ذبح کولو جاهلانه دود ئې د څاروي په ذبح کولو بدل کړ؛ هغه هم الله تعالی ته هدیه او ستا او مسکین بنده د خوراك لپاره.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنها قَالَتْ: نَزَلْنَا الْمُزْدَلِفَةَ، فَاسْتَأْذَنَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَوْدَةُ أَنْ تَدْفَعَ قَبْلَ حَطْمَةِ النَّاسِ، وَكَانَتِ امْرَأَةً بَطِيئَةً، فَأَذِنَ لَهَا، فَدَفَعَتْ قَبْلَ حَطْمَةِ النَّاسِ، وَأَقَمْنَا حَتَّى أَصْبَحْنَا نَحْنُ، ثُمَّ دَفَعْنَا بِدَفْعِهِ، فَلأَنْ أَكُونَ اسْتَأْذَنْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا اسْتَأْذَنَتْ سَوْدَةُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ مَفْرُوحٍ بِهِ. (بخاری: ۱۶۸۱)

له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْها روایت دئ چې وایي: په مزدلفه کي مو واړول، هلته سوده رضي الله عنها چې په تګ کې سوکه مېرمن وه؛ له رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې اجازه وغوښتله چې د خلکو تر ازدحام وړاندې منٰی ته ولاړه شي؛ نو اجازه ئې ورکړه؛ او هغه د خلکو له ازدحام مخکې

ولاړه؛ او موږ تر سهار هملته پاته شوو؛ بيا له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره يو ځای روان شوو؛ که ما هم له رسول الله صلى الله عليه و سلم د سوده رضي الله عنها په څېر د مخکې تګ اجازه غوښتې وی؛ دا د هغه کار په څېر راته غوره برېښي چې انسان پرې خوشحاله کېږي.

## ۵۴ باب: په مزدلفه کې د سهار لمونځ

عَنْ عَبْدِاللَّهِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ قَدِمَ جَمْعًا فَصَلَّى الصَّلاتَيْنِ، كُلَّ صَلاةٍ وَحْدَهَا بِأَذَانٍ وَإِقَامَةٍ، وَالْعَشَاءُ بَيْنَهُمَا، ثُمَّ صَلَّى الْفَجْرَ حِينَ طَلَعَ الْفَجْرُ، قَايِلٌ يَقُولُ: طَلَعَ الْفَجْرُ، وَقَايِلٌ يَقُولُ: لَمْ يَطْلُعِ الْفَجْرُ، ثُمَّ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ هَاتَيْنِ الصَّلاتَيْنِ حُوِّلَتَا عَنْ وَقْتِهِمَا فِى هَذَا الْمَكَانِ، الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ، فَلا يَقْدَمُ النَّاسُ جَمْعًا حَتَّى يُعْتِمُوا، وَصَلاةَ الْفَجْرِ هَذِهِ السَّاعَةَ»، ثُمَّ وَقَفَ حَتَّى أَسْفَرَ، ثُمَّ قَالَ: لَوْ أَنَّ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَفَاضَ الآنَ أَصَابَ السُّنَّةَ. فَمَا أَدْرِى أَقَوْلُهُ كَانَ أَسْرَعَ أَمْ دَفْعُ عُثْمَانَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ، فَلَمْ يَزَلْ يُلَبِّى حَتَّى رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ يَوْمَ النَّحْرِ. (بخارى: ۱۶۸۳)

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چې هغه مزدلفې ته ورسېد؛ او دوه لمونځونه (ماښام او ماخستن) ئې وکړل؛ هر لمونځ بېل او په ځانګړي اذان او اقامت سره؛ ماښامنی خواړه ئې تر منځ؛ بيا ئې هغه مهال د ګهيځ لمونځ وکړ چې سباوون څرګند شوی وو؛ يوه ويونکي وويل چې سباوون څرګند شوی وو؛ او بل وويل: لا سباوون نه وو راختلی؛ بيا ئې وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: دا دواړه لمونځونه؛ ماښام او ماخستن؛ په دې مکان کې له خپل ټاکلي وخت بدلون مومي؛ (ماښام د ماخستن تر وخت ځنډول کېږي)؛ خلک تر هغه مزدلفې ته نه رارسي چې (ماخستن) تياره شوی نه وي؛ او بيا د سهار لمونځ په خپل دغه وخت کې وي؛ بيا (عبدالله بن مسعود رضي الله عنه) تر هغه تم شو چې ښه رڼا شوه؛ بيا ئې وويل: که امير المؤمنين (عثمان رضي الله عنه) همدا اوس ووځي نو د سنتو متابعت به ئې کړی وي، راوي

(عبدالرحمن بن يزيد) وايي: نه پوهېږم چي د عبدالله رضي الله عنه وينا لومړۍ وه که (له مزدلفې) د عثمان رضي الله عنه خوځېدل؛ عبدالله بن مسعود رضي الله عنه تر هغه تلبيه ويله چي د قربانۍ په ورځ ئې شاتنۍ جمره په تيږووويشتله.

## ۵۵ باب: له مزدلفې د حرکت وخت

عَنْ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ صَلَّى بِجَمْعٍ الصُّبْحَ، ثُمَّ وَقَفَ فَقَالَ: إِنَّ الْمُشْرِكِينَ كَانُوا لا يُفِيضُونَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، وَيَقُولُونَ: أَشْرِقْ ثَبِيرُ، وَأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالَفَهُمْ، ثُمَّ أَفَاضَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ. (بخارى: ١٦٨٤)

له عمر رضي الله عنه روايت دئ چي ده د سهار لمونځ په مزدلفه کي وکړ؛ بيا ودرېد او وئې ويل: مشرکين به تر هغه (له مزدلفې) نه وتل چي لمر به نه وو راختلی؛ او ويل به ئې: ثبيره! لمر دي ښه درباندي راوخېژي؛ (ثبير په مزدلفه کي لوی غر دئ؛ مشرکين به تر هغه نه خوځېدل چي لمر به په (ثبير) باندي نه وو ځرگند شوی)؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم د دوی خلاف له لمر ختلو وړاندي د منٰی په لور روان شو.

## ۵٦ باب: د قربانۍ پر اوښ سپرېدل

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلاً يَسُوقُ بَدَنَةً، فَقَالَ: «ارْكَبْهَا». فَقَالَ: إِنَّهَا بَدَنَةٌ، فَقَالَ: «ارْكَبْهَا». قَالَ: إِنَّهَا بَدَنَةٌ، قَالَ: «ارْكَبْهَا وَيْلَكَ». فِى الثَّالِثَةِ أَوْ فِى الثَّانِيَةِ. (بخارى: ١٦٨٩)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ: رسول الله صلی الله عليه و سلم يو سړی وليد چي د قربانۍ اوښ ئې ورسره روان کړی؛ وئې فرمايل: (پرې سپور شه)؛ هغه ووېل: دا د قربانۍ اوښ دئ! وئې فرمايل: (ورباندي سپور شه)؛ هغه ووېل: دا د قربانۍ اوښ دئ! وئې فرمايل: (افسوس پر

تا؛ پرې سپور شه)؛ او دغه خبره ئې په دوهم يا درېيم ځل وکړه.

## ۵۷ باب: څوک چي د حج لپاره هدي له ځان سره بوځي

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما قَالَ: تَمَتَّعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِى حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ، وَأَهْدَى، فَسَاقَ مَعَهُ الْهَدْىَ مِنْ ذِى الْحُلَيْفَةِ، وَبَدَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَهَلَّ بِالْعُمْرَةِ، ثُمَّ أَهَلَّ بِالْحَجِّ، فَتَمَتَّعَ النَّاسُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ، فَكَانَ مِنَ النَّاسِ مَنْ أَهْدَى فَسَاقَ الْهَدْىَ، وَمِنْهُمْ مَنْ لَمْ يُهْدِ، فَلَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ، قَالَ لِلنَّاسِ: «مَنْ كَانَ مِنْكُمْ أَهْدَى فَإِنَّهُ لا يَحِلُّ لِشَىْءٍ حَرُمَ مِنْهُ حَتَّى يَقْضِىَ حَجَّهُ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مِنْكُمْ أَهْدَى، فَلْيَطُفْ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، وَلْيُقَصِّرْ وَلْيَحْلِلْ، ثُمَّ لِيُهِلَّ بِالْحَجِّ، فَمَنْ لَمْ يَجِدْ هَدْيًا فَلْيَصُمْ ثَلاثَةَ أَيَّامٍ فِى الْحَجِّ وَسَبْعَةً إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ». (بخارى: ١٦٩١)

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: په حجة الوداع کي رسول الله صلی الله عليه و سلم تر حج وړاندي له عمرې برخمن شو؛ (عمره او حج ئې يو ځای او يوه احرام سره اداء کړل)؛ له ذي الحليفه ئې هدي (د قربانۍ څاروی) له ځان سره روان کړ، رسول الله صلی الله عليه و سلم لومړی د عمرې بيا د حج نيت وکړ، خلك هم له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره تر حج وړاندي له عمرې متمتع شول؛ له خلکو ځيني داسي وو چي د قربانۍ نيت ئې کړی وو او څاروي ئې له ځان سره روان کړي وو او ځينو د قربانۍ نيت نه وو کړی؛ نو کله چي رسول الله صلی الله عليه و سلم مکې ته ورسېد؛ خلکو ته ئې وفرمايل: (له تاسو چي څوک هدي له ځان سره لري؛ نو دوی دي تر هغه چي خپل حج پای ته ورسوي؛ هيڅ داسي شه ځان ته حلال نه گڼي چي ترې منع شوي؛ خو هغه چي هدي نه لري؛ هغوی دي د بيت الله طواف او د صفا او مروه تر منځ سعي وکړي، د سر وېښتان دي لنډ کړي او له

احرام دي ووځي؛ بیا دي د حج نیت وکړي؛ او که څوك هدي نه مومي (وس ئې نه لري)؛ نو درې ورځي (د ذي الحجې ۷، ۸، ۹) روژه دي د حج په دوران کې ونیسي او اوه ورځي کله چي خپلي کورنۍ ته ستون شي)

## ۵۸ باب: په ذي الحلیفه کي د قربانۍ د اوښ په نښه کول او ورپسې احرام تړل

عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ وَمَرْوَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالا: خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَمَنَ الْحُدَيْبِيَةِ مِنَ الْمَدِينَةِ فِي بِضْعَ عَشْرَةَ مِائَةً مِنْ أَصْحَابِهِ، حَتَّى إِذَا كَانُوا بِذِي الْحُلَيْفَةِ، قَلَّدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْهَدْيَ وَأَشْعَرَهُ، وَأَحْرَمَ بِالْعُمْرَةِ. (بخاری: ۱٦۹٤، ۱٦۹۵)

له مِسْوَر بن مَخْرَمَه او مروان رضي الله عنهما روایت دئ چي وایي: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حدیبیې صلحې په موده کي؛ له څو سوه خپلو یارانو سره له مدینې ووت؛ تر هغه چي ذي الحلیفه ته ورسېدل، هلته رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هدي ته غاړکۍ واچوله او په نښه ئې کړ او د عمرې لپاره ئې احرام وتړلو.

## ۵۹ باب: د قربانۍ اوښانو ته په خپل لاس د غاړکیو اچول

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْها: أَنَّهَا بَلَغَهَا: أَنَّ عَبْدَاللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: مَنْ أَهْدَى هَدْيًا، حَرُمَ عَلَيْهِ مَا يَحْرُمُ عَلَى الْحَاجِّ، حَتَّى يُنْحَرَ هَدْيُهُ، فَقَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْها: لَيْسَ كَمَا قَالَ، أَنَا فَتَلْتُ قَلائِدَ هَدْيِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيَّ، ثُمَّ قَلَّدَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيْهِ، ثُمَّ بَعَثَ بِهَا مَعَ أَبِي، فَلَمْ يَحْرُمْ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْءٌ أَحَلَّهُ اللَّهُ لَهُ حَتَّى نُحِرَ الْهَدْيُ . (بخاری: ۱۷۰۰)

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي دې ته دا خبره ورسېده چي عبدالله بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما ويلي: چا چي هدي لېږلې وي؛ پر هغه د هدي تر ذبح کېدو پوري ټول هغه شيان حرام دي چي د حاجي لپاره حرام شوي دي؛ نو عائشې رضي الله عنها وويل: داسي نه ده لکه چي هغه ويلي؛ ما په خپل لاس د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قربانۍ څارويو ته غاړکۍ واوبدلې، بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم همغه غاړکۍ په خپل لاس د اوښانو په غاړو کي واچولې؛ بيا ئې زما له پلار سره واستول او د حج د قربانۍ د څاروي تر حلالېدو پورې پر رسول الله صلى الله عليه و سلم د الله تعالى له خوا له حلال شويو شيانو هيڅ شى هم حرام نه شو.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلى: ۱۷۰۰ - ۲۳۱۷

توپير: يو توپير ئې په راويانو کې دئ؛ د يوه وروستى راوي عَبْدُ اللَّهِ بْن يُوسُفَ دئ او د بل إِسْمَاعِيل بْن عَبْدِ اللَّهِ، بل توپير ئې دا دئ چي په يوه کې ويل شوي: زِيَادَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ كَتَبَ إِلَى عَائِشَةَ او په بل کې دا مطلب نه دئ راغلى.

د ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما په دې روايت کې ابهام دئ؛ له الفاظو ئې داسي نه معلومېږي چي دا هدي د داسي چا له لوري لېږل کېږي چي فقط هدي لېږي؛ پرته له دې چي د حج يا عمرې نيت او اراده ئې کړې وي؛ په روايت کې به دا مطالب مقدر نيسو (په داسي حال کې چي د حج نيت ئې نه وي کړى)؛ د ده د روايت بشپړه بڼه دا ده:

(إِن من بعث بهديه إِلَى مَكَّة وَأَقَام هُوَ، فَإِنَّهُ يلْزمه أَن يجْتَنب مَا يجتنبه الْمحرم حَتَّى ينْحَر هَدْيه)

څوك چي مکې ته په داسي حال کې هدي ولېږي چي په خپله (د حج يا عمرې) په سفر نه وځي؛ نو پرې لازمه ده له هر هغه څه اجتناب وکړي

چې محرم ترې اجتناب کوي؛ تر هغه چې هدي ئې ذبح شي.

خو نورو د دې رأى خلاف د عائشې رضي الله عنها وينا تأييد کړې او ويلي ئې دي:

لَا يجب على من بعث بِهَدى أَن يتجرد عَن ثِيَابه وَلَا يتْرك شَيْء مِمَّا يتْركهُ الْمحرم إِلاَّ بِدُخُولِهِ فِي الْإِحْرَام، إِمَّا بِحَجّ وَإِمَّا بِعُمْرَة:

پر هغه چا چې هدي ئې (له بل چا سره) لېږلې وي؛ نه د جامو ايستل (بدلول) پرې لازمېږي او نه دا چې هغه څه به ترك کوي چې محرم ئې ترك کوي؛ مگر دا چې د حج يا عمرې لپاره احرام وتړي.

ښايي عبد الله بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما د بقرې سورې د ۱۹٦ آيت له دې فقرې (... فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ وَلا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ ....) داسي انگېرلې وي چې هر هدي لېږونکی؛ که د حج او عمرې اراده ئې کړې خو له خنډ او مانع سره مخامخ شوی؛ او هدي پرې لازمه شوې او تر هغه به له احرام نه وځي چې هدي ئې خپل محل ته نه وي رسېدلې؛ او که له حج او عمرې پرته له بل سره هدي لېږي؛ دا به هم تر هغه له محظوراتو ډډه کوي چې هدي ئې خپل محل ته ورسېږي؛ خو عائشې رضي الله عنها د هغه دا انگېرنه او قياس تصحيح کړی او ويلي ئې دي: رسول الله صلى الله عليه و سلم زما د پلار په لاس په داسي حال کې هدي ولېږله چې په مدينه کې پاته وو او د حج لپاره نه وو تللی؛ خو هغه د محظوراتو په مراعات ځان مكلف نه دئ گڼلی؛ د څاروي تر حلالېدو پورې؛ پر رسول الله صلى الله عليه و سلم د الله تعالى له خوا له حلال شويو شيانو هيڅ شی هم نه وو حرام شوی!!

## ٦٠ باب: پسونو ته غاړکۍ اچول

عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنها قَالَتْ: أَهْدَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً غَنَمًا. وَفِى رِوَايَةٍ: أَنَّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَلَّدَ الْغَنَمَ وَيُقِيمُ فِى أَهْلِهِ حَلالاً عِنْدِى. (بخارى:

(١٧٠١ـ ١٧٠٢)

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وئې ويل: يو ځل رسول الله صلی الله عليه و سلم يو پسه د حج د قربانۍ لپاره ولېږو؛ او په بل روايت کې راغلي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د قربانۍ پسه ته غاړکۍ واچوله او پخپله له احرام آزاد له خپلې کورنۍ سره پاته شو.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۲ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ١٧٠١-١٧٠٢-

توپير: په يوه کې قَلّدَ الْغَنَمَ په بل کې كُنْتُ أَفْتِلُ القَلاَئِدَ لِلنَّبِيّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَيُقَلّدُ الغَنَمَ په يوه کې فِي أَهْلِهِ حَلالاً عِنْدِي په َبل کې وَيُقِيمُ فِي أَهْلِهِ حَلاَلًا راغلي.

له رواياتو په واضح توګه معلومېږي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم تر احرام وړاندي او هغه مهال چې لا ئې احرام نه دئ تړلی او په مدينه کې له خپلې کورنۍ سره پاته وو؛ له ابو بکر رضي الله عنه سره ئې هدي لېږلې؛ په کار وه چې په مخکيني (١٧٠٠) روايت کې دا وضاحت شوی وی؛ له دې پرته هغه روايت د بخاري هر لوستونکی په شك کې اچوي.

## ٦١ باب: غاړکۍ د وړيو وي

وَفِيْ رِوَايَةٍ عَنْهَا قَالَتْ: فَتَلْتُ قَلاَئِدَهَا مِنْ عِهْنٍ كَانَ عِنْدِي . (بخاری: ١٧٠٥)

او له دې (عائشه رضي الله عنها) په بل روايت کې راغلي چې وئې ويل: د هغوی غاړکۍ مې له هغو وړيو واوبدلې چې راسره وې.

له باب داسي معلومېږي چې غاړه کۍ بايد له وړيو جوړي شي خو له روايت داسي نه معلومېږي؛ عائشې رضي الله عنها فقط دا ويلي چې له هغو وړيو مې جوړي کړې چې راسره وې.

## ٦٢ باب: د اوښانو څل په خیرات کي ورکول

عَنْ عَلِيٍّ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: أَمَرَنِى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَتَصَدَّقَ بِجِلاَلِ الْبُدْنِ الَّتِى نَحَرْتُ وَبِجُلُودِهَا. (بخارى: ١٧٠٧)

له علي رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم امر راته وکړ چي د قربانۍ د حلال شویو اوښانو څلونه او پوستکي صدقه کړم.

تکرار: دا روایت په بخاري کي ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٧٠٧-٢٢٩٩

توپیر: په یوه کي أَنْ أَتَصَدَّقَ بِجِلالِ الْبُدْنِ الَّتِي نَحَرْتُ وَبِجُلُودِهَا په بل کي أَنْ أَتَصَدَّقَ بِجِلَاَلِ البُدْنِ الَّتِي نُحِرَتْ، وَبِجُلُودِهَا؛ یعني په یوه کي ویل شوي چي ما ذبح کړ او په بل کي ذبح کوونکی معلوم نه دئ.

## ٦٣ باب: د خپلو مېرمنو لپاره د هغوی له اجازې پرته غوایان قرباني کول

عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْها تَقُولُ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِخَمْسٍ بَقِينَ مِنْ ذِى الْقَعْدَةِ، تَقَدَّمَ وَفِىْ هذِهِ الرِّوَايَةِ زِيَادَةٌ: فَدُخِلَ عَلَيْنَا يَوْمَ النَّحْرِ بِلَحْمِ بَقَرٍ، فَقُلْتُ: مَا هَذَا ؟ قَالَ: نَحَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَزْوَاجِهِ. (بخارى: ١٧٠٧)

له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چي وئې ویل: له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره په داسي حال کي روان شوو چي د ذي القعدې پنځه ورځي پاته وې؛ دا حدیث مخکي تېر شوی؛ په اوسني کي دا زیاتونه ده: د لوی عید په ورځ د غوایي غوښه راته راوړل شوه؛ ما وویل: دا څه دي؟ راوړونکي وویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم د خپلو مېرمنو لپاره قرباني کړې ده.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٧٠٩ - ١٧٢٠ - ٢٩٥٢ –

توپير: په يوه کې فَلَمَّا دَنَوْنَا مِنْ مَكَّةَ په بل کې حَتَّى إِذَا دَنَوْنَا مِنْ مَكَّةَ؛ په يوه کې مَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ هَدْيٌ إِذَا طَافَ وَسَعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالمَرْوَةِ أَنْ يَحِلَّ په بل کې مَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ هَدْيٌ، إِذَا طَافَ بِالْبَيْتِ، ثُمَّ يَحِلُّ؛ د صفا او مروې تر منځ د سعي له راوړلو پرته؛ نه پوهېږو چې بخاري دا ناقص روايت ولې راوړی؛ که څوك له بشپړ روايت خبر نه وي او په لومړي عمل کولو ټينګار وکړي؛ نتيجه به ئې اختلاف رامنځته کېدا وي؛ داسي ناقص روايت راوړل د ګڼې پر ځای تاوان کوي؛ که احياناً راوړل لابدي وي نو محدث بايد دا وضاحت وکړي چې کوم يو ئې ناقص دئ او د نقص مورد په ګوته کړي؛ دلته په روايت کې له طواف وروسته او متصل له احرام وتل راغلي؛ پرته له دې چې د صفا او مروه تر منځ د سعي يادونه وشي؛ او دا صحيح نه دئ؛ حاجي به له سعي وروسته له احرام وځي نه تر دې وړاندې.

که څه هم د دغو دريو رواياتو په پای کې دا فقره (قَالَ يَحْيَى: فَذَكَرْتُ هَذَا الحَدِيثَ لِلْقَاسِمِ، فَقَالَ: أَتَتْكَ بِالحَدِيثِ عَلَى وَجْهِهِ: يحيى وويل: دا حديث مي قاسم ته ياد کړ؛ هغه وويل: په سمه توګه ئې حديث درته راوړی)؛ خو ١٧٢٠ روايت ځکه ناقص دئ چې د صفا او مروه تر منځ د سعي يادونه په کې نه ده شوې.

## ٦٤ باب: د رسول صلى الله عليه و سلم د قربانۍ په ځای کي قرباني

عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما: أَنَّهُ كَانَ يَنْحَرُ فِي الْمَنْحَرِ. قَالَ عُبَيْدُاللَّهِ يعنى: مَنْحَرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . (بخارى: ١٧١٠)

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي هغه به د قربانۍ په ځای کي قرباني کوله؛ (د روايت راوي) عبيدالله وايي: يعني د رسول الله

صلی الله علیه و سلم منحر (د قربانۍ ځای) کې.

## ٦٥ باب: د تړل شوي اوښ حلالول

وَعَنْهُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ رَأَى رَجُلاً قَدْ أَنَاخَ بَدَنَتَهُ يَنْحَرُهَا، قَالَ: ابْعَثْهَا قِيَامًا مُقَيَّدَةً سُنَّةَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (بخاری: ۱۷۱۳)

او له همده (ابن عمر) رضي الله عنهما روایت دئ چي یو سړی ئې ولید چي د قربانۍ خپل اوښ په داسي حال کي حلالوي چي چو کړی ئې دئ؛ ابن عمر رضي الله عنهما وویل: تړل شوی ولاړ ئې ودروه؛ (بیا ئې حلال کړه)؛ همدا د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنت دئ.

د اوښ ذبح کولو سنت دا دئ چي یوه مخکینۍ کینه پښه ئې له ورون سره په پړي وتړل شي؛ په دریو پښو ولاړ پرېښودی شي، بیا ئې د غاړي ببخ (حلقوم) کي په زور سره تېزه چاړه ووهل شي، چي په دې سره دویني بهېدا پیل کېږي، د زیاتي ویني په وتلو سره هغه په اړخ څملي، له هغه وروسته چي سا ئې وخېژي او خوځېدا ئې بنده شي؛ ټوټې ټوټې کېدی شي.

## ٦٦ باب: قصاب ته دي له قربانۍ څه نه ورکول کېږي

عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: أَمَرَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَقُومَ عَلَى الْبُدْنِ، وَلا أُعْطِيَ عَلَيْهَا شَيْئًا فِي جِزَارَتِهَا. (بخاری: ۱۷۱۶)

له علي رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم امر راته وکړ چي د قربانۍ اوښانو ذبح کولو نظارت وکړم؛ او هیڅ څه ئې په اجورې کي ورنه کړم.

په دې روایت کي د هغو سلو اوښانو قرباني کولو ته اشاره شوې چي رسول الله صلی الله علیه و سلم په حجه الوداع کي قرباني کړي وو؛ ٦٣ ئې په خپل لاس ذبح کړي او د پاته نورو په ذبح کولو ئې علي رضي الله عنه ګمارلی او هغه ته ئې ویلي: د دغو اوښانو هیڅ څه؛ د ځل او پوستکي

په شمول قصاب ته د اجورې په توګه ورنه کړي؛ بلکې ټول صدقه کړي.

## ٦٧ باب: د قربانۍ له غوښې څومره وخوړل شي او څومره صدقه شي؟

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: كُنَّا لا نَأْكُلُ مِنْ لُحُومِ بُدْنِنَا فَوْقَ ثَلاثِ مِنًى فَرَخَّصَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «كُلُوا وَتَزَوَّدُوا» فَأَكَلْنَا وَتَزَوَّدْنَا. (بخاری: ١٧١٩)

له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: په پيل کي به مو د حج د قربانۍ له غوښې د منٰى له دريو ورځو (د ذي الحجى ١٠، ١١، ١٢)؛ وروسته څه نه خوړل؛ بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم اجازه راکړه او وئې فرمايل: (وخورئ او توښه ئې کړئ؛ يعنى درسره وئې ساتئ). نو موږ هم وخوړه او هم مو له ځان سره وساتله.

## ٦٨ باب: له احرام د آزادېدو په مهال د سر وېښتانو خرېيل يا لنډول

عن ابْن عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قال: حَلَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّتِهِ. (بخاری: ١٧٢٦)

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپل حج کي سر وخرېيو.

وعنه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اللَّهُمَّ ارْحَمِ الْمُحَلِّقِينَ» قَالُوا: وَالْمُقَصِّرِينَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: «اللَّهُمَّ ارْحَمِ الْمُحَلِّقِينَ» قَالُوا: وَالْمُقَصِّرِينَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: «وَالْمُقَصِّرِينَ». (بخاری: ١٧٢٧)

او له همده (ابن عمر رضي الله عنهما) روايت دئ چي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (خدايه! پر سر خرېيونکو رحم وکړه)؛ يارانو

ئې وويل: يا رسول الله صلى الله! او پر هغو هم چې وېښتان ئې لنډ کړي؛ وئې فرمايل: (خدايه! پر سر خرېيونکو رحم وکړه)؛ يارانو ئې بيا وويل: يا رسول الله صلى الله! او پر هغو هم چې وېښتان ئې لنډ کړي؛ وئې فرمايل: (او په لنډوونکو هم).

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُحَلِّقِينَ» قَالُوا: وَلِلْمُقَصِّرِينَ، قَالَ: «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُحَلِّقِينَ»، قَالُوا: وَلِلْمُقَصِّرِينَ، قَالَهَا ثَلاَثًا، قَالَ: «وَلِلْمُقَصِّرِينَ» (بخاری: ۱۷۲۸)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: الهي! محلقينو ته بخښنه وکړه؛ يارانو ئې وويل: او مقصرينو ته هم؛ وئې فرمايل: الهي! محلقينو ته بخښنه وکړه؛ يارانو ئې وويل: او مقصرينو ته هم؛ درې ځلي ئې همدا وويل؛ بيا ئې وفرمايل: او مقصرينو ته هم.

عَنْ مُعَاوِيَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَصَّرْتُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِشْقَصٍ. (بخاری: ۱۷۳۰)

له معاويه رضي الله عنه روايت دئ چې وئې ويل: د رسول الله صلى الله عليه و سلم د سر وېښتان مي په پلن سر لرونکي غشي لنډ کړل.

دا د مکې له فتحې او د معاويه له مسلمانېدو وروسته او د هغه مهال پېښه ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم عمره وکړه او دا د جعرانه عمره په نامه ياده شوه؛ د همدې عمرې په پای کې معاويه د رسول الله صلى الله عليه و سلم وېښتان لنډ کړي؛ بخاري دا روايت د دې لپاره راوړی چې وښيي په حج او عمره کې قصر جائز او د سنت مطابق دئ.

## ٦٩ باب: د جمرو ويشتل

عَنْ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أنه سأله رجل: مَتَى أَرْمِي الْجِمَارَ قَالَ: إِذَا رَمَى إِمَامُكَ

فَارْمِهْ، فَأَعَدْتُ عَلَيْهِ الْمَسْأَلَةَ قَالَ: كُنَّا نَتَحَيَّنُ فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ رَمَيْنَا. (بخارى: ۱۷٤٦)

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي يوه سړي ترې وپوښتل: جمرې څه وخت وولم؟ وئې ويل: کله چي ستا امام وويشتلې ته ئې هم ووله؛ (راوي) وايي ما خپله پوښتنه بيا ورته تکرار کړه؛ نو وئې ويل: موږ به انتظار کولو؛ کله چي به لمر زوال وکړ (لوېديځ ته به مايل شو)؛ جمرې به مو وويشتلې.

دا روايت وايي چي موږ به جمرات له زوال وروسته رمي کول؛ خو تاسو تر دې وړاندي د بخاري: ۱٦٧٩ روايت کې واورېدل چي اسماء بنت ابو بکر رضي الله عنها سحر وختي جمرة العقبه ويشتلې او بيا ئې ګهيځ لمونځ کړی؛ او ويلي ئې دي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ښځو ته د دې اجازه ورکړې ده. بخاري دا وضاحت نه دئ کړی چي د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما په روايت کې له دې عامي وينا: موږ به له زوال وروسته جمرات ويشتل؛ ښځې هم شاملي دي که نه؛ د روايت له الفاظو د هغوی استثناء نه معلومېږي؛ نو يا به وايو چي د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما په روايت کې له دې کبله نقص دئ چي مېرمني ئې نه دي مستثنی کړې او يا به وايو چي د رواياتو تر منځ تعارض دئ او ناچار يو به ترې غوره کوو؛ د بخاري لوستونکی نه پوهېږي چي په کوم روايت به عمل کوي او ارجح ئې کوم دئ.

## ۷۰ باب: د درې له منځه د جمرو ويشتل

عَنْ عَبْدِاللَّهِ بن مسعود رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ أنه رَمَى مِنْ بَطْنِ الْوَادِى فقيل له: إِنَّ نَاسًا يَرْمُونَهَا مِنْ فَوْقِهَا، فَقَالَ: وَالَّذِى لا إِلَهَ غَيْرُهُ هَذَا مَقَامُ الَّذِى أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . (بخارى: ۱۷٤٧)

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي ده د درې له منځه

جمرې وويشتلې؛ ده ته وويل شو: ځيني خلک خو ئې د درې له پورتنۍ برخي ولي؟ وئې ويل: قسم په هغه ذات چي له ده پرته بل إله او معبود نشته؛ دا د هغه چا مکان او مقام دئ چي د بقرې سوره پرې نازله شوې.

دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۷٤۷ - ۱۷٤۹ -

توپير: په يوه کي رَمَى عَبْدُ اللَّهِ مِنْ بَطْنِ الوَادِي په بل کي فَرَآهُ يَرْمِي الجَمْرَةَ الكُبْرَى بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ، فَجَعَلَ البَيْتَ عَنْ يَسَارِهِ وَمِنًى عَنْ يَمِينِهِ، په يوه کي إِنَّ نَاسًا يَرْمُونَهَا مِنْ فَوْقِهَا؟ ... وَالَّذِي لاَ إِلَهَ غَيْرُهُ، راغلي په بل کي دا الفاظ او مطلب نشته.

په ۱۷٤۷ روايت کي دوه ابهامات ليدل کېږي: ۱- د وادي بطن او منځ ويل شوی چي مطلب ئې واضح نه دئ، ۲- د دې فقرې (هَذَا مَقَامُ الَّذِي أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ البَقَرَةِ)؛ الفاظ او ترکيب ئې داسي دئ چي گواکي د بقرې سوره همدلته نازله شوې وي؛ په داسي حال کي چي د بقرې سوره لومړنۍ مدنې سوره ده چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم تر حج نژدې نه (۹) کاله وړاندي نازله شوې؛ که څه هم په دې سوره کي د حج اړوند اکثر لارښووني راغلې؛ خو په هيڅ آيت کي ئې صراحتاً او تلويحاً داسي څه نه دي راغلي چي وښيي جمرې به له کوم مکان ويشتل کېږي.

په ۱۷٤۹روايت کي راوي ويلی: له عبد الله بن مسعود سره مي حج وکړ؛ هغه ئې ليدلی چي شاتنۍ جمره ئې په اوو تيږو ويشتلې؛ په داسي توگه چي بيت الله ئې کيڼ لاس او منٰى ئې ښي لاس ته کړې وه؛ يعني چي همدا د وادي د بطن تعبير دئ!

## ۷۱ باب: جمرې په اوو وړو تيږو ويشتل کېږي

وعنه رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ انْتَهَى إِلَى الْجَمْرَةِ الْكُبْرَى جَعَلَ الْبَيْتَ عَنْ يَسَارِهِ وَمِنًى عَنْ يَمِينِهِ وَرَمَى بِسَبْعٍ وَقَالَ هَكَذَا رَمَى الَّذِى أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ .
او له ده (ابن مسعود رضي الله عنه) روايت دئ چي تر لويي جمرې (جمرة العقبه: شاتنۍ جمرې) پوري ولاړ؛ داسي ودرېد چي بيت الله ئې کيڼ لوري ته او منٰی ئې ښۍ لوري ته کړه او په اوو (تيږو) ئې وويشتله او وئې ويل: همداسي هغه چا وويشتله چي د بقرې سوره پرې نازله شوې (صلی الله عليه و سلم).

په دې روايت کې هغه ابهام رفع شوی چي په ۱۷٤۷ روايت کې تر سترګو کېږي.

## ۷۲ باب: د شاتنۍ جمرې له ويشتلو وروسته نه درېدل

عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّهُ كَانَ يَرْمِي الجَمْرَةَ الدُّنْيَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ، يُكَبِّرُ عَلَى إِثْرِ كُلِّ حَصَاةٍ، ثُمَّ يَتَقَدَّمُ حَتَّى يُسْهِلَ، فَيَقُومَ مُسْتَقْبِلَ القِبْلَةِ، فَيَقُومُ طَوِيلًا، وَيَدْعُو وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ، ثُمَّ يَرْمِي الوُسْطَى، ثُمَّ يَأْخُذُ ذَاتَ الشِّمَالِ فَيَسْتَهِلُ، وَيَقُومُ مُسْتَقْبِلَ القِبْلَةِ، فَيَقُومُ طَوِيلًا، وَيَدْعُو وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ، وَيَقُومُ طَوِيلًا، ثُمَّ يَرْمِي جَمْرَةَ ذَاتِ العَقَبَةِ مِنْ بَطْنِ الوَادِي، وَلاَ يَقِفُ عِنْدَهَا، ثُمَّ يَنْصَرِفُ، فَيَقُولُ «هَكَذَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهُ» (بخاری: ۱۷۵۱)

روايت دئ چي ابن عمر رضي الله عنهما به نژدې يا لومړنۍ جمره په اوو وړو تيږو ويشتله او په هري تيږي پسي به ئې متصل تکبير (الله اکبر) ويلو؛ بيا به مخکي ولاړ تر هغه چي اواري ته به برابر شو، هلته به قبلې ته مخامخ ودرېدو؛ اوږده شېبه به ولاړ وو؛ دعاء به ئې کوله او لاسونه به ئې لوړول؛ ورپسې به ئې منځنۍ جمره ويشتله، بيا به کيڼ لوري ته ولاړ او اواري ته به برابر شو، قبلې ته به مخامخ ودرېدو، ډېر ځنډ به ولاړ وو؛ دعاء به ئې کوله او لاسونه به ئې لوړول؛ له ډېر ودرېدو وروسته به ئې د درې له لاندينۍ برخي جمره عقبه ويشتله او هلته به

نه درېدو، ستون به شو او ويل به ئې: رسول الله صلى الله عليه و سلم مي ليدلی چي همداسي ئې كول.

تكرار: دا روايت په بخاري كي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۷۵۱ - ۱۷۵۲

توپير: په متن كي ئې عادي توپيرونه شته؛ د اسنادو له پلوه داسي دي چي د يوه راويان دا دي: عُثْمَان بْن أَبِي شَيْبَة، طَلْحَة بْن يَحْيَى، يُونُس، الزُّهْرِيِّ، سَالِمٍ او ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما او د بل دا: إِسْمَاعِيل بْن عَبْدِ اللَّهِ، ورور ئې سُلَيْمَانَ، يُونُس بْنِ يَزِيد، ابْنِ شِهَاب، سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ او عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رضي الله عنهما. په دواړو كي د جمراتو د ويشتلو ترتيب او ځرنگوالی توضيح شوی.

د دغو دريو ځلو ويشتل داسي دي: كله چي حاجي د لوی اختر په لومړۍ ورځ؛ لسم د ذي الحجې؛ د ځلو ځای ته رسي؛ هلته به درې د ډبرو ځلي وومي؛ دا د ويشتلو وړ ځلي دي، د ويشتلو لپاره جوړ شوي؛ د شيطانانو ځلي نه دي؛ شيطان يو دئ او نه ليدل كېږي؛ دا د هغو ځلي دي چي ليدل كېږي؛ له شيطان سره زموږ جگړه فكري او اعتقادي وي؛ هغه موږ وسوسه كوي او موږ ئې په خپل ايمان سره وسوسې شنډوو؛ خو له دغو ځلو سره زموږ مقابله بايد داسي وي چي وئې ولو؛ هره ورځ به ئې ولو، تر هغه چي د ايمان په سنگر او وادي كي وو دوی به ولو؛ له ليدو او نژدې كېدو سره سم به پر هغوی بريد كوو؛ دا د هري جاهلي او غير ديني ټولني درې واكمني څېرې تمثيلوي؛ فرعون، هامان او قارون تمثيلوي؛ هغه چي موسی عليه السلام او هر پيغمبر ئې مقابلې ته لېږل شوي او تللي؛ ستا مخي ته به په لومړۍ ورځ او په پيل كي ووړ ځلی راځرگند شي؛ بيا منځنی ځلی؛ له دواړو به تېرېږي وروستي او لوی ځلي ته به ځان رسوي؛ حاجي به په يولسمه او دولسمه د ذي الحجي هم همدلته د ځلو د ويشتلو لپاره راځي؛ درې واړه ځلي به يو په بل پسي ولي؛ كه ئې تلوار نه وو او وخت ئې درلود نو ديارلسمه ورځ به هم دا

کار کوي؛ د لوی ځلي ويشتلو وخت د لوی اختر لومړۍ ورځې د لمر له راختلو تر زوال د لمر ده؛ ضعيفان، مريضان، بوډاګان کولی شي له مزدلفې منٰی ته ولاړ شي؛ د يوم النحر شپې د سپوږمۍ له لوېدو سره سم او کله چې وتوانېږي لوی ځلي ته ورسېږي؛ همغه مهال ئې ويشتل ورته جائز دي.

خو په ايام تشريق (د ذي الحجې ۱۱-۱۲-۱۳) کې د ځلو ويشتلو وخت د لمر له زوال (چې د ماسپښين لمونځ روا کېږي) تر لمر ولېدو پوري دئ؛ البته د هغو لپاره چې څه عذر نه لري؛ او د معذورو لپاره د شپې له لوري ئې هم ويشتل جائز دئ.

دا هم يو سنت دئ چې د هري تيږي له ويشتلو سره (الله اکبر: الله تر ټولو ستر دئ) وويل شي؛ او دا هم سنت دئ چې ايام التشريق (۱۱-۱۲-۱۳ د ذي الحجې) کې د واړه ځلي له رمي (تيږو ويشتلو) وروسته؛ د دعاء لپاره قبلې ته مخ کړي، په داسي فارغ ځای کې ودرېږي چې خپل کيڼ لاس ته ئې کړي، لاسونه اوچت او دعاء وکړي؛ همدا راز د منځني ځلي له ويشتلو وروسته؛ په داسي فارغ ځای کې ودرېږي چې دا ځلی ئې ښي لاس ته کړی وي؛ او اوږده دعاء وکړي؛ خو د شاتني ځلي له ويشتلو وروسته دعاء کول نشته؛ يعني چې لوی دښمن دي ويشتلی؛ کار دي بشپړ شوی او ستا د مبارزې يو پړاو بشپړ شوی او د دې پړاو مأموريت دي پای ته رسېدلی.

د لومړي او وروستي ځلي تر منځ نژدې نيم کيلومتر (٤٤٧) متر واټن دئ؛ ۲۰۰ متر د لومړي او منځني تر منځ او ۲٤۷ متره د منځني او شاتني تر منځ.

هغه حاجي ته چې تلوار لري؛ جائزه ده چې د اختر په درېيمه ورځ؛ د جمراتو له ويشتلو وروسته له منٰی ووځي او مکې ته مخه کړي؛ خو تر لمر لوېدو وړاندي به وځي؛ که ونه توانېدو او وځنډېدو نو په منٰی کې به پاته کېږي او په سبا به ئې هم دري واړه ځلي ولي.

## ۷۳ باب: د وداع طواف

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: أُمِرَ النَّاسُ أَنْ يَكُونَ آخِرُ عَهْدِهِمْ بِالْبَيْتِ إِلَّا أَنَّهُ خُفِّفَ عَنِ الْحَائِضِ. (بخاری: ۱۷۵۵)

له ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روایت دئ چي وایي: خلکو ته امر شوی چي په حج کي ئې وروستی عمل له بیت الله سره وي (طواف وکړي)، خو حائضه ښځه له دې کار معافه ده.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ ثُمَّ رَقَدَ رَقْدَةً بِالْمُحَصَّبِ ثُمَّ رَكِبَ إِلَى الْبَيْتِ فَطَافَ بِهِ. (بخاری: ۱۷۵۶)

له انس بن مالک رضي الله عنه روایت دئ چي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د ماسپښین، مازدیگر، ماښام او ماخستن لمونځونه وکړل؛ بیا لږ ساعت په محصب کي (د مکې او منٰی تر منځ پراخ ډاگ) کي ویده شو، وریسې سپور شو او بیت الله ته ولاړ طواف ئې وکړ.

## ۷۴ باب: که ښځه له طواف افاضه وروسته حائضه شي

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: رُخِّصَ لِلْحَائِضِ أَنْ تَنْفِرَ إِذَا أَفَاضَتْ. قَالَ: وَسَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ يَقُولُ: إِنَّهَا لا تَنْفِرُ ثُمَّ سَمِعْتُهُ يَقُولُ: بَعْدُ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ لَهُنَّ. (بخاری: ۱۷۶۰ـ ۱۷۶۱)

له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روایت دئ چي وایي: کومه ښځه چي له طواف افاضه وروسته حائضه شي؛ هغې ته دا اجازه شته چي له طواف وداع پرته خپل وطن ته ستنه شي.

یو راوي وایي: له ابن عمر رضي الله عنهما مي اورېدلي چي ویل ئې: دا ښځه دي نه ځي (تر هغه چي له حیض پاکه شي او د وداع طواف وکړي)؛ خو وروسته مي دا ترې واورېدل چي ویل ئې: رسول الله صلی

الله عليه و سلم ښځو ته (د تلو) اجازه ورکړې. يعنی کومه ښځه چې د افاضه طواف (د زيارت طواف) وکړي، بيا حائضه شي؛ هغې ته اجازه ده چې د وداع له طواف پرته خپل ملک ته ستنه شي.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۳۲۹ - ۳۳۰ - ۱۷٦۰ - ۱۷٦۱ -

توپير: ۳۲۹ او ۱۷٦۰ روايتونه د متن له پلوه کاملاً سره ورته دي؛ د إسنادو له پلوه يوازې په پنځمه طبقه کې توپير لري؛ د يوه پنځم راوي معلی بن اسد دئ او د بل مسلم. خو ۱۷٦۱روايت بيا داسې دئ چې له مخکينيو دواړو سره تعارض لري؛ په سر کې راوي وايي: له ابن عمر مې واورېدل چې ويل ئې: حائضې مېرمنې دې د وداع له طواف پرته نه درومي؛ بيا مې ترې واورېدل: وروسته رسول الله صلى الله عليه و سلم هغوی ته (د تلو) اجازه ورکړه.

## ۷۵ باب: په محصب کې اړول

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: لَيْسَ التَّحْصِيبُ بِشَىْءٍ إِنَّمَا هُوَ مَنْزِلٌ نَزَلَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . (بخاری: ۱۷٦٦)

له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چې وايي: په محصب کې اړول يا تم کېدل کوم (لازمي ديني کار) نه دئ؛ بلکې دا هغه ځای دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په کې اړولي وو.

## ۷٦ باب: په ذي طُوی کې اړول

عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ كَانَ إِذَا أَقْبَلَ بَاتَ بِذِى طُوًى حَتَّى إِذَا أَصْبَحَ دَخَلَ وَإِذَا نَفَرَ مَرَّ بِذِى طُوًى وَبَاتَ بِهَا حَتَّى يُصْبِحَ وَكَانَ يَذْكُرُ أَنَّ النَّبِىَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَفْعَلُ ذَلِكَ. (بخاری: ۱۷٦۹)

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې کله به مکې ته راغی؛ شپه

به ئې په ذي طُوى کي تېروله او چي سهار به شو مکې ته به ننوت او چي کله به له مکې (د مدينې په لوري) روانېدو؛ په ذي طوى به تېرېدو؛ شپه به ئې هلته سهار کړه او ويل به ئې: رسول الله صلى الله عليه و سلم به همداسي کول.

## د عمرې کتاب

### ۱ باب: د عمرې وجوب او فضيلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «العُمْرَةُ إِلَى العُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا، وَالحَجُّ المَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الجَنَّةُ». (بخارى: ۱۷۷۳)

له ابو هريرة رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (يوه عمره تر بلي عمرې د دواړو تر منځ د شويو گناهونو کفاره ده او مبرور حج (منل شوى او ښه حج) له جنت پرته بله بدله نه لري).

مبرور حج هغه دئ چي (ارکان، شروط، سنن او هر څه ئې په سمه توگه اداء شي؛ خاص د الله تعالى د رضاء حاصلولو لپاره وي، په ښه نيت او په حلال مال تر سره شي).

دا بايد په پام کي ولرو چي ځيني گناهونه داسي دي چي هيڅ نېک عمل ئې نه شي جبيره کولى؛ لکه د چا غيبت کول، پر چا تهمت لگول، د چا حق خوړل، پر چا ظلم کول، مال، زمکه او کور ئې غصبول ... الله تعالى د دغو گناهونو د بخښلو واك هغو ته سپارلى چي حق ئې خوړل شوى او ظلم پرې شوى. د داسي رواياتو خوا ته دا يادونه ضروري او حتمي ده که نه نو ستونزي راولاړوي؛ ظالمانو او تېري کوونکو ته د ظلم او تېري جسارت ورکوي.

## ۲ باب: له حج مخکې عمره

عَنِ ابْنَ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما: أَنَّهُ سُئِلَ عَنِ الْعُمْرَةِ قَبْلَ الْحَجِّ، فَقَالَ: لا بَأْسَ وقَالَ: اعْتَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ يَحُجّ. (بخارى: ۱۷۷٤)

۸٦٤ –له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي: تر حج وړاندي عمرې په اړه پوښتنه ترې وشوه؟ او وئې ويل: پروا نه لري (له حج اداء کولو مخکې هم عمره صحيح ده) او وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم مخکې تر دې چي حج وکړي عمره اداء کړې ده.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۲ ځلي په دغو شمېرو ۱۷۷٤ - ۱۷۸۱ - راغلی او يو ځل بې شمېرې.

توپير: په دوو کې ويل شوي: قَبْلَ أَنْ يَحُجَّ او په بل کې ويل شوي: قَبْلَ أَنْ يَحُجَّ مَرَّتَيْنِ.

دا موضوع او اړوند روايات ئې دومره په تکرار سره په بخاري کې راغلي چي هيڅ توجيه ورته نشو موندلی؛ په داسي حال کې چي موضوع ډېره څرګنده ده او په اړه ئې د قرآن لارښوونه هم ډېره واضح ده؛ فقط يو روايت او همغه چي له قرآن سره مطابقت لري؛ او هغه روايات بايد قطعاً نه وی راوړل شوي چي د قرآن له لارښوونو سره مغايرت لري.

## ۳ باب: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څو عمرې کړې دي

عَنْ عَبْدُاللَّهِ بْنُ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما أنه قيل لَهُ: كَمِ اعْتَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أَرْبَعًا إِحْدَاهُنَّ فِي رَجَبٍ، قال السائل: فقلت لعَائِشَةَ: يَا أُمَّاهُ أَلَا تَسْمَعِينَ مَا يَقُولُ أَبُوعَبْدِالرَّحْمَنِ؟ قَالَتْ: مَا يَقُولُ؟ قَالَ: يَقُولُ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَمَرَ أَرْبَعَ عُمَرَاتٍ إِحْدَاهُنَّ فِي رَجَبٍ. قَالَتْ: يَرْحَمُ اللَّهُ أَبَا عَبْدِالرَّحْمَنِ مَا اعْتَمَرَ عُمْرَةً إِلَّا وَهُوَ شَاهِدُهُ وَمَا اعْتَمَرَ فِي رَجَبٍ قَطُّ. (بخارى: ۱۷۷٦)

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وپوښتل شو: رسول الله صلى

الله علیه و سلم څو عمرې اداء کړې دي؟ وئې ویل: څلور ځلي چي یوه ئې په رجب کي وه؛ پوښتونکي وویل: عائشې رضي الله عنها ته مي وویل: اې مورې! آیا نه اورې چي ابو عبدالرحمن (عبدالله بن عمر) څه وایي؟ هغې وویل: څه وایي؟ ده وویل: وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم څلور عمرې کړې دي چي یوه ئې د رجب میاشت کي وه؛ عائشې وویل: الله تعالی دي پر ابو عبدالرحمن رحم وکړي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم چي هره عمره کړې (ابو عبدالرحمن) به ورسره وو؛ (سره له دې ئې اشتباه کړې)؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم په رجب کي هیڅ عمره نه ده کړې.

یعني ابن عمر رضي الله عنهما سهواً دا خبره کړې چي رسول صلی الله علیه و سلم یوه عمره په رجب کي اداء کړې ده.

تکرار: دا روایت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۷۷۵ - ۱۷۷۶

توپیر: په دواړو روایاتو کي د باب اړوند مسائل سره ورته دي او د ابن عمر رضي الله عنهما دا رأی تردیدوي چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم یوه عمره په رجب کي وه.

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أنه سئل: كَمِ اعْتَمَرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم؟ قَالَ: أَرْبَعًا: عُمْرَةُ الْحُدَيْبِيَةِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ حَيْثُ صَدَّهُ الْمُشْرِكُونَ، وَعُمْرَةٌ مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ، حَيْثُ صَالَحَهُمْ، وَعُمْرَةُ الْجِعِرَّانَةِ إِذْ قَسَمَ غَنِيمَةَ، أُرَاهُ ـ حُنَيْنٍ. قُلْتُ: كَمْ حَجَّ؟ قَالَ: وَاحِدَةً. (بخاری: ۱۷۷۸)

له انس بن مالک رضي الله عنه روایت دئ چي وپوښتل شو: رسول الله صلی الله علیه و سلم څو عمرې کړې دي؟ وئې ویل: څلور؛ یوه د حدیبیې عمره چي په ذي القعده کي وه او مشرکینو ئې (مکې ته د داخلېدو) مخنیوی وکړ؛ بله عمره د راتلونکي کال ذي القعده کي؛ لکه څنګه چي ئې له هغوی (مشرکینو) سره مصالحه کړې وه او د جِعِرَّانه

عمره؛ داسي انګېرم چي په همدې وخت کي ئې د حنين غنيمتونه وويشل. راوي وايي: ومي ويل: څو ځله ئې حج کړی دئ؟ انس رضي الله عنه وويل: يو ځل.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۷۷۸- - ٤٢٥٣ - ٤٢٥٤ -

توپير: د ټولو رواياتو اصلي مطلب سره ورته دئ او وايي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم څلور عمرې کړې؛ په ۱۷۷۸ روايت کي د عمرو تفصيلات هم بيان شوي؛ خو يوازي درې ئې ښودل شوې او څلورمه نه ده ښودل شوې؛ په نورو کي يوازي تعداد ښودل شوی؛ د رسول الله صلی الله عليه و سلم څلورمه عمره د حجة الوداع په کال او له حج سره يو ځای وه؛ چي په پورتنيو رواياتو کي ئې يادونه نه ده شوې.

عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: سَأَلْتُ أَنَسًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فَقَالَ: «اعْتَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيْثُ رَدُّوهُ، وَمِنَ القَابِلِ عُمْرَةَ الحُدَيْبِيَةِ، وَعُمْرَةً فِي ذِي القَعْدَةِ، وَعُمْرَةً مَعَ حَجَّتِهِ»، (بخاری: ۱۷۷۹)

له قتادة رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له انس رضي الله عنه مي پوښتنه وکړه؛ هغه وويل: رسول الله صلی الله عليه و سلم يوه هغه عمره وکړه چي (مشرکينو) ستون کړ؛ (مخنيوی ئې وکړ)، بله ئې د حديبيې عمرې پسي راتلونکې عمره، بله ئې په ذي القعده کي او وروستۍ ئې له حج سره يو ځای عمره.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۷۷۹ - ۱۷۸۰

توپير: په ۱۷۸۰ روايت کي ويل شوي چي درې عمرې ئې په ذي القعده کي وې او څلورمه ئې له حج سره يو ځای (ذي الحجه کي). دا مطلب په نورو کي نه دئ راغلی.

عَنِ البَرَاء بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، يَقُولُ: «اعْتَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذِي القَعْدَةِ قَبْلَ أَنْ يَحُجَّ مَرَّتَيْنِ». (بخاری: ۱۷۸۱)

له براء بن عازب رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم تر دې وړاندي چي حج وکړي؛ دوه ځلي ئې په ذي القعده کي عمره کړې ده.

دا روايت له هغو سره تعارض لري چي وايي د رسول الله صلی الله عليه و سلم له څلورو عمرو درې ئې په ذي القعده کي وې او يوه ئې له حج سره يو ځای په ذي الحجه کي؛ بخاري نه دي ويلي چي ولي ئې دا روايت د هغو نورو په شتون کي راوړی او ولي ئې نه دي ويلي چي کوم يو ئې اصح دئ او په کوم دليل؟ د ټولو تکراري رواياتو په اړه د بخاري اسلوب همدا دئ!! تکراري روايات ئې هم د کتاب له څلورو نژدې درې برخي؛ د کمپيوټر د دقيقي شمېرې له مخي د بخاري ټول صحيح او مرفوع روايات ۷۵۶۳ دي؛ او په التجريد الصريح للجامع الصحيح کي د بخاري غير مکرر روايات ۲۲۰۶ دي. چي په دې توګه ۵۳۵۷ مکرر راغلي. له دې معلومېږي چي د بخاري له اوو پنځه برخي مکرر او دوه برخي غير مکرر روايات دي. داسي روايات هم لري چي شپږ دېرش ځله ئې په تکرار سره راوړي، کله ئې د دې لپاره دا کار کړی چي له يوه راوي ئې په يوه صيغه تر لاسه کړی او له بل په څه توپير سره په بله صيغه، کله ئې د يوې موضوع لپاره د دليل په توګه او کله د بلي موضوع لپاره، خو داسي تکرارونه هم شته چي موخه او وجه ئې څرګنده نه ده، په اکثرو مکررو رواياتو کي ئې لږ او ډېر توپيرونه تر سترګو کېږي، په ځينو کي ئې تعارض او په ځينو کي تضاد.

عمدة القاري کي راغلي: ... پوه شه چي په هغه روايت کي چي منصور ئې له مجاهد روايت کوي راغلي چي يوه عمره په رجب کي وه؛ إِسْحَاق له مجاهد او هغه له ابْن عمر روايت کوي چي رسول الله صلی الله عليه

و سلم دوه ځلي عمره کړې؛ دا خبره عائشې ته ورسېده او هغې وويل: اعْتَمر أربع مَرَّات: څلور ځلي ئې عمره کړې؛ احمد او ابو داؤد دا روايت راوړی؛ نو منصور د عمرې د مياشتي په اړه او ابو اسحاق د عمرو د شمېر په اړه اختلاف کړی؛ او د مسلم د هغو راويانو په روايت کي چي له براء بن عازب ئې روايت کړی؛ داسي ويل شوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم تر حج وړاندي دوه ځلي په ذي القعده کي عمره کړې!؛ او په سُنَن أبو دَاوُد کي د شيخين (بخاري او مسلم) د إِسْنَاد په شرط؛ عائشې ته منسوب دا روايت راوړی چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د شَوَّال مياشتي کي عمره وکړه؛ مَالك هم په خپل کتاب موطأ کي؛ او په (سنَن الدَّارَقُطْنِي) کي د عائشې دا روايت چي: (رسول الله صلى الله عليه و سلم په رمضان کي عمره وکړه؛ چي دا روايت غريب دئ؛ ابْن بطال وايي: صحِيح خبره دا ده چي درې عمرې ئې کړې او څلورمي ته ئې ځکه د عمرې نسبت کېدی شي چي خلك ئې پرې مأمور کړل او خلکو د ده په حضور کي عمل پرې وکړ؛ نه له دې امله چي په خپله ئې عمره کړې وي؛ په صحت ئې د عائشې رضي الله عنها دا عمل دلالت کوي چي د ابن عمر وينا ئې رد کړه او وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم په رجب کي قطعاً عمره نه ده کړې. أبُو عبد الْملك وايي: دا د ابن عمر وهم وو؛ ځکه د مسلمانانو اجماع په دې ده چي درې عمرې ئې کړې. بيْهَقِيّ د عائشې رضي الله عنها دا روايت راوړی چي راوي ئې عروه دئ او وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم درې عمرې کړې: يوه عمْرَة په شَوَّال کي او دوه عمرې په ذِي الْقعدَة کي، ابو داؤد د هشام دا روايت راوړی چي وايي: (يوه عمره ئې په ذِي الْقعدَة او بله په شَوَّال کي کړې)؛ بَيْهَقِيّ د ابو هريره رضي الله عنه دا روايت هم راوړی چي وايي: (رسول الله صلى الله عليه و سلم درې عمرې کړې ټولي ئې په ذِي الْقعدَة کي).
او د شوال په مياشت کي د عمرې اړوند روايت چي عائشې رضي الله عنها ته منسوب شوی؛ عمدة القاري ليکلي: زموږ شيخ وايي: ښايي د

شوال له عمرې د عَائِشَې رضي الله عنها مراد د حديبيې عمره وي خو صحيح خبره دا ده چې دا عمره هم په ذِي الْقعدَة کې وه....

دا دئ گورئ چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د عمرو د شمېر په اړه په بخاري او د رواياتو نورو کتابونو کې څومره مختلف او متعارض روايات راغلي؛ دوه، درې او څلور عمرې ئې گڼي، ځيني وايي چې درې عمرې په ذي القعده کې وې او يوه له حج سره يو ځای ذي الحجه کې، ځينو د ابن عمر رضي الله عنهما دا روايت راوړی چې وايي د رسول الله صلى الله عليه و سلم يوه عمره د رجب مياشت کې وه، خو عائشه رضي الله عنها دا ادعاء ردوي او وايي هيڅ کله ئې په رجب کې عمره نه ده کړې؛ ځيني ئې شمېر څلور بولي خو يوازې د دريو نومونه ئې ياد کړي او څلورمه ئې نه ده ښودلې؛ ځيني د حديبيې هغه عمره هم په کې شمېري چې رسول الله صلى الله عليه و سلم او صحابه وو نه طواف کړی او نه د صفا او مروه سعي؛ او نه پرېښودل شوي چې مکې ته داخل شي؛ او دې ته ورته اختلافات او تعارضات؛ له دغو متعارضو رواياتو به کوم يو او د کوم دليل له مخې غوره کوو؟ ولې بخاري په اکثرو تکراري رواياتو کې همداسې متعارض روايات راوړي او ټولو ته د صحيح نوم ورکړی شوی؟ هغه چې ځان ته اهل حديث وايي او د بخاري په اړه وايي: اصح الکتب بعد کتاب الله؛ او حتى د بخاري هغه روايات چې له نورو رواياتو سره ئې څرگند تعارض او تناقض لري او په قرآن کې ورته هيڅ شاهد نه مومي؛ داسي گڼي لکه د قرآن آيات؛ تر دې هم وړاندې درومي؛ او هغه ځای ته رسي چې که روايت د قرآن له آيتونو سره اړخ نه لگوي؛ نو همدې روايت ته د قرآن پر صريح او واضح آياتونو ترجيح ورکوي!! او دا په داسي حال کې چې دی او د ده هغه شيخ او استاد چې ده ترې بخاري لوستلې؛ نه به ئې قرآن په سمه توگه زده وي او نه بخاري؛ له دوی پوښتنه کوم: رسول الله صلى الله عليه و سلم څو عمرې کړې؟ د شمېر په اړه ئې د بخاري کوم روايت اصح او ارجح دئ او تاسو

ئې منئ او په کوم دلیل ئې ارجح ګڼئ؟ د بخاري د سلګونو تکراري او متعارضو روایاتو په اړه دغه سوالونه مطرح دي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د عمرو د شمېر په اړه مطرح دي؛ او عمرې هم داسي څه چې د اختلاف مجال او احتمال په کې ډېر لږ؛ ځکه په سلګونو او زرګونو یاران ئې ورسره وو؛ له نېټې ئې هم ټول خبر وو او له شمېر ئې هم؛ ټولو هر څه په خپلو سترګو لیدلي؛ که د داسي څرګندو اجتماعي چارو په اړه د یوه کتاب په روایاتو کې دومره پراخ اختلافات وي؛ نو د هغو امورو په اړه به ئې اختلاف څومره وي چې لږ شمېر افراد ترې خبرېدی شي؟ دې ته په پام سره باید ومنو چې له روایاتو احکام راایستل داسي چا ته ضرورت لري چې: ۱- په قرآن او حدیث پوه وي، ۲- د متعارضو روایاتو له منځ د ارجح او اصح انتخابولو وړتیا او پوهه ولري، ۳- د حدیث په یوه کتاب اکتفاء ونه کړي او په اړه ئې ړوند او کوڼ تعصب ونه لري، ٤- هر روایت ئې د قرآن، مُسَلَّم صحیح حدیث او د ایمان او عقل په تله وتلي او یوازې هغه ومني چې په دې یوازینۍ تلې کې دروند خېژي او د منلو وړ برېښي.

## ٤ باب: د تنعیم عمره

عَن عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَخْبَرَهُ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «أَمَرَهُ أَنْ يُرْدِفَ عَائِشَةَ، وَيُعْمِرَهَا مِنَ التَّنْعِيمِ»، و أن سُرَاقَةَ بْنَ مَالِكِ ابْنِ جُعْشُمٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لَقِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعَقَبَةِ وَهُوَ يَرْمِيهَا فَقَالَ: أَلَكُمْ هَذِهِ خَاصَّةً يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: «لا بَلْ لِلأَبَدِ». (بخاری: ۱۷۸٤-۱۷۸۵)

له عبدالرحمن بن ابي بکر رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته امر وکړ چې عائشه رضي الله عنها له ځان سره سپره کړه او له تنعیم عمره پرې وکړه. او دا چې سُرَاقه بن مالک بن جُعْشُم رضي الله عنه په داسي حال کې له رسول الله صلی الله علیه

و سلم سره مخامخ شو چې جمره عقبه ئې ویشتله او وئې ویل: یا رسول الله! آیا دا ستاسو لپاره مختص او ځانګړې ده؟ وئې فرمایل: نه؛ دا تر ابده (د ټولو لپاره) ده.

سراقه بن مالک په دې حج کې داسې څه لیدلي چې تر دې وړاندې ئې نه وو لیدلي؛ لومړی ځل دئ چې حج او عمره یو ځایي او په ذي الحجه کې ګوري؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم صحابه وو ته وویل چې همداسې وکړئ او ورته وئې ویل: که ما له ځان سره هدي نه وی راوستی نو همداسې مې کول؛ نو سراقه څکه وویل: یا رسول الله! دا یوازې ستاسو لپاره او فقط په همدې کال کې ده؟! وئې فرمایل: (نه؛ تر ابده (د ټولو لپاره).

## ۵ باب: له حج وروسته له هدي پرته عمره

حديث عائشة رضى الله عنها فى الحج تكرر كثيراً وقد تقدم بتمامه (بخارى: ۱۷۸۶ ـ ۱۵۲۱ ـ ۱۵۶۱)

د حج په اړه د عائشې رضي الله عنها حدیث ډېر ځلي تکرار او مخکې په بشپړه توګه تېر شو.

۱۷۸۶ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُوَافِينَ لِهِلاَلِ ذِى الحَجَّةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُهِلَّ بِعُمْرَةٍ فَلْيُهِلَّ، وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُهِلَّ بِحَجَّةٍ فَلْيُهِلَّ، وَلَوْلاَ أَنِّي أَهْدَيْتُ لَأَهْلَلْتُ بِعُمْرَةٍ»، فَمِنْهُمْ مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ، وَمِنْهُمْ مَنْ أَهَلَّ بِحَجَّةٍ، وَكُنْتُ مِمَّنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ، فَحِضْتُ قَبْلَ أَنْ أَدْخُلَ مَكَّةَ، فَأَدْرَكَنِي يَوْمُ عَرَفَةَ وَأَنَا حَائِضٌ، فَشَكَوْتُ ذَلِكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «دَعِى عُمْرَتَكِ، وَانْقُضِى رَأْسَكِ وَامْتَشِطِى، وَأَهِلِّى بِالحَجِّ»، فَفَعَلْتُ، فَلَمَّا كَانَتْ لَيْلَةُ الحَصْبَةِ، أَرْسَلَ مَعِى عَبْدَ الرَّحْمَنِ إِلَى التَّنْعِيمِ. فَأَرْدَفَهَا،

فَأَهَلَّتْ بِعُمْرَةٍ مَكَانَ عُمْرَتِهَا، فَقَضَى اللَّهُ حَجَّهَا وَعُمْرَتَهَا، وَلَمْ يَكُنْ فِي شَيْءٍ مِنْ ذَلِكَ هَدْيٌ، وَلاَ صَدَقَةٌ، وَلاَ صَوْمٌ

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره په داسي حال کې ووتلو چي د ذي الحجې سپوږمۍ رابره کېدو ته نژدې شوې وه؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: «څوك چي د عمرې نيت خوښوي نو همدا نيت دي وکړي؛ او څوك چي د حج نيت خوښوي همدا نيت دي وکړي؛ او که ما د قربانۍ هدي نه وی راوستې نو حتماً به مي د عمرې نيت کړی وو»؛ نو ځينو د عمرې او ځينو د حج نيت وکړ؛ او زه له هغو وم چي د عمرې نيت ئې کړی وو؛ خو تر دې وړاندي چي مکې ته ننوځو په مياشتني ښځېنه عادت اخته شوم؛ نو د عرفې ورځ په داسي حال کې راباندي راغله چي زه په حيض کې وم؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم ته مي د دې شکايت وکړ؛ وئې فرمايل: «عمره دي پرېږده؛ وېښتان دي پرانيزه او ږمنځ ئې کړه؛ او د حج نيت وکړه» همداسي مي وکړل، نو کله چي د حَصْبه شپه (له ايام تشريق وروسته او له منیٰ د مکې په لوري تگ کې په مُحَصَّب کې د پاته کېدو شپه) راغله؛ له ما سره ئې عَبْدَ الرَّحْمَنِ تر تنعيم ولېږو. راوي وايي: نو له ځان سره ئې تر شا سپره کړه؛ د عمرې نيت ئې وکړ؛ د خپلي عمرې په عوض کې؛ نو الله تعالی ئې هم حج تر سره کړ او هم عمره؛ نو په دې کې نه له هدي څه وو او نه د صدقې او روژې.

## ٦ باب: د عمرې ثواب د تکليف په اندازه دئ

عَن عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، يَصْدُرُ النَّاسُ بِنُسُكَيْنِ، وَأَصْدُرُ بِنُسُكٍ؟ فَقِيلَ لَهَا: «انْتَظِرِى، فَإِذَا طَهُرْتِ، فَاخْرُجِى إِلَى التَّنْعِيمِ، فَأَهِلِّي ثُمَّ ائْتِينَا بِمَكَانِ كَذَا، وَلَكِنَّهَا عَلَى قَدْرِ نَفَقَتِكِ أَوْ نَصَبِكِ» (بخاری: ۱۷۸۷)

روايت دئ چي عائشې رضي الله عنها وويل: يا رسول الله! خلك به له

دوو نُسُکو (ديني وجائبو: حج او عمرې) اداء کولو سره ستنېږي او زه به له يوه سره! نو ورته وويل شول: انتظار وکړه چي (لمونځ درته روا شي او له حيض) ووځې؛ بيا تنعيم ته ولاړه شه او د (عمرې) احرام وتړه او بيا په فلاني ځای کي موږ ته ځان راورسوه؛ خو دا (عمره) داسي ده چي (ثواب ئې) ستا د لګښتونو او زيارونو په اندازه دئ؛ (څومره چي دي زيات پرې لګولي او زيات زيار دي په کي ايستلی همدومره به دي ثواب زيات وي).

## ۷ باب: عمره کوونکی کله له احرامه وتلی شي

عَنْ أَسْمَاء بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ رضى الله عنها، كُلَّمَا مَرَّتْ بِالحَجُونِ تَقُول: «صَلَّى اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مُحَمَّدٍ لَقَدْ نَزَلْنَا مَعَهُ هَا هُنَا، وَنَحْنُ يَوْمَئِذٍ خِفَافٌ قَلِيلٌ ظَهْرُنَا قَلِيلَةٌ أَزْوَادُنَا، فَاعْتَمَرْتُ أَنَا وَأُخْتِي عَائِشَةُ، وَالزُّبَيْرُ، وَفُلاَنٌ وَفُلاَنٌ، فَلَمَّا مَسَحْنَا البَيْتَ أَحْلَلْنَا ثُمَّ أَهْلَلْنَا مِنَ العَشِيِّ بِالحَجِّ» (بخارى: ۱۷۹۶)

روايت دئ چي اسماء بنت ابو بكر رضي الله عنهما به چي هر ځل پر (حجون: د مکې د اوسېدونکو هديره) تېرېده نو ويل به ئې: الله تعالی دي پر خپل رسول محمد؛ رحمتونه نازل کړي؛ موږ په همدغه ځای کي ورسره اړولي وو، هغه وخت زموږ متاع او سامان لږ او سپك وو، د سپرلۍ څاروي مو لږ وو؛ او توښه مو کمه وه؛ ما او خور مي عائشې رضي الله عنها او زبير او فلاني او فلاني؛ عمره وکړه او کله چي مو د بيت الله طواف وکړ؛ نو له احرام ووتلو؛ او بيا مو له زوال وروسته د حج لپاره احرامونه وتړل.

دا روايت څو ستونزي لري؛

- د بخاري له ۸۷۱ او ۱۷۸۶روايت سره جدي تناقض لري چي وايي: عائشې رضي الله عنها له حج وروسته عمره کړې نه تر حج وړاندي؛ له حج وروسته ئې ويلي: يا رسول الله! خلك به له دوو نُسُکو (ديني

وجائبو: حج او عمرې) اداء کولو سره ستنېږي او زه به له يوه (حج) سره! ... نو هغه ئې د عمرې لپاره له خپل ورور سره تنعيم ته ولېږله...

- بله ستونزه ئې دا ده چي په کي ويل شوي: د بيت الله له طواف وروسته له احرام ووتلو؛ په کار خو دا وه چي دا هم په کي ويل شوي وی (او د صفا او مروه تر منځ مو سعي وکړه)؛ په عمرې کي خو هغه مهال له احرام وتل دي چي د صفا او مروه سعي هم بشپړه شوې وي.

ابن حزم د دې روايت په اړه ويلي:

.... هَذِهِ وَهْلَةٌ لَا خَفَاءَ بِهَا عَلَى أَحَدٍ مِمَّنْ لَهُ أَقَلُّ عِلْمٍ بِالْحَدِيثِ لِوَجْهَيْنِ بَاطِلَيْنِ فِيهِ بِلَا شَكٍّ: أَحَدُهُمَا قَوْلُهُ فِيهِ: فَاعْتَمَرْتُ أَنَا وَأُخْتِي عَائِشَةُ، وَلَا خِلَافَ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ أَهْلِ النَّقْلِ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا لَمْ تَعْتَمِرْ أَوَّلَ دُخُولِهَا مَكَّةَ، وَلِذَلِكَ أَعْمَرَهَا عَلَيْهِ السَّلَامُ مِنَ التَّنْعِيمِ، وَبَعْدَ تَمَامِ الْحَجِّ لَيْلَةَ الْحَصْبَةِ، .... وَالْمَوْضِعُ الثَّانِي قَوْلُهُ فِيهِ: فَلَمَّا مَسَحْنَا الْبَيْتَ أَحْلَلْنَا، ثُمَّ أَهْلَلْنَا مِنَ الْعَشِيِّ بِالْحَجِّ، وَهَذَا بَاطِلٌ لَا شَكَّ فِيهِ، لِأَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، وَأَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، وَابْنَ عَبَّاسٍ، وَعَائِشَةَ كُلَّهُمْ رَوَوْا أَنَّ الْإِحْلَالَ كَانَ يَوْمَ دُخُولِهِمْ مَكَّةَ، وَأَنَّ إِهْلَالَهُمْ بِالْحَجِّ كَانَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ وَبَيْنَ الْيَوْمَيْنِ الْمَذْكُورَيْنِ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ بِلَا شَكٍّ،

.... دا هسي يوه واهمه ده؛ له چا سره چي د حديث تر ټولو لږ پوهه هم وي پرې پټه نه ده؛ د دوه باطل او ناسم وجوهاتو له کبله چي په دې روايت کي دي: يوه ئې دا وينا چي ما او خور مي عائشې عمره وکړه؛ په داسي حال کي چي په دې کي د اهل نقل هيڅ خلاف نشته چي عائشې رضي الله عنها مکې ته د داخلېدو په مهال عمره نه وه کړې؛ له همدې کبله رسول الله صلى الله عليه و سلم له تنعيم عمره پرې وکړه؛ هغه هم د حج له بشپړېدو وروسته او د حَصْبَه په شپه؛ او بله ئې دا وينا چي له طواف وروسته له احرام ووتلو او ماښام مو د حج نيت وکړ؛ چي

دا له شك پرته غلطه خبره ده؛ ځکه جَابِر بْن عَبْدِ اللَّهِ، أَنَس بْن مَالِكٍ، ابْن عَبَّاسٍ؛ او عَائِشَةَ رضي الله عنهم ويلي چي احلال مکې ته د داخلېدو په ورځ وو او د حج نيت د ترويه (د ذي الحجې ۸) ورځ وو؛ چي د دغو دواړو ورځو تر منځ له شك پرته درې ورځې وې.

## ۸ باب: له حج، عمرې او جهاد د راستنېدو دعاء

عَنْ عَبْدِاللَّهِ بنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَفَلَ مِنْ غَزْوٍ أَوْ حَجٍّ أَوْ عُمْرَةٍ، يُكَبِّرُ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ مِنَ الأَرْضِ ثَلاثَ تَكْبِيرَاتٍ ثُمَّ يَقُولُ: «لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَاجِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ صَدَقَ اللَّهُ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ». (بخاری: ۱۷۹۷)

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به کله چي له غزا، حج او عمرې راستنېدو نو په لارې کې به ئې پر هري لوړې درې ځلې تکبيرونه ويل او ورپسې به ئې ويل: (له الله پرته بل معبود نشته، يو دئ؛ شريک ئې نشته، واکمني د ده ده او ستايني ده ته دي او دی په هر څه قادر دئ؛ خپل رب ته ستنېدونکي، توبه ايستونکي، عبادت کوونکي، سجده کوونکي او ستايونکي يو، الله تعالی خپله وعده رښتينې کړه، له خپل بنده سره ئې مرسته وکړه او يوازې ده د دښمنانو ټولو ډلو ته ماته ورکړه.

په روايت کې د قرآن د يوه آيت دا الفاظ راغلي: آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَاجِدُونَ؛ آيت داسې دئ:

التَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ الْحَامِدُونَ السَّائِحُونَ الرَّاكِعُونَ السَّاجِدُونَ الآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٢﴾ التوبة

همغه توبه کوونکي، عبادت کوونکي، ستايونکي، (د الله په لوري) سفر کوونکي، رکوع کوونکي، سجده کوونکي، په معروف گمارونکي، له منکر منع کوونکي او د الله د حدودو ساتونکي؛ او دغو مؤمنانو ته زېرى ورکړه.

دا آيت د هغو مؤمنانو ځانگړتياوي او مواصفات موږ ته راښيي چي له خپل رب سره ئې دا معامله او مبايعه تر سره کړې چي خپل سر او مال ئې د جنت په بدل کي پر الله تعالى پلورلي؛ دا مبايعه تر دې وړاندي آيت کي داسي ښودل شوې:

إِنَّ ٱللَّهَ ٱشۡتَرَىٰ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَنفُسَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلۡجَنَّةَۚ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقۡتُلُونَ وَيُقۡتَلُونَۖ وَعۡدًا عَلَيۡهِ حَقّٗا فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ وَٱلۡقُرۡءَانِۚ وَمَنۡ أَوۡفَىٰ بِعَهۡدِهِۦ مِنَ ٱللَّهِۚ فَٱسۡتَبۡشِرُواْ بِبَيۡعِكُمُ ٱلَّذِي بَايَعۡتُم بِهِۦۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿١١١﴾ التوبه

يقيناً چي الله له مؤمنانو د دوى سرونه او مالونه اخيستي دي؛ په دې پار چې جنت به ئې په برخه کېږى؛ نو دوى د الله په لار کي جنگېږي، وژني او وژل کېږي؛ رښتينې وعده چي په تورات، انجيل او قرآن کي ئې پر ځان (منلې ده)؛ او تر الله به څوك په خپلي وعدې ډېر وفا کوونکى وي؟ نو پر خپل هغه پېر پلور خوښ اوسئ چي تر سره کړى مو دئ؛ او همدا ستره بريا ده.

ورپسې او په ۱۱۲ آيت کي د دې مبايعې او پېر پلور؛ معنى او مقتضيات او د دغو ژمنو مؤمنانو مواصفات داسي ښودل شوي:

- دوى توبه کوونکي دي؛ که معمولي غلطي ترې وشي؛ ژر د خپل رب لوري ته راگرځي او پر خپلي ژمني د عمل کولو مجدد هوډ کوي.

- دوى عبادت کوونکي دي؛ له خپل رب سره ئې معامله داسي وي لکه د مريي معامله له خپل بادار سره.

- دوى ستايونکي دي؛ تل او په هر حالت کي د خپل رب په ستايني

مشغول وي.

● (د الله په لوري) سفر کوونکي، هر خوځښت ئې د خپل رب لوري ته سفر وي او په هغه لار درومي چې خپل رب ته ئې وررسوي؛ د سائحون ډېر تعبيرونه شوي خو تر ټولو غوره ئې همدا دئ.

● دوى رکوع کوونکي دي؛ تل د خپل رب پر عظمت اعتراف کوي او په وړاندې ئې سر ټيټوي.

● دوى سجده کوونکي دي؛ تل د خپل رب په وړاندې د مضطر او محتاج بنده په توګه تندى پر زمکه ږدي؛ او د الله تعالى پښو ته لوېږي.

● دوى پر معروف ګمارونکي دي؛ دا خپل الهي مأموريت ګڼي چې خلکو ته بلنه ورکړي او پر نېکو کارونو ئې وګماري؛ نه فقط په وينا او دعوت سره؛ بلکې له خپلو ټولو امکاناتو په استفادې سره عملاً خلك ښېګڼو او معروف ته چمتو کول؛ ګمارل همدې ته وايي.

● دوى له منکر منع کوونکي دي؛ دا خپل ديني مسئوليت بولي چې د هر کرغېړن او ناروا کار مخنيوى وکړي؛ دا هم نه فقط په وينا او انتقاد سره؛ بلکې عملاً خلك له بدو او منکراتو راګرځول؛ نهي دې ته وايي.

● او دوى د الهي حدودو او د الله د دين د پولو ساتونکي دي؛ نه پرېږدي څوك له دغو حدودو تېر شي او له دغو پولو آخوا واوړي.

دغو مؤمنانو ته زېرى ورکړه چې په رښتيا سره ئې خپله ژمنه تر سره کړې، له الله تعالى سره ئې کړې معامله او معاهده په صادقانه او رښتينې توګه سر ته رسولې او الله تعالى به له دوى سره په خپلې ژمنې وفا کوي.

ګورئ چې له الله تعالى سره د مؤمنانو د بيع او شراء (پېر پلور) دا معاهده څومره درنه ده او څومره ستر ستر مسئوليتونه او دندې د مسلمان پر اوږو ږدي؟!!

رسول الله صلى الله عليه و سلم له غزواتو د راستنېدو په مهال او

په خپلي دعاء کې؛ دغو مهمو مطالبو ته اشاره کوله.

## ۹ باب: د حاجیانو هر کلی

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: لَمَّا قَدِمَ النَّبِیُّ صَلَّی اللَّهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَکَّةَ اسْتَقْبَلَتْهُ أُغَیْلِمَةُ بَنِی عَبْدِالْمُطَّلِبِ فَحَمَلَ وَاحِدًا بَیْنَ یَدَیْهِ وَآخَرَ خَلْفَهُ. (بخاری: ۱۷۹۸)

له ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم چي مکې ته ورسېد؛ د بني عبدالمطلب تنکيو ځوانانو ئې هرکلی وکړ او رسول الله صلی الله عليه و سلم يو هلک خپلي مخي او بل ئې خپلي شا ته ورسره سپور کړ.

## ۱۰ باب: ماښام له سفره راگرځېدل

عَنْ أَنَسٍ رَضِیَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «کَانَ النَّبِیُّ صَلَّی اللَّهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لاَ یَطْرُقُ أَهْلَهُ، کَانَ لاَ یَدْخُلُ إِلَّا غُدْوَةً أَوْ عَشِیَّةً» (بخاری: ۱۸۰۰)

له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم به د شپې له لوري د کور دړه نه ټکوله (له سفر راگرځېدا او کور ته ننوتل به ئې داسي نه وو چي له ماښام وروسته او په ناڅاپي توگه د کور دړه وټکوي او داخل شي)؛ بلکي سهار او يا له ماسپښين وروسته به کور ته ننوت.

ولي ئې دا کار کولو؟ د دې پوښتني په ځواب کې بېل بېل وجوهات په گوته شوي او دلائل او موخي ئې ښودل شوې؛ د ځينو کمزورو او نامناسبو توجيهاتو په شمول؛ ښايي مناسبه توجيه ئې فقط دا وي چي له اوږده سفر وروسته؛ په ناڅاپي توگه او د کورنۍ له خبرولو پرته؛ په شپه کې کور ته ننوتل؛ هم د مېرمني د خفگان، اذيت او بد گمانۍ باعث کېږي؛ چي ولي ئې له وړاندي احوال نه دئ لېږلی چي لازم تياری ونيسي؛

هم کور او خونه صفا کړي او هم ځان او جامه داسې جوړ کړي چې له خپل مېړه سره د مخامخ کېدو په وخت کې ئې خوښوي؛ نه ئې ځان تيار کړی او نه ئې کور او خونه صفا کړې؛ کېدی شي دا د دواړو د لړ او ډېر خفگان باعث شي او د دوی تر منځ ميني، درناوي، احترام او حتی اعتماد او باور ته صدمه ورسوي؛ او له مېرمني سره دا انديښنه راولاړه کړي او گمان وکړي چې داسې پټ او بې خبره راتگ به ئې ښايي د دې لپاره وي چې زما په اړه بې اعتماد او شکمن شوی. مناسب صورت دا دئ چې يا خو د ورځې له لوري کور ته ستون شي او يا ئې مېرمن د راتگ له نېټې خبره وي او دا مجال ورکړی شوی وي چې بشپړ او د خپل زړه مطابق تياری ئې نيولی وي. که په مخکي زمانه کې دا کار گران وو اوس خو ډېر آسان شوی؛ د ټيلفون له لاري کولی شي کورنۍ ته اطلاع ورکړي؛ نه خبرول ئې يقيناً يو ډول بد اخلاقي، بې ادبي او د خپلي کورنۍ په نسبت بې اعتنائي ده او تر ټولو بده ئې دا چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم د سنت او لارښووني خلاف عمل دئ.

عَنْ جَابِرٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَطْرُقَ أَهْلَهُ لَيْلاً. (بخاری: ۱۸۰۱)

له جابر رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم له دې نهي کړې چې څوك د شپې له لوري د خپل کور دړه په داسې حال کې وټکوي (چې له اوږده سفر راستون شوی او په ناڅاپي توگه او د کورنۍ له خبرولو پرته کور ته ننوتل غواړي).

## ۱۱ باب: مديني ته له نژدې کېدو وروسته بيړه

عَنْ أَنَسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ، فَأَبْصَرَ دَرَجَاتِ المَدِينَةِ، أَوْضَعَ نَاقَتَهُ وَإِنْ كَانَتْ دَابَّةً حَرَّكَهَا»، وزاد فی رواية مِنْ حُبِّهَا. (بخاری: ۱۸۰۲)

له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به چي له سفره راستون شو؛ او د مدينې لوړي (د ونو او ودانيو سرونه) به ئې وليدل؛ نو خپله اوښه به ئې تېزه كړه او كه به بل ځاروى وو نو هغه به ئې وخوځولو؛ او په بل روايت كي (دا هم ويل شوي چي) دا ئې له مدينې سره د محبت له امله وو.

## ۱۲ باب: سفر يو ډول عذاب دئ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «السَّفَرُ قِطْعَةٌ مِنَ الْعَذَابِ يَمْنَعُ أَحَدَكُمْ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ وَنَوْمَهُ فَإِذَا قَضَى نَهْمَتَهُ فَلْيُعَجِّلْ إِلَى أَهْلِهِ». (بخاري: ۱۸۰٤)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (سفر يو ډول عذاب دئ چي انسان له خوړو، څښاك او خوب منع كوي؛ نو كله چي څوك خپل حاجت تر سره كړي؛ د خپلي كورنۍ په لوري دي بيره وكړي).

تكرار: دا روايت په بخاري كي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلى: ۱۸۰٤ - ٥٤۲۹

توپير: د دواړو راويان په څلورو طبقو كي سره ورته خو په پنځمه طبقه كي د يوه عَبْد اللَّهِ بْن مَسْلَمَة او د بل أَبُو نُعَيْم دئ؛ د متن له پلوه ئې توپير يوازي دومره دئ چي په يوه كي دا راغلي (فَإِذَا قَضَى نَهْمَتَهُ مِنْ وَجْهِهِ: كله چي هغه څه تر سره شي چي هڅه ئې د هغه لپاره وه؛ نو د خپلي كورنۍ لوري ته دي تلوار وكړي)؛ او په بل كي يوازي نَهْمَتَهُ راغلي.

# د مُحْصَر (له عمرې ایسار کړی شوی) کتاب

## ۱ باب: که عمره کوونکی له مانع سره مخ شي

عن ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما قال: قَدْ أُحْصِرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَلَقَ رَأْسَهُ وَجَامَعَ نِسَاءَهُ وَنَحَرَ هَدْيَهُ حَتَّى اعْتَمَرَ عَامًا قَابِلاً. (بخارى: ۱۸۰۹)

له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د عمرې له اداء کولو ایسار کړی شو (په حدیبیه کې)؛ نو له احرام ووتلو؛ د سر وېښتان خرېیل، له خپلو مېرمنو سره نژدېکت ورته جائز شو او هدي ئې ذبح کړ؛ تر هغه چي عمره ئې په راتلونکي کال کي اداء کړه.

## ۲ باب: په حج کي احصار (ایسارېدا)

عن ابْن عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما يَقُولُ: أَلَيْسَ حَسْبُكُمْ سُنَّةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ حُبِسَ أَحَدُكُمْ عَنِ الْحَجِّ طَافَ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ حَلَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى يَحُجَّ عَامًا قَابِلاً فَيُهْدِى أَوْ يَصُومُ إِنْ لَمْ يَجِدْ هَدْيًا. (بخارى: ۱۸۱۰)

له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چي ویل ئې: آیا د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنت درته کافي نه دئ؟ که له تاسو کوم یو له حج ایسار کړی شو؛ نو د بیت الله طواف او د صفا او مروه تر منځ دي سعي وکړي او بیا دي له احرام ووځي (هر هغه څه دي ځان ته حلال وګڼي چي د حج له وجهي ورته حرام وو)؛ او په راتلونکي کال کي دي حج وکړي؛ نو له دې کبله دي یا قرباني وکړي او که ئې وس نه لري نو روژه دي ونیسي.

په دې روایت کې جدي ستونزه تر سترګو کېږي؛ او هغه دا چې رسول الله صلی الله علیه و سلم او یاران ئې په حدیبیه کې مکې ته له ننوتو او د عمرې له اداء کولو منع شول؛ نه ئې طواف کړی او نه د صفا او مروه سعي؛ په دې اړه امت متفق دئ؛ اما له دې روایت داسي معلومېږي چي ګواکې رسول الله صلی الله علیه و سلم طواف او سعي کړې او له احرام وتلی؛ او ګواکې د احصار په صورت کې همداسي کول د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنت دئ!! په دې روایت همدا نیوکه ابن حزم لري او وايي:

ولا خلاف بين أحد من الأمة كلها أن النبى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذ صُدَّ عَنِ البيت لَمْ يَطُف به وَلَا بالصفا والمروةِ بَل أَحَلَّ حيث كان بالحديبية ولا مزيد؛ وهذا الذى ذكره ابن عمر لم يقع قط لرسوله صلى الله عليه و سلم

په ټول امت کې هیڅوك له دې سره اختلاف نه لري چي کله بیت الله ته له رسېدو د رسول الله صلی الله علیه و سلم مخنیوی وشو؛ نو نه ئې د بیت الله طواف کړی او نه د صفا او مروه سعي؛ بلکې په همغه د حدیبیې په کوم ځای کې چي وو؛ له احرام وتلی؛ نه تر دې زیات بل څه؛ او دا څه چي ابن عمر ذکر کړي؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم په ارتباط قطعاً نه دي واقع شوي.

هر څوك پوهېږي چي دا روایت له هغه څه سره هیڅ اړخ نه لګوي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم او یارانو ئې په حدیبیه کې او د احصار په حالت کې کړي؛ نه مکې ته ننوتلي، نه ئې طواف کړی او نه د صفا او مروه سعي!! په بخاري او د حدیث بل کتاب کې د داسي غلط روایت راوړل ډېر ډېر عجیب برېښي!!

## ۳ باب: د احصار په صورت کي باید قرباني د سر وېښتانو له

خرېيلو وړاندي وي

عَنِ الْمِسْوَرِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحَرَ قَبْلَ أَنْ يَحْلِقَ وَأَمَرَ أَصْحَابَهُ بِذَلِكَ. (بخارى: ۱۸۱۱)

له مسور رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د وېښتانو تر خرېيلو وړاندي؛ هدي ذبح کړه او خپلو يارانو ته ئې د همدې امر وکړ.

په دې روايت کې د حديبيې صلحې اړوند حالت ته اشاره شوې چي قريشو د رسول الله صلى الله عليه و سلم او يارانو ئې مخنيوی وکړ او دې ته ئې پرېنښودل چي مکې ته داخل شي او عمره اداء کړي؛ همدې ته احصار ويل کېږي.

## ٤ باب: د الله تعالى دا کلام: «أَوْ صَدَقَةٍ» چي دا ٦ مسکينانو ته طعام ورکول دي

عن كَعْب بْنَ عُجْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: وَقَفَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحُدَيْبِيَةِ وَرَأْسِى يَتَهَافَتُ قَمْلاً فَقَالَ: «يُؤْذِيكَ هَوَامُّكَ؟» قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: «فَاحْلِقْ رَأْسَكَ ـ أَوْ قَالَ: احْلِقْ» قَالَ: فِيَّ نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ: (فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ) إِلَى آخِرِهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صُمْ ثَلاثَةَ أَيَّامٍ؛ او تَصَدَّقْ بِفَرَقٍ بَيْنَ سِتَّةٍ؛ او انْسُكْ بِمَا تَيَسَّرَ». (بخارى: ۱۸۱۵)

له کعب بن عُجره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: په حديبيه کي رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي راته ودرېد چي زما له سر سپږي تويېدې؛ نو وئې فرمايل: (سپږي دي ځوروي؟)؛ عرض مي وکړ: هو؛ وئې فرمايل: (وېښتان دي وخرېيه) او يا ئې وفرمايل: «وئې خرېيه»؛ کعب رضي الله عنه وايي: دا آيت زما په اړه نازل شوی دئ: ((فَمَنْ كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِّن رَّأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ

أَوْ نُسُكٍ... نو که له تاسو څوك ببمار وي او يا د سر له پلوه ځوربږي؛ نو (کولی شي وېښتان وخرېيي)؛ بيا د روژې يا صدقې يا قربانۍ فديه پرې لازمه ده...))؛ نو رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: (يا درې ورځې روژه ونيسه يا د يوه فَرَق پيمانه خواړه شپږو نفرو ته صدقه کړه او يا هغه څه قرباني کړه چې درته آسانه وي).

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۵ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۱۸۱۵ - ۱۸۱۶ - ۴۱۹۰ - ۴۵۱۷ – ۵۷۰۳؛ غريب دئ؛ په ٦ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: مُسَدَّد، حَمَّاد، أَيُّوب، مُجَاهِد، ابْنِ أَبِي لَيْلَی او کَعْب بْن عُجْرَة.

توپير: په يوه کې وَرَأْسِي يَتَهَافَتُ قَمْلًا په بل کې وَالقَمْلُ يَتَنَاثَرُ عَلَی وَجْهِي، په يوه کې فَقَالَ: «يُؤْذِيكَ هَوَامُّكَ؟»، په بل کې«أَيُؤْذِيكَ هَوَامُّ رَأْسِكَ؟» په يوه کې فَقَالَ: ««مَا كُنْتُ أُرَى الوَجَعَ بَلَغَ بِكَ مَا أَرَى؛ أَوْ مَا كُنْتُ أُرَى الجَهْدَ بَلَغَ بِكَ مَا أَرَى؛ تَجِدُ شَاةً؟» په بل کې «مَا كُنْتُ أُرَى أَنَّ الْجَهْدَ قَدْ بَلَغَ بِكَ هَذَا، أَمَا تَجِدُ شَاةً؟» په يوه کې «صُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ؛ او تَصَدَّقْ بِفَرَقٍ بَيْنَ سِتَّةٍ؛ او انْسُكْ بِمَا تَيَسَّرَ» په بل کې وَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ؛ او أَطْعِمْ سِتَّةَ مَسَاكِينَ؛ او انْسُكْ نَسِيكَةً» او په بل کې أَمَا تَجِدُ شَاةً». قُلْتُ: لاَ، قَالَ: «صُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ؛ او أَطْعِمْ سِتَّةَ مَسَاكِينَ لِكُلِّ مِسْكِينٍ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ طَعَامٍ، وَاحْلِقْ رَأْسَكَ» په يوه کې قَالَ أَيُّوبُ: «لاَ أَدْرِي بِأَيِّ هَذَا بَدَأَ» په بل کې قَالَ أَيُّوبُ: لاَ أَدْرِي بِأَيَّتِهِنَّ بَدَأَ؛ په يوه کې قَالَ: فِيَّ نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ {فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ} [البقرة: ۱۹٦] إِلَی آخِرِهَا، په بل کې فَنَزَلَتْ فِيَّ خَاصَّةً وَهْيَ لَكُمْ عَامَّةً راغلي.

له دې رواياتو داسې معلومېږي چې (فَرَق) د مدينې د خلکو هغه پيمانه وه چې له درې صاع سره برابره وه؛ د دومره خوراکي توکيو د وزن معادل چې د شپږو تنو د يوې ورځې لپاره کفايت کوي؛ هر يوه ته نيم صاع.

په روايت کې راغلي چې کعب بن عجره رضي الله عنه وويل: دا آيت

خاص زما په اړه نازل شوی؛ آیا دا خبره صحیح ده؟ ځواب څرګند دئ؛ چي دا آیت تر دې پېښي ډېر وړاندي نازل شوی؛ دا د بقرې سورې آیت دئ چي د حدیبیې تر پېښې ډېر وړاندي نازله شوې ده؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم د همدې آیت له مخي ده ته ویلي: (یا درې ورځي روژه ونیسه یا د یوه فَرَق پیمانه خواړه شپږو نفرو ته صدقه کړه او یا هغه څه قرباني کړه چي درته آسانه وي). په روایاتو کي به ډېر دې ته مواردو سره مخامخ شئ چي یوه پېښه د کوم آیت شأن نزول ګڼل شوې؛ په داسي حال کي چي اړوند آیت به تر پېښي ډېر وړاندي نازل شوی وي؛ همداسي لکه چي په دې روایت کي مو ولیدل؛ هغه څوك پرې پوهېدی شي چي په قرآن پوه وي؛ ستونزه له دې رامنځته کېږي چي ځیني د آیت مصداق او شأن نزول نه شي سره بېلولی؛ شأن نزول د آیت تر نازلېدو وړاندي پېښه وي؛ اما مصداق ئې؛ وروسته تر قیامت پوري مشابه پېښي.

## ۵ باب: د فدیې اندازه نیمه پیمانه ده

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَعْقِلٍ، قَالَ: جَلَسْتُ إِلَى كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ، فَسَأَلْتُهُ عَنِ الفِدْيَةِ، فَقَالَ: نَزَلَتْ فِيَّ خَاصَّةً، وَهِىَ لَكُمْ عَامَّةً، حُمِلْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالقَمْلُ يَتَنَاثَرُ عَلَى وَجْهِى، فَقَالَ: «مَا كُنْتُ أُرَى الوَجَعَ بَلَغَ بِكَ مَا أَرَى - أَوْ مَا كُنْتُ أُرَى الجَهْدَ بَلَغَ بِكَ مَا أَرَى - تَجِدُ شَاةً؟» فَقُلْتُ: لاَ، فَقَالَ: «فَصُمْ ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ، او أَطْعِمْ سِتَّةَ مَسَاكِينَ، لِكُلِّ مِسْكِينٍ نِصْفَ صَاعٍ» (بخاری: ۱۸۱۶)

له عبدالله بن مَعْقِل روایت دئ چي وایي: له کعب بن عُجْرَه رضي الله عنه سره کښېناستم او د فدیې په اړه مي وپوښتلو؛ نو وئې ویل: دا آیت زما په اړه خاص نازل شوی؛ او ستاسو لپاره په عامه توګه؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم لوري ته بېول شوم؛ په داسي حال کي چي سپږي مي پر مخ خورېدې؛ وئې فرمایل: (داسي مي نه انګېرل چي درد به دي

هغه حد ته رسېدلی وي چي اوس ئې وينم)؛ او يا دا چي (نه مي انگېرل چي کړاو به دي هغه حد ته رسېدلی وي چي اوس ئې وينم): (آيا کوم پسه لرې؟) ومي ويل: نه؛ نو وئې فرمايل: نو درې ورځې روژه ونيسه يا شپږو مسکينانو ته خواړه ورکړه؛ هر يوه ته نيمه صاع (پيمانه).

دا د مخکيني روايت تکرار دئ؛ تفصيلات ئې هلته وگورئ.

## د ښکار د کفارې کتاب

### ۱ باب: محرم هغه ښکار خوړلی شي چي غير محرم ئې ورته اهداء کړي

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: انْطَلَقْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فَأَحْرَمَ أَصْحَابُهُ وَلَمْ أُحْرِمْ، فَأُنْبِئْنَا بِعَدُوٍّ بِغَيْقَةَ فَتَوَجَّهْنَا نَحْوَهُمْ، فَبَصُرَ أَصْحَابِي بِحِمَارِ وَحْشٍ فَجَعَلَ بَعْضُهُمْ يَضْحَكُ إِلَى بَعْضٍ فَنَظَرْتُ فَرَأَيْتُهُ فَحَمَلْتُ عَلَيْهِ الْفَرَسَ فَطَعَنْتُهُ فَأَثْبَتُّهُ فَاسْتَعَنْتُهُمْ فَأَبَوْا أَنْ يُعِينُونِي فَأَكَلْنَا مِنْهُ ثُمَّ لَحِقْتُ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَخَشِينَا أَنْ نُقْتَطَعَ، أَرْفَعُ فَرَسِي شَأْوًا، وَأَسِيرُ عَلَيْهِ شَأْوًا فَلَقِيتُ رَجُلاً مِنْ بَنِي غِفَارٍ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ، فَقُلْتُ: أَيْنَ تَرَكْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ فَقَالَ: تَرَكْتُهُ بِتَعْهَنَ وَهُوَ قَائِلٌ السُّقْيَا، فَلَحِقْتُ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَتَيْتُهُ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَصْحَابَكَ أَرْسَلُوا يَقْرَءُونَ عَلَيْكَ السَّلامَ وَرَحْمَةَ اللَّهِ وَبَرَكَاتِهِ، وَإِنَّهُمْ قَدْ خَشُوا أَنْ يَقْتَطِعَهُمُ الْعَدُوُّ دُونَكَ فَانْظُرْهُمْ، فَفَعَلَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا اصَّدْنَا حِمَارَ وَحْشٍ وَإِنَّ عِنْدَنَا فَاضِلَةً فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لأَصْحَابِهِ: «كُلُوا» وَهُمْ مُحْرِمُونَ. (بخاری: ۱۸۲۱)

له ابو قتاده رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د حديبيې په کال له

رسول الله صلی الله علیه و سلم سره روان شوو، نورو یارانو ئې احرام وتړلو؛ خو ما ونه تړلو؛ او د غَيْقَه په سیمه کي د دښمن په اړه خبر راکړل شو، نو د هغوی په لوري مو مخه کړه؛ زما ملګرو یو وحشي خر ولید او یو بل ته په خندا شو؛ ما هغه لوري ته وکتلو او ومي لیدو؛ خپل آس مي وروځغلاوو، په نېزه مي وواهو او له پښو مي وغورځاوو، له ملګرو مي مرسته وغوښتله خو هغوی له دې ډېره وکړه چي مرسته راسره وکړي، له هغه مو څه برخه وخوړله؛ بیا په رسول الله صلی الله علیه و سلم پسي ورغلو او وډار شوو چي (دښمن) مو سره بېل نه کړي (زموږ تر منځ حائل نه شي)؛ نو کله به مي آس ځغلاوو او کله به مي سوکه او عادي روان کړی وو، په نیمه شپه کي مي د بني غفار یو سړی ولیدو او پوښتنه مي ترې وکړه: رسول الله صلی الله علیه و سلم دي چېرې تر شا پرېښود؟ هغه وویل: په (تَعْهَن) کي؛ غواړي غرمه په (سُقْيَا) کي تېره کړي، ورپسې وخوځېدم تر هغه چي وروړسېدم؛ نو ومي ویل: یا رسول الله! یارانو دي تا ته سلام او د الله تعالی رحمت او برکتونه لېږلي او وېرېدل چي له تا لري پاته نه شي، نو انتظار ورته وکړه، نو همداسي ئې وکړل؛ ومي ویل: یا رسول الله! یو وحشي خر مي ښکار کړ او څه (غوښه) ئې راسره پاته ده؛ نو خلکو ته ئې وفرمایل: (وئې خورئ) حال دا چي هغوی په احرام کي وو.

تکرار: دا روایت په بخاري کي ۲ ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۱۸۲۱ - ۱۸۲۲ – مطلق غریب دئ؛ په ۳ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: يَحْيَى، عَبْد اللَّه بْنِ أَبِي قَتَادَةَ؛ او پلار ئې ابو قتاده.

توپیر: د یوه راویان دا دي: مُعَاذ بْن فَضَالَةَ، هِشَام، يَحْيَى، عَبْد اللَّه بْنِ أَبِي قَتَادَةَ؛ او پلار ئې ابو قتاده او د بل دا: سَعِيد بْن الرَّبِيعِ، عَلِي بْن الْمُبَارَكِ، يَحْيَى، عَبْد اللَّه بْنِ أَبِي قَتَادَةَ؛ او ابو قتاده؛ په یوه کي فَنَظَرْتُ فَإِذَا أَنَا بِحِمَارِ وَحْشٍ او په بل فَنَظَرْتُ فَرَأَيْتُهُ په یوه کي قَدْ خَشُوا أَنْ يُقْتَطَعُوا دُونَكَ فَانْتَظِرْهُمْ په بل کي قَدْ خَشُوا أَنْ يَقْتَطِعَهُمُ الْعَدُوُّ دُونَكَ

فَانْظُرْهُمْ، فَفَعَلَ راغلي. یعني چې بخاري یوازې د وروستیو دوو راویانو له کبله دا روایت دوه ځلې راوړی؛ نه په متن کې د خاص توپیر له کبله.

## ۲ باب: محرم دې د ښکار په نیولو کې له غیر محرم سره مرسته نه کوي

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالقَاحَةِ، وَمِنَّا المُحْرِمُ، وَمِنَّا غَيْرُ المُحْرِمِ، فَرَأَيْتُ أَصْحَابِي يَتَرَاءَوْنَ شَيْئًا، فَنَظَرْتُ، فَإِذَا حِمَارُ وَحْشٍ يَعْنِي وَقَعَ سَوْطُهُ، فَقَالُوا: لاَ نُعِينُكَ عَلَيْهِ بِشَيْءٍ، إِنَّا مُحْرِمُونَ، فَتَنَاوَلْتُهُ، فَأَخَذْتُهُ ثُمَّ أَتَيْتُ الحِمَارَ مِنْ وَرَاءِ أَكَمَةٍ، فَعَقَرْتُهُ، فَأَتَيْتُ بِهِ أَصْحَابِي، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: كُلُوا، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: لاَ تَأْكُلُوا، فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ أَمَامَنَا، فَسَأَلْتُهُ، فَقَالَ: «كُلُوهُ، حَلاَلٌ» (بخاری: ۱۸۲۳)

له ابو قتادة رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: له نبي صلی الله علیه و سلم سره د قَاحَة په سیمه کې وو؛ ځیني مو محرم ول (احرام ئې تړلی وو) او ځیني غیر محرم؛ پام مې شو چې ملګرې مې یو بل ته څه ښیي؛ ما چې وکتل یو وحشي خر وو؛ متروکه ئې ولوېده؛ له ملګرو ئې مرسته وغوښتله؛ هغوی وویل: موږ دې په دې اړه مرسته نه شو کولی؛ موږ محرم یو؛ نو چاره مې وکړه او راوامي خستله؛ بیا د یوه کمر له شا وحشي خره ته ورغلم نو زخمي او ذبح مې کړ؛ او خپلو ملګرو ته مې راوړ؛ ځینو وویل: وئې خورئ او نورو وویل: مه ئې خورئ؛ بیا په داسې حال کې نبي صلی الله علیه و سلم ته راغلم چې تر موږ مخکې وو؛ نو پوښتنه مې ترې وکړه؛ وئې فرمایل: وئې خورئ؛ حلال دئ.

لکه چې ګورئ دا روایت له مخکیني سره ورته دئ او موضوع ئې یوه ده؛ خو تر مخکیني جامع او واضح دئ؛ په دې کې ویل شوي چې ځیني مو مُحْرِم او ځیني غیر مُحْرِم وو؛ په مخکیني کې دا وضاحت نه دئ شوی؛ په دې کې ویل شوي چې متروکه ترې ولوېده او ملګرو ئې د

متروکې په اخیستلو کې مرسته ونه کړه؛ په مخکینې کې دا خبره نه ده شوې.

## ۳ باب: محرم باید غیر محرم ته ښکار په ګوته هم ورونه ښیي

وَعَنهُ فِي رِوَايَةٍ: أنهم لَمَّا أَتَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَمِنْكُمْ أَحَدٌ أَمَرَهُ أَنْ يَحْمِلَ عَلَيْهَا أَوْ أَشَارَ إِلَيْهَا» قَالُوا: لا، قَالَ: «فَكُلُوا مَا بَقِيَ مِنْ لَحْمِهَا». (بخاري: ۱۸۲٤)

له ابو قتاده رضي الله عنه په بل روایت کې راغلي: هغوی چې کله رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغلل؛ ورته وئې فرمایل: (آیا له تاسو کوم یوه هغه (ابو قتاده) ته امر کړی چې ښکار ئې کړي او یا ئې د ښکار لورې ته اشاره کړې؟ وئې ویل: نه؛ وئې فرمایل: (نو د ښکار پاته غوښه وخورئ).

د دې روایت په اړه څو وضاحتونه ضروري دي:

دا مطلب د مخکینیو روایاتو یوه مهمه برخه ده چې په هغوی کې نه ده راغلې؛ په دې سره د هغوی یوه جدي تشه ډکیږي؛ او نیمګړتیا ئې بشپړه کیږي.

د دې روایت بشپړ متن داسي دئ:

۱۸۲٤ - عن عَبْدِ اللَّهِ بْن أَبِي قَتَادَةَ، أَنَّ أَبَاهُ، أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ حَاجًّا، فَخَرَجُوا مَعَهُ، فَصَرَفَ طَائِفَةً مِنْهُمْ فِيهِمْ أَبُو قَتَادَةَ، فَقَالَ: «خُذُوا سَاحِلَ البَحْرِ حَتَّى نَلْتَقِيَ» فَأَخَذُوا سَاحِلَ البَحْرِ، فَلَمَّا انْصَرَفُوا، أَحْرَمُوا كُلُّهُمْ إِلَّا أَبُو قَتَادَةَ لَمْ يُحْرِمْ، فَبَيْنَمَا هُمْ يَسِيرُونَ إِذْ رَأَوْا حُمُرَ وَحْشٍ، فَحَمَلَ أَبُو قَتَادَةَ عَلَى الحُمُرِ فَعَقَرَ مِنْهَا أَتَانًا، فَنَزَلُوا فَأَكَلُوا مِنْ لَحْمِهَا، وَقَالُوا: أَنَأْكُلُ لَحْمَ صَيْدٍ وَنَحْنُ مُحْرِمُونَ؟ فَحَمَلْنَا مَا بَقِيَ مِنْ لَحْمِ الأَتَانِ، فَلَمَّا أَتَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا: يَا

رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا كُنَّا أَحْرَمْنَا، وَقَدْ كَانَ أَبُو قَتَادَةَ لَمْ يُحْرِمْ، فَرَأَيْنَا حُمُرَ وَحْشٍ فَحَمَلَ عَلَيْهَا أَبُو قَتَادَةَ، فَعَقَرَ مِنْهَا أَتَانًا، فَنَزَلْنَا، فَأَكَلْنَا مِنْ لَحْمِهَا، ثُمَّ قُلْنَا: أَنَأْكُلُ لَحْمَ صَيْدٍ وَنَحْنُ مُحْرِمُونَ؟ فَحَمَلْنَا مَا بَقِيَ مِنْ لَحْمِهَا، قَالَ: «أَمِنْكُمْ أَحَدٌ أَمَرَهُ أَنْ يَحْمِلَ عَلَيْهَا؛ او أَشَارَ إِلَيْهَا». قَالُوا: لاَ، قَالَ: «فَكُلُوا مَا بَقِيَ مِنْ لَحْمِهَا»

لکه چې ګورئ دا روایت له مخکینیو سره ژور توپیرونه لري؛ که څه هم لومړني دوه راویان ئې سره ورته (ابو قتاده او زوی ئې عبد الله) دي؛ موضوع ئې هم یوه ده او د یوه سفر پېښه بیانوي؛ خو تفاوتونه ئې دومره دي لکه چې دا او مخکیني د بېلو بېلو سفرونو خبره کوي؛ په دې کې څو خبرې له مخکینیو سره توپیر لري:

- دلته ویل شوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د حج په موخه له ځینو سره ووتو؛ او یوه ډله چې أبو قتاده هم په کې وو له دوی په بل لوري روان شول او أبو قتاده ورته وویل: د بحر ساحل ونیسئ تر هغه چې له نورو سره یو ځای شو؛ کله چې روان شول له أبو قتاده پرته نورو ټولو احرامونه وتړل؛ کله چې دوی روان وو ناڅاپي ئې یوه ډله وحشي خره ولیدل؛ ابو قتاده پر خرو برید وکړ او یوه خره ئې ژوبله او ذبح کړه؛ نو ټول کوز شول او د هغې غوښه ئې وخوړه؛ او وئې ویل: آیا په داسې حال کې د ښکار غوښه خورو چې په احرام کې یو؟ نو د خرې پاته غوښه مو له ځان سره واخیستله؛ کله چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغلل وئې ویل: یا رسول الله! موږ احرامونه وتړل او ابو قتاده احرام ونه تړلو؛ وحشي خره مو ولیدل؛ ابو قتاده پرې برید وکړ او یوه خره ئې ژوبله او ذبحه کړه؛ نو کوز شوو او غوښه مو وخوړله؛ بیا مو په خپلو کې وویل: آیا په داسې حال کې د ښکار غوښه خورو چې په احرام کې یو؟ نو د خرې پاته غوښه مو له ځان سره واخیستله؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته وفرمایل: (آیا له تاسو کوم یوه هغه (ابو قتاده) ته امر کړی چې ښکار ئې کړي او یا ئې د ښکار لوري ته اشاره کړې؟

وئې ویل: نه؛ وئې فرمایل: (نو د ښکار پاته غوښه وخورئ).

- که مخکیني روایات له دې سره پرتله کړو نو ویلی شو: دا بشپړ دئ او هغه نور ټول نه یوازې نیمګړي دي بلکې ډېرې ستونزې لري او مطلب ئې په سمه او بشپړه توګه نه دئ منعکس کړی؛ له دوی ټولو یوازې دا غوره کولی شو؛ نور ئې ډېر ابهامات لري او مهم ضروري مطالب په کې نه دي راغلي. د دې لپاره هیڅ توجیه نه شو موندلی چې ولې د دې روایت په شتون کې داسې روایات هم د لوستونکي مخې ته ایښودل شوي چې نیمګړي دي، ابهامات لري او ستونزې زېږوي؟!!

- آیا داسې ځوك شته چې د بخاري لوستونکو ته ووایي: د دې روایاتو کومې کومې خبرې صحیح دي: دا چې ځیني په احرام کې او ځیني نه؛ او که له ټولو یوازې ابو قتاده احرام نه وو تړلی؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لومړی ابو قتاده رسېدلی که د هغه ملګري؟ دا قصه خپله ابو قتاده رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وکړه او که ملګرو ئې؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم کله هغوی ته وویل چې غوښه ئې وخورئ؛ تر دې پوښتنې وروسته چې (آیا له تاسو کوم یوه هغه (ابو قتاده) ته امر کړی چې ښکار ئې کړي او یا ئې د ښکار لوري ته اشاره کړې؟) او که تر دې وړاندې؟ په دغو متعارضو روایاتو کې به کوم ته ترجیح ورکوو او د کوم دلیل له مخې؟ امام بخاري ولې دا متعارض روایت له ترجیح پرته راوړي او پر یوه او تر ټولو صحیح او بشپړ ئې اکتفاء نه ده کړې؟ آیا ځوك شته چې د دې پوښتنو ځواب ووایي؟ پرته له دې چې ووایي: په دې روایاتو کې یقیناً چې ژور تعارضات شته؛ یوازې یو ئې صحیح ګڼلی شو او د صحیح په شتون کې د ناقصو روایاتو راوړل قطعاً مناسب نه دي.

## ٤ باب: که محرم ته وحشي خر ژوندی په سوغات کې ورکړل شي، نه دې مني

عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما عَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ اللَّيْثِيِّ رَضِيَ اللَّهُ

عَنْهُ أَنَّهُ أَهْدَى لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِمَارًا وَحْشِيًّا وَهُوَ بِالأَبْوَاءِ أَوْ بِوَدَّانَ فَرَدَّهُ عَلَيْهِ فَلَمَّا رَأَى مَا فِي وَجْهِهِ قَالَ: «إِنَّا لَمْ نَرُدَّهُ عَلَيْكَ إِلَّا أَنَّا حُرُمٌ». (بخارى: ١٨٢٥)

له عبدالله بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چي صَعْب بن جَثَّامةَ الليثي رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په داسي حال کې يو وحشي خر هديه کړ چي دی په (ابواء: د مدينې او مکې تر منځ يو خوړ دئ چي سېلابونه په کې راغونډېږي) يا (ودان: د الأبواء او الجحفة تر منځ يو ځای دئ) کې وو؛ خو بېرته ئې هغه ته ورکړ؛ کله چي ئې هغه څه وليدل چي د ده په څېره کې وو؛ (د خفګان نښي ئې وليدې) وئې فرمايل: (دا مو له دې پرته له کومي بلې وجهې بېرته نه دئ درګرځولی مګر دا چي موږ په احرام کې يو).

تکرار: دا روايت په بخاري کې ٣ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٨٢٥ - ٢٥٧٣ - ٢٥٩٦ - غريب دئ؛ په صحابه وو کې دوه او په نورو کې يو يو راوي لري چي دا دي: مَالِك، ابْنِ شِهَاب، عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُود، عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ.

توپیر: يو تفاوت ئې په څلورمي او پنځمې طبقې راويانو کې دئ او په متن کې صرف دا توپير دي چي په يوه کې لَيْسَ بِنَا رَدٌّ عَلَيْكَ وَلَكِنَّا حُرُمٌ: له موږ سره ئې تا ته د ردولو کومه وجه نشته؛ خو موږ محرم يو؛ او په نورو کې إِنَّا لَمْ نَرُدَّهُ عَلَيْكَ إِلَّا أَنَّا حُرُمٌ: موږ تا ته نه دئ رد کړی مګر له دې کبله چي موږ محرم يو؛ راغلي.

## ٥ باب: هغه شيان چي مُحْرِم ئې په حرم کي وژلی شي

عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «خَمْسٌ مِنَ الدَّوَابِّ كُلُّهُنَّ فَاسِقٌ يَقْتُلْنَ فِي الْحَرَمِ الْغُرَابُ، وَالْحِدَأَةُ، وَالْعَقْرَبُ، وَالْفَأْرَةُ، وَالْكَلْبُ الْعَقُورُ». (بخارى: ١٨٢٩)

له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (پنځه ژوي داسي دي چي ټول ضرري او ناکاره دي او په حرم کي هم وژل کېدی شي: کارغه، باښه، لړم، موږک او داړونکی سپی).

دا روایت په بخاري کي ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۸۲٦- ۱۸۲۸ - ۱۸۲۹ - ۳۳۱۵ - غریب دئ؛ په صحابه وو کي دوه راویان لري چي عبد الله بن عمر او عائشه رضي الله عنهم دي او په نورو طبقو کي یو یو راوي.

عَنْ عَبْدِاللَّهِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَارٍ بِمِنًى إِذْ نَزَلَ عَلَيْهِ (وَالْمُرْسَلاتِ) وَإِنَّهُ لَيَتْلُوهَا وَإِنِّي لأَتَلَقَّاهَا مِنْ فِيهِ، وَإِنَّ فَاهُ لَرَطْبٌ بِهَا، إِذْ وَثَبَتْ عَلَيْنَا حَيَّةٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اقْتُلُوهَا» فَابْتَدَرْنَاهَا فَذَهَبَتْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وُقِيَتْ شَرَّكُمْ كَمَا وُقِيتُمْ شَرَّهَا». (بخاری: ۱۸۳۰)

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: په داسي حال کي چي موږ له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د (منٰی) په یوه غار کي وو چي د (والمرسلات) سوره پرې نازله شوه؛ او هغه لوستله او ما ئې له خولې تر لاسه کوله (زده کوله)؛ او لا ئې خوله په هغې لمده (لنده) وه چي یوه مار پر موږ حمله وکړه؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (مړ ئې کړئ)؛ موږ ورپسي ورغلو؛ خو مار ولاړ؛ بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (هغه ستاسو له شر او ضرر داسي وژغورل شو لکه چي تاسو ئې له شر وژغورل شوئ).

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: عُمَر بْن حَفْصِ بْنِ غِيَاث، پلار ئې حفص، الأَعْمَش، إِبْرَاهِيم، الأَسْوَدِ او عَبْدِ اللَّهِ بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

**عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِلْوَزَغِ: «فُوَيْسِقٌ» وَلَمْ أَسْمَعْهُ أَمَرَ بِقَتْلِهِ.(بخاری: ١٨٣١)**

**د رسول الله صلی الله علیه و سلم له مېرمنې عائشې رضي الله عنها روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ځرمښکۍ د (فُوَيسِق: وړه زیان رسوونکې) په نامه یاده کړې ده؛ خو دا مې نه دي ترې اورېدلي چې د وژلو امر ئې کړی وي.**

**تکرار: د ځرمښکۍ په اړه بخاري کې دوه نور روایات هم په دغو شمېرو راغلي: ٣٣٠٦ - ٣٣٥٩ -**

**توپير: په دواړو کې ویل شوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې د وژلو امر کړی (أَمَرَ بِقَتْلِهِ) او (أَمَرَ بِقَتْلِ الوَزَغِ)؛ دا هم پرې علاوه شوي: كَانَ يَنْفُخُ عَلَى إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: یعني ځرمښکۍ به د ابراهیم علیه السلام د سوزولو هغه اور ته پو کول چې نمرود د ده د سوزولو لپاره بل کړی وو؛ په دې موخه چې اور لا تېز کړي.**

**امام بخاري نه دي ویلي چې په دغو متعارضو راویاتو کې کوم یو صحیح دئ: ١- هغه چې یوازې د پنځو نورو مضرو ژوو نوم په کې اخیستل شوی او د ځرمښکۍ نه؛ ٢- د عائشې رضي الله عنها روایت چې وايي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مې د هغې د وژلو خبره نه ده اورېدلې؛ ٣- هغه روایات چې وايي په کورونو کې له تاسو سره اوسېدونکي ژوي؛ د یوه ډول کورني مارانو په شمول مه وژنئ؛ او معلومه ده چې ځرمښکۍ په دوی کې شامله ده؛ ٤- او د بخاري دغه روایت چې وايي: وئې وژنئ؟! امام بخاري د دې وضاحت نه دئ کړی. د داسې متعارضو روایاتو له منځ د یوه انتخاب فقیه ته ضرورت لري؛ په قرآن او حدیث پوه فقیه ته؛ فقهاءو او د مذاهبو ائمه وو همدا کار کړی؛ په امت کې د موضوعي، جعلي، ضعیفو او متعارضو روایاتو له کبله شدید اختلافات رامنځته شوی وو؛ شمېر ئې لکونو ته رسېدلی، فقهاءو د فتنې د ختمولو لپاره ملا وتړله؛ روایات ئې وچڼل، کره او ناکره؛ صحیح او ناصحیح ئې سره بېل کړل؛ د امت پوښتنو او غوښتنو ته ئې ځوابونه**

وویل؛ مخکیني پراخ او بې مهاره اختلافات ئې مهار کړل؛ هر یوه ئې په ملیونونو مسلمانان په یوه صف کې ودرول؛ یقیناً چې د دوی په صادقانه هڅو سره د یوې ډېرې خطرناکې فتنې مخنیوی وشو؛ ډېره عجیبه ده چې نن ناپوه او غرضي کړۍ د دغو درنو فقهاءو د رغنده هڅو په خلاف تبلیغات کوي او د مذهبي اختلافاتو عامل ئې ګڼي؛ دا منو چې په امت کې د مذهبي اختلافاتو له کبله د ډېرو مؤمنانو وینې توی شوې؛ دومره چې له اصلي دښمنانو سره د نښتو په ترڅ کې نه دي توی شوې؛ دا نن نن موږ افغانان له همدې فتنې سره مخامخ یو؛ خو دا ائمه وو ته منسوبول هم جفا او ظلم دئ او هم کذب او افتراء؛ اختلافات د دښمن برېڅو او جاهلانو رامنځته کړي؛ د امت د کورنیو جګړو تر شا تل د دښمنانو لاس وو او دئ؛ پرون هم او نن هم؛ د فقهاءو راپاڅېدل د هغه مهال یو شدید ضرورت وو؛ که دوی نه وی خدای خبر چې امت به له څومره بدو او تورو ورځو سره مخامخ شوی وو؛ متأسفانه نن داسې افراد هم راټوکېدلي چې په کوم امام او مذهب پسې اقتداء محکوموي او حتی دې ته د شرك په سترګه ګوري؛ ډېری ئې هغه دي چې ځان ته اهل حدیث او سلفي وايي؛ خو په حقیقت کې هغوی اهل حدیث نه بلکې اهل بخاري دي؛ امام بخاري رحمه الله ئې امام او بخاري ئې مذهبي کتاب دئ؛ له بخاري پرته د حدیث ټول کتابونه نه مني؛ او له بخاري ئې فهم او پوهه دومره کچه او کمزورې چې د هیڅ موضوع او مبحث او په هیڅ باب کې د دوو متعارضو روایاتو له منځه نه یوازې نشي کولی ارجح او اصح ئې تفکیك کړي او غوره ئې وپېژني؛ بلکې هر یو د خپلې خوښې او سلیقې روایت ترې غوره کوي؛ د همدې څرمښکۍ د وژلو او نه وژلو په اړه د پورتنیو پوښتنو ځوابولو وړتیا او ظرفیت نه لري!! یقیناً چې د مذهبي اختلافاتو ستر عامل همدا متعارض روایات دي. محدث باید غوره او اصح روایت له دلیل سره ئې وښيي او دا پوښتنه د هرې موضوع په ارتباط ځواب کړي چې د بخاري له متعارضو روایاتو به په

کوم یوه عمل کوو؟ دا د اهل حدیث نوم ځان ته غوره کول په خپله کرکجن بدعت دئ؛ موحد او مسلمان؛ لومړی په قرآن او بیا په حدیث باور لري؛ په نامه کې د قرآن نفي کول او یوازې د حدیث یادونه؛ یقیناً چې قبیح بدعت دئ؛ د دې بدعت جرړې باید د دښمنانو په هغو توطئو کې ولټوو چې غواړي مسلمانان قرآن ته شا کړي او په بل څه مصروف شي؛ د همدې لپاره رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ تل او په مکرره توګه تأکید کړی چې د الله تعالی د کتاب په څنګ کې بل کتاب مه پربږدئ؛ که څه هم دا د مخکنیو امتونو کتاب وي؛ د ژوند تر پایه ئې چا ته د حدیث لیکلو اجازه هم ورنه کړه؛ او وئې فرمایل: چا چې له قرآن پرته بل څه له ما لیکلي وي؛ هغه دې له منځه یوسي. ابو هریره وایي: موږ ټول لیکلي احادیث راغونډ کړل او ومو سوزول.

د بخاري له ۱۸۲۹ روایت معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د مضرو مرغانو او خزندو د وژلو خبره کړې (پنځه ژوي داسي دي چې ټول ضرري او ناکاره دي او په حرم کي هم وژل کېدی شي: کارغه، باښه، لړم، موږک او داړونکی سپی). له دغو ژوو لړم چیچل کوي چې مار او ګمبري (غومبسي) هم پرې قیاس کېدی شي، سپی داړل کوي، باښه واړه چرګان تښتوي، کارغه غوښه او خوراکي توکی چې بهر پاته شي تښتوي، سپی داړل کوي؛ موږك غله، مېوه او جامې خوري او په خونو کې سوري جوړوي؛ په دغو پنځو کې نه د څرمښکي یادونه شوې او نه ئې پر کوم یوه قیاسولی شو؛ ځکه نه یوازې کوم ضرر نه لري بلکه مضر حشرات خوري.

ما داسي عربان هم لیدلي چې د څرمښکي وژل ئې ستره غزا او وژونکی ئې ستر غازي ګڼلو! په داسي روایاتو استناد کوي چې وایي: چا چې په اول ګوزار سره ووژله سل، پنځه سوه او... نیکې ورته لیکل کېږي؛ او داسي روایات هم لرو چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې د وژلو امر نه دئ کړی!! امام بخاري هم نه دي ویلي چې کوم روایت

تر نورو زيات معتبر او د متابعت وړ دئ؛ آيا د څرمښکۍ په اړه به مو باور دا وي چي هغې د نمرود هغه اور ته پو کول چي د ابراهيم عليه السلام د سوزولو لپاره ئې بل کړی وو؛ په دغو رواياتو کې خو د دغو ژوو د وژلو وجه د هغوی ضرر ښودل شوی؛ نه بل څه؛ که څوك وغواړي څرمښکۍ په دغو پنځو قياس کړي نو بايد د هغوی د ضرر په څېر کوم ضرر ورته ثابت کړي؛ او که د ابراهيم عليه السلام اور ته پوه کول ئې د وژلو سبب او دليل وي نو د دغو پنځو ضرري ژوو لپاره هم بايد دې ته ورته سبب ولټوو؛ تحقيقات ښيي چي څرمښکۍ نه مضر ده او نه زهرجنه؛ خوراك ئې د ماشو او مچانو په څېر حشرې دي؛ په غرب کې ئې ځيني خلك پالي او چينايان ئې خوري؛ اور ته څرمښکۍ پو کول داسي دي لکه چي بايبل ويلي: آدم او حواء مار وغولول او له جنت ئې وايستل؛ مار تر ټولو حيواناتو ډېر ځيرك دئ؛ هغه جنت ته داخل شو او حواء ته ئې وويل: آيا په رښتيا تاسو ته ويل شوي چي دا مېوه مه خورئ؟ هغې وويل هو؛ که ئې وخورو نو مرو؛ هغه ورته وويل: نه مرئ بلکې تلپاته ژوند مو په برخه کېږي؛... هغه ئې وغولوله؛... او الله هغه ته دا سزا واوروله: خاوري دي خوراك شه؛ او تگ دي په سينه؛ ستا او د آدم د مېرمن تر منځ به د تل لپاره دښمني وي؛ ته به ئې چيچې او هغه به ستا سر ځپي.

آيا داسي روايات منلی شو چي د إسنادو له پلوه غريب او د متن له پلوه د عقل او واقع خلاف وي؛ په څرمښکۍ کې د پو کولو توان او ظرفيت نشته او په مار کې نه تر نورو حيواناتو زياته ځيرکتيا شته، نه د خبرو او د انسان د غولولو توان؛ د څرمښکۍ په اړه به کومه خبره منو: هغه چي د نمرود اور ته ئې پو کول او که هغه چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم د پلونو آثار ئې هغه مهال ختمول چي غار ثور ته ئې پناه وړې وه او قريش د هغه د وژلو لپاره د همدې غار خولې ته ورسېدل؟!!

---

ما په بخاري کې د تحقیق په پیل کې د یوه پاکستاني بریلوي تلویزیوني وینا اورېدله؛ مشهور شخص دئ؛ گوند او تلویزیون لري؛ اوس په غرب کې مېشت دئ؛ بریلویان د صوفیانو یوه ډله ده؛ پیغمبر علیه السلام په هر ځای کې حاضر و ناظر گڼي؛ پر اهل حدیث او سلفیانو ئې کلکې نیوکې کولې او ویل ئې: سلفیون کو بخاري نهي آتی؛ بخار آتی هي: سلفیان په بخاري نه پوهېږي؛ تبې او خارش نیولي؛ یعني چې دی او بریلوي پلویان ئې تر سلفیانو زیات او ښه په بخاري پوهېږي او باور پرې لري! یعني چې په بخاري کې داسي څه هم شته چې حتی بریلویان کولی شي د خپلو عقائدو او باورونو لپاره ترې سند او مستمسك جوړ کړي او داسي څه هم چې اهل حدیث د خپل مسلك په گټه پرې استناد کوي؛ او همدا ئې یوازینی مذهبي کتاب دئ؛ او دا دواړه څکه پرې إستناد کوي چې په ډېرو مواردو کې بخاري متعارض او تکراري روایات راوړي؛ داسي چې د بریلویانو او اهل حدیث په شمول؛ هر څوك کولی شي د خپلي خوښي روایت ترې غوره کړي. امام بخاري رحمه الله د روایاتو د صحت په اړه یوازې د سند صحت او د راویانو ثقه والي ته کتلي؛ د تکراري او متعارضو روایاتو راوړلو اصلي وجه ئې همدا ده؛ دا ئې د بخاري لوستونکو ته پرېښې چې یو ترې انتخاب کړي. موږ او تاسو د دې درسونو په دوران کې په لسگونو همداسي روایات ولیدل.

### ٦ باب: په مکه کي جنگ جواز نه لري

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ افْتَتَحَ مَكَّةَ: «لا هِجْرَةَ وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا».(بخارى: ١٨٣٤)

له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د مکې د فتح په ورځ وفرمایل: (نور هجرت نشته، خو جهاد او نیت ئې شته که د جهاد بلنه درکړل شوه؛ نو جهاد ته ووځئ).

د باب عنوان داسي دئ (په مکه کي جنگ جواز نه لري)؛ خو په

روایت کې دې موضوع ته هیڅ لري او نژدې اشاره نه مومو؛ بلکې د مکې له فتحې وروسته هجرت منتفي ګڼل شوی او دا هم یوازې هغه هجرت دئ چې تر فتحې وړاندې مؤمنان مکلف وو چې له مکې به مدینې ته هجرت کوي؛ مګر هغه چې توان ئې نه لري؛ واضح ده چې له فتحې وروسته هغه هجرت پای ته رسېدلی؛ اما په دې سره د هجرت الهي حکم منسوخ شوی نه دئ؛ هجرت په عامه توګه تر قیامت پورې د جهاد تر څنګ دوام لري؛ او هر هغه مسلمان پرې مکلف دئ چې د ده پر سیمې او هېواد ظالمان او کافران مسلط شوي او د دوی تر سلطې لاندې نه شي کولی د اسلام له غوښتنو سره سم ژوند وکړي؛ دا هم باید په پام کې ولرو چې که کافران له مسلمانانو سره په مکه کې جنګ کوي نو الله تعالی هغوی ته اجازه ورکړې چې په مکه کې د کافرانو مقابله وکړي. قرآن فرمايي:

﴿...وَلَا تُقَاتِلُوهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّى يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ فَإِنْ قَاتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوهُمْ كَذَلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ ﴿١٩١﴾ البقرة

... په مسجد الحرام کې تر هغه له هغوی سره مه جنګېږئ چې دوی له تاسو سره په کې وجنګېږي؛ که درسره وجنګېدل نو تاسو هم ورسره وجنګېږئ؛ همدا د دغو کافرانو سزا ده.

دا وضاحتونه ډېر زیات ضروري دي؛ له دې پرته او یوازې د روایت همدا اوسنۍ بڼه ناقصه ده او لوستونکي په مغالطه کې اچوي.

## ٧ باب: د مُحرِم لپاره ښکر لګول

عَنِ ابْنِ بُحَيْنَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: احْتَجَمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم وَهُوَ مُحْرِمٌ بِلَحْيِ جَمَلٍ فِي وَسَطِ رَأْسِهِ. (بخاری: ١٨٣٦)

له ابن بُحَیْنَه رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم په داسې حال کې چې په احرام کې وو؛ په (لَحْيِ جمل: چې

د مکې او مدينې تر منځ د يوه ځای نوم دئ) د خپل سر په منځنۍ برخي کي ښکر ولګاوو.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۲۱ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۸۳۵ - ۱۸۳٦ - ۱۹۳۸ - ۱۹۳۹ - ۲۱۰۳ - ۲۰۸٦ - ۲۲۷۸ - ۲۲۷۹ - ۵٦۸۰ - ۵٦۹٤ - ۵٦۹۵ - ۵٦۹٦ - ۵۷۰۰ - ۵۷۰۱ - ۵٦۹۱ - ۵٦۹٤ - ۵٦۹۵ - ۵٦۹٦ - ۵٦۹۸ - ۵۷۰۰ - ۵۷۰۱ –

توپير: په صحابه وو کې د دې رواياتو راويان درې دي: عبد الله بْنِ عَبَّاسٍ، أَنَسٍ بن مالك او عَبْدَ اللَّهِ ابْنَ بُحَيْنَةَ رضي الله عنهم؛ يعني چي دا روايت د بخاري په (مشهورو) رواياتو کې راځي؛ د بخاري اکثر روايات غريب دي چي په صحابه وو کې يو يو راوي لري، لږ ئې عزيز او ډېر لږ ئې مشهور دي؛ دا روايت که څه هم په صحابه وو کې درې راويان لري؛ خو يوازي په هغه صورت کې به د مشهورو رواياتو په ضمن کې ګڼل کېږي چي په نورو طبقو کې هم درې او تر درې زيات راويان ولري.

د دغو ۲۱ رواياتو د بحث اصلي موضوع حجامت: د رګ وهل او وينه ايستل دي؛ (الحجامة هي شق العرق ومص الدم منه)؛ د رسول الله صلی الله عليه و سلم په زمانه کې د علاج څو معروفې او مروجې طريقې وې: حجامت، په اور سره شوي سيخ داغل، په ګوتې او ټوټې سره د ستوني هغې برخې باندې زور کول چي په درد اخته شوې او په دې توګه له هغه وينه ايستل، د عسل شربت، د قُسْطُ البَحْرِيِ په نامه هغه نبات او جرړې ئې چي په هند او خاصتاً کشمير کې موندل کېږي او د بحر له لارې به عرب هېوادو ته انتقالېدل او د ستوني درد لپاره کارول کېدل. رسول الله صلی الله عليه و سلم د داغلو په اړه ويلي چي نه مي خوښېږي او ممانعت ئې کړی او په ستوني کې په ګوتې يا ټوټې سره زور کول او وينه ترې ايستل ئې نه دي خوښ شوي او فرمايلي ئې دي چي په دې سره ماشومان مه ځوروئ او پر ځای ئې قُسط البحري وکاروئ. د رواياتو له فحوی او الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي دا نه يوازي د

هغه وخت معمول او معروف علاجونه وو بلکې ځيني ئې په نورو هېوادو او ولسونو کې هم کارېدل. په سور شوي سيخ سره د زخمونو او ټپونو داغل خو په ټولې نړۍ کې عام وو؛ دومره چې له دې پرته به زخمونه گنده شول او د زخمي په مرگ به منتج شول. رسول الله صلی الله عليه و سلم چې د دغو معمول علاجونو په اړه څه ويلي دا نه د رسالت برخه ده او نه د وحي له مخې دي؛ او نه هم د داسي سنت په ضمن کې راځي چې مسلمان پرې مکلف وي او ثواب پرې مرتب کېږي؛ هغه چې په خپله ئې ممانعت ترې کړی؛ فقط په همدې مکلف يو؛ له دغو رواياتو همدا مطلب اخيستل کېږي:

٥٦٩٦ - عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ أَجْرِ الحَجَّامِ، فَقَالَ: احْتَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حَجَمَهُ أَبُو طَيْبَةَ، وَأَعْطَاهُ صَاعَيْنِ مِنْ طَعَامٍ، وَكَلَّمَ مَوَالِيَهُ فَخَفَّفُوا عَنْهُ، وَقَالَ: «إِنَّ أَمْثَلَ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ الحِجَامَةُ، وَالقُسْطُ البَحْرِيُّ» وَقَالَ: «لاَ تُعَذِّبُوا صِبْيَانَكُمْ بِالْغَمْزِ مِنَ العُذْرَةِ، وَعَلَيْكُمْ بِالقُسْطِ»

له انس رضي الله عنه روايت دئ چې د حجام (ښکر لگوونکي يا وينه ايستونکي) د بدلې او اجورې په اړه وپوښتل شو؛ وئې ويل: رسول الله صلی الله عليه و سلم حِجامت کړی؛ ابو طيبه ئې حِجامت وکړ؛ د خوړو دوه صاع (پيمانې) ئې ورکړې؛ او د ده له مالکانو سره ئې خبري وکړې نو د ده (خراج ) ئې راکم کړ؛ او وئې فرمايل: ستاسو غوره چې پرې تداوي کوئ حِجامت او قُسْطُ البحري دي؛ او وئې فرمايل: د خپلو ماشومانو په ستوني کې د درد معالجې لپاره گوتي مه وهئ؛ له قُسط کار واخلئ.

٥٦٨٠ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنهُما، قَالَ: " الشِّفَاءُ فِي ثَلاَثَةٍ: شَرْبَةِ عَسَلٍ وَشَرْطَةِ مِحْجَمٍ، وَكَيَّةِ نَارٍ، وَأَنْهَى أُمَّتِي عَنِ الكَيِّ "

له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چې وايي: شفاء په دريو کې

ده: د شاتو شربت، د مِحْجَم وهل (هغه آله او چاړه چي له رګونو د وينو ايستلو لپاره پر غوښي وهل کېږي؛ او هغه آله او ښکر هم چي وينه پرې رااېستل کېږي) او کَيَّةَ نار (په اور سور شوی اوسپنيز سيخ چي د داغلو لپاره کارول کېږي)؛ او خپل امت له داغلو منع کوم.

۵۷۰۲ - عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنْ كَانَ فِي شَيْءٍ مِنْ أَدْوِيَتِكُمْ خَيْرٌ، فَفِي شَرْبَةِ عَسَلٍ؛ او شَرْطَةِ مِحْجَمٍ؛ او لَذْعَةٍ مِنْ نَارٍ، وَمَا أُحِبُّ أَنْ أَكْتَوِيَ»

له جابر بن عبد الله رضي الله عنهما روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چي فرمايل ئې: که ستاسو د علاج او دواګانو په کوم څه کي خير او ګټه وي نو د شاتو شربت، د مِحْجَم وهل (ښکر لګول) او په اور سره لړ سوزول؛ او دا نه خوښوم چي په سره سيخ داغل وکړم.

له جابر رضي الله عنه دا روايت هم راغلی:

۵۶۸۳ - عن جابِرِ بنِ عبْدِ الله رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ النبيَّ، صلى الله عَلَيْهِ وَسلم، يَقُولُ: إنْ كانَ فِي شَيءٍ مِنْ أدْوِيَتِكُمْ أوْ: يَكُونُ فِي شيءٍ مِنْ أدْوِيَتِكُمْ خَيْرٌ فَفِي شَرْطَةِ مِحْجَمٍ أوْ شَرْبَةِ عَسَلٍ أوْ لَذْعَةٍ بِنار تُوافِقُ الدَّاءَ، وَمَا أُحِبُّ أنْ أكْتَوِيَ. عمدة القارى

له جابر بن عبد الله رضي الله عنه روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چي فرمايل ئې: که ستاسو د علاجونو او دواګانو په کوم څه کي خير او ګټه وي او يا وي به؛ نو د مِحْجَم وهل (ښکر لګول)، د شاتو شربت؛ او په اور سره داسي لړ سوزول چي له مرض سره مطابقت ولري؛ او دا نه خوښوم چي په سره سيخ داغل وکړم.

لړ داغل اوس هم په طب کي معمول دئ؛ کوم خالونه او داغونه چي په پوستکي کي راپيدا کېږي؛ او د غوټي په بڼي کي وي؛ جلدي ډاکټران ئې

په خاصې وسیلې سره سوزوي او له منځه ځي.

په دغو روایاتو کې دا هم راغلي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په داسي حال کې حجامت کړی چې یا په احرام کې وو او یا روژه وو؛ یعني په دې سره نه روژه ماتېږي او نه حجامت د احرام منافي دئ. په دغو دوو روایتونو کې همدا مطالب راغلي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما، قَالَ: «احْتَجَمَ النَّبِىُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ صَائِمٌ». بخارى: ۱۹۳۹

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «احْتَجَمَ النَّبِىُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ» بخارى: ۵۶۹۵

په ځینو روایتونو کې دا هم راغلي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم حجامت کوونکي ته مزد او بدله ورکړې؛ که اجوره ورکول حرام وی نو نه به ئې ورکوله؛ د بخاري دغه روایت همدا خبره کوي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما، قَالَ: «احْتَجَمَ النَّبِىُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَعْطَى الَّذِى حَجَمَهُ» وَلَوْ كَانَ حَرَامًا لَمْ يُعْطِهِ. بخارى: ۲۱۰۳

## ۸ باب: د مُحْرِمِ نکاح

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما، «أَنَّ النَّبِىَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَ مَيْمُونَةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ» (بخارى: ۱۸۳۷)

له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنهُما روایت دئ چې: رسول الله صلی الله علیه و سلم د احرام په حال کې له میمونه رضي الله عنها سره واده وکړ.

خو داسې روایات هم مومو چې محرم ته نکاح کول جائز نه بولي؛ لکه دا روایت چې په صحیح مسلم کې درې ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۳٤۳۱- ۳٤۲۹- ۳٤۳۳-

۳٤۳۱- عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: لاَ يَنْكِحُ

الْمُحْرِمُ، وَلاَ يُنْكَحُ، وَلاَ يَخْطُبُ. مسلم

له عثمان بن عفان رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: محرم دي نه څوك په نكاح كوي او نه دي په نكاح وركول كېږي او نه دي چا ته د نكاح پيغام لېږي.

د دغو دواړو متعارضو آراء او رواياتو په اړه بايد ووايو:

د بخاري دا روايت (۱۸۳۷)؛ مُسلم، نسَائِيّ، ابْن مَاجَه، تِرْمِذِيّ، ابْن حِبَان، بيهقي؛ او طَحاوِيّ راوړى. أبو هُرَيْرَة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم روايت كړى، إِبْرَاهِيم النَّخعِيّ، الثَّوْري، عَطَاء بن أَبِي رَبَاح، الحَكَم بن عُتَيْبَةَ، حَمَّاد بن أَبِي سُلَيْمَان، عِكْرِمَة، مَسْرُوق، أَبُو حنيفَة، أَبُو يُوسُف، مُحَمّد، رحمهم الله په همدې روايت استناد كړى او وايي ئې دي: محرم ته په نكاح كولو كې هيڅ مانع او حرج نشته؛ خو تر هغه به نژدېكت ورسره نه كوي چي له احرام ووځي؛ او همدا د ابْن عَبَّاس او ابْن مَسْعُود رضي الله عنهما وينا هم ده؛ پر دې ټولو علاوه؛ د دې رأيي د صحت لپاره دا مضبوط دلائل لرو:

- د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمن ميمونه رضي الله عنها وايي چي هغه په داسي حال كې نكاح شوې چي رسول الله صلى الله عليه و سلم محرم وو.
- أبو هُرَيْرَة، ابْن عَبَّاس او ابْن مَسْعُود رضي الله عنهم هم د ميمونې رضي الله عنها په څنگ كې شاهدان دي.
- نكاح داسي ده لكه هره بله انساني معامله او معاهده؛ كه په حج او د احرام حالت كې تجارت او پېر پلور جائز وي؛ نكاح به ولې جائز نه وي؟!
- قرآن د احرام په حالت كې د مجامعت نهي كړې؛ د نكاح ممانعت لپاره په قرآن كې كوم شاهد نه مومو.

## ۹ باب: د محرم غسل

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قِيلَ لَهُ: كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْسِلُ رَأْسَهُ وَهُوَ مُحْرِمٌ؟ فَوَضَعَ أَبُو أَيُّوبَ يَدَهُ عَلَى الثَّوْبِ فَطَأْطَأَهُ حَتَّى بَدَا لِي رَأْسُهُ، ثُمَّ قَالَ لِإِنْسَانٍ يَصُبُّ عَلَيْهِ: اصْبُبْ، فَصَبَّ عَلَى رَأْسِهِ، ثُمَّ حَرَّكَ رَأْسَهُ بِيَدَيْهِ، فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ وَقَالَ: هَكَذَا رَأَيْتُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُ. (بخاری: ۱۸٤۰)

له ابو ایوب انصاري رضي الله عنه روایت دئ چي ده ته وویل شول: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم به د احرام په حالت کي خپل سر څنګه مینځلو؟ ابو ایوب پر هغي ټوټې لاس کښېښود (چي ځان ته ئې پرده کړې وه) را کوزه ئې کړه؛ سر ئې ترې ښکاره شو؛ بیا ئې هغه سړي ته چي اوبه ئې پرې اچولې وویل: اوبه راباندي واچوه؛ هغه ئې پر سر اوبه واچولې؛ بیا ئې د خپل سر وېښتان په دواړو لاسونو وخوځول؛ نو مخکې او شا ته ئې کړل او وئې ویل: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم مي (د احرام حالت کې) لیدلی چي همداسي ئې کول.

## ۱۰ باب: مکې او حرم ته له احرام پرته ننوتل

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَامَ الْفَتْحِ وَعَلَى رَأْسِهِ الْمِغْفَرُ فَلَمَّا نَزَعَهُ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ: إِنَّ ابْنَ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ فَقَالَ: «اقْتُلُوهُ». (بخاری: ۱۸٤٦)

له انس بن مالک رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د مکې د فتح په کال په داسي حال کي داخل شو چي پر سر ئې خول (اوسپنیزه خولۍ یا داسي زغره چي سر او مخ؛ له سترګو پرته؛ پوښي)، کله چي ئې هغه ایسته کړ؛ یو سړی راغی او وئې ویل: ابن خطل د کعبې له پردې یا غلاف سره جوخت پټ شوی؛ وئې فرمایل: (وې وژنئ).

ابن خطل چې اصلي نوم ئې عبدالله بن هلال وو؛ مسلمان شوی وو؛ یو مسلمان ئې ووژلو؛ (وتښتېدو) او مرتد شو. هم د ارتداد له کبله او هم د یوه مسلمان د وژلو په جرم د وژلو وړ وو.

تکرار: دا روایت په بخاري کې څلور ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۱۸٤٦ - ۳۰٤٤ - ٤۲۸٦ - ٥۸۰۸ -

توپیر: لومړي دوه (۱۸٤٦ - ۳۰٤٤) یوازې د څلورمي طبقې راویانو کې توپیر لري، درېیم روایت (٤۲۸٦) له مخکینیو دواړو سره دا توپیر لري چې دغه مطلب په کې اضافه شوی (قَالَ مَالِكٌ: «وَلَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا نُرَى وَاللَّهُ أَعْلَمُ يَوْمَئِذٍ مُحْرِمًا»: مالك وویل: موږ ته داسې برېښي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به دغه ورځ محرم نه وو؛ الله تعالی ښه پوهېږي. په څلورم کې د ابن خطل د وژلو خبره هم نه ده راغلې.

د روایت یوازې دا برخه له باب سره تړاو او همغږي لري چې رسول الله صلی الله علیه و سلم مکې ته داسې داخل شوی چې خُول ئې پر سر وو او دا د دې نښه ده چې هغه احرام نه وو تړلی؛ ځکه په احرام کې باید سر لوڅ وي؛ خو دې موضوع ته په روایت کې په واضح توګه اشاره نه ده شوې او تر روایت وروسته هم نه دي ویل شوي؛ د بخاري لوستونکی له ډېر دقت او غور وروسته پرې پوهېدی شي؛ هغه هم د نورو روایاتو په مرسته.

## ۱۱ باب: د مړي لپاره حج او نذر

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما أَنَّ امْرَأَةً مِنْ جُهَيْنَةَ جَاءَتْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: إِنَّ أُمِّي نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ فَلَمْ تَحُجَّ حَتَّى مَاتَتْ، أَفَأَحُجُّ عَنْهَا؟ قَالَ: «نَعَمْ حُجِّي عَنْهَا أَرَأَيْتِ لَوْ كَانَ عَلَى أُمِّكِ دَيْنٌ أَكُنْتِ قَاضِيَةً؟ اقْضُوا اللَّهَ فَاللَّهُ أَحَقُّ بِالْوَفَاءِ». (بخاری: ۱۸٥۲)

له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چي د جُهَينَه قبيلې يوه ښځه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغله او وئې ويل: مور مي نذر ايښی وو چي حج به کوي؛ خو تر هغه ئې حج ونه کړ چي مړه شوه؛ نو آيا زه د هغې لپاره حج وکړم؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل: (هو؛ د هغې لپاره حج وکړه؛ وګوره که دي پر مور کوم قرض وی؛ نو تا به اداء کولو؟! د الله تعالی قرض (حق) اداء کړئ؛ هغه تر هر چا زيات د وفاء حقدار دئ)

## ۱۲ باب: د ماشومانو حج

عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: حُجَّ بِي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا ابْنُ سَبْعِ سِنِينَ. (بخاری: ۱۸۵۸)

له سائب بن يزيد رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: هغه وخت چي زه لا اوه کلن وم له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره حج ته بېول شوی وم. (پلار ئې له ځان سره حج ته بېولی وو).

## ۱۳ باب د ښځو حج

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما، قَالَ: لَمَّا رَجَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حَجَّتِهِ قَالَ لِأُمِّ سِنَانٍ الأَنْصَارِيَّةِ: «مَا مَنَعَكِ مِنَ الحَجِّ؟»، قَالَتْ: أَبُو فُلاَنٍ، تَعْنِي زَوْجَهَا، كَانَ لَهُ نَاضِحَانِ حَجَّ عَلَى أَحَدِهِمَا، وَالآخَرُ يَسْقِي أَرْضًا لَنَا، قَالَ: «فَإِنَّ عُمْرَةً فِي رَمَضَانَ تَقْضِي حَجَّةً أَوْ حَجَّةً مَعِي» (بخاری: ۱۸۶۳)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: کله چي رسول الله صلی الله علیه و سلم له حج راستون شو؛ ام سنان انصاريه رضي الله عنها ته ئې وفرمايل: (څه شي له حج منع کړې؟) وئې ويل: ابو فلان؛ مقصد ئې خپل خاوند وو؛ دوه اوښان ئې درلودل (له کوهي د اوبو راايستلو اوښان)؛ پر يوه خپله حج ته ولاړ او بل زمکه راته خړوبوي؛

وئې فرمایل: (د روژې میاشت کې عمره؛ له حج سره برابره ده یا له ما سره یو ځای حج سره).

دا روایت په مسلم کې په دې صیغه راغلی:

۳۰۱۴- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: لِامْرَأَةٍ مِنَ الأَنْصَارِ يُقَالُ لَهَا أُمُّ سِنَانٍ مَا مَنَعَكِ أَنْ تَكُونِي حَجَجْتِ مَعَنَا؟ قَالَتْ: نَاضِحَانِ كَانَا لأَبِي فُلاَنٍ، زَوْجِهَا، حَجَّ هُوَ وَابْنُهُ عَلَى أَحَدِهِمَا، وَكَانَ الآخَرُ يَسْقِي عَلَيْهِ غُلاَمُنَا، قَالَ: فَعُمْرَةٌ فِي رَمَضَانَ تَقْضِي حَجَّةً، أَوْ حَجَّةً مَعِي.

له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د انصارو یوې مېرمنې ته چې ام سنان یادېده؛ وویل: (څه شي له دې منع کړې چې له موږ سره دې حج کړی وی؟) وئې ویل: ابو فلان؛ یعني خاوند ئې؛ دوه اوښان درلودل؛ (له کوهي د اوبو راایستلو اوښان)؛ پر یوه ئې دی او زوی ئې حج ته ولاړل؛ او پر بل ئې زموږ غلام زمکه خړوبوله؛ وئې فرمایل: (د روژې میاشت کې عمره؛ له حج سره برابره ده یا له ما سره یو ځای حج سره).

ګورئ چې په دواړو کې کافي توپیرونه شته؛ سره له دې چې لومړنی راوي ئې یو دئ؛ وروستنیو راویانو ئې په الفاظو کې تغییر راوستی او ځیني مطالب ترې پاته شوي؛ لکه دا چې یو ئې وایي: زما خاوند پر یوه اوښ حج ته ولاړ، او بل ئې وایي: زما خاوند او زوی ئې پر یوه اوښ حج ته ولاړل، یو ئې وایي: بل زمکه راته خړوبوي بل ئې وایي: پر بل ئې زموږ غلام زمکه خړوبوي.

د روایت په آخر کې راغلي: فَعُمْرَةٌ فِي رَمَضَانَ تَقْضِي حَجَّةً؛ د (تَقْضِي حَجَّةً) تحت اللفظي او اصلي معنی دا ده چې عمره داسي ده لکه چې حج ئې کړی وي؛ یا د قضائي حج معادل ده؛ یعني که له چا حج قضاء او پاته شو؛ نو عمره به ئې ځای ناستې شي؛ اما دې ته په پام سره چې نه عمره د حج ځای ناستې ده او نه په ثواب او اجر کې ورسره برابرېدی شي؛ مګر د هغه چا عمره چې د حج نیت ئې درلود؛ د عذر له کبله حج ترې پاته شوی او د روژې میاشت کې ئې عمره کړې؛ خو د بیا حج کولو

توان او مجال پيدا نه کړي؛ په دې صورت کې کېدی شي عمره ئې حج محسوب شي؛ اما د (تَقْضِي حَجَّةً) دا تعبير چي عمره به ئې په ثواب کې له حج سره برابره وي؛ نه له ادبي او لغوي پلوه سم تعبير دئ او نه حقيقتاً عمره له حج سره برابرېدی شي؛ غالب احتمال دا دئ چي کوم راوي نه دئ توانېدلی د رسول الله صلى الله عليه و سلم د وينا اصلي الفاظ په سمه توګه انتقال کړي؛ دا ستونزه په ډېری رواياتو کې تر سترګو کېږي؛ د بخاري په اکثرو تکراري رواياتو کې ئې شاهد يو؛ د بخاري او مسلم په پورتنيو رواياتو کې ئې هم وينو.

د بخاري کتاب چي په کوم روايت پيل شوی او ٧ ځله نور په دغو شمېرو تکراري راوړل شوی: : ١- ٥٤ - ٢٥٢٩ - ٣٨٩٨ - ٥٠٧٠ - ٦٦٨٩ - ٦٩٥٣ - ٢٥٢٧- په هغوی کې هم داسي توپيرونه مومو: په يوه کې (الاعمال) او په بل کې (العمل)، په يوه کې (النية) او په بل کې (النيات)، په يوه کې (لامرئٍ) او په بل کې (لكل امرئٍ)، په يوه کې إِلَى دُنْيَا او په بل کې لِدُنْيَا او همداسي نور توپيرونه. دا توپيرونه په دغو رواياتو او مطالبو کې ئې دومره پراخ او ژور تفاوت رامنځته کوي چي له منځه ئې يوازي يو انتخابولی او صحيح ګڼلی شو؛ امام بخاري د رواياتو إسنادو ته په پام سره ټول راوړي او د متن او محتوی په اړه ئې قضاوت نه دئ کړی او دا ئې لوستونکو ته پرېښی چي کوم ترې غوره کوي، دا حکم ئې نه دئ کړی چي کوم روايت له کومو الفاظو او ترکيب سره ارجح ورته برېښي، حال دا چي دا ډېره مهمه او ضروري مسئله ده، که نه نو لوستونکی په شك کې لوېږي چي په يوې موضوع پوري اړوند رواياتو کې کوم يو ومني، په کوم يوه عمل وکړي، په يوې جملې کې د يوه لفظ تغيير په معنی کې ډېر بدلون راولي، لکه په دغه لومړني روايت کې لوستونکي ته دا پوښتنه راولاړېږي: ټول اعمال په نيت پوري تړلي دي او که کوم خاص عمل؟ (ځکه، په يوه کې العمل او په بل کې الاعمال) راغلي، پيغمبر عليه السلام د (نية) صيغه کارولې که د (نيات)؟، د هر چا هر عمل د هغه په نيت

پوري تړلی او د نیت له مخي به له هغه سره معامله کېږي او که د یوه خاص کس عمل ته به د هغه د خاص نیت له مخي بدله ورکول کېږي؟ د رسول الله صلی الله علیه و سلم د وینا اصلي بڼه کوم روایت او کوم الفاظ او ترکیب ئې منعکس کړې؟

همدا راز که دغو روایاتو ته ځیر شئ نو هرومرو به دا پوښتنه درسره پیدا کېږي چي پیغمبر علیه السلام تر دې د مخه څه ویل؟ آیا د هجرت په اړه ئې خبري کولې که پر دې چي د عمل تعلق له نیت سره څنګه دئ؟ د بحث اصلي موضوع څه وه؟ ځکه یوازي په دې خبري له پوهېدو وروسته ویلی شو چي د نیت او عمل تر منځ دا تعلق عام دئ که خاص؟ یوازي د هجرت په څېر نیك عمل احتواء کوي که هر عمل؟ هر عمل خو ځکه نه شو نیولی چي د بد عمل په اړه د عمل له مخي قضاوت کېږي نه د عامل د نیت له مخي؛ که څوك د رشوت، غصب او غلا په پیسو حج ته ولاړ شي؛ د حج نیت ئې نه ارزښت لري او نه د نیت له مخي د غلا او غصب توجیه کېدی شي؛ او داسي تعبیر د قرآن له دې وینا سره تناقض لري چي فرمایي: (وَأَنْ لَيْسَ لِلإِنْسَانِ إِلا مَا سَعَى) النجم ٣٩؛ یعني انسان ته فقط د خپل عمل او سعي بدله ورکول کېږي.

د روایت له وروستۍ برخي داسي معلومېږي چي پیغمبر علیه السلام د هجرت په اړه بحث کولو، د همدې بحث په ترڅ کې ئې ویلي چي هجرت هغه عمل دئ چي د انسان نیت ئې څرنګوالی ټاکي او دا چي د خدای لپاره دئ او که د دنیا لپاره. تفصیل ئې د حکمة البارئ په لومړي جلد کې وګورئ.

د مسلم او بخاري د دغو روایاتو په اړه باید ووایو چي د مسلم روایت د بخاري تر روایت واضح او بشپړ برېښي؛ که غواړو له دوی دواړو یو غوره کړو نو د مسلم روایت به غوره کوو.

د ښځو حج تر باب لاندي دا روایت هم راغلی:

عَنْ قَزَعَةَ قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ وَقَدْ غَزَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثِنْتَىْ عَشْرَةَ غَزْوَةً قَالَ: أَرْبَعٌ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ قَالَ: يُحَدِّثُهُنَّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَعْجَبْنَنِي وَآنَقْنَنِي: «أَنْ لا تُسَافِرَ امْرَأَةٌ مَسِيرَةَ يَوْمَيْنِ لَيْسَ مَعَهَا زَوْجُهَا أَوْ ذُو مَحْرَمٍ، وَلا صَوْمَ يَوْمَيْنِ الْفِطْرِ وَالأَضْحَى، وَلا صَلاةَ بَعْدَ صَلاتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ وَبَعْدَ الصُّبْحِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، وَلا تُشَدُّ الرِّحَالُ إِلَّا إِلَى ثَلاثَةِ مَسَاجِدَ: مَسْجِدِ الْحَرَامِ، وَمَسْجِدِى، وَمَسْجِدِ الأَقْصَى». (بخارى: ١٨٦٤)

له قَزَعَة روایت دئ چي وئې ویل: له ابو سعید رضي الله عنه چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره ئې په دولسو غزاګانو کې غزا کړې؛ اورېدلي چي وئې ویل: څلور خبري چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي اورېدلې؛ او یا راوي وویل: له نبي صلی الله علیه و سلم ئې روایت کولې؛ چي ډېري مي خوښي شوې او ډېر ئې خوشحاله کړی یم: (دا چي ښځه دي د دوو ورځو په واټن سفر نه کوي په داسي حال کي چي خاوند او محرم ورسره نه وي؛ دا چي په دوو ورځو کي روژه نشته: کمکی اختر او لوی اختر؛ دا چي له دوو لمونځونو وروسته لمونځ نشته؛ له مازدیګر وروسته تر هغه چي لمر ولوېږي او د سهار له لمانځه وروسته تر هغه چي لمر راوخیژي؛ او دا چي یوازي دریو جوماتونو ته سفر کېدی شي: مسجد الحرام، مسجد نبوي او مسجد الاقصی).

تکرار: دا روایت په بخاري کي ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١١٩٧ - ١٨٦٤؛ مطلق غریب دئ؛ په ٥ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: سُلَيْمَان بْن حَرْب، شُعْبَة، عَبْدِ المَلِكِ بْنِ عُمَيْر، قَزَعَةَ، او أَبو سَعِيد رضي الله عنه.

توپیر: یوازي د پنځمي طبقې راویان ئې بېل دي؛ متن ئې یو دئ.

د روایت اساسي لارښوونې دا دي: ١- مېرمني له خاوند او مَحْرَم پرته

د دوو ورځو په واټن سفر کولی شي؛ تر دې اوږد سفر کې باید محرم ورسره وي. ۲- د دوو اخترونو په ورځو کې روژه نیول نشته. ۳- د مازدیگر له لمانځه وروسته تر ماښام پورې او د گهیځ له لمانځه وروسته تر لمر ختو پورې لمونځ نشته. ٤- یوازې په پورتنیو دریو جوماتونو کې د لمونځ کولو په موخه سفر صحیح دی نه په کوم بل مسجد کې.

د مېرمنو د سفر په اړه د بخاري بل روایت داسې دئ:

۱۰۸۸ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَاليَوْمِ الآخِرِ أَنْ تُسَافِرَ مَسِيرَةَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ لَيْسَ مَعَهَا حُرْمَةٌ» تَابَعَهُ يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، وَسُهَيْلٌ، وَمَالِكٌ، عَنِ المَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ

یعني په مخکیني روایت کې ویل شوي: مېرمنې له خاوند او مَحْرَم پرته یوازې د دوو ورځو په واټن سفر کولی شي؛ خو په وروستي روایت کې ویل شوي: هغه مېرمن چې په خدای او د آخرت په ورځې باور لري؛ ورته جائزه نه ده چې له مَحرَم پرته د یوې شپې او ورځ په واټن سفر وکړي؛ په بخاري کې دا نه مومو چې کوم روایت به معتبر گڼو؛ د دوو ورځو روایت که تر یوې شپې او ورځې راکم. د بخاري له هغه روایت چې ابو هریره رضي الله عنه ته منسوب شوی؛ داسې معلومېږي لکه چې له مېرمنې سره په هغه سفر کې د مَحْرَم شتون فرض دئ چې د یوې شپې او ورځ په واټن وي!! او له مَحرَم پرته سفر ورته جائز نه دئ!! له بلې خوا د بخاري دا دواړه روایات چې په خپل منځ کې تعارض لري؛ د مسلم له هغه روایت سره تعارض لري چې وایي: مؤمنې مېرمنې ته له محرم پرته داسې سفر جائز نه دئ چې تر دریو شپو او ورځو زیات وي؛ په داسې حال کې چې د بخاري او مسلم د روایاتو راوي هم یو کس او ابو سعید خدري رضي الله عنه دئ!!

په صحیح مسلم کې د ښځو د سفر په اړه دا روایت راغلی:

۳۲٤۹- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لاَ يَحِلُّ

لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ، أَنْ تُسَافِرَ سَفَرًا يَكُونُ ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ فَصَاعِدًا، إِلَّا وَمَعَهَا أَبُوهَا؛ او ابْنُهَا؛ او زَوْجُهَا؛ او أَخُوهَا؛ او ذُو مَحْرَمٍ مِنْهَا.

له أبو سعيد خدري روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: هغي مېرمني ته چي په خداى او آخرت ايمان لري؛ روا نه ده داسي سفر وکړي چي د دريو ورځو او تر دې زيات وي؛ مگر دا چي پلار ئې، يا زوى ئې، يا مېړه ئې، يا ورور ئې او يا کوم بل مَحْرَم ئې ورسره وي.

احنافو د مسلم روايت ته ترجيح ورکړې؛ او د دې ترجيح لپاره دلائل شته؛ چي ستاسو مخي ته به راشي.

لکه چي گورئ دلته له محرم پرته د مېرمنو مجاز سفر د حد او اندازې په اړه هم د بخاري د دوو رواياتو تر منځ د تعارض شاهد يو او هم د بخاري او مسلم د رواياتو تر منځ؛ بخاري ابو سعيد خدري رضي الله عنه ته يو روايت منسوب کړی او مسلم بل روايت؛ د دواړو رواياتو تر منځ کافي تعارض دئ؛ څه به کوو او په کوم روايت به عمل کوو؟ له دغو متعارضو رواياتو به کوم يو غوره کوو؟ په قرآن کې د مېرمنو د يوازې سفر او د محرم د شتون په اړه څه نه دي ويل شوي؛ يوازې په هغه صورت کې ئې فرض گڼلی شو چي په قرآن کې مو د امر او وجوب صيغه موندلې وی؛ او عدم مراعات ئې د سزا وړ عمل. احنافو دغو مسائلو او مطالبو ته په پام سره ويلي: مسلمانه مېرمن مکلفه ده چي د حج په شمول په هر هغه سفر کې چي تر دريو شپو ورځو زيات وي؛ محرم ورسره وي؛ خو که کومه مېرمن له محرم پرته حج ته ولاړه شي؛ نو حج ئې صحيح دئ او دا فريضه ئې اداء شوې؛ خو دا کار ئې مکروه دئ؛ اما که له داسي ځاى حج ته ځي چي تر دريو شپو ورځو کم سفر ترې غواړي؛ نو داسي سفر له کوم محرم پرته ورته جائز دئ.

البته د خلوت او د خپلې گاڼې او زينت نه ښودلو په ارتباط په قرآن

کې واضح او صریح لارښوونې مومو؛ لکه چې فرمايي:

لا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِي آبَائِهِنَّ وَلا أَبْنَائِهِنَّ وَلا إِخْوَانِهِنَّ وَلا أَبْنَاءِ إِخْوَانِهِنَّ وَلا أَبْنَاءِ أَخَوَاتِهِنَّ وَلا نِسَائِهِنَّ وَلا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ وَاتَّقِينَ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا ﴿٥٥﴾ الأحزاب

پر دوی نه د خپلو پلرونو په اړه څه ګناه شته، نه د خپلو وروڼو، نه د خپلو وریرونو، نه د خپلو خورییو، نه د خپلوانو ښځو؛ او نه د وینځو په اړه؛ او له الله ووېرېږئ؛ یقیناً چې الله پر هر څه شاهد دئ.

په دې مبارك آیت کې دغه کسان له مخکیني حکم مستثنی شوي او پر دې مکلف نه دي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له مېرمنو سره به د حجاب له شا خبرې کوي: د دوی پلرونه، وروڼه، وریرونه، خوریي، خپلوانې ښځې او وینځې او غلامان ئې.

د (لا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ) له فقرې معلومېږي چې د دې استثناء عدم مراعات او له دغو خپلوانو پرته له نورو سره له لازم ستر پرته لیدنه ګناه ده.

د آیت د پای دا فقرې چې وايي: له الله ووېرېږئ، یقیناً چې الله پر هر څه شاهد دئ؛ ښيي چې دا آیت له مخکیني سره تړلی دئ او دا فقرې د مخکینیو مطالبو په ارتباط راغلې دي. د دې تفصیل د پلوشې شپږم جلد؛ د احزاب سورې په تفسیر کې وګورئ.

اما د مَحْرَم د لزوم په اړه نه په قرآن کې صراحتاً څه مومو او نه اشارتاً؛ نو ځکه احنافو تر ټولو اخف حالت غوره کړی او عدم مراعات ته ئې د داسې مکروه په سترګه کتلي چې د مېرمنې حج ته کوم زیان نه رسوي.

## ۱٤ باب: مکې ته د پلې تګ نذر

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى شَيْخًا يُهَادَى بَيْنَ ابْنَيْهِ

قَالَ: «مَا بَالُ هَذَا؟» قَالُوا: نَذَرَ أَنْ يَمْشِيَ، قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ عَنْ تَعْذِيبِ هَذَا نَفْسَهُ لَغَنِيٌّ» وَأَمَرَهُ أَنْ يَرْكَبَ. (بخارى: ۱۸۶۵)

له انس رضي الله عنه روایت دئ: نبي صلى الله علیه و سلم یو سپین ږیرى ولید چي په دوو زامنو ئې تکیه کړې روان دئ؛ وئې فرمایل: (په دې څه شوي؟) هغوى وویل: نذر ئې ایښى چي پلى به ځي. وئې فرمایل: (الله تعالى له دې غني او بې نیاز دئ چي دا سړى خپل ځان په عذاب کړي؛ او امر ئې ورته وکړ چي سپور شي.

یعني داسي عمل د الله تعالى نه خوښېږي او ارزښت نه ورکوي.

په روایت کي دا نه دي ویل شوي چي د حج لپاره روان دئ او لوستونکى نه پوهېږي چي دا نذر ئې د څه لپاره منلى! په صحیح مسلم کي هم په دې صیغه راغلى؛ خو په صحیح ابن خزیمه او مسند ابي یعلى کي دا روایت په بشپړه توګه داسي راغلى:

۳۰٤٤ - عَنْ أَنَسٍ؛ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَأَى شَيْخًا كَبِيرًا يُهَادَى بَيْنَ ابْنَيْهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "مَا هَذَا؟" قَالُوا: نَذَرَ أَنْ يَمْشِيَ إِلَى الْبَيْتِ. قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ عَنْ تَعْذِيبِ هَذَا نَفْسَهُ لَغَنِيٌّ" قَالَ: فَأَمَرَهُ أَنْ يَرْكَبَ.

صحيح ابن خُزَيْمَه، مُسْنَد ابى يعلى

له انس رضي الله عنه روایت دئ: نبي صلى الله علیه و سلم یو سپین ږیرى ولید چي په دوو زامنو ئې تکیه کړې روان دئ؛ وئې فرمایل: (په دې څه شوي؟) هغوى وویل: نذر ئې ایښى چي بیت الله ته به پلى ځي. وئې فرمایل: (الله تعالى له دې غني او بې نیاز دئ چي دا سړى خپل ځان په عذاب کړي)؛ او امر ئې ورته وکړ چي سپور شي.

د مُصَنَّف ابن ابي شیبه په روایت کي د بیت الله پر ځاى کعبه راغلې.

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: نَذَرَتْ أُخْتِي أَنْ تَمْشِيَ إِلَى بَيْتِ اللَّهِ، وَأَمَرَتْنِي

أَنْ أَسْتَفْتِيَ لَهَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَفْتَيْتُهُ فَقَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لِتَمْشِ وَلْتَرْكَبْ». **(بخارى: ۱۸۶۶)**

**له عقبه بن عامر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: خور مي نذر ايښى وو چي بيت الله ته به پلې ځي او زه ئې وګمارلم چي په دې اړه له رسول الله صلى الله عليه و سلم فتوى ورته وغواړم؛ ما فتوى ترې وغوښتله؛ نو وئې فرمايل: (کله دي پلې ځي او کله دي سپره).**

# فهرست

عنوان صفحه


مقدمه.................................................... ۱

د حج احکام، ارکان او اسرار.................................. ٦

د حج اړوند روایات په بخاري کې.............................. ۱۹

۱ باب: د حج فرضیت او فضیلت................................ ۱۹

د کعبې روښانه تاریخ او د غرب دروغجن تبلیغات................. ۲٤

۲ باب: د الله تعالی دا قول: (يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ ...) ..... ۳۵

۳ باب: په بار وړونکي اوښ سره حج اداء کول...................... ۳٦

٤ باب: د مبرور حج فضیلت.................................... ۳۷

۵ باب: میقات................................................ ۳۹

٦ باب: په ذو الحلیفه کې لمونځ................................. ۳۹

۷ باب: د شجره له لاري د رسول الله صلی الله علیه و سلم سفر. ٤۰

۸ باب: د رسول الله دا قول چې: (عقیق مبارکه دره ده) ........... ٤۰

۹ باب: معطره جامې درې واري مینځل.......................... ٤۱

۱۰ باب: د احرام تړلو په مهال خوشبويي وهل او.................... ٤۳

۱۱ باب: د احرام په وخت په وېښتانو څه وهل ..................... ٤٤

۱۲ باب: د ذوالحليفه له جومات احرام تړل ........................... ٤۸

۱۳ باب: د حج په دوران کي پر يوه سورلۍ د دوه تنو سپرېدا ... ٤۸

۱٤ باب: د محرم لباس ........................................................ ٤۹

۱٥ باب: تلبيه .................................................................. ٥۱

۱٦ باب: تر تلبيې وړاندي حمد، تسبيح او تکبير ...................... ٥۲

۱۷ باب: د تلبيې په وخت قبلې ته مخ اړول ........................... ٥۳

۱۸ باب: درې ته د کوزېدو په مهال تلبيه ويل .......................... ٥٤

۱۹ باب: د رسول الله په زمانه کي د ده (د حج او عمرې نيت) .. ٥٦

۲۰ باب: د قرآن دا آيت: (الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ ...) البقرة: ۱۹۷.. ٥۹

۲۱ باب: د حج ډولونه تمتع، قران او افراد... ......................... ٦۰

۲۲ باب: د تمتع حج ........................................................... ۷۱

۲۳ باب: مکې ته د ننوتلو لار ............................................... ۷۲

۲٤ باب: د مکې فضيلت او جوړول ئې ..................................... ۷۳

يوه رښتينې رؤيا ............................................................. ۷٤

۲٥ باب: د مکې د کورونو ميراث، اخيستل، پلورل... .................. ۷٦

۲٦ باب: په مکه کي د رسول الله صلى الله عليه و سلم اړول ..... ۷۸

۲۷ باب: د کعبې شريفې ورانېدا .............................................. ۷۹

۲۸ باب: دا آیت چي فرمايي: (جَعَلَ اللَّهُ الْكَعْبَةَ...) ................... ۸۳
د عاشوراء په اړه متعارض روايات ................................ ۸٤
۲۹ باب: د کعبې ورانېدل ................................................ ۱۱۸
۳۰ باب: الحجر الأسود .................................................. ۱۱۸
۳۱ باب: کعبې ته نه داخلېدل ........................................... ۱۲۱
۳۲ باب: د کعبې په منځ کي تکبير ...................................... ۱۲۲
۳۳ باب: د طواف په وخت کي د رمل مشروعيت ........................ ۱۲۳
۳٤ باب: مکې ته په رسېدو سره د حجر اسود استلام .............. ۱۲٤
۳۵ باب: په حج او عمره کي رمل ....................................... ۱۲٤
۳٦ باب: په لکړه د حجر اسود لمس کول ................................ ۱۲٦
۳۷ باب: د حجر اسود ښکولول ........................................... ۱۲٦
۳۸ باب: مکي ته له رسېدو سره سم طواف ............................ ۱۲۷
د بخاري دا روايت مختصر کړی شوی؛ اصلي بڼه ئې دا سي ده:. ۱۲۸
۳۹ باب: د طواف په مهال خبري ........................................ ۱۲۹
٤۰ باب: لوڅ د طواف او مشرک د حج اجازه نه لري ............... ۱۳۰
٤۱ باب: تر عرفات وړاندي طواف ........................................ ۱۳۰
٤۲ باب: حاجيانو ته اوبه ورکول .......................................... ۱۳۱
لاندي روايات هم دغه خبره کوي: ...................................... ۱۳۵

٤٣ باب: د صفا او مروه تر منځ د سعي وجوب ..................... ١٣٧

٤٤ باب: د صفا او مروه تر منځ د سعي په اړه ...................... ١٣٩

٤٥ باب: حائضه ښځه له طواف پرته ټول مناسک اداء کوي ...... ١٣٩

٤٦ باب: د ترويې په ورځ د ماسپښين لمونځ چېري اداء کېږي ... ١٤١

٤٧ باب: د عرفات د ورځې روژه .................................. ١٤١

٤٨ باب: د عرفات په ورځ په غرمه کي روانېدل ......................... ١٤٥

٤٩ باب: د عرفات موقف (درېدو ځای) ته بيړه............................ ١٤٦

٥٠ باب: پر عرفات درېدل .............................................. ١٥٠

٥١ باب: له عرفات د مزدلفې په لور د ستنېدو څرنګوالی.......... ١٥١

٥٢ باب: له عرفات د راستنېدو په وخت کي د آرامۍ امر ....... ١٥١

٥٣ باب: د مزدلفې په شپه کمزوري تر نورو وړاندي لېږل....... ١٥٢

٥٤ باب: په مزدلفه کي د سهار لمونځ ................................. ١٥٩

٥٥ باب: له مزدلفې د حرکت وخت ................................... ١٦٠

٥٦ باب: د قربانۍ پر اوښ سپرېدل ................................... ١٦٠

٥٧ باب: څوک چي د حج لپاره هدي له ځان سره بوځي.......... ١٦١

٥٨ باب: ذي الحليفه کي د قربانۍ اوښ په نښه کول او احرام.. ١٦٢

٥٩ باب: د قربانۍ اوښانو ته په خپل لاس د غاړکيو اچول ....... ١٦٢

٦٠ باب: پسونو ته غاړکۍ اچول .................................. ١٦٤

٦١ باب: غاړکۍ د وړیو وي ........................................ ١٦٥

٦٢ باب: د اوښانو ځل په خیرات کي ورکول ........................ ١٦٦

٦٣ باب: د خپلو مېرمنو لپاره د هغوی له اجازې پرته قرباني..... ١٦٦

٦٤ باب: د رسول الله د قربانۍ په ځای کي قرباني .................. ١٦٧

٦٥ باب: د تړل شوي اوښ حلالول ........................................ ١٦٨

٦٦ باب: قصاب ته دي له قربانۍ څه نه ورکول کېږي ............ ١٦٨

٦٧ باب: د قربانۍ له غوښي څومره خوړل او څومره صدقه..... ١٦٩

٦٨ باب: له احرام د وتلو په مهال د وېښتانو خرېیل یا لنډول ... ١٦٩

٦٩ باب: د جمرو ویشتل ........................................ ١٧٠

٧٠ باب: د درې له منځه د جمرو ویشتل ........................ ١٧١

٧١ باب: جمرې په اوو وړو تیږو ویشتل کېږي .................... ١٧٢

٧٢ باب: د شاتنۍ جمرې له ویشتلو وروسته نه درېدل .......... ١٧٣

٧٣ باب: د وداع طواف ........................................ ١٧٦

٧٤ باب: که ښځه له طواف افاضه وروسته حائضه شي............ ١٧٦

٧٥ باب: په محصب کي اړول ........................................ ١٧٧

٧٦ باب: په ذي طُوی کي اړول........................................ ١٧٧

د عمرې کتاب........................................................ ١٧٨

۱ باب: د عمرې وجوب او فضيلت ........................................ ۱۷۸

۲ باب: له حج مخكې عمره ............................................ ۱۷۹

۳ باب: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څو عمرې كړې دي ...... ۱۷۹

٤ باب: د تنعيم عمره ................................................. ۱۸۵

۵ باب: له حج وروسته له هدي پرته عمره ................................ ۱۸۶

٦ باب: د عمرې ثواب د تكليف په اندازه دئ .............................. ۱۸۷

۷ باب: عمره كوونكی كله له احرامه وتلی شي .......................... ۱۸۸

۸ باب: له حج، عمرې او جهاد د راستنېدو دعاء ........................ ۱۹۰

۹ باب: د حاجيانو هر كلی ............................................. ۱۹۳

۱۰ باب: ماښام له سفره راګرځېدل ...................................... ۱۹۳

۱۱ باب: مدينې ته له نژدې كېدو وروسته بيړه ............................ ۱۹٤

۱۲ باب: سفر يو ډول عذاب دئ .......................................... ۱۹۵

د مُحْصَر (له عمرې ايسار كړی شوی) كتاب......................... ۱۹٦

۱ باب: كه عمره كوونكی له مانع سره مخ شي ............................ ۱۹٦

۲ باب: په حج كې احصار (ايسارېدا) ................................... ۱۹٦

۳ باب: د احصار حالت كې قرباني د وېښتانو تر خرېيلو وړاندې ۱۹۷

٤ باب: د الله تعالی دا كلام: «أَوْ صَدَقَةٍ» ................................ ۱۹۸

٥ باب: د فديې اندازه نيمه پيمانه ده ................................ ۲۰۰

د ښکار د کفارې کتاب.................................................. ۲۰۱

۱ باب: محرم هغه ښکار خوړلی شي چې غیر محرم ئې ورکړي .. ۲۰۱

۲ باب: محرم دي په ښکار کي له غیر محرم سره مرسته نه کوي ۲۰۳

۳ باب: محرم باید غیر محرم ته ښکار په گوته هم ورونه ښیي.. ۲۰٤

٤ باب: که محرم ته وحشي خر ژوندی ډالۍ شي، نه دې مني ... ۲۰٦

٥ باب: هغه شیان چي مُحْرِم ئې په حرم کي وژلی شي ............ ۲۰۷

٦ باب: په مکه کي جنگ جواز نه لري ................................ ۲۱۳

۷ باب: د مُحرِم لپاره ښکر لگول ...................................... ۲۱٤

۸ باب: د مُحْرِم نکاح ...................................................... ۲۱۸

۹ باب: د محرم غسل ....................................................... ۲۲۰

۱۰ باب: مکې او حرم ته له احرام پرته ننوتل ......................... ۲۲۰

۱۱ باب: د مړي لپاره حج او نذر ....................................... ۲۲۱

۱۲ باب: د ماشومانو حج .................................................. ۲۲۲

۱۳ باب د ښځو حج ......................................................... ۲۲۲

۱٤ باب: مکې ته د پلي تگ نذر ......................................... ۲۲۹

فهرست.................................................................... ۲۳۳